

لیکونکی: عبدالرؤف «بینوا»

۱۳۳۰

د پښتونستان د نشراتو سلسله
(۳۰)

پښتونستان

لیکوونکی

عبدالرؤف بېنوا

۱۳۳۰

د کابل عمومي مطبعه

فهرست

ست

فهرست

مضمون	مخ
ادارات او آبادي، صنعت	۴۸
وداني	۴۹
مکتبونه	۵۰
ردي	۵۱
پلونه او سړکونه	۵۴
کلي	۵۵
عسکري تشکیلات	۵۹
تهاني	۶۰
معاش، ملکي تشکیلات	۶۴
خاکمان او تحصیلداران	۶۵
تحصیلداري	۶۶
ټیلفون، برق، شفاخانه	۶۷
دود او دستور، عقیده آزاد	۶۸
اوسني والي	۷۰
۳ـ مرکزي پښتونستان:	**۷۱**
خلور خواوې، رقبه، نفوس، مرکز	۷۲
قرونه	۷۲
رودونه	۷۴
کانونه	۷۵
میوې، صنعت او حرفت	۷۶
صادرات او وارداتي اجناس	۷۷
مشهورې علاقې، مرامه	۷۸
مردان	۸۳
پېښاور	۸۴

مضمون	مخ
کوهاټ	۸۷
بنو	۹۱
داسماعیل خان ډیره	۹۳
دمرکزي پښتونستان تاریخ	۹۵
۴ـ جنوبي پښتونستان:	**۱۰۰**
جغرافیه، څلور خواوې	۱۰۱
رقبه، نفوس، قدرتي وضعه، قرونه	۱۰۴
کانونه، صادرات، لارې او سړکونه	۱۰۶
مکتبونه، داخلي اداره، ولایات	۱۰۹
مکران	۱۱۴
خاران	۱۱۶
لس بیله	۱۱۸
ضلع او تحصیلونه	۱۲۰
کوټه او پښین	۱۲۱
لورالائي	۱۲۶
ژوب	۱۳۲
سبي	۱۳۶
چاګی	۱۴۱
بولان	۱۴۴
دبلوچستان تاریخ	۱۴۶
۵ـ تیراه:	
څلور خواوې، رقبه، مرکز	۱۵۹
پیداوار، علاقې، کلي	۱۶۰

مضمون	مخ
قرونه، ژبه	۵
پیداوار، صنعت	۱۶۱
دتیراه نوابان	۱۶۲
۶ـ اراسیین:	
څلور خواوې او سیند ئي	۱۶۳
کلي	۱۶۴
طبیعي وضعیت، مرکزیت	۱۶۶
اداره، پیداوار	۵
اوسیدونکي، نفوس، اوزان، مقادیر، ژبه	۱۶۸
۷ـ باجوړ:	
حدود	۱۶۹
طبیعي وضعیت، رقبه	۱۷۰
قرونه	۱۷۲
صنعت	۱۷۴
قومونه ـ کلي	۱۷۵
دباجوړ خانان	۱۸۰
معارف، محصول	۱۸۶
۸ـ دمومندو علاقه:	**۱۸۶**
طبیعي وضعیت، رقبه، نفوس	۱۸۷
مرکز، برمومند	۱۸۸
کوز مومند ـ قرونه	۱۸۹

مضمون — مخ

دریمه برخه :

دریمه برخه:



المتوکل علی الله اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
د افغانستان خلمی تولواک او د پښتونستان غمخوار حامی

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتونستان

عذر :

د پښتنو ... [illegible] ... په مرسته د اوسمهال دیاره د پښتونستان په باره کې
دې اثر په لیکلو ... [illegible] ... چه په دې لاره کې د اوس ... قدم دی یقیناً به ځینې
نیمګړتیاوې ولري ... [illegible] ... نیمګړتیاوې د صحیح مأخذ
... [illegible] ... تصحیح ... ولیږي چه یاد همدې کتاب په
... [illegible] ... شکر وشي .

هو د پښتونستان ... [illegible] ... زه په دې کار کې تول پښتانه
... [illegible] ...

د کتاب برخې :

دا کتاب ... [illegible] ... برخې لري :

۱ د پښتونستان ... [illegible] ... (په دې برخه کې د پښتونستان ... [illegible] ... شوې دي
... [illegible] ... د پښتونستان ... [illegible] ...)

۲ د پښتونستان ... [illegible] ... (په دې برخه کې د پښتونستان علاقې ... جغرافیائي وضعیت
اقتصادي ... [illegible] ... معلومات لیکلي شوي دي)

۳ د پښتونستان ... [illegible] ... (په دې برخه کې ... [illegible] ... شوي دي چه د پښتونستان
په خاوره کې ... [illegible] ...)

۴ د پښتونستان ... [illegible] ... (په دې برخه کې د پښتونستان ... [illegible] ...

مجاهدې لیکلې شوې دې چه له پخوا زمانې څخه تر اوسه پورې دغه آزادۍ دساتلو دپاره کړی دی)

۵، دپښتونستان نومیالي، (پدې برخه کې دپښتونستان عالمان، غازیان، مجاهدین، شاعران او نور نومیالي معرفي شوی دی)

* * *

لومړی برخه

دپښتونستان زاړه نومونه :

پښتونستان یعنی دپښتنو اولس هیواد او پښتون خود آریائي نژاد د هغو مشهورو او قبیلو څخه یو مهم او لوی قبیله ده چه دړې زره کاله پخوا ئې د آریانا په تاریخی ځمکه کې ژوندون کاوه. هغه وخت پښتون د «پکت» یا «پښت» په نامه یا دېده او د «ویدی» له مخې قبیلو څخه یوه قبیله بلله کیده چه تر آریائي مهاجرت دمخه د ۱۹۰۰ – ۲۰۰۰ قبل المیلاد د شاو خوا کې د باختر په ځمکه کې اوسیدله، باختر د اوسني افغانستان د شمالي برخې نوم او مرکزئي بلهیکا (بلخ) باله. بیا چه د آریائي قبیلو کډې اروپا او هند او ایران ته ولاړې نو او دباختر ځمکه پرېښوده شوه نو ځینو قبیلو ئې د مهاجرت عزم وکړ.

چه له هغو قبیلو څخه یوه د پکت یا پښت قبیله وه، دا قبیله په دوو برخو ووېشله شوه، یوه برخه ئې هم هلته په مرکزي باختر کې پاتې شوه او بله برخه د هندوکش دغرو جنوب خوا ته راواوښتله او هغه ځای ته چه دوی پکښې میشت شول د «پکتیکا» یا «پښتیخا» یعنی د پکتو یا پښتو هیواد وویل شو.

دمؤرخینو پلار یوناني هیرودوت (۴۸۴-۴۲۵ ق م) پښتون ته د پکتی، پکتیس او

پکتویس» په نوم یاد کړی دی او د دوی خاوره ئی د «پکتیکا» یا «پکتیا» بللې ده. (۱)

همدارنګه د قبیله د آریائیانو په مقدسه کتاب ریګوید کی چه تاریخ ئی تر (۲۰۰۰-۳۰۰۰ ق م) پوری رسیږی ډیره یاده شوې ده او ددوی د ځلمی پاچا «تور وایانا» زړورتوب او جنګونه هم ډیر ستایل شوی دی. تور وایانا د هغې زبردستې قبیلې په مقابل کی بریالی او فاتح شو، چه تر هغه وخته هیڅ یوې قبیلې د هغې سره مقاومت نشو کولای. د هغې قبیلې پاچا «دیوو داسا» نومیده چه نه نوی (۹۹) قلعه ګانې ئې نیولې وې خو د پکتیا نو پاچا «تور وایانا» هغه ته ماتې ورکړه (۲)

د ریګوید له سرودونو څخه داسې څرګندیږی چه څنګه چه د پکت قبیله ډیره جنګیالی او باشهامته وه نو د فتح او جنګ رب النوع «اندرا» چه د آریائیانو تر ټولو ارباب الانواعو قوی او مهم و، تل به د پکت د قبیلې ملاتړ و، او په ټولو جنګونو کی به ئی د پکت د قبیلې سره مرسته کوله، چه له دې څخه هم د پکت د قبیلې اهمیت په نورو آریائی قبائلو کی په ښه شان ښکاره کیږی.

نو هغه د «پکت» یا «پښت» قبیله ده چه د زمانې په تیریدو ورځینې «پښتون» جوړ شو او تر اوسه پورې نامه پاتې ده او په ددوی د هیواد «پکتیکا» یا «پښتیخا» کلمه هم لنډو شوی و.

پکتیکا، پښتیخا:

د هغه هیواد چه هیرودوت د پکت د قبیلې هیواد د «پکتیکا» یا «پښتیخا» په نامه یاد کړی دی، نو ددې دپاره چه له جغرافیائی نقطۀ نظره وکتل شی باید هغه حدود چه هیرودوت د پکتیکا دپاره ذکر کړی دی دلته څه نه څه راوړو.

مثلاً دی وائی په پکتیکا کی د سلیمان د غره او د سپین غره شا ته کی خپرې شوی دی چه بیلو د هغې سیمې شمالی حدود د سوات او پنجکوره او دې نقطې او داوګر د ورو څانګې او د کابل د سیند جنوبی سواحل تاکلی دی، جنوبی حد ئې

(۱) (۲) تاریخ افغانستان، لومړی ټوک ۹۱، ۹۴، ۹۸ مخونه د ښاغلی کهزاد اثر.

د کابل او د پنجاب تر منځ د هغو غرونو په منځ کې دي چې د سلیمان غرونو ته شرقي او د اباسین (سند) تر غاړو پورې اوږد شوي دي، ددغو غرونو په اوږدو کې ... (۱)

او همداشان هیر وخت د یو قبیله د خلکو غونډه نومونه اخلي.

۱، گندارې، دادهغې تاریخي ځمکې گندهارا (د کابل دره تر اباسین پورې) داوسېدونکو نوم و، چه د تاریخ په ټولو دورو کې د «گنداري» یا «گندهاري» په صفت یاد شوي دي، په اوستا کې دیوه پهلوان نوم هم «گندهاروا» و، او شنگه چه له تاریخي پېښو څخه ښکاري، گندهاري دا قبیله پخپل اصلي ځای کې د همیشه د پاره نه ده پاتې شوې، بلکه ځینې ګوندونه ئي نور ځایونو ته هم تللي دي لکه ډهنډو کشمال خواوته تر آمو پورې او سیستان او همداشان دار غنداو خواو ته تللي دي، څوک وایي چه د «قند هار» کلمه هم له «گندهاره» څخه اخیستې شوې ده.

غباري کهزاد په خپل کتاب تاریخ افغانستان کې دا نظریه هم تر یوه حده تقویه کړې ده او لیکي چه څو ځلې گندهار یانو د کابل ... [illegible] ... ارغنداو خوا ته مهاجرت کړی دی چه ... [illegible] ... چه د ... [illegible] ... ارغنداو ته ... [illegible] ... د بودیزم ... [illegible] ... د «گندهار» ... [illegible] ... د «گندهاره» له نامه څخه اخیستې شوې وي. «گندهاره» د ... [illegible] ... دېراوي پېښاور او ... [illegible] ... کړی و (۲)

۲ـ ... [illegible] ... د آرا کوزي (ارغنداو) د غاړو ... [illegible] ... د نظریې په قرار دا قبیله ... [illegible] ... په شاو خوا کې اوسېدله، څوک او څوک ... [illegible] ... موجوده ده د ... [illegible] ... کلمه را ... [illegible] ...

(۱) (۲) تاریخ افغانستان لومړی ټوک ۹۲ـ۹۳ ـ ۱۰۰ مخونه

یعنی سل او «کیدی» یعنی غواښته چه د «شوی» په معنائې د «سلو غواو خاوند» کېږی.
د دې قبیلې شغل مالداری وه، کالی ئې کندهار پورته ورته وه، اندی او شمی
توری ئې استعمالولې، د بدن پورته برخه او ورنو ته به ئې اکثراً بربنډه وه.

۳- اپاریتی، د سپین غره جنوبی خواو ته اوسیدله او معنائې «غرنی» ده. پیلو پخپل کتاب کې «اپاریتي» له «اپریدی» قبیلې څخه عبارت بولي، او دا نظریه د دقت الفي له نقطهٔ نظره درسته هم ده.

۴- دادیکی، یعنی تاجکی- چه د هیرودوت په نظریه «تاجك» د «دیکت» یوه څانګه ده (۱) او د کندهار پوسره ئې تماس درلود.

پښتونخوا:

اوس چه د پکتیکا جغرافیه او قبائل لنډ او د پر وپېژندل شوه نو په لنډ دقت هم له جغرافیائی نقطهٔ نظره او هم د پکتیکا یا پښتنخا د کلمې د ظاهری شکل څخه دا ثابتیږی چه پښتونخوا او پکتیکا له یوې ریښې څخه دی. څنګه چه په مرور د زمان له پکت یا پښت څخه پښتون جوړ شوی دی همدا راز له پکتیکا یا پښتنخا څخه پښتونخوا راوتلی ده. دا نوم تر اوسه هم په دې لنډ ظاهری تغییر په همغه مفهوم چه تقریباً دری زره کاله پخوا د پکتیکا په سر ورد و بو کې ذکر شوی دی، د پښتو ژبې په ادب کې ژوندی پاته شوی او استعمالیږی.

مثلاً شکار ندوی د سلطان معز الدین محمد سام د دربار شاعر هغه وخت چه سلطان تر (۵۷۱) وروسته پر هند حمله وکړه ده په مدح کې وائی:

پښتونخوا شکلی زلمی چه زغلی هند ته ... نو آغلیه پغلی کا ندی اتوړ نه (۲)

سلیمان ماکو چه خپله تذکره تر (۶۱۲ هجری) وروسته لیکلې ده داسکامه ئې (ژاو) د «پښتنخوا» په شکل داسې ذکر کړی:

«... په سن دوه اویشتم سوه د هجری تللی وم او د پښتنخوا په راغو او کښو ګرځیدم ... (۳)»

(۱) تاریخ افغانستان- د غباغلی کهزاد اثر- لومړی ټوك ۲۰۹ مخ
(۲) پټه خزانه ۹۹ مخ، تعلیقات ئې ۲۰۶ مخ
(۳) پښتانه شعرا- لومړی ټوك تر ۶۴ مخ وروسته د سلیمان ماکو تذکره.

خوشحال خان خټک د پښتو پلار هم پښتونخوا یادوي وایي:

نوره ولاړه د پښتونخوا په ځای میشته ده خو یو زه دي زمانې یکښې منصور کړم (۱)

اعلیحضرت احمد شاه بابا هم وایي:

د دهلي تخت هېرومه چه را یاد کړم زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه (۲)

څنګه چه له پورته خوا د ادبي اسنادو او تاریخي دلائلو څخه ثابته شوه چه «پښتونخوا» همغه زړه «پښتنیکا» یا «پښتیخاه» ده، له بلې خوا دا هم څرګنده شوه چه د اوسني «پښتونستان» زوړ نوم «پښتونخوا» و، او همدا اوس چه ئې پښتونستان بولو پخوا ئې پښتونخوا بلله د پښتونخوا او پښتونستان تر منځ دې خاورې یو بل نوم هم درلود چه د «پښتونستان» یوې برخې او پاچاهۍ ته ئې لو برخو ته به وایه کېده، دا نوم «روه» و، او اوسېدونکو ته ئې روهیلي ویل کېده.

روه:

دا نوم هم د پښتونخوا د کلمې په شان په پښتنو کې مشهور و، او د پښتو ژبې په ادبیاتو کې راغلی دی، قاضي عطاءالله خان په خپل کتاب «د پښتنو تاریخ» کې د «روه» جغرافیائي وضعیت داسې لیکي:

«... د روه په علاقه کې هغه توله کوهستاني علاقه شامله ده چه په قطب کې د سوات، بنیر، د چترال، د باجوړ او هزارې غرونه دي، او په سوئیل کې د کوه سلیمان سلسله ده، چه د دغې سرسبزې او ښایسته سره جنګیدلی دی. پدې کې د خیبر ټول غرونه شامل دي او مرغانه ته د دریای سند څخه تر غزني پورې پرته ده او قبایل ته د خواجه عمران تر غرونو پورې رسیدلې ده، هم ددې علاقې خلقو ته په هندوستان کې د روهیله، وئیلی شي. د محمود غزنوي په زمانه ددې علاقې د یرغلاق په شمالي هندوستان تمامي طور پیاندې په ملک اوده کې آباد شوي دي. او هم پدې وجه دغه ملک ته د روهیلکهنډ وئیلی شي (۳)».

(۱) د خوشحال خان کلیات ۶۳۰ مخ (۲) د احمد شاه بابا دیوان ۲۲۱ مخ

(۳) د پښتنو تاریخ - لومړی ټوک ۲۴ مخ

سید الطاف علی بریلوی پخپل کتاب «حیات حافظ رحمت خان» کی د «روه» په باب کی داسی نظریه لری:

«... روه په افغانستان کی دغرونو یوه او په سلسله ده، چه شمال ته ئی د کاشغر غردی او جنوب ته ئی بهکر او بلوچستان پروت او دشرق خواته ئی له کشمیره شروع کیږی، او غربی پلو ته ئی دهیلمند رود بهیږی ... (۱)»

او همدا شان د «روهیلکند» د تسمیې په وجه کی له قاضی عطاالله خان سره همفکره همکاری، ځکه چه دی هم دی مسئلې ته دپښتنو په تګ پوری هندوستان ته اړه ور کوی او لیکی چه په ۸۵۵ هجری کال چه بهلول لودی دهندوستان په تخت کښیناست نو دخپل سلطنت دتقویت د پاره ئی د افغانستان څخه ډیر پښتانه راوغوښتل او په هند کی ئی میشت کړل. (۲)

پدی ترتیب دپښتو ژبی په ادبیاتو کی هم د «روه» کلمه په همدی مفهوم راغلې د مثلا کاظم خان شیدا وایی:

په هندی ادائی وکړی په ما چاری — زه شیدا په زړه ساده د «روه» افغان یم

بل ځای وایی:

شیدا واخوره رنګین اشعار له هنده — ستاله رای سره آشنا د «روه» یاران دی

دا ژباړی هم د شیدا ده:

چه دهند سبزه خو ډلی پان وی — لعل و یاقوت ئی د واړه لبان وی
زړ کی چه ګرزی د «روه» په غرونو — شایسته روڼی په شان وی (۳)

اشرف خان هجری هم دخپل هجر په وخت کی د «روه» له خوا په یاد دخپل زړه تسلی کوی او وایی:

قاصدان له «روهه» راشی هغه شو — سلام باد را رسوی هغه ئی تم دی

له هغې لنډې یادونې څخه دا څرګندیږی چه «روه» هم په وخت دپښتونستان نوم و، او باید دپښتونستان په تاریخ کی ثبت پاته شی.

(۱) (۲) حیات حافظ رحمت خان ـ ۳۰۲ مخ
(۳) د کاظم خان شیدا قلمی دیوان.

دوهمه برخه

دپښتونستان خاوره:

دپښتونستان خاوره د کشمیر، پنجاب او هندوکش د غرونو د سلسلې د سره بیا افغانستان، ایران او بحیرهٔ عرب ترمنځ پرته ده، چه لمرختوته ئې کشمیر او د پنجاب علاقه ده، شمال ته د هندوکش د سلسلې د سر غرونه پراته دي، لمرلویدو ته ئې د افغانستان او ایران مملکتونه دي او جنوب ته ئې بحیرهٔ عرب پروت دی.

تر څوکه چه تر اوسه د پښتونستان د خاورې یوه برخه د پاکستان استعماري او متجاوز حکومت جبراً په خپل لاس کې نیولې ده نو ځکه موږ د پښتونستان خاوره د هغو اساسي تشکیلاتو له رویه چه په وروسته زمانه کې په ئې د پښتونستان خاوره موږ معرفي کولای شو، ځکه یوازې د پښتونخوا سره دو مراجعات [illegible] شوي او هغه علاقې چه په دې [illegible] کې شته او د هغوی په باب کې څه نه څه معلومات لاس ته راغلي دي نو له هغو خاص ترتیبه ئې را اوړو.


۱ ـ چترال (۱)

چترال د پښتونستان [illegible] علاقه ده [illegible] د چترال په [illegible] او [illegible]
[illegible] کاشغر [illegible] هم یاد شوی دی، چترال په [illegible] علاقه کې
[illegible] دی چه [illegible] علاقه [illegible] بېلې شوې ده، په وخت دا
علاقه [illegible] د پښتونستان [illegible] هم یاد شوې ده او [illegible]
[illegible] شوې ده.


د چترال خلور خواوې:

[illegible]
[illegible]

(۱) په دې برخه کې د تاریخ چترال د کتاب څخه استفاده شوې ده چه میرزا محمد غفران خان چترالي لیکلی دی.



د پښتونستان د چترال مجاهدین ځلمیان چه د چترال د شهزاده سره د پښتونستان
د خدمت دپاره کابل ته راغلي دي



د پښتونستان د چترال ځلمیان د پښتونستان جوړولو په لار کې خدمت ته حاضر دي

(چه د افغانستان دواخان سرحد هم پکښې شامل دی) سوئیل طرف ته ئی دیر پروت دی او د دیر څخه دیوې سلسلې غرونو په واسطه چه (۱۲۰۰۰) فټه اوږد والی لري جلا کېږي. دچترال نفوس (۱۲۰۰۰۰) تنه دی، ځمکه ئی اکثره ناهمواره ده او د زراعتي ځمکو لویه برخه ئی هغه ده پرته ئی ځمکې دی چه په ډېر زحمت د غرو په لمنو کې د کرهنې دپاره آماده شوي دي. دچترال اوږدوالی قریبا (۲۰۰) میله او پلن والی ئې (۷۵) میله دی آب وهوائي عموما سړه ده، او پکښې غنم، اوربشې جوار، وريجې، ماش، او نور پیدا کیږي، میوه لرونکی ونې هم پکښې ډېرې دي.

دچترال مرکز:

پخپله د چترال کلی دی چه پخوا ئې چترار پاله، د اکلی د سینه په غاړه پروت دی او ډېره ښه هوا لري. پو وخت د چترال رئیسان د سینه سوئیل څوا ته او سینه چه هغه ځای اوس «ژانګ بازار» یعنې چیګ بازار بولي چه له دې نوی مرکز څخه نیم میل لري دی. د چترال د ا او سنی مرکزی قلعه د اوسني مهتر پوه نیکه چه محمد شفیع نو میده جوړه کړیده.

دچترال دری او علاقې:

د چترال ئی له علاقه لهقسریا د دروسه شکل پر ته ده، مشهوری دری ئې دادی:

۱ــ پخپله دچترال دره، چه چترال کول ــ کولین ــ درا لوش ــ کوغزی ــ اوږغچ موږي ــ [illegible] کول او کشت ئی مشهور کلی دی، په دې کلیو کی شهزاده رضا خیل او محمد بیګ طائفی اوسی.

۲ــ د غوزاری دره، دې دري ته ئی د انجګان هم وایل. د چترال توده چینه په هم دې دره کی ده، او د [illegible] لنګوه دره ئی هم بولی، پخوا د مهتر او تر کستان او [illegible] تر منځ د هغې لاری څخه تګ او راتګ کیده او تجارتی قافلې به تیر یدلې

چه له دې درې څخه یوه لار د آبپاسین په غرونو باندې هند ته تللې وه ، که څه هم دا لار اوس ترلې شوې ده خو په همدې دره کې یو بل کوتل د «نقصان او خڅتزه» د کوتل په نامه شته چه د چترال او بدخشان خلك پرهغه باندې تګ او راتګ کوي په دې دره کې ښکلې ځنګلونه او ښه آبشارونه او د ښکار ځایونه موجود دي شغور ، لټکوه ـ نقصان او خڅتزه ئې مشهور کلي دي . اوسیدونکي ئې د «مولائي» طائفه ده چه شیعه ګڼان دي .

۳ ـ د مولکهو دره : د «ارژوژ» دره ئې هم بولي ـ مشهور کلي ئې : دراسن سهور ـ کشم ـ مدك ـ نشکو اوتري دي ، دلته مختلف قومونه اوسي .

٤ ـ د تور شګوم دره : دا دره په «ارکاري» هم مشهوره ده ، مشهور کلي ئې ایسن توئي ـ سنلدي ـ اشقمن ـ اسپن ـ پهکور ـ اوری چتور او کهان دي .

٥ ـ د تور کهو دره ، چه «خوشه» او «رضا خیل» طائفې پکښې اوسي او مشهور کلي ئې دادي : ریچ ـ استار ـ دیر ـ کهت ـ رایین .

٦ ـ د مستوج علاقه ، دلته غلور پرګنې پرتې دي ، «غذر پرګنه» «لاسپور پرګنه» «دیار خونده دره» «غذر پرګنه» . مشهور کلي ئې دادي : برنس ، بالیم ، لاسپور ، رسن ، یارخون ، بونی ، غذر ، پرینګل ، پاور ، غوبار ، شندور ، په دې علاقه کې دا طائفې اوسي : شوقه ، رضا خیل ، غذري ، آدم ، خسرو ، قنبري .

۷ ـ د یوسال پرګنه : مشهور کلي ئې موږ ـ ایلغی ـ ګیاه کوچ ـ مستري کرنجوږ ـ ایږ ـ کوروتي ـ سنګل ریات ـ چوواړ ـ کوایر ـ شکپلوت ـ دستخاتون .

۸ ـ د دروش علاقه : چه په «دروش» او «دروش» سره هم تلفظ کیږي ، دا علاقه د چترال ډیره مهمه او پر نفوذه نقطه ده ، په ډیره بیا د عسکري سوقیاتو له نقطه نظره هم ډیر اهمیت لري . سلا همدې کبله پرنګیانو دخیل استعمار په وخت کې دلته ډیر فوج متمرکز کړی و .

دا علاقه د افغانستان سره ګډې اتصال لري ، مشهور کلي ئې دادي : دمیل بوري ـ اشریت ـ ګتنك ـ دروش او دشیشي کوه دره .

په دروش کې «نرستي» طايفه او سبزي، او «نرست» هغه قوم ته ځمکه ده چه د غره په لمنه او دسيند په غاړه پرته ده. داعلاقه ددروش په امر لويده خوا دبريکوټ اوداففانستان تر خاورې پورې اوږده شوې ده. داسمار اوباجوړ پښتانه دنرستي طايفه «کوهستاني» بولي.

دچترال غرونه:

۱ - د ترچمير غر: چه دخاص چترال څخه شمالي خواته شلو پنځو ميله پروت دی اوتل په واورو پټ وي، لوړوالی ئې (۲۵۰۰۰) فټه دی، او د چترال خلک ئې دښاپيريو ځای بولي.

۲ - سد استراغ: چه دسد استراغ په نامه کوتل هم لري - لوړوالی ئې (۲۵۰۰۰) فټه دی.

۳ - ډيال غر: دسنو غر او مستوج ته نژدې دی لوړوالی ئې (۲۱۰۰۰) فټه دی.

۴ - ددون غر: ترچمير ته نژدې دی لوړوالی ئې (۲۰۸۰۰ فټه).

۵ - دوسم غر: دياړخون په دره کې پروت دی - لوړوالی ئې (۲۱۰۰۰) فټه

۶ - دلاسپور غر: دياړخون په دره کې پروت دی لوړوالی ئې (۲۱۴۰۹) فټه

۷ - د ګاه کوچ غر: د ګاه کوچ او دروش ترمنځ. لوړوالی ئې (۱۶۸۵۰) فټه

۸ - دلاوری غر: دپېښاور لارددير اوچترال ترمنځ - لوړوالی ئې (۱۰۲۰۰) فټه

دچترال کوتلونه:

۱ - دچمرکنډ کوتل: دمستوج او غذر ترمنځ. څلور مياشتې دواورې څخه بنديږي او لوړوالی ئې (۱۴۵۰۰) فټه دی.

۲ - د شاندور کوتل: دمستوج اوغذر په منځ کې دپلو دپاره هميشه خلاص وي خو د سپرو د دپاره يوه مياشت بنديږي - لوړوالی (۱۲۵۰۵) فټه.

۳ - د تهو ئي کوتل: دياړخون او دريس ترمنځ - اووه مياشتې بندوي لوړوالی ئې (۱۴۷۰۰) فټه دی.

٤ ـ د درکت کوتل، د بیار خون او درشکوم تر منځ ـ شپږ میاشتې بند وي اوږد والی ئې (۱۵۰۰۰) فټه.

۵ ـ د بروغیل کوتل، د بیار خون او د افغانستان د واخان تر منځ ـ تل خلاص وي اوږد والی ئې (۱۲٤٦۰) فټه دی

٦ ـ د کانخون کوتل، د بیار خون او واخان تر منځ درې میاشتې بند وي (۱۲۸۰۰) فټه اوږد والی لري.

۷ ـ د اوچهلي کوتل، دریچ او واخان په منځ کې ـ اس میاشتې بندېږي اوږد والی ئې (۱۸٤۱۰) فټه دی.

۸ ـ د کهووان کوتل، یو ولس میاشتې بند وي اوږد والی ئې (۱۸٦۰۰) فټه دی.

۹ ـ د سد استراغ کوتل، چترال له بدخشان نه جلا کوي ـ اس میاشتې بند وي (۱۸۹۰۰) فټه اوږد والی لري

۱۰ ـ د شا جنالي کوتل، دریچ او بیار خون تر منځ ـ ۷ میاشتې بند وي (۱۶۷۰۰) فټه اوږد والی لري.

۱۱ ـ د کیاروان کوتل، داوړ او اجور تر منځ ـ ٤ میاشتې بند وي.

۱۲ ـ د نقسان کوتل، د چترال او بدخشان تر منځ اوږد والی ئې (۱۷۵۰۰) فټه دیلیو دیار ره همیشه پرانیستی دی.

۱۳ ـ د نقسان کوتل، د چترال او بدخشان تر منځ ـ ٤ میاشتې بند وي اوږد والی ئې (۱۶۵۶۰) فټه.

۱٤ ـ د سروینج کوتل، د داکرم او گوډ تر منځ ـ اس میاشتې بندېږي.

۱۵ ـ د اکرم کوتل، د چترال او بدخشان تر منځ ـ ۷ میاشتې بند وي.

۱٦ ـ د دورا کوتل، د چترال او بدخشان تر منځ درې میاشتې بندېږي (۱٤۸۰۰) فټه اوږد والی لري.

۱۷ ـ د زوداک کوتل، د چترال او نورستان تر منځ ـ ٤ میاشتې بند وي.

۱۸ ـ د گول اوی کوتل، د چترال او نورستان تر منځ ـ ۵ میاشتې بند وي.

۱۹ ـ د بیگشت کوتل، د چترال او نورستان تر منځ ـ ۵ میاشتې بند وي.

۲۰ـ د ګښکل وټ کوتل ؛ د چترال او نورستان ترمنځ ۸ میاشتې بند وی •

۲۱ ـ دز یښور کوتل ؛ د چترال او نورستان ترمنځ ۸ میاشتې بند وی •

۲۲ ـ داوستوی کوتل ؛ » » » » » » »

۲۳ ـ دشوال کوتل ؛ » » » » » »

۲٤ ـ داوچهار کوتل ؛ » » » » » »

۲۵ ـ ددرك کوتل؛ » » » » » »

۲٦ ـ دچلی ګول کوتل ؛ دمسند او نورستان ترمنځ ۸ میاشتې بند وی •

۲۷ ـ د برد بو کوتل ؛ » » » » »

۲۸ داورسون کوتل ؛ د چترال د جنوب او نورستان په منځ کې ـ ټول کال خلاص وی •

۲۹ ـ دساد ګول کوتل ؛ د بر اول او دروش ترمنځ څلور میاشتې بند پرې ی •

۳۰ ـ د نرست ګول کوتل ؛ » » » » » »

۳۱ دارندو ګول کوتل ؛ » » » » » » »

۳۲ ـ دلاوی کوتل ؛ د چترال او دیر په منځ کې دسیر و دیاره ٤ میاشتې بند وی او د پلیو دپاره همیشه خلاص وی

۳۳ ـ د کچی ګی کوتل ؛ دلاسپور او باشقار ترمنځ ـ ۸ میاشتې بند پرې •

۳٤ ـ د چشی ګول کوتل ؛ دغذر او تانګیر ترمنځ » » »

۳۵ ـ د بهلتی ګول کوتل ؛ د روشګوم او داریل ترمنځ ـ دوې میاشتې بند وی

د چترال ځنګلونه :

چترال ډیر ځنګلونه لري او خصوصاً په غرونو کې یې د نښترو و نې ډیرې زیاتې دي او د پښتونستان د صادراتو لوی منبع ګڼل کېدلای شي ، په تیره بیا چه لرګی ئې د کونړ د سیند له لارې پښتونستان ته تلای شي او له هغه ځایه د اقتصادي فائدې دپاره هم په دننه پښتونستان کې استعمالېدی شي او هم خارج ته استول کیدی شي . هغه وخت چه پرنګیان چترال ته راغلي د چترال د لرګو تجارت د کونړ د سیند له

لاری جاری و ، خو څه وخت چه پرنګیان راغله نو د افغانستان د پښتونوله خوا دا لار بوې بنده کړه شوه .

امیر حبیب الله خان خیال درلود چه دچترال لارګی افغانستان ته را وړی او ددې مقصد دپاره ئې حاجی شهنواز خان او نور محمد خان کوچی تره کی چه په «نورکی» مشهوررو ، چترال ته واستول او څه لږګی ئې تر جلال آباد پورې هم راورسول خو بیا بیرته دا کار معطل شو ، معلومه نه ده چه له څه سببه ؟ په ۱۳۱۸ شمسی کال بیا « بلګرام شانی » نومی هندوستانی دارګو متخصص دحاجی شهنوازخان سره د چترال دارګو دتجارت دپاره « چغسرای » ته ولاړ ، مګر هغه متخصص هم تاوان وکړ او دا کار ئې پریښود .

بیا لعل محمد نامی چه په قوم لاهوری و دلاهوردارګو خرڅو او دشرکت له خوا د چترال دارګو دتجارت دپاره افغانستان ته راغی نور شریکان ئې دهغه په دول چترال ته ولاړل او دوه کاله ئې دغه ځای دارګو تجارت وکړ ، دارګو دړلو په وخت کی ئې څه محصول افغانستان او څه محصول دپښتونستان آزادو قبائلو مومندو ته ورکاوه ، تر دوو کالو وروسته هغه تجارت هم معطل شو ، او س د پښتونستان ددې مهم تجارتی منبع صادرات معطل دی او د آزاد پښتونستان دحکومت انتظار باسی چه بیا دا اقتصادی منبع په کار واچوی .

د چترال کانونه:

په چترال کی چه تراوسه تحقیقات شوی دی دوه ډوله کانونه شته یو د «هړتال» دفلز کان او بل ددریائی طلا کان . وائی چه د « زرنیخ » او « مس » کانونه هم دغه ځای په غرو کی شته ، خو چا تر اوسه نه دی پیدا کړی دهړتال دفلز کان په « تریچ » نومی ځای کی ایستل شوی دی او دریائی طلادسیند دریګ شوئی څخه لاس ته راځی چه داریګ شوئی پخوا دبدخشان په علاقو کی هم

وه ، خو اوس دا کسب پوازې په چترال کې پاته دی ، دمېګنېز و ډېر زيات مقدار امريکا ته صادرېږي ، دا برك کانونه هم ډېر دي ،

دچترال صنعت :

په چترال کې دوه ډوله شخه ډول قسم ولړيني خولۍ جوړ وي چه « پکول » ئې بولی ، او هم يو ډول قالينچې جوړېږي چه پټ نلري او د ټغر په شان وي ، جرابې ، دستکش ، واسکټونه او کوټونه هم دوه ډوله شخه تيارېږي ، او يو راز قيطان هم له و ډېر شخه جوړ وي ، په ځينو ځايو کې کرباس هم او د ل کېږي ،

دچترال صادرات :

د چترال شخه ودين اجناس ، قالينچې ، ارګې ، پوست ، غوړي ، شات او يو تکی صادرېږي ، پېښاور ، کابل او نورو ښارونو ته ځي ، چه که دېخوا په شان تجارت جاري شي پوازې دارګوله امله به د کاله شپږ لکه کلدارې پښتونستان ته ګټه ورسېږي ،

دچترال معارف :

پخوا به دچترال طالبان بدخشان او بخارا ته په تحصيل پسې تلل ، مګر اوس په چترال کې يواوې مکتب شته چه زر تنه شاګردان لري او نوي عصري علوم پکښې لوستل کېږي ، دامکتب لس جماعته اری او تر لس جماعته وروسته خارج ته لېږل کېږي ، دامکتب شجاع الملك تأسيس کړی دی ،

دچترال مدنيت :

۱ ـ دچترال تېلګراف ، دتېلګراف پولين د کشمير ، ګلګت او شاندور له لارو نه تر چترال او دروش پورې راغلی دی او يوه بې سيمه دستګاه لري ، چه په ۱۳۲۰ ه ـ ۱۹۹۳ ع کال نصب شوه ،

۲ ـ دچترال ټولو حاکم نشينو ځايونه ټيلفون تللی دی ،

۳ ـ په دروش او چترال کی دوه دالونکو میدانونه هم شته.
۴ ـ داوبو برقی کارخانه چه حکومتی عمارتونو او ځینو ودانیو ته برق ورکوی، برقی کارخانی په چترال ـ شغور ـ داومچ ـ ایون او دروش کی هم شته.
۵ ـ دوې شفاخانې هم شته چه یوه په دروش کلی کی ده.
۶ ـ دچترال دواړوخواوته دموټر سړکونه شته، چه تقریباً (۱۵۰) میله اوږدوالی لری.

دچترال نفوس:

دچترال د تاریخ په کتاب کی دچترال نفوس شلور لکه لیکلی مګر ځینو چه پرنګیانو لیکلی چترال نفوس (۸۰۰۰۰) ته دی.

دچترال قومونه:

په چترال کی دپښتنو سره دا قومونه هم اوسی: کټوری د حکمران طبقه، کلش یا کولس (۱) ـ کبری ـ شغنیه ـ خانیه ـ سنګله ـ خوشوقتیه ـ خوشحال بیګه بابا بیګه ـ بروشه ـ خوش آمدیه ـ محمد بیګه ـ رضاخیل ـ خوشه ـ خسروه ـ روشته ـ تمر بیګه زوندران ـ بیګاله ـ داشمنه ـ خواجه خیل ـ مقصوده ـ عازه ـ بدیره ـ ګجر.

دچترال مذهبونه:

۱ ـ اهل سنت او جماعت دی؛ ۲ ـ کلشی مذهب ـ چه دچترال دزړو او سیدونکو مذهب دی؛ ۳ ـ مولائی مذهب ـ چه د آغا خان پیروان دی او اسماعیلیه او باطنیه یې هم بولی
۴ ـ پاشکلی ـ چه د نورستان پوزړو مذهب دی.

دچترال ژبی:

۱ ـ پښتو ۲ ـ فارسی ۳ ـ چترالی (چه مخصوص دچترال ژبه ده، فارسی، پښتو، ترکی

---

(۱) دا طائفه ځینی مسلمانان او ځینی لا تراوسه کافران دی، ددوی ته کولس یا کلاش تراوسه په افغان کی مروجه ده، دا طائفه دیو افریقه نژاد کوز بوری ته دا اوس لا هم په افغان کی د کولس طائفه شته، په کوز کی دا طائفه د کلش په نوم بولی.

اومندي لغتونه پکښې شته) ٤ - ترستي ژبه (چه د ترست طائفه خبري پې کوي دا ژبه د دروش نوردژبو سره مشابهت لري) ٥- کلاشي ژبه ٦- ديلي ژبه ٧- دنګرګ ژبه،

٨- اټکوي ژبه (د بدخشان د کران، يمګان او منجان خلك ئې وايي)

٩- ويرسکي ژبه (دا ژبه د ورشکوم هنزه او نيګر د خلکو ده).

١٠- باشګلي ژبه (چه د نورستان د يوې قبيلې ژبه ده).

١١- پنجابي ١٢- ګجري ژبه ١٣- اردو ١٤- لاسپوريك ژبه ١٥- يارخونيك

١٦- اوژوريك ١٧- کوهستاني.

دچترال طبقې:

په چترال کې دوې طبقې خلك اوسي،

١- آدم زادي، چه دچتراليانو په نزد دا يو شريفه طبقه ده، لومړي سر کې دا نوم دحکمرانانو دطبقې دپاره مخصوص و، بيا وروسته پر نسلونو، په پای کې دا لقب دچترال مهتر هرچاته چه به ئې خوښه و، د اعزاز په دول ور کولای شو، او اوس ئې هم ور کوي.

٢- فقير يا مسکين، په چترال کې په دې نامه څو طبقې ياديږي،

١- نوکر پيشه (چه پټانې ئې بولي) د کالشو طائفه ده.

٢- بيګاري (چه بو اډا بوني ئې بولي) يعنې معذابر

٣- بار کش- پنډي (چه ريت ئې بولي) ٤- خانه زاد (مريي)

لومړی طبقه يعنې آدم زاده ماليې څخه آزاده دي اما په جنګ کې شامليږي.

دوهمه طبقه يعنې فقير عشر ور کوي او هم د مهتر ټول شخصي کارونه کوي او هم په جنګ کې شامليږي.

دچترال محلي تشکيلات:

١- پخپله دچترال مهتر ٢- دده وليعهد ٣- ديوان بيګي د مالياتو (ناظم) ٤- اقسقال و اتاليق (دجنګ ناظم) ٦- چهار ولو (حاکم يا علاقه دار يا تحصيلدار) ٧- براملش (دتعميراتو ناظم) ٨- يسلول (مهماندار- يا دد ربار

ناظم) يو كونسل دمشورې دمجلس په شكل لري ، خو اعضائې دمهتر له خوا ټاكل كيږي ، يو رئيس او پنځلس تنه اعضا لري ، رئيس ئې د « بهادر اتاليق » د لقب څښتن او منصب دى خاوند وى .

دچترال ټولې علاقې شپږ حكمرانۍ لري چه لاندې ښايو كى :

١ - دروش ٢ - مستوج ٣ - غذر ٤ - غذر ٥ - مولكهو ٦ - تور يكهو

په هر حكومت كې يوه دمشورې جرګه موجوده وى ، او هر حكومت يو قاضي لري او قاضي القضاة په مركز كې وى . د ملك او زميندارۍ معاملې يوازې په مهترا له لري .

دچترال ماليه او محصول :

١ - د زراعت او باغونو څخه لسمه برخه دعشر په نامه دماليې په ډول اخلى چه تخمينا (٩) لكه كلداره ته رسيږى ٢ - ګمرکي محصول په چترال ، دروش مستوج او شغور كې اخيستل كيږى او ٦ لكه كلداروته رسيږى .

٣ - د ګجران څخه د كرهڼى ، دښكاروى وښراګاه ، د غوړو ، زرو ، پسو ، غويو او داسې نورو محصول اخيستل كيږى . دا محصول اكثر په ټيكه وركول كيږى ، له دې ممره د كاله درې لكه كلدارى عايدات لري .

دچترال مواصلات :

الف : سړكونه : په چترال كې دوه سړكه شته ، يو يې ګډ رو سړك دى چه پر « لا ورى » كوتل تېر شوى دى ، او پخوا دهند او « ياركند » سوداګران په دغه لار راتله (١) دا سړك په كال كې پنځه مياشتې خلاص او اووه مياشتې له واورى بنديږى .

دوهم موټر رو سړك دى چه دچترال دسيند په دواړو غاړو دننه په چترال كې جوړ شوى دى ، ديوانډى ته لار لري .

ب : پلونه : ١ - د كوټى پل - له اړ ئي څخه تخمينا ٢٠ ميله لېرى دى .

٢ - د ننګر پل - له كوټى څخه پنځلس ميله لېرى دى .


(١) اوس هغه لار متروكه شوې ده ، دهند او يار كند تجارت د ګلګت او هونزا د سړك له لارې كيږى .

۳ ـ ددروش پل ـ له نګر ښخه لس میله لیری دی .
٤ ـ دشیشی پل ـ ددروش او کیوتر ترمنځ .
ه ـ دایون پل .
٦ـ دګهربټ پل ـ له دروش ښخه لس میله لیری دی .
۷ـ دچغور پل ـ له ګهربټ ښخه یو ویشت میله لیری دی .
۸ـ دچموپل ـ بشپله په چترال کی دی ـ له چغور ښخه دوه میله لیری دی .
۹ـ دکوجوپل ـ چه له چترار ښخه شپږ میله لیری دی .
۱۰ـ دمروی پل ـ چه له کوجو ښخه ۱۲ میله لیری دی .


دچترال کلی .

دکلی نوم :	دکورو شمیر :	تفصیلات :
چترار	۲۰۰۰	مرکز
ارنوی	٥۰	دافغانستان دسرحد دبریکوټ په مقابل کی
لنګوربد	٤۰	دارنی ښخه ۱۰ میله لیری .
تسار	۱٥۰۰	دره ده
کاووتی	۱۰	دچترال مملو که
میرکندی	٦۰	٦۰ نفری تانه لری .
داشتریت دره	۳۰۰	دره ده
دتنک کلا	۱۰۰	
دبیور دره	٤۰۰	خلور لوی کلی لری .
دروش	۲۰۰۰	عسکری موقعیت لری او دانحریزانو ۷۰۰ تنه عسکرهلته و وه
دشیشی دره	۲۰۰۰	اکثراً مالدار دی .
بلتی		دمهتر املاک دی

ــــکر	٤٠	
هند	٤٠	د افغانستان د شرقي حدودو او د پښتونستان خط فاصل له دې ځایه شروع کېږي
سویر	١٠٠	
اوسیك		د مهتر املاك دي
کیسو	١٤٠	۳۰ کوره مریي او نور رعیت دي .
بروز	١٧٠٠	اس کلي دي
کریت	٤٠	
د بریر دره	۳٠٠	
ایون	۲٥٠٠	له چترال له لس میله لیري
ارفچ	٦٠	
چمرکند	١٠٠	
بکر آباد	۳٠	
بڅور	٦٠٠	غلور کلي اري
دنین	١٥٠	د سیند بلی غاړی ته د چترار په مقابل کی
کساوی	٦٠	د میرزا محمد غفران د چترال د کتاب د مصنف کلي
راغ	۳٠	
کوغوزی	١٠٠	دري دري لري چه اکثر کبر قام پکښې اوسی
سنګور	٥٠	تر چترال دوه لوه پروت دی .
سیتلی	٤٠	
شالی	۳٠	
بهتولی	۳٠	د چترال د مهتر باغ دی
کوربخ	۲۲	د چترال د مهتر ځای .
بشقت	۳٠٠	



دچترال دغرونو او سیند یوه ښایسته منظره



له کیڼې خوا څخه
[illegible] سړی [illegible] د چترال [illegible] گوند دریم سړی مظفر الملک د چترال پخوانی
[illegible] جناب سیف الرحمان خان د آزادیخواهی په جرم د پاکستان د متجاوز
حکومت له خوا بندی دی

داڅو ر ودره

اوډیر	۲۰
درشت	۵۰

دناصر خسروز یارت

ارکاری	۳۰۰
شغر	۲۰۰
گوجو	۱۰۰
موری	۱۵۰
حرم گول	۱۰۰
پښتی	۲۰
موری اشت	۱۲
مروی	۱۰۰
بازاس	۱۰
اربیون	۵۰۰
شگران	۶۰
زهیله	۵۰
کوراغ	٤۰
اویر	۸۰۰
اونا	٤۰۰
کهکیر	۱۰۰
د کشت دره	[illegible]
چرله چرن	۳۰
بونیت بونی	[illegible]
اوی ښانی	۲۰
سنوغر	۱۰

ددې درې پای ته دمهتر دېسرلی صیفیه

ددې درې په پای کې ددوراه کوتل دی ۱۲۰
دنقصان او خټېزه کوتل دلته دی

دوه کلی اری

دوه کلی اری

رسټ دړشن هم ورته وائی شیڼ کلی اری

دوې لارې اری یوه دتوریکهوا او بله دمو لیکوخواته

مرام ګرام ۶۰
بروك ۴۰
دانصر دره ۲۰

تبصره، دا یوازې د دروش او چترال او ژوړ او مستوج د علاقې کلي دي د لټکوه ملکوه، تورکو او یارخون او نورو علاقو د کلو نومونه لاس ته رانغله.

دچترال عتیقه آثار :

۱ - د تور یکهو د علاقې په راتن کې لارې ته نږدې یوه اوږه منقوشه ډبره پرته ده چه د چترال خلك ئې (قلندر بوترد) بولي - څنګه چه ئې له اوسنیو څیړنو څرګنده شوې ده په زړه ژبه لیکلې شوې او د پخوانیو هندوانو یو معبد و. د نقشې په پای کې د «راجاجیو پال» نوم کینلی شوی دی - تاریخ ئې ۷ کال تر عیسی علیه السلام وروسته دی.

۲ - د ورشګوم په علاقه کې یو غر دی چه (ژربیار) نومیږي هلته یوه اوږه غلوره ډبره پرته ده چه لوړ والی ئې د انسان دونیم قده دی پر هغې ډبرې پاندې د انسان، مرغانو، وحشو او وسلو تصویرونه نقش شوي دي د ترکانو او چینیانو تصاویر جلا جلا پیژندل کیږي.

دچترال مهتر :

لکه څنګه چه دوی پخپله د چترال تاریخ په کتاب کې لیکلي دي د چترال د مهترانو سلسله د بابا ایوب خراساني ته رسیږي چه د خراسان له تیموري شهزادګانو څخه و، او د فقیرۍ په لباس له خراسانه چترال ته راغلی و، تر بابا ایوب وروسته دده زوی «شاه ښتاق» یعنې (نوی سپوږمۍ) دده پر ځای د سجاده نشین شو بیا د شاه ښتاق زوی «سنګك علي» د حکومت په نوکرۍ کې داخل او ډیر اعتبار ئې پیدا کړ، د سنګك علي دوه زامن پاته شوه یو «محمد رضا» او بل «محمد بیګ» چه یوه د سپه سالارۍ منصب درلود او بل د ملکي چارو مهتمم

د محمد بیگ زوی د «محروم شاه» په نامه شو چه لقب ئی «شاه کټور» وه، دده له اولادې څخه شاه ناصر دچترال دحکومت رئیس شو او دچترال د مهتر توم ئی پر ځای کښېښو دهاوتر اوسه ددوی اولاده په دې نامه یادیږي.

یو بل روایت دی چه «بابا ایوب» اصلاً دافغانستان دپنجشیر دهزاره دڅکلي و، او دبدخشان دیو میر رضا شاهی پلار و. هغه وخت چه دغه میر پرچترال بری ومونده او دچترال حکومت ئې په لاس کې واخیست نو هغه حکومت ئی بابا ایوب ته وسپاره او پخپله بیرته بدخشان ته ولاړ.

د چترال اوسنی مهتر د «شجاع الملک» لمسی او د «مظفر الملک» زوی «سیف الرحمان» نومیږي چه اوس دپاکستان داستعماري او متجاوز حکومت په لاس کې نظر بند دی. تر مظفر الملک دمخه «ناصر الملک» د دغه مشر ورور دچترال مهتر و چه په ۱۳۲۲ هجری شمسی کال وفات شو او پرځای ئی مظفر الملک دځان نائب وټاکه.

دچترال لنډ تاریخ:

د چترال رودخانه د دری زره کاله پخوا په ریګ ویدا کې د «راسا» پنامه یاده شوې ده چه «وی وین دوسن مارتن» ددې رودخانې موقعیت دسوات او دکابل دسیند ونو ترمنځ ټاکلی دی او د کابل دسیند د شمال ممیا و نیزو څخه پاله شوی دی او داهغه رودخانه ده چه په کلاسیکي منابعو کښې د «خواسپس» پنامه یاده شوې ده (۱) په دې ترتیب نو تر اسلام دمخه چترال دآریانا «اوی افغانستان» دخاورې یوه ټوټه وه او لکه څنګه چه هغه وخت نور افغانستان د آریائي نژاد ټاټوبی او مسکن و، چترال ته هم دآریائي نژاد څانګې رارسیدلي وې او په هغه وخت کې دچترال ابتدائی قوم د «داردی» پنامه یادیده چه دآریائي قومونو څورا زوړ قوم و، چه دآریانا په شمال شرقي برخو کې اوسیده. (۲) کوم وخت چه داسلام مقدس دین افغانستان ته راغی، او ورو ورو په ټول افغانستان

(۱) تاریخ افغانستان امری ټولک ۷۳ مخ د کهزاد اثر (۲) تاریخ افغانستان ۱۰٤ مخ

کی خپور شونو چترال ته هم ورسید، وایی چه داسلام درا رسیدو سره په چترال کی «بهون» نومی کافر حکومت کاوه او ددوی محلی حکومت د بدخشان تر سرحداتو پوری رسیدلی و. ده داسلامی لښکر وسره ډیره سخته جګړه وکړه ددغه وخت کله والی لاتر اوسه د چترال دیګان، ګرګان او مشر ګول په غرونو کی لیدلی کیږی.

تر اسلام وروسته هم دغزنوی دورې څخه نیولې د اعلیحضرت احمد شاه بابا تر دورې پوری چترال دافغانستان دوا کدارانو تر نفوذ لاندی و، حتی د سدوزو په دوره کی هم ترڅو چه دانګریزانو امپریالیستی او استعماری حکومت د افغانستان پر لمر ختیزو برخو تجاوزنه وه کړی چترال د کشمیر په څیر دافغانی شاهانو په لاس او اداره کی و. د امیر شیر علی خان په عصر کی سردار نظام الملک خپل مشر زوی امیر شیر علی خان ته را واستاوه او دخپلی خواهش ئی وکړ چه خپله کمه لور ددوی کم زوی ته په نکاح ورکړی، که څه هم دا خواهش ئی معطل پاته شو، خو په عوض کی ئی د کابل ددربار یو نماینده «میر علم خان» نامی د مشاور په حیث چترال ته واستوه او اوه کاله هلته و. بیا تر امیر شیر علی خان وروسته دامیر عبدالرحمن خان په وخت کی هم چترال دافغانستان له تابعه وتلی نه و، خو په دې وخت کی له یوې خوا دانګریزانو دامپریالیستی سیاست ریښې پښې چترال ته رارسیدلی وې او له بلی خوا په داسی حال کی چه دافغانستان عسکر د اسمار، بریکوټ او نورستان تر سرحداتو پوری رسیدلی و، او لا ئی غوښته چه پر مخ ولاړ شی ناڅاپه دانګریزانو له خوا دافغانستان د سرحد منحوسه حد بندی دافغانستان پر حکومت تحمیل شوه نو ځکه چترال دافغانستان له خاوری څخه جلا پاته شو او ورو ورو دانګریزانو مستعمره شوه.

چترال ته دانګریزانو راتګ:

په ۱۹۲۷ هجری قمری کال مهتر امان الملک چه په هغه دوره کی د چترال مهتر و، په دې غرض چه د چترال مهتری ددوی په کورنی او زامنو کی پاته شی خپل یو نماینده چه «غلام دستګیر خان» نومیده هندوستان ته ولیږه او دهغه دانګریزی

حکومت څخه ئې دیوه نماینده خواهش وکړ، انګریزانو هم «میا رحیم شاه»
کاکاخیل د اخبار لیکونکی په نامه چترال ته راولیږه.
دامیارحیم شاه دکاکاصاحب داولادې څخه و، اوخلکو دکاکاصاحب داحترام له کبله
ده ته هم داحترام په سترګو کتله، او ده علاوه دانګریزانو پرنمایندګۍ دلرګو
تجارت هم کاوه ترڅه وروسته محمد نواز خان د دفعه داردانګریزانو له خوا
په نمایندګۍ چترال ته ولاړ، محمد نواز خان د ښاغلي الله نواز خان
نیکه و. چه دا ښاغلی یو وخت په برلین کې دافغانستان وزیر مختار و، تر محمد نوازخان
دانګریزانو تر دفعه دار وروسته د ښاغلي وزیر صاحب پلار رب نواز خان ملتاني
دانګریزانو په نمایندګۍ چترال ته راغی او هم دارازدانګریزانو دیر وسیاسي نمایندګانو
چترال ته تګ وراتګ شروع کړ، څو په (۱۳۱۰ ه ق) کال امان الملک د صفری
په مبارکۍ مړشو، ده مشر زوی په چترال کې حاضر نه و، د ده دوهم زوی
افضل الملک د حکومت چوکۍ ونیوله او خپل دري ورونه ئې چه دنظام الملک طرفداران
وو، په یوه شپه ووژل. یوه میاشت تیره نه وه چه شیر افضل نامی آکا ئې له
بدخشان څخه ددوراه له کوتله پر چترال حمله وکړه او دریم اولاول په ۱۱ شپه
ئې افضل الملک ووازه. نظام الملک چه په ګلګت کې فراره و، هند ته ولاړ او
دانګریزانو څخه ئې کومک وغوښت او دانګریزانو په کومک چترال ته ورسید
شیر افضل وتښتید، یو کال د ده د حکومت څخه تیر شوی
نه و، چه امیر الملک دامان الملک دریم زوی نظام الملک په ښکار ګاه کې
وواژه. او چترال ئې قبضه کړ. له یوې خوا ئې افغانستان ته دخپلوۍ لاس راواږد
کړ او له بلې خوا ئې عمراخان ته (چه اخښی ئې و) او د باجوړ د سالار زیوته
(چه ماما خیل ئې و) سړی واستاوه چه مرسته ورسره وکړی. خو په دې
وخت کې دانګریزانو پولیټیکل ځیل نماینده چه غلام دستګیر خان نومیده داسمار له
لارې دانګریزي حکومت دغه و او دپاره پېښاور ته ولیږه او عسکری کومک
ئې وغوښت. په دې وخت کې شیر افضل بیا چترال ته راورسید او له بلې خوا د
باجوړ عمراخان پر چترال حمله وکړه او دې دواړو لښکرو په اتفاق سره د چترال

قلعه محاصره کړه انګریزانو چه هم د خول پولیټیکل د اطلاع په اثر ځنا لونه ځمتو
کړي وو، فوری ئې یوڅه انګریزی عسکر دغلام دستګیر سره د ګلګت له لاری
واستول او لورنی ئې پنځه زره مجهز عسکر یې د ګلګت او نیې د دیر له لاری
چترال ته واستول. ځکه چه په دې وخت کی ئې د محمد شریف خان په واسطه ددیر
سره مناسبات ښه شوی وه ... و دي و، چه دعمرا خان انجکر د هغه نغم (نقب)
په واسطه چه دچترال تر قلعه لاندی ئی کیندلی و، قلعه ته داخل شی. خو په دې
وخت کی دانګریزانو فوج را ورسید او قلعه ئي له محاصري څخه خلاصه کړه.
شیر افضل خان کوهستان ته ولاړ، او مړه ئې هلته تېره کړه په ځای
کی ئي مهتر رحیم شاه په واسطه دانګریزانو په دام کښېوت. انګریزانو دی
او امیر الملک دوره د مدراس په ښارکی نومی ځای کی په حبس دوام محکوم
کړ او دامیر الملک کشر ورور شجاع الملک چه ۱۲ کلن و، په ۱۳۱۲ه-۱۸۹۵ع کال
د چترال په حکومت مقرر او ورسره یو انګریزی منصبدار سر جارج کرنل
رابرتس بهادر دانګریزی فوج په سری په چترال کی پاته شو او ټول کار و غـه
دانګریزانو په مشوره اجرا کیدله. په دې جنګ کی ربب واز خان ملتانی د جناب
الله نواز خان نیکه انګریزانو ته ډیر لوی خدمتونه وکړه، حتی په هغه جنګ کی
دانګریزانو په طرفداری زخمی هم شو. چه انګریزانو دهغو خدمتونو په عوض
کی د «هز هاینس» لقب ورکړ او علاوه پر هغه ئې په ملتان کی دری زره
جریبه ځمکه ور وبخښله او شولګه کلداری مستمری معاش ئې ورته وټاکه
والی چه امیر الملک هم دده په اشاره دانګریزانو په مدد لاړ او پنځه شلو پنځه
کاله بندی شو.

عمرا خان چه په دیر کی هم دانګریزانو د عسکرو په واسطه ماتې کړې وه
مجبور شو چه داسمار له لاری افغانستان ته پناه یوسی او هلته مېشته شی.

شجاع الملک پنځه شلو پنځه کاله دچترال حکمران او ځو دغه ځای د خلقو
د آرزو ته ئی خلاف دانګریزانو سره وفاداری ساتله. ځکه چه د چترال خلقو په
هیڅ صورت دانګریزانو غلامی نه منله او همدا سبب دی چه اوس دانګریزانو تر تګ

وروسته دغوی دشاګردانو په حکومت چه دپاکستان اوسني واکداران دي خوښ نه دي او دآزاد پښتونستان دجوړولو دپاره هرې قربانۍ ته تیار دي .

❀ ❀ ❀

۲ــ سوات

دپښتونستان يوه بله مهمه برخه دسوات پنامه ياديږي ، دسوات رود خانه دړې زره كاله پخوا په آريائي سرو دونو کې د «سوتي» پنامه ذكرشوې ده «مګاستنس» دمسيح تر ظهور دړې پيړۍ دمخه دا رود خانه د «سواستس» پنامه ياده کړې او «بطليموس» «سواستوس» بللې ده . د «ريګ ويدا» دكتاب دشپږم جز په يوسرود کې د «سواستو» پنامه يوه رود خانه راغلې ده .

په «مهابهاراته» کې دهند د شمال غرب د علاقې دقومو په فهرست کې هم دا نوم شته «سيو د لسن» دا رود خانه له «سو-يو-فاسو تو» څخه عبارت بولي چه چيني زائر «هيوان تسنګ» ئې پخپلو ياد داشتو کې ذكركوي دا رود خانه هم دسوات رودخانه ده مګر دې نوم ددې رودخانې برې برخې دلالت كاوه چه تر ډيرې مودې پورې ئې پردواړو غاړو آرياني قومونه اوسيدل (۱)

دسكندر په زمانه کې: (۲)

وروسته تر هغه چه لوی سكندر دكونړ په شاوخوا کې دپښتنو دمقابلې په اثر ټپي شو نو دچهر كنه يشه ، جندول ، ناوه ګی او دپښتونستان نورو ځايو ته ئې مخه وكړه اوتر ډيرو جنګو وروسته ئې باجوړ ، تر خپلې قبضې لاندې کړ ، او د ۳۲۷ قبل الميلاد په پسرلي کې د ګوريوس ، تر رودخانې چه اوس ئې «پنجكوړه» بولي پورې يو وت ، اود كوز سوات درې ئه

(۱) تاريخ افغانستان لومړی ټوك ـ ۷۲-۷۳ مخ

(۲) سوات دسكندر په زمانه کې ئې په دې برخه کې دښاغلي احمدعلي كهزاد له رسالې څخه چه «فتوحات اسكندر» نوميږي استفاده شوې ده

داخل او دهغه ځای دغښتليو او تنګيا لپو قبيلو د سخت مقاومت سره مخامخ شو
دا قبيلې ئې هغه وخت «اسا کنوا» بللې، څنګه چه «ارين» مؤرخ ليکلي دي قبيلو دوه
زره سپاره او نر دېرش زره پياده ئې د جنګ لپاره ورته او ديرش فيلان د جنګ
ميدان ته حاضر کړي وو.

سر اورل ستين انګليسي مشهور عتيقه شناس چه په ۱۹۲۹ ع کال د سکندر د خط سير تعقيب کولو په غرض
د سوات او بنير په دره کي يو اوږد سفر کړی و، او خپل مطالعات ئې
«د اندوس څوا ته د سکندر د خط سير تعقيب» په نامه راغونډ کړي دي د سوات د قبيلو
په باب کي داسې ليکي:

«که څه هم اسا کنو يان ديرش زره ور سپاره [illegible] وو، خو د سوات په
اوسنيو پښتنو يعنی تشي رسيدلای [illegible] او هغه اسپو [illegible] چه ئې د ي ټينګي قلاګانې
ئې دراودلي چه دهغه دننه به ئې ځانونه ساتل» او دا هم [illegible] د غسي
ليکي کوم وخت چه سکندر نږدې شو سواتيان د جنګ ميدان ته را نه وتل خو په خپلو
ټينګو قلاګانو کي ئې مقاومت شروع کړ.

دمساګ د ښار محاصره:

سر اورل ستين د دې ښار موقعيت په کوز سوات کي ښودلی دی چه [illegible] له هغه ځايه د پيښاور
او ګندهارا خوا ته لاره تللې. سکندر چه دې ښار ته راورسيد دهغه ځای خلکو ځانونه
په ښار کي محاصره کړه. په دې وخت کي د سوات د ښار د ۷ زره تنه نور سواتيان
د ښار د خلکو کمک ته راورسيدل او حصار ته نږدې ئې مورچې ونيوې. سکندر د دې
ديوال ره چه د حصار د ديوال ته نږدې جنګ و د نيولو عسکر ورته ئې امر ورکړ
[illegible] د ښار [illegible] سواتيانو [illegible]
چه [illegible] کوم انتظام به [illegible] او څنګه چه [illegible]
عسکر [illegible] سکندر د خپلو عسکرو ته [illegible] امر ورکړ او [illegible] جنګ
ورو [illegible] آخر [illegible] سواتيان مجبور کړه [illegible]
څنګه چه ارين ليکي سواتيانو [illegible] توب [illegible] مقابله او

دفاع وکړه او یونانی عسکرو ته ئې ډېر زیات تلفات واړول حتی په اومړۍ ورځ
خو یو غشي پخپله د سکندر پر پښه ولګېد او ټپي شو په بله ورځ یونانی عسکرو د ښار
دوراوولو او حصار ته ختلو وسائل تهیه کړه د ښار په دېوال کې ئې کندو جوړ کړ
او هغه وخت چه یونانی عسکرو غوښته په ښار ننه وزي سواتیانو داسې مدهشه
حمله وکړه چه سکندر او دده لښکر ئې پر شا کېدو ته مجبور کړه په دریمه ورځ
یونانیانو خپل خورا ډېر لښکر د حصار کندو ته وګمارل او حصار ته نژدې ئې
د لرګو یو چګ برج جوړ کړ چه له هغه څخه یونانیو غشو ویشتونکو غشي ویشتل. د دې جنګ
په نتیجه کې سواتیان لږ پر شا شول مګر بیا هم یونانیانو ونشوه کولای چه ښار ته
ننه وزي. څلرمه ورځ پخپله سکندر له ډېرو عسکرو سره کلا ته نژدې راغی
منجنیقو نه ئې ودرول او د حصار د شا له خوا ئې پر خندق د لرګو پل جوړ کړ او خپل
هغه خورا غښتلي او جنګیالي سرباز ان ئې راحاضر کړل کوم چه د «تیر» د ښار په نیولو
کې ئې خدمت کړی وو. خو هغه وخت چه د هغه پله نه تیریدل پل لنګر وکړ مات شو
او یونانیان په خندق کې او پړېدل ننګیالیو سواتیانو چه د ښار له دېوال څخه د دې
منظرې ننداره کوله د جنګي چیغو په ترڅ کې ئې یونانیان په غشو، ډېرو، لرګو، تیرو او
هر څه ئې چه په لاس ورتلل ویشتل خو سکندر په ډېر پریشان وضعیت الکتاس د یوې
ټولۍ سفر یو سره مامور کړ چه یونانی ناکامه ټپیان واخلي او بیرته خپلې عسکری
چوڼۍ ته وګرځي.

پنځمه ورځ بیا یونانیانو خورا سخته حمله شروع او په دېوال کې ئې پل کندو جوړ
کړ. بیا هم ننګیالیو سواتیانو ترڅو چه مشر ئې ژوندی وو په ډېر شهامت او زړه ور توب
د دنیا ډېر لوی قوت ته اوږه ورکړې وه او ورسره ئې جګړه کوله.

خو هغه وخت چه د دوی مشر د منجنیق د یوې ډبرې په اثر شهید شو، د دوی هم څه شهیدان او
څه ستړي شول او تر ډېر شور ماشور وروسته ئې روغې ته غاړه کېښوده. سکندر
چه د پښتنو د زړور توب او دلاورۍ مفتون شوی و، د روغې په شرطو کې ئې یو شرط
هم دا کېښود چه سواتي پښتانه ځلمیان دې دده په عسکرو کې شامل شي، روغه

وشوه ارسواتو او د ښار د باندې د یوناني چونې په مقابل کې خیمې ووهلې، خو ځکه چه دوی نه غوښته د ښارو او د روښتنو ورونو په مقابل کې د یونانیانو په طرفداری وجنګیږي د ښار ئې یو ترون وکړ چه ټول ښار ته قرار او ولاړ شي، مګر څنګه چه سکندر د دغه په دغه ترون خبر شوی و، د دوی څخه ئې وغوښتل او په یري تنامر دی او سڼاکي ئې دغه ننګیالي پښتانه سره د دغوی د ښځو او ورو ماشومانو او زوړو ګانو ووژل، مورخین د سکندر دا نامردانه او خون ریزانه اقدام ډیر بد ستایي او د یوه جنګیالي او ننګیالي قهرمان د شان څخه ئې لیري او ناوړه بللی دی، او معلومیږي چه اوی سکندر دلته ډیر ورو کی شوی و، او د ننګیالیو او زړورو پښتنو په مقابل کې ئې د قهرمانۍ احساسات بایللي و، او غیظ او غضب چه د کینتو خاسکو کاردی پر سکندر حاکمیت موندلی و، ځکه چه د پښتنو د ښځو او ماشومانو د وژلو څخه ئې هم ډډه ونکړه.

د بازیرا او اورا محاصره:

د «بازیرا» او «اورا» ښارو ته چه سکندر د «مساګا» تر نیولو وروسته هغې خواته مخ هم په شرقي سوات کې وو «بریګوټ» او «اورا» د موقعیت په «بیرکوټ» کې او د بل دا تر هغه لنډه یو رتا د «اوډي ګرام» په کلي کې ټاکي.

سکندر د «مساګا» تر نیولو وروسته فورا «کوئینوس» د «بازیرا» ښار او د «اتالس» او «الکتاس» او «دمترلوس» د رسالي کېتانان ئې د «اورا» ښار ته واستول او هغوی ته ئې هدایت ورکړ چه دده تر رسېدلو د مخه د دغه ښارونه محاصره کړي. د «اورا» د ښار خلک د «الکتاس» د عسکرو مقابلې ته راووتل مګر یونانیانو هغه مجبور کړه چه د ښار په حصار ننه ووځي خو په بله خوا کې د «بازیرا» د ښار په مقابل کې یونانیان په دې آسانۍ سره پر مخ نه ولاړل. د «بازیرا» ښار ډېر غره پر سر واقع او ځای ئې ډېر ټینګه حصار درلود، دغه ځای خلک په خورا ډېره زړه ورتیا سره د «کوئینوس»

ډېرې سختې مشکلات پېښ کړه . سکندر چه په دې قضیه خبـر شو د « بازیرا »
خوا ته وخوزېد ، خو څنګه چه ئې وا ورېده چه ابی سارس (۱) ځینې قبیلې د
« اورا » د ښار محصورینو ته د کومك د پاره لېږې ، له هغې خوا ئې مخ راوګرزاوه
او لکه څنګه چه اریان وایي « کونیوس » ته ئې هم خبر ورکړ چه څه نفری دې هلته
د ښار شا وخوا ته د وضعیت د ساتلو د پاره پرېږدي او پخپله دې راشي ، هغه وخت چه
کونیوس له ښاره لیرې شو ، محصورین له ښاره را ووتل او ډېره خونړۍ جګړه وشوه
چه د یونانی مورخینو د لیکنو له قراره (۵۰۰ تنه) سواتیان مړه او (۷۰۰) تنه
بندیان شول ، او نور د شپې په تیاره کې د اورنس د غره خوکې ته وختل .

داورنس جګړه :

دا ځـای د سوات او بنیر د جنګیالیو د امید ور وستنۍ ځـای و ، ځکه
چه د اورنس څوکې داسې والی له حیثه خورا مهم عسکري موقعیت درلود ، او د
سکندر په جنګونو کې ئې د پښتنو په ګټه ډېر مهم رول لوبولی دی . اورنس دیونانیانو
په روحیاتو باندې ډېر تأثیر درلود او د دوی د افسانو له رویه « هراکلس » د
« زوس » زوی (یونانی رب النوع) هم د دې غره په نیولو موفق شوی نه و ، اریان
د دې غـره جغرافیائی وضعیت داسې لیکی :

« احاطه ئې (۲۰۰) استاد یا (۲) لوړ والی ئې له ۸ - تر ۱۱ استاد یا
پوری و ، او یوازې یوې سختې لارې چه د زینې په شان په غره کې کیندلې شوې وه
پله لاره ئې نه درلوده . په سر کې ئې روانې اوبه او د کرهڼې ځمکې دومره ډېرې

---

(۱) اریان « ابی سارس » د « کوهستانی هندوانو » پاد شاه بللی دی او « ابی
سارا » ئې د هغې غره ئي منطقې نوم شمېرلی دی چه اوس په « هزاره » یادېږي . ابی
سارس ډېر مقتدر شهزاده و ، چه پر کشمیر ئې هم آمریت درلود .

(۲) استاد یا د یونانی مسافې واحد دی چه د انګریزی ۶۰۶ فټه او
۹۱ انچ سره مساوي دی .

وې چه زړه ور تنو ته هلته کړونده او کار پیدا کېدلای شو . ددې غره هغه [illegible]
دا ندوس خواته [illegible] وې . [illegible] وې .

سر اورل ستن تر ډېر و عملي کشفیاتو وروسته چه په ۱۹۲۸ ع کې ئې کړي دي د دې غره موقعیت د ښېر په « پیر سر » مقام کې ټاکلی او وایې هغه چه دجغرافیائي نقطهٔ نظره داورنس په موضوع کې لیکلي شوي دي په « پیر سر » باندې تطبیقیږي .

سکندر د « اورا » او « بازیرا » د ښار و د فتح سره [illegible] ونیولې ، او فوځ ئې چه دهغو عسکرو سره یو ځای شو [illegible] او « بزدیکاس » ترڅو مانداني لاندې [illegible] لاړي پیدا [illegible] واستول شوي وو .

سر اورل ستن وایي [illegible] او « کور [illegible] » [illegible] چه د « اورنس » غر داندوس څنګ [illegible] سکندر چه [illegible] تر ډېرو تېر شو ، امر ئې وکړ چه داندوس ته ئې [illegible] دهغو [illegible] او [illegible] تعقیب کاوه کوم چه [illegible] ته ئې یوه عسکري [illegible] لاره [illegible] خواته [illegible] کړه [illegible] داچه [illegible] څورا ګډم په آساني سره وارسولای شوه ؟

[illegible]

یونانیان په ډېر زحمت شول او ډېر تلفات ئې ورکړه ، او برسېره پر دې چه څو لوی منصبداران ووژل شوه ټپي و ، چه پخپله سکندر هم ټپي شو ، چنانچه دیونانیانو پر دې ناکامۍ باندې پښتنو دخوشۍ چکچکې پوره کړې ، سکندر او وه ورځې په ډېروهم لاتو اخته و ، څو په پای کې ئې دوه تنه پرېکړې اوله هغو څخه غوښتنې جوړې کړې او ددې غوښتنو پوښتنه به ئې غشي ویشتل ، په آخر کې سکندر خپل ټول قوت سره راغونډ کړ ، او ځکه چه ډېر نا امیده شوی وو ، په ډېر جوش او خروش ئې خپل ټول قوت په کار واچاوه او په دې ذریعه ئې د پښتنو په دفاع کې یو کمزوری جوړ کړ او هغوی ئې ورو شی ته مجبور کړه او سکندر دا ورنس پرغره هم قبضه وکړه ، د سوات تاو بنیر د پښتنو د امید وروستنی ځای هم د سکندر پلاس کښېوت!

د اسلام په زمانه کې :

تر سکندر وروسته سوات د کوشانیانو ، ساسانیانو او بوداییانو او نوری دورې هم لیدلی دی ، خصوصاً ځینو راجاګانو حکومتونه کړی دی چه وروستنی راجا گیرا نومېده او د سوات د بکرام دغره شرقی خوا ته ئې یوه ډېره ټینګه قلعه جوړه کړې وه .

سلطان محمود غزنوی خپل یو غښتلی پښتون سپه سالار چه « پیر خوشاب غازی » نومېده د سوات په فتح مامور کړ ، دې سپه سالار د راجا گیرا سره ډېر جنګونه وکړه ، په پای کې د گیرا د پخپله قلعه کې محاصره کړی شو ، کوم وخت چه قلا فتح کېده د پیر خوشاب غازی هم شهید شو (۱)

تر فتح وروسته د سوات هندوان اکثره هندوستان ته ولاړل او د دوی ځای د زلازاك ، طایفی ونیو چه تر ۹۰۶ هجری کال پوری هلته اوسېدل ، پسا چه

---

(۱) ددې غازی او شهید سپه سالار مزار تر اوسه د بکرام دغره په لمنه کې شته او عوام ئې ډېر زیارت ته ورځي .

د یوسفزیو قبیله د افغانستان څخه د پښتونستان خواته وشوځیدله د ساجوړ له لاری پېښاور ته ورسیدله او ترڅه مودې وروسته ئې د زلازاکو قوای ګډ کړی وتړولې او له سوات څخه ئې هم زلازاک ویستل (د یوسفزو د راتګ تفصیل د یوسفزو تر عنوان لاندی وګوری) .

په مغلی دوره کی :

هغه وخت چه یوسفزیو فتوحات کول په هند او افغانستان کی خو حکومتونه سره وا وښتل ، څوچه نوبت مغولی بابر ته را ورسید . بابر له هنده څخه د ټی وار ه پر سوات حمله وکړه ، تر د ګټالنګ د بوری لارا ورسیده خو یو سفز ویوه جرګه بابر ته ورا ستوله او له هغه څخه ئې خپلی غوښتونه وکړه ، بابر د پښتنو جرګه بره ومنله ، اسماو ه او شاهی فرامین او سندونه ئې ورکړه او له هغه ځایه بېرته ولاړ (١) تر بابر وروسته د مغولو اکبر په وخت کی د مغولو او پښتونو ترمنځ شوی و ، او پښتنو بیا آزادی کړه .

اکبر د پښتنو د اولو د یره بېرته د ازادی ته راتیر ... [illegible] ... زین خان ، بیربل ، ملا شیرین او وام چنه په سر کړه کی د یوسفزو ... [illegible] ... وانجولی خو په نتیجه کی داکبر ... [illegible] ... لوی لښکر د سپاهیانو ... [illegible] ... بیوا ری زین خان له خو سپاهیانو سره ... [illegible] ... راجا ... [illegible] ... پښتنو ... [illegible] ... د دی دپاره اوږد ... [illegible] ... او د غضب هم وشوه چه پښتنو د اکبر ... [illegible] ... .

(١) قاضی عطاء الله خان پخپل کتاب د پښتنو تاریخ کی ... [illegible] ... دپاره چه د یوسفزو له زړو څخه د الو ... [illegible] ... او چه ... [illegible] ... (٤٢ مخه او مری ئو) .

په مغولي دوره کې پیر روښان او خوشحال خان هم دپښتنې صحنې مهم پهلوانان وو. (چه ددواړو کار نامې به دپښتونستان دنورو مجاهدینو په لړ کې راوړه شي)

تر مغلو وروسته:

تر مغلو وروسته نادر افشار او احمد شاه بابا هم سوات پخپل قلمرو کې داخل کړی و، خو بیا هم ځینې برخې ئې آزادې وې، خو په ۱۷۹۳ عیسوي کال ددرانیو دسلطنت اقتدار په سوات کې سست شو.

دسکانو دوره:

رنجیت سینګ دپنجاب نائب الحکومه چه یوې خواته ددهلي ددربار کمزوري لیدله او بلې خواته ئې دافغانستان خانه جنګی کتله داجرئت پیدا کړ چه دافغانستان له حکومته خپل استقلال اعلان کړي، تر استقلال وروسته ئې دپښتونستان خاورې ته سترګې سرې شوې، اټک ئې ونیو او بیا پېښاور ئې حمله وکړه، او مرې ځل ئې پېښاور قبضه کړ، خو بیا چه پښتانه ټول په یوه اتفاق شوه بیرته ئې سیکان له پېښاوره ویستل، په دې جنګ کې سید احمد بریلوی هم شامل و، او پښتنو دخیل مشر په حیث منلی و، په ۱۸۳٤ ع کال په یو جنګ کې چه ددوی او دسکانو تر منځ راغلی دی زخمي شو - ځوک وائي شهید او ځوک وائي فرار شو - بهر صورت سکانو بیا پېښاور ونیو.

دانګریزانو دوره:

انګریزانو ددې دپاره چه دخپل استعمار لمنه دپښتونستان خواته اوږده کړي دپېښاور دنیولو په عزم ئې دسکانو سره جګړې ونښلولې او تر څو جګړو وروسته انګریزي کپتان د نکلسن په ۱۸٤۸ عیسوي کال پېښاور قبضه کړ او دسکانو حکومت ختم شو، په دې وخت کې د سوات ریاست د [illegible] ی سلطنې څخه

خلاص و، بوازې د افغانستان سره ئې سرحد نه درلود. په ۱۸٦۳ ع کال دانګرېزانو استعماري فوځ پر سوات حمله وکړه او دسوات بابا صاحب په امبېله کې د بونېر و هندي مجاهدينو سره ودهغوی مقابلې ته پاڅېدل، خو تر لنډ جنګ وروسته دروغې شرایط ترتیب او روغه وشوه، او ددې روغې په شرایطو کې یو شرط داهم و، چه انګرېزان به د «لکه» مقام سوځي — هغه و، چه هغه ځای ئې تر سوځولو وروسته انګرېزان بېرته ولاړل. دا جنګ په ۱۲۸۰ ه کال په امبېله کې و، او ددې جنګ تاریخ ته د «بنېر غزا» وویله شوه.

په ۱۸۸٤ ع کال چه انګرېزانو د برتې په زور دافغانستان پر حکومت په جبر قانوني دول حد بندي تحمیل کړه نو سوات، بنېر، چترال، باجوړ او د پښتونستان نورې علاقې له افغانستانه جلا شوې، مګر بیا ئې هم پښتني او اسلامي روابط د افغانستان سره ټینګ ساتل. په دې وخت کې دسوات اخوند صاحب وفات شوی و او سیمه کې بیا بیا د ده مجاهدې ته دوام ورکاوه، او مرید ئې سید عبدالجبار د ستانه میا صاحب دسوات رئیس وټاکه، خو دوه کاله وروسته معلوم شو، چه سید عبدالجبار قادیاني دی نو ځکه ئې له ریاست څخه معزول کړ او دسوات اوسنی والي عبدالودود خان دټول سوات رئیس وټاکل شو، خو ځکه چه عبدالودود خان [illegible] انګرېزانو ته ورغی او ورځ ورځې ئې [illegible] دسوات [illegible] ته ولاړ (چه تفصیل ئې ده په سوانح کې لوستلی شي).

تر هغه وروسته انګرېزانو سوات ته پښتو [illegible] کوشش کړی دی، [illegible] مګر هغوی دانګرېزانو داستعماري قوت په هدایت چلېده.

په پاکستاني دوره کې:

تر ۱۹٤۹ ع کال پورې سوات ریاست [illegible] درلوده. خو کم وخت چه دانګرېزانو [illegible] ساخته پاکستان [illegible] دګراچۍ واکوالانو [illegible] کوا او [illegible] ملا وتړله.

لومړی ئې په ۱۹٤۸ ع کال دسوات په ریاست کې شرارت جوړ کړ، خو څه ئې لاس ته ور نغله، بیسائي ددیر او چترال دمشرانو په منځ کې مخالفت پیدا کړ، که څه هم تر یو ځایه کامیابه شو او دچترال مهتر ئې په تکیه پېښاور ته بوت او هلته ئې نظر بند کړ، مګر د خلقو تنفر ئې د پاکستـــان د حکومت په نسبت ورک نکړای شوی .

د (۱۹۵۰ ع) کال د دسمبر په ۱۲ لیاقت علی خان د پاکستان صدر اعظم د خپلې چټکې سره ظاهرا داوسنی والی دسالــګري دپاره مګر په پټه د پښتنو دغو اولو دپاره تللی و، ایکت دسوات زیرك پښتانه دده په ناپاك نیت پوه شوی وو، اوده ته ئې و ویل چه د تاوژ نو له، خو دسوات والي تر ینه خلاص کړ، همدا راز خواجه ناظم الدین چه هلته تللی و، دپښتنو له ویری دنائب الحکومګۍ له ماڼۍ څخه دا وتلای نشو او بیرته په پټه کراچۍ ته ولاړ، دا ځکه چه د هغه ځـــای پښتانه د آزادۍ په خوند پوه دي او غواړي آزاد پښتونستان شوادی، چه له بلوچستانه نیولې تر چترال پورې ټول پښتانه یکښې آزاد ژوند وکړي .

دسوات څلور خواوې : (۱)

لمر ختــاته ئې د «دیدل» او «کماج» کلی (دچمرزئیو علاقه) او «سندا کۍ» او «صبو» او «بین» (دآباسین غرېنۍ علاقه) پرته ده .

لمر لویدو ته ئې «تهاڼه» او «ادین زئي» (دملاکنډ ایجنسي علاقه) ده .

قطب ته ئې د «کنډ پسا» او «قلاګۍ» او «کسری» او «سپلګۍ» او «لال کو» (ددیر حدود) دي، سوئیل خواته ئې «کوټه» او «ابوها» (دپېښاور دمردان دحوتي علاقه) او څه هم «دحدون» یا «کدون» علاقه ده (چه دسالار او منصور [illegible] ملته اوسي) حیات افغاني دسوات حدود داسې [illegible] کې : شمال ته [illegible] کوز پلو نه ئې دیر پروت دی، لمر خاته ئې د اباسین د [illegible] سلسله ده، جنوب غربي خواته ئې د یوسفزو علاقه ده، لمرلویدو ته ئې د [illegible] اورنګ

(۱) په دې برخه کې د «ریاست سوات» له کتابه استفاده شوې ده .

برنګک ، علاقه او اتما نخیل او باجوړ دی ،
سوات پخوا آزادو ، خو دوه ویشت کـاله کیږی چه دسوات دوالی تر اداری
لاندې راغلی دی .

دسوات رقبه :

خنګه چه سر ویلیم بارټن لیکی دسوات د ټولې مساحه او (۶۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰)
مربعو میلو پورې رسیږی خو دغه پیمـایش لـه هغې چه په دې وختو کې
ریاستی حکومت کړیدی (۸۱۱٤) مربع میله مساحه لری د بونیر او د ساحل
سواتیان تر خو مودې پخوا پورې لا ددیر د نواب تر نفوذ لاندې وه خو اوس
په هغه اتحادیه کې چه د پاکستان کل جهان په واسطه اداره کیږی شامل دی . ځمکه
ئې غرنۍ ده او غرونه ئې په سر سبزه دی .

قاضی عطاء الله خان پخپل کتاب د پښتنو تاریخ کې سوات په دوو برخو
ویشلی دی : یوه ته برسوات او بل ته کوز سوات وائی او لیکی چه برسوات تقریبا
شپیته میله اوږده دره ده ، چه په بعضی ځایو کې د پلنوالی ئې تر لسو میلو پورې پلنه
او ډیره زرخیزه ده . کوز سوات هم دومره او ږد دی خو پلن والی ئې زیات دی
اټکوی سیند د دواړو علاقو په منځکښی بهیږی د بر سوات ئې هم [illegible] سیند څخه را بېلا
شوی دی چه د سوات او مردان علاقې بیلی او بیلوی (۱)

دسوات مرکز :

دسوات مرکز د سیدو د کلی دی چه اوس لویه ورته ئې دا پیژنی . علاوه او لمر
ختوته ئې دسوات فیروزه ، شمال ته ئې [illegible] سوات او جنوب ته ئې [illegible] پراته
دی . خنګه چه دسوات مشهور آخوند صاحب زیارت هم په سیدو کې دی نو ځکه
کله ئې [illegible] شهرت موندلی او ډیره پخوا [illegible]
سیدو ډیره موقع [illegible] په واسطه د ملا کنډ [illegible]

(۱) د پښتنو تاریخ . لومړی ټوک ـ ۲۲ ـ ۲۵ مخونه .

بلی خوا دنوی سرك له لاری چه دبنیر او آمبیلا په منځ کی تیر یږی د پیښا ور
دد رستم، سره نښلی .

دسید و او دهغه دمضا فاتو او بساندو تولی ځمکی دسوات دوالی ملکیت دی یلی
خوك هلته ځمکه نلری .

دسوات نفوس :

هغه نفوس چه دسوات دوالی تر ادا ري لاندی دی دوه قیم لکوته رسیږی
دسوات والی په هغه کتاب کی چه دسوات په باره کی ئی لیکلی دی د سوات
نفوس دتخمین له رویه دري لکه تنه ښودلی دی ، مګر ویلیم بارټن دوه نیم لکه
لیکلی دی . خو دکومو طائفو شمیر چه معلوم دی هغه دادی :

۱ ـ نیاك بېخیل	۲٤٠٠٠ تنه
۲ ـ شموزئی	٤٠٠٠
۳ ـ سه بېځی یا شاه میزی-	۱۲٠٠٠
٤ ـ بابوزئی	۲٤٠٠٠
٥ ـ موسی خیل	۳٠٠٠
٦ ـ ازیخیل	۳٠٠٠
۷ ـ جنګی خیل	۳٠٠٠
۸ ـ ګجر	۳٠٠٠
۹ ـ اجر	۳٠٠٠
١٠ ـ دسوات شرو خلات	۳٠٠٠
۱۱ ـ دا پاسین شرو خلات	۲٠٠٠٠
۱۲ ـ دبټیو بو سفزی اوسیدونکي	۲٠٠٠٠
۱۳ ـ دچکسری بچتانه	۱٠٠٠٠

دسوات ژبه :

دسوات رسمي او قومی ژبه پښتو ده ، خو څو نوری محلی ژبی هم هلته شته :

۱ - کوهستانی ژبه ، چه دسوات په غرو کی ویله کیږی .
۲ - ګجری ژبه ، چه دپنجابی ژبی یوه څانګه ده .

نوټ : تر څو چې دیو تیرو کلو پوری د سوات خط او کتابت په فارسی ژبه و خو برخلاف کاله دمخه دسوات والی حکم کړی دی چه کتابت دی په پښتو ژبه وی او اوس دسوات ټول دفترونه په پښتو دی ، او د سوات دوالی په امر قرآن کریم هم په پښتو ترجمه شوی او چاپ شوی دی او دجمعی او اخترو عربی خطبې هم په پښتو ویلی کیږی .

دسوات طوائف:

۱ - په سوات کی تر ټولو لویه قبیله د یوسفزو پښتنو قبیله ده چه په ابا او [illegible] سوات ، بونیر ، چکیسر او کانا غوربند کی اوسیږی (تر [illegible] عنوان لاندی به مفصل ولیکه شی .)

۲ - د کوهستان خلک ، دسوات په موجوده ریاست کی دوی کوهستانی علاقی [illegible] چه یوی ته دا باسین کوهستان وایی او د [illegible] بشام [illegible] پلوته شروع کیږی او بله د سوات کوهستانی علاقه ده چه له [illegible] مدائن [illegible] پلوته پرته ده ، د ا علاقه [illegible] کلام [illegible] هم [illegible] او [illegible] شمال [illegible] دمهتر قوم [illegible] .

۳ - دا باسین [illegible] خلک ، چه نیم ئې دسوات په ریاست کی شامل او نیم ئی لا تر اوسه آزاد دی .

۴ - ګوجر او [illegible] طائفی [illegible] دی [illegible] یوسفزو [illegible] سوات [illegible] او [illegible] مسلمانان شوی دی ، او [illegible] کوی ، [illegible] او [illegible] دوی [illegible] چه په [illegible] او [illegible] چه [illegible] وی [illegible] واي .

[illegible] چه [illegible] ژبه پښتو ده [illegible] کړی ، وایی چه

دوی اصلاً تبا جیك او دسلطان محمود غزنوی په وخت کی سوات ته راغلی دی .

٦ - هندوان : په سوات کی ځینې هندوان هم موجود دی ، چه هلته دکانداری کوی .

دسوات سیندونه :

په سوات کی یو لوی سیند بهیږی چه « لنډی سیند » ئې بولی ، دا سیند له شمال شرق څخه د لمر لویدو خواته جاری دی . منبع ئې دسوات او «اشوکالام» د غرونو د شرق شمال ځنګلونه دی چه دنیشتر ونې پکښې ډیری دی .

دا غرونه دهمالیې څخه راجلا کیږی او تل په واوروپټ وی چه دسوات دسیند اصلی منبع هم د همالیې دغرونو دري دی ، داسیند د « چکدره » له حدود څخه تیریږی او ملا کنډ ته نږدی دجنوب خواته د ملا کنډ تر غره لاندی یو تونل کیندل شوی دی چه دغه تونل په واسطه له دی سیند څخه یوه لویه واله جلاشوي [illegible] چه [illegible] په او بیږی . او په همدی ځای کی یو [illegible] د و مره لوی او قوی آبشار تشکیلوی چه [illegible] پر ښتنا یوه هومره لویه کارخانه د « هایدرو الکتریك » سکیم ملا کنډ پښتانه چلوی چه که په لازمی طور کار ځینی وا خیستل شي نو ټول [illegible] کړی پښتونستان روښانه کوی ، داسیند د لمر لویدو خواته ترملاکنډ تیریږی او د [illegible] دسیند [illegible] ګډیږی او چه دا یا ز [illegible] و د و اود پیښا ور غلاقې ته [illegible] د له هم دجنوب خواته یوه لویه واله جلاکیږی چه دغه نیمه یاته د میره [illegible] یوی (۱)

ترهغه [illegible] دا سیند دشرق خواته ګډیږی [illegible] « [illegible] » په موضع کی د کونړ

(۱) [illegible] پښتو کی [illegible] ته واي ، په دی [illegible] د ملا کنډ د غره په لمنه کی [illegible] د ملاکنډ شمال ته یو لوی [illegible] دی [illegible] او [illegible] شمال [illegible] یوه [illegible] ته [illegible] لری [illegible] دی چه [illegible] آبادانه [illegible] چه یوازی دا [illegible] خان [illegible] دی [illegible] ټول [illegible] ځمکه لری .

او کابل دسیند سره یو ځای کیږي د «نو ښاره» او پېښاور تر علاقي تيريږي د «خیرآباد» په حدود وکی د «اباسین» سره گډیږي . دادخیل منبع څخه تر «لنډ کی» چه دسوات درياست دغربی خوا آخرین حد دی، شپیته میله اوږدوالی لري چه خپلی دوادی فایدی اوبوی .

دسوات رودونه :

۱ – د باړ واني رود ، چه د «لال کوه» له دري راوتلی د «اشاړي» په مقام کی دسوات په سیند گډیږي ، اوهغه دره ئي ښه اوبه کړي ده.

۲ – دارنوئي رود، چه د «جاروگو» له غره راوزي او په «شیر پلم» مقام کی دسوات دسیند سره یو ځای کیږي . دی‌رود «سل خیله» او «شامیزی» سره ښلا کړی او خپلی دوادی فایدی اوبوی .

۳ – د قوزي خیلو رود ، چه دهغی علاقي ډېره برخه اوبوی .

٤ – د میانقم رود .

٥ – دچروړی رود – چه نوم ئی اوس بدل شوی دی او (مداټن) ورته وائی.

٦ – د پورن رود ، چه دایلم له غره راوتلی او دغښر شنګواو دکانړواو دولت‌زو علاقو ته او به ورکوی ، دغښر په ښای کی تیریږی او بیا اباسین ته توئیږی .

دسوات غرونه :

دسوات لویه برخه غرنی ده او ځکه دلته ډېر غرونه دي چه لاندی ئي تر ټولو مشهور ئی دادی :

۱ – دمانکیال غر : دچه په غرونو کی لوړ وائی له سمندر څخه (۱۸۷۵۰) فټه ئی اوهمیشه په واوره پټ وی .

۲ – دایلم غر : داغر دپښتونستان ډېر مشهور غر دی چه دا پیا نقل «رامالا» رزی بیا پوزی او گډای زیو علاقو په منځ کی پروت دی ، دایلم غر ته د سمندر له سطحی

څخه (۹۱۰۰) فټه لوړه ده، دا غر لکه څنګه چه په پښتنو کی مشهور دی د هندوانو
په مذهبی تاریخ کی هم لوړ مقام لری . د دې غره په سر کی یو ځای دی چه
هندوان ئی « رام تخت » بولی ، او دا ځای د هندوانو په زاړه کتاب
« رامایڼ » کی چه په سانسکریت ژبه دی او ږد روایت لری ، وائی چه
څو زره کاله پخوا « راجا دشرت » د هغه وخت د هندوانو مشر څلور زامن درلودل یو
« رام » او بل « لچمن » بل « برت » او بل شترو ګن نومېده . د شرت خپل مشر زوی
« رام » د ځان ولیعهد و ټاکه خو کوم وخت چه د « دشرت » بله مېرمنه
وکړه او له هغې څخه « برت » پیدا شو ، د برت مور د دشرت څخه خواهش وکړ چه برت
ولیعهد و ټاکی او رام بندی کړی هم هغسی وشو ، پر « رام » د څورلسو
کالو بند حکم وشو ، رام د خپل بند ورځی یعنی څورلس کاله د خپل عیال سره په دې غره کی
تیری کړې او خلکو ده موچنی پر تخت اېښودلې او ده ته تعظیم ئې کاوه ، لچمن هم د خپل
ورور له عزل څخه متأثر و ، شو چه تر ۱٤ کالو وروسته رام پر تخت کښېنوست
او لچمن هم یو ځای ور سره ژوند کاوه . تر اوسه پوری هم هندوان دایلم د ښو کی
احترام کوی ، دا غر د سوات خوا کی دامړ ختو څخه دامړ اوږدو پاوته پروت او
ملاکنډ هم د دې غره په سلسله کی دی چه د سلطان خیل په حدودو کی د « اګره »
پر کلی تمامېږی . دا غر د ونو څخه ډک دی .

۳ ــ دوه سری (۱) :

دا غر هم په پښتنو کی ډیر مشهور دی او د سمندر له سطح څخه لس زره فټه اوږدی
دوه سری د کوتل نوم دی چه د دې غره تر څو کی کښته واقع او د سوات او مخوز ئی
ترمنځ تګ او راتګ د همدې کوتل له لاری کېږی .

---

(۱) د سوات د پښتنو په منځ کی په دې اختلاف دی چه یو ډله وائی ایلم جګ دی او بله
ئی دوه سری ډېر جګ ګڼی ، ډېر جنګونه شوی دی او دوارو خواوو په پرتو وخاوری
واغوره ته څو لی او هری ولی په زیات دوست چه خپل غر تر هغه بل اوږد
ښکاره کړی .

٤ ـ د کراکر غره داغر داباخیل ، سالارزی ، سوات او بنیر په منځ کی پروت دی ـ دسمندر له سطح څخه (٤٥٠٠) فټه لوړ دی یوموټر روسړك اری چه له بریکوټه څخه راجلا شوی او پر چمله او خدو خیلو تمامیږی .

٥ـ دجواری غره لوړوالی (٧٠٠٠) فټه او دبابوزیو او ګدازیو ترمنځ پروت دی او دتنګ او راتنګ لاره لری .

٦ـ د کلیلی غره (٧٠٠٠ فټه) لوړ دی ، دبابوزیو ، ګوګنده او بنیر ددری ترمنځ حایل شوی دی . دتنګ راتنګ لاره لری .

٧ـ دکاروری غره دسوات او ایلوئزی په منځ کی پروت دی .

٨ـ دګاډو اغره دسوات او غوربند ترمنځ واقع دی .

٩ـ د شانګو غره د سوات او کانا په منځ کی دی او د تنګ را تنګ دپاره کوتل لری .

١٠ـ دچیر سر غره (٩٠٠٠ فټه) لوړ او دغوربند او مټو ترمنځ پروت دی .

١١ـ دترال باندی غره لس زره فټه لوړ دی په سر کی [illegible] قدرتی لوټ اوی حوضونه لری [illegible] .

١٢ـ دچکیل سر غره دوولس زره فټه لوړ او دسوات د کوهستان په منځ کی پروت دی تیر فرح بخشه او ښایسته ځای دی .

١٣ـ دمیانی غره [illegible] (امبیلونه) [illegible] .

[illegible]

١٤ـ [illegible]

کوزه خوا «دارم» بولی ، داغر د لمرختو څخه د لمر لویدو خواته اوږد شوی جنوبی آبریزه ئې په دیر پوری اړه لری او شمال خوا ئې د سوات د ریاست حدود دی او هغه کوتل چه د تنګی راتګ دپاره پر دې غره شته هغه «دارم کوتل» بولی . داغر د سوات د مینګ د شمال خواته پروت دی ، او ده خواته ئې پر سوات او کوزه خواته ئې «تالاش» دی چه د دیر په ریاست اړه لری ، ددې غره د لمرختو خوا ډېره واوره نیسی او د شرقی حدودو پسای ته ئې تراوسه هم آزادی کوهستانی طائفې اوسی او اکثر وختونه چه د سوات او دیر د ریاستونو ترمنځ شخړې پېښې شوی دی هغه پر دې غره وی .

۱۵- دیر سرغر : داغر ډیر لوی او لوړ دی چه په حقیقت کی د افغانستان جغرافیائی شرق شمال بالا کېږی ، بلکه د پامیر هغه لوړه سطح تشکیلوی کوم چه په افغانستان پوری اړه لری . ددې غره په باره کی هم ځینې عامیانه روایات شته ، وائی چه سکندر د هغه دې غره له لاری هند ته تللی دی او تر اوسه ئې ځینې آثار پاته دی . سراوریل ستین انګریزی سیاح په ۱۹۲۷ ع کال دې غره ته راغلی دی او داغر ئې د سوات په عتیقه آثارو کی لیکلی دی .

۱۶- دانه ویشت غر : چه د پاول خیل غرئې هم بولی او د چغرزو پښتنو قوم پکښې اوسی ، داغر کږدی پروت دی په شمال کی ئې د حسن زو علاقه ، لمرلویدو ته ئې بنیر او د چغرزو قوم په جنوب کی ئې بنیری دیکی خیلو طائفه ده او لمرختو ته ئې د اباسین غاړه ده چه په اصطلاح هغه ځای ته سیکری وائی او اوس هم آزاد دی .

۱۷- د دودیر غره چه د چغرزو ، حسن زو او بنیر په منځ کی پروت دی د هغه ځای اوسیدونکی آزاد پښتانه دی او داغر هم آزاد دی . یو وخت د سوات والی پر دې غره قبضه کړی وه خو دا ئې د انګریزانو په امر آزاد پرېښود او دا آزاد پرېښود او سبب ئې داو چه داغر د سوات او تنول ترمنځ پروت دی نو ددې غره د نیولو سره سم تنول ترتیه پلاندی راتی نو ځکه آزاد پرېښود شو .

۱۸- د منګل کوټ غر : په دغو بنیر او سوات په منځ کی پروت دی او کوټ منګل سره ئې هم بولی .

۱۹ـ د ولاړي غر : چه د غوربند ، کابل او کوهستان ترمنځ پروت دی .

۲۰ـ د کروخ غر : چه د سرکادي او ولندري او بنیر د ولاړي په منځ کې پروت دی پر «صدم» او «درستو» باندې چه د پښاور د مردان علاقه ده تمامېږي .

۲۱ـ د دومه او جبو غر : چه د بنیر د لمرخاته خوا ته پروت دی او د اباسین په سیند کې خلاصیږي .

۲۲ـ د ملاني سر غر : چه په غوربند کې پروت او تل په واوره پټ وي .

۲۳ـ د بابای غر : چه د سوات او غوربند په منځ کې [illegible] او د هغه [illegible] په منځ کې [illegible] کې استعمالیږي چه مقلون یا مناق دی او [illegible] د بابای غر [illegible] .

۲۴ـ د [illegible] غر : [illegible] غره کې [illegible] .

۲۵ـ د [illegible] غر .

د سوات پیداوار :

۱ـ زوا [illegible]

[illegible]

په غرو کې ئې غوزه، کيدی، پراکې، خرس او نور شته، چه د ګرد و پوټکي ئې د تجارت منبع ګڼلای شي .

٤ ـ دغه ونې، چه لدوی څخه ډېر شيان لاس ته راځي .

د سوات صادرات :

له سوات څخه دا چيزونه د تجارت په غرض صادرېږي، د مشکنانو، وړيني شړۍ، وريجې، د تعمير لرګي، غوزي، شاتې، غرمني، چهارمغز، ګل بنفشه او نور دي .
کوم چيزونه چه د سوات په صادراتو کې ډېر اهميت لري هغه د غرونو «د نوازلرګي» دي، چه د پېښاور عمده تجار خصوصاً د نوښار کاکاخيلان دا لرګي د سيند له لارې وړي او تجارت پرې کوي .

د سوات آمدني :

د سوات د رياستي حکومت کلنۍ آمدن درې پنځوس لکه کلداري دي .

د سوات صنعت :

په سوات کې ښې وړيني شړۍ او کمبلې اودل کېږي، د سوات شړۍ په پښتو الی او توروالی او صنعتي کې ډېرې مشهورې دي، او څوبنجي شړۍ هم د کمبلو په شان هلته جوړېږي .

د سوات په لاس صنعتونو کې د شړمنو جوړول خصوصاً د اوسپې شرمن ډېره ښه ملا، پخوی او د دې په شان نور هم .

د سوات موچيان اوبنې هم ډېر مشهور دي، په تېره بيا د ګلدارو او د قالين ګنډلو کې .

د سوات پښتانه ترا اوسه لا توپک جوړ ولای شي، خو له ګرده و ځنه چه د سر د والي تراد او د لاندې پراخلي دي، د حکومت له اجازې نه پرته جوړولای، په ١٣٥٨ ه قمري د سوات پښتانو د حکومت په اجازه درې زره توپکونه جوړ کړه او دوی ته ئې پر توپک شل کلداره ورکړه، خصوصاً د ډېر يکوټ، د کلي پښتانه په دې کار کې ډېر ماهر او ځانګړي دي .

په سوات کې زړيني او وريښمني خولۍ هم د تجارت دپاره رغېږي .

دسوات ودانۍ :

په سوات کې دا ودانۍ مشهورې دي :

۱- شاهي محل: دسوات په مرکز (سیدو) کې د شاهي محل شهرت ډېر دی چه دسوات د والي ځای دی. شاهي محل په ډېر ښکلي مقام د سرو سبزو غرو په لمنه کې واقع دی چه یوه څنډه ئې دسوات په سیند پورې نښتې ده . د شاهي محل شمال غربي ته د والي د مرغزار کوټې او دغې کوټې جنوب مشرق ته میلمانه خانه ده او شمال ته ئې د حکومت ودانۍ او مسجدونه دي .

۲- بنګله: دا ودانۍ چه په «بنګله» مشهوره ده دسوات د والي د مشر زوی عبدالحق خان ده چه د پلار وا [illegible] دا بنګله په مهندسي شکل له ښو ډبرو څخه جوړه شوې ده [illegible] ته مسجد او [illegible] کوټې لري او [illegible] .

۳- [illegible] دا دسیدو د شمالي غرونو په منځ کې یو ډېر ښکلی ځای دی، سړی او [illegible] دسوات [illegible] ډېره ښکلې ښکاري [illegible] کې دسوات د والي د حکومتي ادارو [illegible] کې. له سیدو څخه [illegible] او هوا ئې [illegible] غرونو په لمنو کې کوټه او [illegible] له سیدو څخه هغه ځای ته [illegible] شوې ده .
هغه ځای د سمندر له سطحې څخه (٤٥٠٠) فټه لوړ واقع دی .

٤- [illegible] په [illegible] کې [illegible] میدان په منځ کې یوه ډېره ښکلې کوټه [illegible] دپاره [illegible] باغ او [illegible] اوږد [illegible] والي [illegible] ځای دی .

٥- [illegible] دسوات [illegible] ځای دی چه [illegible] [illegible] لري [illegible] د سمندر له سطحې څخه (٧٠٠٠) فټه لوړ واقع دی .

۶ـ ودیګرام، دسیدو جنوب ته د بریکوټ په ملانه کی یوه جبه ده چه شلور میله مربعه مساحه اری، دا جبه مخصوص د ښکار دپاره ده او په کال کی دیرش خرواره شالی د هغی جبی د میلیو د خوراکی دپاره منظوری لری. د انګریزانو په وخت کی هلته دوې دری کوټی ودانی شوی دی چه اوازم هم لری، کوم وخت چه به انګریزانو هلته ښکار کاوه نو د هغه ځای د ښاو ښوا خلك به ئی د خپل ښکار د راغونډولو دپاره بیګار ر اوستل او په هغوی به ئی خپل ښکار را ټولاوه.

د سوات مکتبو نه :

په سوات کی دوه ډوله یعنی ابتدائی او ځلور متوسطه مکتبو نه او یو هائسکول شته د متوسطو مکتبو نصاب ئی تاریخ، جغرافیه، انشاء، ادب، علم الاشیاء، حساب، عربی، فارسی پښتو او انګریزی دی، او تعلیم ئی وړیادی، د کتابو او د شیو نورو لګو د مصارف د سوات دریاست له خوا ورکول کیږی، کوم وخت چه متعلم له متوسطه تعلیم څخه وزګار شی بیا ئی خو به ده چه تعلیم بس کوی او که خپل تعلیم ته دوام ورکوی، که ئی دوام ورکاوه نو د سوات نه د بیانی د تعلیم دپاره لویدو کالجونو ته لیږل کیږی او مصارف ئی د سوات ریاست ورکوی. ددی تعلیم دوره پنځه کاله ده، تر تحصیل وروسته بیا دریاست په ملازمت کی داخلیږی او که ئی ملازمت نه کاوه نو دریاست هغه مصارف بایده ورکړی چه په ده شوی دی. څینی مشهور مکتبو نه ئی دادی :

۱ـ یو د ودو دریمی رشدیې مکتب شته چه دا انګریزی میټرك نصاب لری، دا مکتب د سوات په مرکز کی له شلو کالو راهیسی جاری دی او شلور سوه تنه شاګردان لری، ښوونکی ئی اکثره وطنی دی .

۲ـ یو مکتب په د بریکوټ کی له لسو کالو راهیسی تاسیس شوی دی چه شاو پنځه تنه شاګردان لری .

۳ـ یو ابتدائی مکتب په چهار باغ کی تاسیس شوی دی .

۴ـ « « « په خوازه خیلو کی دی .

۵ـ « « « په مینه کی دی .

٦- یو ابتدائي مکتب په انگیخیل کی دی .
٧- « « « په دکر کی دی .
٨- « « « د بیبن دعلاقې په چکمبر کی دی .

نوټ :

پخوا په سوات کی د تعلیم ځای یوازی مسجد و او د مسجد امامانو ډېر نفوذ درلود حتی د پیش امامی منصب موروثی شو او وروسته چه مکتبونه تاسیس شوه نو د ریاست له خوا حکم وشو چه امامت باید د علمی لیاقت له رویه وی .

د سوات دري :

څنګه چه سوات یو غرنی قطعه ده نو ډېری دري لری چه مشهوری ئې دا دی :

الف : هغه دري چه د سوات د ریاست له خوا په شمال پرتې دي :

١- د ناوګی دره ، او کرا کر دره ، چه جاری او [illegible] او [illegible] هغه سړک چه له سوات څخه [illegible] د بنیر [illegible] دی [illegible] تیر شوی .

٢- [illegible]

٣- [illegible]

٤- [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

۷ـ د سرداری او بنجوت دره ، چه د دري په سر کې د بنجوت کلی او په پای کې ئې
رداری کلی پروت دی

۸ـ د چمتالی دره .

۹ـ د چپل دره .

۱۰ـ سپینه دره .

۱۱ـ د میانام دره .

۱۲ـ د جروری دره .

ج : هغه دري چه د ننه د په علاقه کې پرتې دي .

۱۳ـ د درون دره : چه د خوګیانو د علاقې څخه د پېښاور د سوابي د علاقې خواته
پرته ده .

۱٤ـ د داګي او راوطبالي دره .

۱٥ـ د سور کمادي دره : چه د چماپي (د بنیر حدود) او د صدم او رستم (د پېښاور علاقه)
منځ امرشاه او امرایشه پرته ده .

۱٦ـ د چمله رود دره ، چه له غرب څخه د شرق خواته پرته ده ، او په ئې اباسین
ونښتي .

د : هغه دري چه د چکسر په علاقه کې پرتې دي

۱۷ـ د والي دره .

۱۸ـ د لانګیاله دره .

۱۹ـ د کسکار دره .

۲۰ـ د بنج دره : د کرکار، دی چه له دغه څخه په سلاو تیرېږي د کوهستان علاقې خواته
لار تیرېږي ته تللي او په لار چکسر ته واقع ده ، او په لار د سوات
خوا .

۲۱ـ د مانسګا دره ، چه جنوبي خواته پرته ده .

ه : هغه دري چه د سوات د کوهستان په علاقه کې پرتې دي .

٢٢ ـ دنوېر دره، چه جنوبي مخ ئې د کاناه خواته او غربي مخ ئې د ايکوړي
د کسلي سره نښتی دی.

٢٣ ـ د گنشال دره، چه د کوهستان په شمال غرب کې پرته ده.

٢٤ ـ د سنيگرې دره، چه د اباسين سيند ددې درې لمرخاته ته بهيږي.

٢٥ ـ د پنگر دره.

٢٦ ـ د راينولا دره.

٢٧ ـ د شنکيال دره.

٢٨ ـ د جباگ دره.

٢٩ ـ د بټن دره.

٣٠ ـ د گيال دره.

٣١ ـ د سيو دره.

٣٢ ـ د کنديا دره.

و، هغه درې چه په بنير کې پرتې دي.

٣٣ ـ د سالارزو دره، چه لمرختوته پرته ده.

٣٤ ـ د گوکند دره، چه د بنير په منځ کې پرته ده او په سوات تنا ميږي، هغه
دره ده چه په سوات کې د جانبيل په دره يادېږي.

٣٥ ـ د چغرزئي دره، چه د بنير او چکيسر ترمنځ پرته ده، لمرخاته ئې په چکيسر
او لمرلويده ئې په بنير پورې نښتي دي.

٣٦ ـ د برانډو دره، چه د بنير په منځ کې ده.

٣٧ ـ د ملکرو دره، چه د بنير په جنوب غربي برخه کې پرته ده، [illegible]
او [illegible] سره نښتي دي.

٣٨ ـ د گلول دره، چه د چترپه هلرزی علاقه کې پرته ده.

٣٩ ـ د مياشان او سالا دره، چه د سالارزو او [illegible] ترمنځ [illegible]
په منځ کې ده.

د سوات پلونه :

څو مشهور پلونه اري:

۱ـ يو پل د کوز سوات د مرکز د کانجو په موضع کې د سوات پر اوي‌سيند جوړ دی چه محصول نلري .

۲ـ دوه پلونه د بر سوات د «بلديري» په مقام کې پر لوی سيند جوړ شوي دي، چه د پلو څخه محصول نه اخلي، خو د ښاروېو، ګاډيو او لاريو موټرانو څخه ئې اخلي .

۳ـ يو د اوسپنې پل د بشير په علاقه کې شته چه تانګه هم پر تير يدای شي ـ او د سوري کښلو په حد کې دی .

سوات سړکونه:

۱ـ يو لوی سړک له سوات څخه تر پېښاور پورې تللی دی، او دا سړک د هغه لوی سړک شاخه دی چه په ۱۹۳۷ ع کال انګريزانو د سوات د سيند په غاړه جوړ کړی او د جنوب له خوا بشير ته تللی دی د رستم او صدم تر حدودو پورې . د دې سړک اوږدوالی د چکدرې له پله څخه د رياست تر مرکز پورې څلوېښت ميله دی او له مرکز څخه تر چرورې يعنې د سوات تر پايه پورې نوي (۹۰) ميله اوږد دی؛ مګر دا سړک په چرورې باندې نه ختميږي، په بشير کې تير شوی د مردان ضلع ته رسيږي .

ګويا دا سړک له پېښاور څخه تر چکدرې، سوات او بشير پورې تللی او بيرته پېښاور ته راغلی دی او د دې ګړي په شان د سوات په غاړه کې اوږدلی دی .

۲ـ د هغه لوی سړک څخه يو سړک د بريکوټ له حد څخه د جنوب خوا ته تللی دی چه د کړاکر او ناوګی د کوتل څخه او د پير بابا د زيارت له څنګه تيريږي بيا د بونير له لارې د سوري کښلو د اوسپنې د پله د لارې په لاره د بشير را ګډيږي .

۳ـ يو سړک د منګورې په حد کې له لوی سړک څخه د مرغزار خوا ته جلا شوی

رسوات ته تللی دی . داسړك پردورش خیله تیرشوی دسوات دکوهستان حدته رسیږی چه دا کوهستان ددیر دسرحد سره نښتی دی . ددی سړك اوږدوالی له منګورې څخه ترکوهستان پوری څلویښت میله دی .

اوزان او مقادیر :

جنسی مقادیر له پخوا څخه تیرېږی من و . خواوس پېښاوری سیر رواج پیدا کړی دی . کوم بل څه چه رواج لری هغه «چټه» ده چټه پوبار ته وایی اوبار دهغه ځای په اصطلاح پوڤاټری جوال ته وایی چه دسوات ددرومنو سره مساوی دی . دبل وزن نوم «تیراوه» دی چه دکابل دڅلور پاوو سره برابر دی «دری تیراوه» دسوات یو سیر کیږی . ترسیر پورته «دری» دی چه څلور سیره یو دری کیږی . ترهغه پورته «من» دی چه یو من دسوات اتیا سیره او دپېښاور څلویښت سیره کیږی . نغدی پیسی په سوات کی کلداری رواج لری .

دسوات کلی :

الف . ددارالریاست دشاوخوا دکلیو نومونه دادی :

بیلدو		کاتبلی	
		نوی کلی	منګوره
بلوګرام	ودیګرام	لوټه بنډه	امنکړو ډیره
کوکموره	تیره وډال	شینګروار	ځانی کی (۱)
مانیار	بریکوټ	اوډه	کوټه
منګلور	بشهم	سیری اوبه	کیشوره
منګرکوټ	نوی کلی	باروان	برنګوله
چهارباغ	دوکړاله	کلی باغ	منګلی تیږه
شنګرام	علم	ګټ	باړاکی

(۱) ددی کلی کی یوه ول وطنی موجنی موده پخوا چه ترپنځلسو میاشتو زیاته ده ګنی چه کلی اوبا ډوامه دی .

خوازه خیله	شیلان	میابت	چمنده
بیتی	بنوری	میاندم	جرووری
شاگرام	زنه	شین کت	کاشکوټ
سین		تیرات	

ب : د بر سوات کلی چه د دارالریاست شمال خواته پراته دی :

اشاړی	کاله کوټ	لال کو	ارنوو	دره
بردرشخیله	اردرشخیله	سمبټ	ودیگرام	سین پوره
توت کی	خریری	شکردره	شیربلم	جره
میانکلی	بیاگنډ	الکوټ	بتی گرام	انگلی
فاضل بانډه	بره تهانه	شرخ دره	داگی	شینجلی
سوی کلی	توتانو بانډه	تیغك	مانجه	کالوچ
کالاکلی	نصرت	مهك	شن	تغمه
چاچوډیری	تال	وردیال	سمی	مانړی
چور	پښوری	تانگو	قلمه گی	تیرنگ وزر خیلی
چنکی	گړی	یاړدی	شموزائی	داړمی
غنلی	دیلی	خریجه	سوندیری	مام ډیری
ډیری	کانشال	دمغار	بره بانډی	کوزه بانډی
بر کانجو	کوز کانجو	برشور	ارشور	علیگرامه
هزاره	ملوچ	سرجنی	چنداخوره (۱)	شمیبه
اخون کلی (۲)	جرجری	کاری		

(۱) د چنداخوره موضع د سوات د ریاست تر تشکیل دمخه د سوات د خانانو د پر خوله خونړی وه ـ بلکه د دغی علاقی سیاسی مرکز بلل کیده .

(۲) د پیربابا زیارت په دغه کلی کی دی .

ج - دبنیر دعلاقې کلی :

باچا کلی ملك پور (۱) سلطان ویس و یافازی خان جوړ بازارگی
ایلی توروړسك الفور ډگر کړپه
وگند کوز (اوبر) تخته بند ریگا سنبگرام کالا پانی
ساج گټه مشوانی چغرزئی چنار چنیه
ډیری بر کلی نوی کلی بټاره ټانگوره
مراد و کتکله گنبد چر گلونو بوړی
نان پسر میره گی توده چینه تو ی ایگانی
پولادی دشنال بهائی خا نیکوټ پاندیر کیج تیره پامپوخه
شلیاندی چرائی ک. لیاری مارتونگ بودال
کوهی چیو هانگیری ملا یوسف بگره
نور دره توپدره ټی مزت بولی دوگمه
بونغان بهائی کالاخیله

د - دمندړ دعلاقې کلی :

نوگی چمله امیله اکاری سودره
کرنگا نگکوټی کوریا دکتا کوټ مرخنی
[illegible]ړی نگری (۲) لنگر ملکه پیښیاه دمندړ کلی

(۱) پښتوا ده چې کلی نوم ملك پور [illegible] و [illegible] ملك [illegible] او [illegible] ملك پور [illegible] دمندړ [illegible] کلی [illegible] .

(۲) [illegible] (آل انډیا [illegible]) [illegible] .

داکی چکلی قورغښت منګل تهانه سواوی
پنج تار طوطیالی نوکرام منډره باغ هل
قاسم خیل غازی کوټ سهپاه شیرګړ ترنیان
چروری بهائی خان منډو

ه ـ دچکسیر په علاقه کی :

بخیله چکسیر (دحاکم ځای دی) اویل کروره ګټکوټ لابګیار
پرګنه چکسیر (اجراو ګجرخلاث) کابلګرام دیدل کماچ بشام
ګندګر چنکول سرکول دوت داندی
تیڅته سنداکی میره شنلک پشلور
بهار طوطبالام دانکول سندیا ریچن پیر
نساک کوزګی چوکیا شکوهی باندوریا
ایلوبو سنګری (۱) ګری الوچ دوهم کوټکی
کلالی سبکالی سندولی سنډیله چاکم
مرانرو لاګیار سواوک خدنګک

و ـ دسوات شوربنداو کوهستان علاقه :

کوټکی اوچر ګوسر شانګله ګنداو
شانګوټ الپوری (۲) دولت کلی پاکوری ایلونی
قره قوری پنجاو بنجار بن لونی
مناګری کنج جاسره قانګو

(۱) په کتابل ګرم شوه ترسینګری پوری یوه تحصیلی ده چه دوه زره کوره په کښی دی .

(۲) دالپوری په کلی کی د پښتو مشهور شاعر حافظ الپوری تیر شوی دی .

ز- دسوات د کوهستان وړکانا علاقه:

کوز کانا، دلائی، بر کانا، داموډی، بنکانی، کان شال، اجمیر، ولانه

ج- دابا سین د کوهستان علاقه:

چه د سیو وکنډ کوهستان ئی هم بولی (۱).

پټن، بنکر، لاور، جیجال، دوبیر، رانیال، ارات، شاګرام

چوټ ګرام، شمال، بنروی، بن کله، سیو، کبال، [illegible]

جاګک، رانولیا، مېرازه، کندیا، کالام

دسوات عسکری تشکیلات:

په سوات کی عسکر په قومی قوا [illegible] او تشکیلات ئې دادی:

۱- سپه سالار: د ټولو قوتونو مشر، چه دا عهده پخپله ولیعهد په غاړه ده.

۲- نائب سالار: چه د سپه سالار تر لاس لاندی کار کوی.

۳- کماندار: چه تر نائب سالار وروسته دوه تنه په یو منصب [illegible] کار کوی.

۴- کمان افسر: چه د هر کماندار تر لاس لاندی څلور تنه کمان افسران کار کوی.

۵- میجر: هر کمان افسر دوه میجران لری.

۶- صوبه دار: هر میجر څلور تنه صوبه داران لری.

۷- جمعدار: هر صوبه دار پنځه جمعداران لری.

۸- حوالدار: هر جمعدار یو تن حوالدار او اتلس سپاهیان لری.

علاوه پر دی پورتنیو تشکیلاتو د سوات په ریاست کی څو ډوله عسکر شته:

۹- اردلیان: چه شپږ [illegible] تنو ته رسیږی، د دوی اداره د یو کمان افسر او یو میجر په لاس کی ده، وسله ئی [illegible] ټوپک [illegible] ده، [illegible]

---

(۱) دا ټولی علاقی چه د ابا سین [illegible] آزاد شوی په ۱۹۴۷ [illegible] کال [illegible] شوی دی [illegible] آزاد کوهستان [illegible] د سوات ریاست تر لاس لاندی شوی.

معاش ئې د مني وخت کې د هغه ځای یوسل او څلویښت سیره شالي او په پسرلي کې د هغه ځای څلویښت سیره غنم دي.

۲ ـ د والي اردلي: د سوات والي ته مخصوص اردلیان لري چه د یوه میجر او پنځو نورو جمعدارانو او یو صوبه‌دار تر اداري لاندې دي.

۳ ـ د ولیعهد اردلیان: دده اردلیانو شمیر څلویښت تنو ته رسیږي. او ددوی ته پر سیره پر هغه مقرره معاش په کمال کې شپږ دیرش کالداره نقدي هم دالباس د پاره ورکول کیږي.

٤ ـ توپچي: په ځانته عسکر او منصبدار لري او ددوی شخه دیرلس هغه قاطري توپونه شته چه په ځیله په سوات کې جوړ شوي دي. دا توپچیان سل قاطري په کمند کې لري. پنځه جمعداران او پنځوس تنه دغا تر د پاره ټاکل شوي دي.

۵ ـ سپاره: یوسل او پنځوس تنه دغا ترو سپاره شته. دا سپاره هم توپک هم تفنگچه لري. پخوا اته سوه تنه وه. ددوی معاش تر پلو دوي جواله شالي زیاتي دي، یعني پلي یو نفر اووه جواله لري خو د سپاره اس جواله دي.

٦ ـ نفر خدمت: د منصبدارانو [illegible] پلاني ټول مسلح نفر خدمتان مقرر شوي دي.

تپسالار	کماندر	کپتان افسر	میجر	جمعداران
٦ تنه	٥ تنه	٤ تنه	٣ تنه	٢ تن

۷ ـ د لیسه [illegible] کې [illegible] پاره موجود دي، خو معاش ئې تر نورو [illegible] سپاهیانو [illegible]

۸ ـ [illegible]

[illegible]

د سوات د عسکرو تهانې:

د تانې نوم:	د منصبدار رتبه:
[illegible]	صوبه‌دار
[illegible]	جمعدار

د تانې نوم	د منصبدار رتبه
گړی خزانه	جمعدار
گونا	صوبدار
تنډوداک	جمعدار
غالی گی	صوبدار
سرکڼی	جمعدار
سپله	〃
ښیه	〃
شراټرپ	〃
نوګلی	صوبدار
کړی کلی	〃
سرډاګی	〃
چوار بیاغ	جمعدار
علم گنج	صوبدار
شوازه خیل	صوبدار
ټالی	جمعدار
پتی	۲ جمعداران
سپانه م	صوبدار
[illegible]	〃
پرانپال	〃
جوړ تنګ	〃
پشمال	جمعدار
شریه	صوبدار
سانګه	جمعدار
لاړ گول	صوبدار
[illegible]	〃

ذاتی نوع	منصب اور رتبہ
ل[illegible]	جمعداران
مئو	صوبدار
ہراو	″
جھ[illegible]	″
گوالیر ی	″
[illegible]	″
شور	″
قلاگی	صوبدار
[illegible]	۲ جمعداران
[illegible]	″
[illegible]	صوبدار
[illegible]	۳ جمعداران
[illegible]	جمعدار
[illegible]	صوبدار
[illegible]	″
[illegible]	″
[illegible]	جمعدار
[illegible]	صوبدار
[illegible]	
[illegible]	
[illegible]	″
[illegible]	″
[illegible]	جمعدار
[illegible]	صوبدار

د ثانی نوم	د منصبدار رتبه
بدال	جمعدار
چغرزی	»
اکاکره	»
گدائی زی	صوبدار
گوگند	جمعدار
جور	۲ جمعداران
دگر	جمعدار
کوتکی	صوبدار
پاکوری	»
ایونی	»
توی کلی	»
اولنډر	»
تانشته	جمعدار
دولائی	»
کوهشتگه	صوبدار
بگام	»
لاهور	صوبدار
تنګی	»
شوب	»
چکنیور	»
دبدال	»
چونکا	»
[illegible]	»
کابل گرام	»
کلوچ	»

برسیره پر ذکر شویو تانو پخپله په «سیدو» کی د ځاور عسکری قلا گانی شته چه په هره قلا کی سل سل تنه عسکر دیوه یوه صوبدار سره اوسی ـ ټول ٤٠٠ تنه .

دلوی موټر رو سړك په غاړه باندی پنځوس تانی شته چه (١٦٠٠٠) تنه عسکر پکښی اوسی .

په بنیر او منډر کی دیرش تانی موجودی دی چه (٢٠٠) تنه عسکر لری . ددیر پر سرحد د «سربالا» په غره باندی دیری تانی موجودی دی چه (٣٠٠٠) تنه عسکر پکښی اوسی .

نوټ : په پورتنیو تانو کی عسکر دخپلو کلو سره اوسی ، چرمسری نشته ـ او ملته مسجدونه هم لری .

دعسکرو معاش :

دعسکری افرادو او منصبدارانو معاش «شولی» دی ، چه په هره ملاقه کی دا ملاکو دهغه ښار او اینبری او عسکری گدام څخه جوړیږی . یوازی نائب سالار ته نقدی پیسی دمیاشتی یوسل کلداری او دوه پیپه غوړی او شه چای او قند ورکول کیږی ، نورو افرادو و منصبدارانو ته داسی معاش مقرر دی :

١ ـ هر سپاهی ته په کال کی ٧ قاطری جواله شولی
٢ ـ « جمعدار « « ١٠ « « «
٣ ـ « صوبدار « « ٢٠ « « «
٤ ـ « میجر « « ٣٥ « « «
٥ ـ « کپتان افسر « « ٦٠ « « «

سوات ملکی اداره او تشکیلات :

١ ـ دسوات دریاست ټولی چاری په والی اړه لری ، خو والی دا چاری خپل زوی ولیعهد ته سپارلی دی . هسکه یا هم په مهمو چارو کی مشوره ور کوی .

٢ ـ د سوات په ریاست کی دوه وزیران موجود دی ، یو دمشیر الملك په حیث

او بل دمشیر المال په حیث ، مشیرالملك تقریبا دوزیر داخله حیثیت لري او بل ئې دبشیر له حاکمانو نور ټول حاکمان په ده اړه لري . دمشیر المال وظیفه خارجه چارې دوالي دعین المال ساتنه او تجارت او سایه ده .

۳ـ قضائي چارې په قاضیانو اړه لري ، خو قاضیان دولیعهد تر اثر لاندې دي . (۱)

۴ ـ صحیه او عرفاني کاروبه هم په ولیعهد اړه لري .

۵ ـ ریاست دمشورې دوه مجلسونه لري ، یو خاص بل عام ، په خاص مجلس کې والي او وزیران او یو وکیل وي ، په عام مجلس کې یو شمیر تنه تجربه کاره او پوه سړي شامل وي .

۶ ـ عسکري عرضي په کابله والي کوي او معمولي پیښې په قومي [illegible] کې فیصله کیږي .

۷ ـ په اطرافو کې تحصیلداران شته ، چه دعلاقه داران حیثیت لري او د[illegible] حاکم تر اثر لاندې دي .

۸ ـ قاضي د اسلامي شریعت قانون چلوي .

۹ ـ عرضي او فیصلې معمول لري .

۱۰ ـ هغه شخړې او دعوې چه [illegible] دوالي په حضور کې فیصله [illegible] کیږي [illegible] ته [illegible] کیږي .

۱۱ ـ [illegible]

۱۲ ـ [illegible]

حاکمان او تحصیلداران :

۱ ـ مرکزي حاکم ، [illegible] والي [illegible]

---

(۱) قاضي دوالي په خوښه مقرریږي ، دقاضي معاش [illegible] ۷ [illegible] تر شلو سوو او پورې [illegible] دي .

٢ـ هغه حساکان چه تحصیلداران لری ۔۔۔ اس تنه (١)
٣ـ هغه تحصیلداران چه دحاکمانو تراثر لاندی دی ۔۔۔ ٣٦ « (٢)

تحصیلداری :

هغه تحصیلداری چه په مرکز پوری ترلی دی په دی ځایو کی دی :

١ـ د بریکوټ په موسی خیلو کی ۰
٢ـ دمنګوره په بابوزئیو کی ۰
٣ـ دچار باغ په متوړئیو کی ۰
٤ـ دخوازه خیل په کالی کی ۰
٥ـ دجروری په جنګی خیلو کی ۰
٦ـ ددروش خیله په شامیزیو کی ۰
٧ـ دال کوټ په سیبو جنی قوم کی ۰
٨ـ دچنه خوره په جنګی خیلو کی ۰
٩ـ دچنګی په شموزیو کی ۰
١٠ـ دسیګی په جنګی خیلو کی ۰
١١ـ دمیګر ا ن په جنګی خیلو کی ۰

هغه تحصیلداری چه دحوالت په اطرافو کی دی دادی :

١ـ دبریکوټ په موسی خیلو اوابا خیلو کی ۰		٢ـ د بابوزیو تحصیل ۰	
٣ـ دچار باغ	تحصیل	٤ـ دجروړی	«
٥ـ دجنګی خیلو	«	٦ـ د برانیال	«
٧ـ دال	«		

(١) اصلی اس تنوهغه پلځه ته ویل کیږی چه دحوالت کی دقوی دی او د پښتنو او کوهستانیو کی [illegible] [illegible] کوی ۰

(٢) [illegible] هغه ٣٢ ته حوالت په اطرافو کی او پوولس ته د مرکز د [illegible] تر لاس لاندی [illegible] [illegible]

٨- د کابل تحصیل — ٩- د کمانی زیو تحصیل
١٠- د دگر » — ١١- د طوطیبالی »
١٢- د افبیله » — ١٣- د نګری »
١٤- چغرزئیو » — ١٥- د کاکره »
د جور ١٦ — ١٧- د ماتو نګک »
١٨- د چوګا تحصیل — ١٩- د چکسیر تحصیل
٢٠- د وتګی » — ٢١- د لیلونی »
٢٢- د بشام » — ٢٣- د دولائی »
٢٤- د چونګی » — ٢٥- د خوازه خیله »

پوسته

په ریاست کې یوه مرکزي پوسته خانه شته، چه ښارګی ته هم تحصیلدار و ته رسیدلی دی. دسوات په داخل کې د پوستې محصول معاف دی.

تیلفون

په سوات کې د تیلفون لین ترهري تاڼي پورې رسیدلی دی. اهالي د تیلفون څخه استفاده کولای شي او محصول ور کوي. حکومتي کاروبار په وخت کې پر یوه دقیقه ۳ آنې او د تعطیل په وخت کې یوه آنه محصول اخلي. د تیلفون سیم او سامان د سوات د اهالیو په اعانه اخیستل شوی دی.

برق:

دسوات په مرکز کې د برق فابریکه شته، چه تر دوو میلو پورې برق ور کوي.

شفاخانه:

په سوات کې د دارالریاست ته نږدې یوه عمومي شفاخانه شته.

بیطارخانه :

یوه بیطارخانه هم شته ، چه څاروی ورته معالجه کوی .

۞ ۞

دسواتیانو دوداو دستور

۱ ـ دمیلمه په ساتنه کی لکه څنګه چه دټولو پښتنو دودی ډیر مړنی دی ، او دمیلمنو دپاره ډیری او حجری لری ، مشران د بانډی دمیلمنو سره ډوډی خوری .

۲ ـ په عوامو کی دپښتو ستر نشته او په خواصو کی رواج لری .

۳ ـ پخوا په سوات کی دځمکو ویش رواج درلود ، چه تر شلو کالو وروسته به ټولی ځمکی مساویانه ویشلی کیدلی ، اوس دا دود له منځه تللی دی .

۴ ـ په سوات کی ځمکوال سړی ته «پښتون» وایی ، بزګر او کسب ګر سړی «فقیر» بولی .

دسوات عتیقه آثار :

په ۱۹۲۶ عیسوی کال یو انګریزی عتیقه شناس (سر اوریل سټین) دلندن سوسایټی جغرافیکل هیئت رئیس سوات ته راغلی و ، په بنیر او د کانا غوربند په علاقه کی ئی حفریات کړی دی او خپلاته کتاب ئی د منځنی ایشیا دحقایقو په باب کی لیکلی چه په پارسی هم ترجمه شوی دی ، [illegible] زوړ [illegible] کی دسوات دعتیقه آثارو په شاوخوا کی مفصل [illegible] لیکلی ، خود لته په لنډه توګه یاد داشتونه لیکو :

۱ ـ د سریخ په [illegible] کی [illegible] چه وایی هلته دسلطان سکندر دوښتو نخښی آثار شته .

۲ ـ د چګلسر په علاقه کی [illegible] په سر حفریات شوی دی چه یوه آتشخانه او یوه [illegible] پیدا شوی ده ، چه وایی دا آتش خانه هم دسکندر دوښتو ده ، [illegible] لیکلی [illegible] چه انګریزانو راغلی [illegible] لندن ته [illegible] وړی ده .

۳ـ د نیکپیخیلو په علاقه کې یوه دره ده چه هلته کوټ پورته نږدې پر یوه تپه باندې یوه ویرانه ودانۍ موجوده ده چه وایي دا ودانۍ د «گراه» نامي راجا خزانه وه کله کله د باران په وخت کې هلته طلائي مسکوکات پیدا شوي دي .

٤ . دا هم په یوه غره کې یوه پخوانۍ آبادي ایدل کیږي چه د پخته کارۍ آثار ځینې ښکاریږي .

٥ . په منگلور کې یو غر دی چه تر غره لاندې رود بهیږي . د رود په غاړه د یو بت تصویر دی چه په ډبره کې کیندل شوی دی . او [illegible] متبرکه دي .

٦ . د بابوزیو د علاقې د ډوډیالام د قصبې امر خانه خواته یو غر دی چه «گراه» نومیږي . په دې غره کې د یوې قلعې آثار ښکاریږي او وایي چه دا قلعه د «گراه» نامي راجا اوسیدو ځای و . چه د سلطان محمود په وخت کې هغه گرانامي د مسلمانانو لاس پوړل شو او هغه قلعه فتح شوه .

٧ . د سوات په مختلفو ځایونو کې یو ډول زړې گنبذې ایدل کیږي چه یوه یې په بریکوټ کې د سړک پر غاړه ولاړه او په [illegible] مشهوره ده . وایي چه دا راز گنبذې او ځینې نورې خرابې په سوات کې د بودهه له زماني څخه پاتې شوي دي یوه گنبذه د سوات په چوار باغ کې هم موجوده ده انگریزانو ددې گنبذو په شاوخوا کې معلومات او سفریات کړي دي خو له ډیره وخته دا گنبذې [illegible] نه شوې دي . دا راز گنبذې د جلال آباد په سرخ رود او لغمان کې هم شته وایي کوم وخت چه سلطان سکندر د پنجشیر له [illegible] لغمان او سوات په لاره [illegible] عسکري [illegible] چه دا گنبذې [illegible] او خلک وایي دا گنبذې د بودهه د وخت دي .

۞ ۞ ۞

خوشحال خان خټک پلار د سوات ملک واسي ستايي

سوات مي واړه لـه کمال گرسره تر پایه

[illegible]

ملك د سوات د ملوکانو نشاط دی
په دوران د یوسفزیو وران رباط دی
په هوا کی د کشمیر په آب ورنگ دی
حیف دی چه کشمیر ارت دی دی تنگ دی

سوات اوسنی والی

نوم ئی عبدالودود خان ، لقب ئی میاگل او گلشهزاده، او د انگریزانو له خوا خطاب ئی والی ، او اهالی ئی پادشاه بولی . پلار ئی عبدالخالق د سوات د باباصاحب یعنی الاخوند عبدالغفور صاحب زوی وه ، مور ئی د « بی بی انی » د چترال د مهتر امان الملك لور ده .
په ۱۳۰۰ ه = ۱۸۸۱ ع کال زیږیدلی دی - تحصیل ئی پخپله کور کی کړی دی
په پښتو ژبه فصیح نطاق دی - په پارسو هم بی تکلفه خبری کوی - په عربی او انگریزی هم پوهیږی مگر خبری نشی په کولای . حج ئی کړی دی ، مونځ او روژه نه قضا کوی - دری زامن لری :

۱ - عبدالحق چه لقب ئی شهزاده جهان زیب او د انگریزانو له خوا ولیعهد شوی دی - دزیږیدو نیټه ئی ۱۹۰۸ عیسوی کال دی .
۲ - فضل قادر لقب ئی شاهروم . په ۱۷ کلنی د پیښور په کالج کی وفات شو .
۳ - فضل محمود . لقب ئی سلطان روم - دزیږیدو تاریخ ئی ۱۹۲۷ ع .
شلور لونړی لری .

قوم

د سوات والی په قوم صافی او په صافی کی قندهاری دی چه سلسله ئی د صفو بلیکو ، سلیمان ، عیسی ، رجر ، ابدال ، ترین ، شرخبون ، سربن ، قیس عبدالرشید ته رسیږی .

ریاست

د سوات صاحب څخه دوه زامن پاته شوه چه یو عبدالحنان او بل عبدالخالق نومیده عبدالحنان ئی مشر زوی و ، او په دماغ کی ئی د شاهی خیال پیدا شو ، خو د خپل

زړه آرزوته ونه رسید او په ۱۸۸۷ ع کال وفات شو ، له ده څخه دوه زامن پاتې
شوه چه یو عبدالرزاق او بل عبدالوهاب نومېده ... دواړه دریاست او خانۍ په هوا
یو په بل پسې ووژل شول .

عبدالخالق ډېرې او سجاده نشینۍ خواته مائل و ، او له دې لارې ئې ډېر رسوخ پیدا کړی و
په ۱۸۹۲ ع کال وفات شو ، ده دوه زامن درلودل یو عبدالودود (اوسني والي)
او بل عبدالمنان ـ دعبدالمنان لقب «شیرین» و ، شیرین چه دسوات سپه سالار و ، په یوه
جنګ کې مړ شو او عبدالودود خان دسوات والي پاتې شو ، او دده د پاتې کېدو مهم علت
هم د انګرېزانو دوستي او اعتماد و .

❀ ❀ ❀

۲ ـ مرکزي پښتونستان : (یا صوبه سرحد)

مرکزي پښتونستان چه اوس ئې محکوم پښتونستان بولو او د پښتونستان څخه مهمه
برخه ده چه په اوږدو زمانو کې به د ټول پښتونستان مرکز او زړه و ، د
پښتونستان دا برخه خورا زوړ او له حوادثو ډک تاریخ لري او د زړو زړو کالو
افسانې ئې په زړه کې ساتلې دي چه د پښتونستان د تحریک تر عنوان لاندې به
مفصل راوړل شي خو دلته یوازې د مرکزي پښتونستان [illegible] او [illegible] وضعیت
لیکو ، او دا هم په لنډه توګه یادول غواړو چه د مرکزي پښتونستان ټوله خاوره د
انګریزانو [illegible] قوت تر [illegible] د افغانستان [illegible] برخه وه ، او په
۱۸۹۳ میلادي کال انګرېزانو [illegible] له افغانستان څخه جلا
کړه او د هغه شمال غربي سرحد په نوم ئې [illegible] انګرېزانو
دې شي ناروا تجاوز او ظلم ته به هم د پښتونستان د تحریک تر عنوان لاندې [illegible] و [illegible]
شي ، انګرېزانو دا علاقه پر دوو برخو ووېشله ، یوه هغه برخه چه مستقیماً د دوی تر
استعماري اداري لاندې اداره کېدله او بله هغه برخه چه [illegible] اداره او دا
شو په غیر مستقیم ډول د انګرېزانو له خوا اداره کېدله چه هغې ته [illegible]

موږ « مرکزي پښتونستان » وايو ، او دلته د هغې پر ځينو جغرافيائي وضعيت او تاريخ ليکو .

څلور خواوې :

لمر ختو ته ئې کشمير او مغربي پنجاب دی ، لمر لويدو ته ئې د آزاد پښتونستان قبائل پراته دي ، شمال ته ئې د سوات او چترال رياستونه واقع ، او جنوب ته ئې د جنوبي پښتونستان د بلوچستان علاقه پرته ده .

رقبه

د مرکزي پښتونستان ټوله رقبه (١٤٢٦٣) مربعه ميله ده .

نفوس

د مرکزي پښتونستان نفوس قريبا (٢٤٧١٥٢٧) تنه دي .

مرکز

د مرکزي پښتونستان مرکز « پېښور » دی .

غرونه

د مرکزي پښتونستان مشهور غرونه دا دي :

١ ـ د هزاره غرونه ، د هزاره په علاقه کې ډېر غرونه شته خو مهم غرونه ئې هغه سلسله ده چه د شمالي مغربي سرحد را جلا شوې ده . د دې غرونو دوې څانګې د جنوب څخه د شمال خوا ته ځنګ په شکل واقع دي . د کاغان په علاقه کې د دې دوو سلسلو ترمنځ فاصله ډېره لږه ده ـ دا دواړې څانګې د « بابوسر » په مقام کې سره يوځای شوي دي .

٢ ـ د ګليات ، تنولياني او کاغان غرونه هم د يادولو وړ دي .
دا غرونه ښه ښه ځنګلونه لري .

۳ ـ د شیخ بدین غر : د اغر د اسماعیل خان ډیره‌جاتو د علاقې څخه جلا کوي .
۴ ـ د نیلاغر : چه د شیخ بدین د شمال شرق خواته پروت دی .

درې

د مرکزي پښتونستان مشهورې درې دا دي :

۱ ـ د خیبر دره : دا دره د پېښور او افغانستان ترمنځ ډېره مشهوره ده چه انگریزانو د خپلې امپریالستي د ساتلو مهم ښارگک بللی دی . په دې دره کې به انگریزانو ډېره ډېر مصرف په پوځي سړك او داور گاډي لین جوړ شوی دی چه په دنیا کې ډېر لږ مثال لري . او انگریزانو په دې دره کې ځای په ځای ټانچې جوړې کړي دي . د دې درې تنگوالی او عسکري اهمیت انگریزانو د پښتنو د مرکز به پاره خبر کړی دی ، چه سره له دې هم پښتانه و ته بې بدل او په خپله آزادي ساتلې ده ... شول . د خیبر دره د مرکزي پښتونستان له مرکز څخه ۳۳ میله لرې پرته ده . مشهور کلي یې دا دي :

جمرود ، لنډي کوتل ، علم گودر ، تور خم ، علي مسجد (د خیبر دره په ترڅ کې واقع دي)

۲ ـ د کاغان دره : دا دره د هزاره د ضلع شمال خواته پرته ده . د دې درې څخه چلاس او گلگت ته لاره تللې ده . او دې لارې د مرکزي پښتونستان ښارونه کشمیر سره نښلولي دي .

۳ ـ د ملاکنډ دره : د مردان د علاقې لار د سوات ، دیر او چترال خواته له دې درې څخه تېرېږي ... د مرکزي ... علاقې ... داور گاډي لین هم لري ... او پوځي سړك هم لري .

۴ ـ امبېله دره : د مردان څخه بونیر علاقې ته په همدې دره کې لاره تللې ده په اتلسمه پېړۍ ... چه د ... سره ... گوله څو څو واره په دې دره کې جگړې شوې دي .

۵ ـ د کوهاټ دره : دا افغانستان او پښتونستان د کوهاټ علاقې ترمنځ لاره ده . او ته د کوهاټ چونۍ هم آباده ده .

٦ ـ د توچي دره: چه د افغانستان او پښتونستان د بنو د علاقې تر منځ پرته ده. او د بنو چونې یکښې آباده ده.

٧ ـ د ګومل دره: دا دره د افغانستان او پښتونستان د اسماعیل خان د ډېرې تر منځ پرته ده.

٨ ـ د کوهاټ دره: دا دره د کوهاټ او پېښاور په منځ کې ده

٩ ـ د پیزو دره: د بنو او اسماعیل خان د ډېرې تر منځ پرته ده.

رودونه.

د مرکزي پښتونستان مشهور رودونه دا دي:

١ ـ د کنهار رود: دا رود د کاغان د علاقې په هزاره ضلع کې د «لولوسر» له جهیل څخه راوزي. له مرې د شمال څخه جنوب ته او بیا له ختو خوا ته بهېږي. د دې رود د غاړو په کلو کې بالاکوټ او حبیب الله ګړی مشهور کلي دي.

٢ ـ اباسین: اباسین د پښتونستان خورا مهم او لوی سیند دی چه جلا به ولیکل شي.

٣ ـ د سرن رود: د هزاره د ضلع په مانسهره تحصیل کې بهېږي. د دې رود په غاړو باندې شولې کرلې کېږي

٤ ـ د دوړ رود: چه د هزاره علاقې څخه راوزي او «هري پور» ته نږدې بهېږي.

٥ ـ د سوات رودونه: چه په خپله په سوات کې ولیکل شوه.

٦ ـ د پنجکوړه رود: د سوات د رود معاون دی، او د چترال له غرو راوزي.

٧ ـ د کابل رود: چه د کابل او جلال آباد په لاره د پښتونستان په مومندو کې تېر شوی او مرکزي پښتونستان ته را داخلېږي او بیا په سوات ګډېږي.

٨ ـ د باړې رود: دا رود د پښتونستان د تیرا د علاقې څخه راوزي. په دواړو غاړو یې ډېرې شولې کرلې کېږي. د باړې قلعه ته نږدې یې اوبه صافېږي او په پېښاور کې د څښلو کار ورڅخه اخیستل کېږي.

۹ ـ د کورم رود : دارود دسپین غره دجنوبی خوا څخه راوزی ، په کورم او وزیرو کې تیریږي او دبنو دعلاقی ډیری ځمکی اوبوی .

۱۰ ـ دتوچی رود ، دې رود ته ګمبیلا هم وایی ، دسلیمان دغره له لږ ختیزو برخو څخه راوزی .

۱۱ ـ دتوئی رود : داافغانستان له غرو څخه راوزی په ډیره اسماعیل خان کې بهیږي ، کلاچی دهمدې رود پر غاړه پرته ده .

۱۲ ـ دچترال رود ، دهندوکش له غرو راوزی ــ (دچترال په ریاست کې وليکل شو .)

کانونه :

په مرکزی پښتونستان کې ډیر کانونه شته ، خو مشهور ئې دادی :

۱ ـ دمالګې کانونه ، په کوهاټ کې ، بهادرخیلو او کرک کې دمالګې لوی لوی کانونه شته ، چه مالګه هم ښینی راوزی .

۲ ـ سره زر : د کابل دروه په شګو کې پیدا کېږي او وانلي دي .

۳ ـ اوسپنه : د دیر ، باجوړ ، اوهزاره په غرونو کې پیدا کېږي .

٤ ـ ډبرو سکاره : د کوهاټ ، اوبنو په لمن ختیزو غرونو کې ډیره ښه او ښه شته د هزاره په غرونو او شېخ بدین کې هم ډبرو سکاره پیدا کېږي ، د چراټ غرونه ئې هم لري .

۵ ـ کوګړ : د کوهاټ د نګښ په مقام کې شته ، دې کاله پخوا ماده را ایستل شوې ده .

۶ ـ خوره : په میدانی جبو کې پیدا کېږي .

۷ ـ سیسه : د هزاره په غرونو کې ښه قدر شته .

۸ ـ پرانګه : په باجوړ او هزاره کې موندل کېږي .

۹ ـ پټرول : د کوهاټ په علاقه کې لږ څه شته د اسماعیل خان په ډیره کې هم لاس ته راغلی ــ خو وا ایستل شوی نه دی .

۱۰ ـ دخاورو تیل ، په شیرانی علاقه کی را ایستلی شوی دی .
۱۱ ـ گچ ، دمرکزی پښتونستان په اکثرو برو خو کی شته .
۱۲ ـ دمرمر ډبری ، او سپاره ته نودې داتك په مقابلو غرونو کی شته .

میوې :

دمرکزی پښتونستان په علاقو کی دا دا میوې پیدا کیږی ، انگور ـ انار ـ بهی آلوچه ـ خرمانی ، شفتالو ، بټنگ ، ناشپاتی ، لوکاټ ـ اینځر ـ کجورې ـ خټکی پړاو نوری میوې .

دغروونی :

څړی ، دیار ، بلوط ، جوز ، جلغوزه اونوری . .

غلې :

باجری ، جواری ، ماش ، مشونگ ، وریجی ، تمباکو ، گنی ، غنم ، اوربشی نخود ، مسور اونوری غلې پیدا کیږی .

صنعت او حرفت :

۱ ـ په هزاره علاقه کی ښې اوښوان جوړیږی ، دهری پور په جیل او په نجیب الله کوټ کی لونگۍ ، هم اوډلی کیږی .
۲ ـ په پیښاور کی څپلی ، موچړی ، لونگۍ ، خولۍ او دمسو لوښی جوړیږی .
۳ ـ په کوهاټ کی څپلۍ ، دمزریو بوریا اورسۍ اوتوکری تیاریږی ، پخوا کباوطوس هم جوړیدل خو اوس داکار بند شوی دی .
٤ ـ په بنو کی د خاورو ښکلی لوښی جوړیږی .
٥ ـ په اسماعیل خان ډیره کی دلرگو کار لوی صنعت دی ، په کلاچی کی قلفونه او چاقو گان جوړیږی د مزرو او کجورو څڼه بوریا ، رسۍ او توکری هم تیاریږی .

صادرات :

د مرکزي پښتونستان عمده صادرات مالګه، کوډه، تنباکو او څرمنې دي چه د باندینیو ملکونو ته ځي .

د اورګاډي لینونه :

په مرکزي پښتونستان کې دا لاندې د اورګاډي لینونه شته :

۱- عمومي لین: دې لین ته د انګریزانو په وخت د نارت ویسټرن ریلوې یعنې شمال غربي ریلوې وایه کېده . دا لین په ټول مرکزي پښتونستان کې څانګې لري .
یو سر ئې د پنجاب سره نښتی دی او بل سر ئې د خیبر درې ته رارسیدلی دی ، د اټک سره برابر سین راتیریږي . هلته د اټک پښامه یو ټینګ پل شته چه د اورګاډي لین پر تیریږي او ترهغه لین لاندې د موټرو سړک هم په هغه پله راپورې وتلی دی ، پیاده لین له خیرآباد څخه جهانګیرې ته ، له هغه ځایه اکوړې ته ، له اکوړې څخه نوښار ته ، بیا تاروجبې ، پبۍ او د پېښاور ښار ته ، بیا د پېښاور چوڼۍ ، جمرود لنډي کوتل او لنډي خانې ته ځي ، چه د دې هر یو ځای پښامه یو یو سټیشن شته .

۲- د ټیکلا او حویلیان اورګاډي : دا لین د عمومي لین یوه څانګه ده چه په هزاره علاقه کې تیرشوی او د ټیکلا جنکشن څخه ترحویلیان سټیشن پورې رسیږي . حویلیان د هزارې د مرکز ایبټ آباد څخه ... لیرې پروت دی . ... ایبټ آباد ته د اورګاډي لین نه دی تللی . د دې سټیشنونه دادي : حسن ابدال ، نجیب الله کوټ ، هري پور ، د صالح ... او نور .

۳- د نوښار او درګۍ اورګاډي : دا لین د نوښار څخه تر درګۍ پورې رسیږي . درګۍ د ملاکنډ په ایجنسۍ پورې اړه لري . د دې لین سټیشنونه دادي : رسالپور ، رشکی ، د مردان چوڼۍ ، کلپاڼی ، تخت بائي ، جهانګیر ، امان کوټ ، درګۍ .

٤ ـ د کوهاټ یا تل او رګادی، دا لین دخوشحال ګړ سره د پل په ذریعه مرکزی پښتونستان ته داخلیږی، سټیشنونه ئې دا دی، خوشحال ګړ، تا لبند، ګومبټ باړی بانده، کوهاټ، چکرکوټ، استرزی، هنګو، توغ کاهی، دو آبه، دوسته درسمند، تل...

٥ـ دکالا باغ اوبنو اور ګادی، دا لین دکالا باغ څخه بنو ته تللی دی، سټیشنونه ئې دادی، لکی، مروت، کمپلا، سرای نورنګ...

٦ـ دلکی او ټانک اور ګادی، دا لین د مروت دلکی علاقې څخه داسماعیل خان د ډیری د ټانک تر علاقې پوری تللی دی، سټیشنونه ئې دادی، شهباز خیل، پیزو ګل امام...

۞۞۞

دمرکزی پښتونستان علاقې:

مرکزی پښتونستان پر شپږو مهمو علاقو ویشلی شوی دی چه انګریزانو دا علاقې دضلع په نوم یادی کړی اوهغه دادی:

١ ـ هزاره
٢ـ مردان
٣ ـ پېښور
٤ـ کوهاټ
٥ ـ بنو
٦ـ داسماعیل خان ډیره

١ـ هزاره

دا علاقه د اباسین لمرخاته خواته پرته ده.

رقبه:

ددې علاقې رقبه قریباً (٣٠٠٠) مربعه میله ده شمالاً اوجنوباً پرته ده، اوږدوالی ئې قریباً ١٢٠ میله او پسور ئې ٤٨ میله دی، دشمال خواته په کاغان علاقه کی ١٥ میله پسور لری.

نفوس :

دهزاري دعلاقې نفوس قريبا (٦٧٠٠٠) تنه دی .

پیداوار :

د دیار ، خیبرې ونی شته چه دتعمیری لرګو کار ځینې اخیستل کیږي اماش ، وریجې غنم ، ګنی ، کورکمن ، هم کرل کیږي ، انګور ، خرمانی اولو کات دیر دی .

رودونه :

پدې علاقه کې دکونار رود مشهور دی چه په کاغان کې بهیږي .

کانونه :

د سکرو دډبرو (کوئلی) اواوسپنی کانونه پغرو کې شته چه زرا ایستل شوی ندی درانجو اوسپنه ډبری هم پیدا شوی دی ، دآهکو ډبری هم پیدا کیږي .

صادرات :

دتعمیر لرګی ، آلو ، پیروزه ، کورکمن ، خرمانی ، نبات ، غوډی ، شرمن ، او څوان دپانی لیږل کیږي .

عتیقه آثار :

په مانسیره کې دآشوکا نوشته پوه کتیبه شته .

مشهوری علاقې :

ګینې مشهوري علاقې چه انګریزانو ورته دهزاره دي د ضلع تحصیلونه ویل شه دادي .

١. مانسیره .

٢. ایبټ آباد .

٣. هری پور .

۱ـ مانسره :

د هزاره علاقې يو تحصيل دی چه مرکز ئې مانسره نو مېنځ ی ؛ نور مشهور کلي ئې دادي :

بفه :

چه د سرن د سيند پرغاړه پرته ده ، او د وړيجو تجارتي مرکز دی ، او سواتي قوم پکښې اوسي .

شنکياری :

ددې کلي شاوخوا ډېره سرسبزه ده ، د تمبر دارګو لويه منډئي هم ده .

پالاکوټ :

دا کلی د کاغان د درې په خوله کې د کونار د روډ پرغاړه پروت دی . د کاغان د پيداوارو تجارتي منډئي ده . د خليفه سيد احمد شاه او بالاپير زيارتونه هم هلته دي .

د حبيب الله ګړۍ :

د کونار د روډ پرغاړه پرته ده ، له دې ځايه دوه ميله لرې د کشمير وېش دی . او ډېرې چينې لري .

بټل او اوګی :

دا تحصيل د اسرې لمر لويدو خواته پروت دی ، اوګی ، وادی ، اواګرو رڼي مشهور کلي دي ، دلته د باوړ پوليس اوسي .

۲ـ ايبټ آباد :

د هزارې د ضلع مرکز او لوړوالی ئې قريباً (۴۰۰۰) فټه دی . هلته د غره په لمنه کې يوه لويه چوڼی ښته او په هم هغه غره کې د راډيه رسالو ځای دليدو وړ ځای دی .
د ايبټ آباد مشهور کلي دادي :

نوان شهر :

دا ایبټ آباد څخه دری میله لیری پروت دی . دلیدو وړ ځینې لری .

کاکول :

دا دسپاهیانو دفوجی زده کړی ځای دی . ډیری ښې اوبه لری

دهمتوړ :

دا یوه زړه قصبه ده چه د نتهیا ګلی دسړک پر غاړه پرته ده ، دلته دجوز تجارت کیږی .

نتهیا ګلی :

د ګرمۍ په موسم کی ښه هوا لری . اوچوالی ئی قریبا (۸۰۰۰) فټه دی

کالاباغ :

په یو کلی کی فوج اوسی . د نتهیا ګلی څخه دوه میله لری پروت دی .

حویلیان :

دا دهزاری د علاقی داورګاډی وروستنی سټیشن دی . چه له ایبټ آباد څخه اتلس

میله لری پروت دی .

هری پور :

هری پور د تحصیل مرکز دی . هری سنګه نلو آباد کړی او ورو په قلعه

پروت دی . باغونه ډیر لری . خصوصا ښه انار کیږی .

د هری پور څخه هم مشهور دی . نور مشهور ځایونه ئی

دا دی :

سرای صالح :

دلته ګنی او کورکن کرل کیږی . او نور جوار هم کیږی .

دنجیب الله کوټ

دلته ډېری ښې لونګیه او کیږې تیاریږی .

خانپور :

ددې ځای مالتی او انګور ښه شهرت لري .

❀❀❀

۲ — مردان

دا علاقه په ۱۹۳۷ ع کال دپېښاور څخه جلا کړه شوه او ځانته ضلع و بلله شوه د مردان علاقې ته دیوسفزو علاقه هم وائی .

ځلور خواوی :

شمال ته ئې دبونیر او سوات علاقې پرتې دی . لمر خاته ته ئې دا باسین یوه برخه او جنوب ته ئې دا ټك یوه برخه اونو ښاره پرته ده . لمر لویدو ته ئې چارسده او د سوات علاقه پرته ده .

رقبه :

دمردان دټولې علاقې رقبه (۱۱۷۶) مربع میله ده .

نفوس :

ټول نفوس ئې (۳۵۷۰۰۰) تنه دی او ټول په پښتو ژبه گرېږی .

قدرتی وېش :

دمردان میدانی علاقه پرشپږو تپو ویشلې شویدې ده . اباز ئی ـ کمال زئی ـ اماز ئی رجړ ـ اتمان . بلاق .

داورګاډی لین :

دنو ښارې څخه مردان ته داورګاډی لین راغلی او تر درګیی یو ریل تللی دی .

سرک :

د مردان څخه نوښار ته، صوابی ته، چارسدې ته، ملاکنډ ته سرک کوته تللی دی .

دري :

ددې علاقې مشهوري دري د ملاکنډ، مورا شاکوټ او امبیله دري دی، چه د سوات، بونیر، دیر، او چترال سره د تجارت لاري هم پللې کیږي .

صادرات :

کوره، تمباکو، مرچ، غرمت او بوره د مردان عمده صادرات دی .

مشهوري علاقې :

مردان کښې مشهوري علاقې لري چه انګریزانو د تحصیلونو په نامه یادې کړي او ویشلې دي :

۱. د مردان تحصیل :

د مردان علاقې هر کلي، چه پکښې مسکن اوسیږي، تجارتي منډۍ هم ده او بوره پکښې جوړیږي مشهور کلي ئې دا دي :

تورو: د مردان ته متصل پروت او د مسکن و مشهوره منډۍ ده، مردان او هوتی دا دواړه د کمال زئو د قبیلې مشهوري قصبې دي .

تورو: دا کلی د مردان څخه شمال طرفه لیرې پروت دی چه له هغه ځایه کوچی او شینې مردان ته لیږل کیږي .

تخت بائي: دا کلي د بائي زئو په ټپه کې پروت او د اور ګاډي سټیشن دی .

د ورتې څخه نه ډېره فاصله لرې تخت باهي ته نږدې په یوه غره کې د آشوکا د وخت آثار شته
هسته د قند او بورې یوه کارخانه هم شته.

لوند خوړ: دا بازي د تېپې بولوي کلی دی.

رستم: دا مړزی او سد هوم مشهور تجارتي کلی دی؛ د بونېر د علاقې د پاره تجارتي منډۍ ګڼل کېږي.

ګړی کپوره: هلته ډېری ښې او ځنې جوړ پېږي او د کالو جوړولو دستګاه شته.

شهباز ګړی: هلته پخواني زاړه آثار شته.

سوالونه:

د اعلاقو چه ده او مرکزي سوات نو مېږي چه د او تمان په څه پورې اړه لري؟ مشهور کلي ئې دادي:

سوات - تړی - کوټها - زیده - کالو خان - مرغز - نوان کلی - اسمعیله دوبیان - سرخ ډېری.

دتوپي کلی د صاحبزاده عبدالقیوم د زېږېدو ځای دی. هلته د هزاره ضلع ته د کپ پوپه فرېه مسته ته تېرېږي.

❀ ❀ ❀

۳ - پېښاور

پېښاور د پښتونستان یوه مهمه او متمدنه برخه ده چه د مرکزي پښتونستان مرکز دی. د پېښاور په وجه تسمیه کې دوې رایې دي یوه رایه داده چه په آریائي زمانه کې دا ښار د پرس زام نومي حکمران آباد کړی دی او نوم ئې د پرس پور (؟) په بنا ئې ایښی و، او چه په مرور د زمان پېښور شو. بله رایه داده چه په پېښاور کې اکثراً د پېښه ور خلک اوسېږي نو ځکه پېښاور یاد شو دی. مګر اوږی رایه حقیقت ته نږدې ښکاري ځکه چه د پېښه ور په پښتو ژبه کې د هر کوم هنر څښتان ته ځکه راوائي او پیدا شوی دی چه او سد پېښاور په

صوابي خانه کې پراته دي (۱) نو له دې کبله بايد دا نوم تر اسلام د مخه وی.

څلور خواوی :

د پېښور د شمال خواته د مردان ضلع او د سوات علاقه پرته ده، لرغاڼه پلو ئی اباسين او پنجاب، جنوب ته ئی د کوهاټ ضلع او د کوهاټ د دري داپريد علاقه ده، لمر لويدو ته ئې تيراه، خيبر او د مومندو غرونه پراته دي.

رقبه: د پېښور د ضلع ټوله رقبه ۱۴۶۱ مربع ميله ده.

نفوس :

په پېښور کې تقريبا (۶۱۷۰۰۰) تنه آباد دي، چې ټول پښتانه دي او پښتو ئې ژبه ده.

کانونه :

د پېښور په سيندونو کې د کابل سيند له ريګو څخه زر او زيات په غرو کې ئې د ... او په شاخو کې ئې تر ... پيدا کيږي.

پيداوار :

ګنې، ماش، غوزه، مرچ، انګور، آلو، مڼې، آلوچې، انځر، تمباکو، توتکې (۲) او نور ...

صادرات :

غرمنې، کړه، ګنې، مرمرچ، لونګي، خولۍ، رسۍ او نور ...

---

(۱) جغرافيه صوبهٔ سرحد ص ۷۸ طبع

(۲) يو ډول مېوه ده.

لارې او سړکونه .

داور ګاډي لین د اټک څخه د نوښار له لارې پېښاور ته راغلی او بیا لنډي خانې ته تللی دی . یو پوخ او اوږد سړک هم له اټک څخه تر خیبر پورې اوږد شوی دی .

ښار :

د پېښاور ښار شپاړس دروازې لري او شاوخوا یې یو خندق راګرځېدلی دی .

د پېښاور مشهور ځایونه دا دي :

۱ـ د بالا حصار قلعه : دا قلعه هري سنګه د درانیو پښتنو د هستوګنې پر کنډوالو جوړه کړې ده ، چه اوس پولیس پکښې اوسېږي .

۲ ـ د مهابت خان مسجد : دا مسجد د شاهجهان په وختو کې د پېښاور مغولي حاکم مهابت خان جوړ کړی و ، او ډېر ښکلی عمارت لري .

۳ ـ اسلامیه کالج : دا کالج د مرکزي پښتونستان خورا لوی عالي ښوونځی دی د دې ښوونځي په احاطه کې د « ګوتم بده » بت کشف شوی دی .

۴ ـ تاکال : دا ځای د پېښاور څخه شلور میله لرې پروت دی ، په تاکال کې د خلیل قوم خانان اوسېږي .

۵ ـ چمکني : دلته د احمد شاه بابا د پیر میاں عمر صاحب مزار دی ، او د پېښاور څخه پنځه میله لرې پروت دی . هره د جمعې شپه هلته میله وي .

۶ ـ ګور ګټړي : دا ځای په پخوا وختو کې د هندوانو زیارت و .

۷ ـ ډېري شاه جي : پېښاور ته نږدې پروت دی دلته د کنشکا د وختو آثار شته ـ یوه یوناني سټوپه (۴۰۰) فټه لوړه د کنشکا په هدایت تیاره کړې ده یوه صندوقچه هم پیدا شوې ده چه په هغې کې د ګوتم بده تبرکات شته .

۸ ـ شیخ محمدي : د باغونو او بوټو او سبزیو ، او انګورو دپاره مشهور دی .

۹- سربنده په اصل کې خټک دی ، د پښتو مشهور شاعر رحمان بابا په همدغه ځای کې پیدا شوی دی .

علاوه پر پورته ځایو ، متنی ، متړا ، پخه غریبکی او بډه بیر هم مشهور کلی دی .

مشهور علاقې -

د پېښاور مشهوری علاقې چه اوس د تحصیلو نو په نامه یادیږی دادی :

۱- چارسده -

داعلاقه ډېره آباده او زرخیزه ده ، د کابل او سوات له رودونو څخه اوبه ځي او پر دوو برخو ویشلي شوې ده ، یوه داشنغر او بله دوآب په نامه یادیږي ، په اشنغر کې محمدزي او په دوآب کې مومند او ګګیاڼي قومونه اوسیږي ، د چارسدې مرکز د سوات تر رود پر غاړه پروت دی او د ګوډو منډۍ ده .

د چارسدې مشهور ځایونه او کلي دادي :

پړانګ ، چارسدې ته نژدې مشهور کلی دی .

تنګی ، دلته چاقو ګان او چړې جوړېږي .

اتمان زئي ، د ګوډو منډۍ ده .

اباذي ، د سوات د رود له څنګه خوا ته پروت دی .

شبقدر ، دلته یوه قلعه جوړه شوې ده ، دا قلعه د کابل د رود پر کیڼه غاړه پرته ده .

له دې نه علاوه میچنی ، شبقدر ، خیل ، کاسباره او بلسکرام هم مشهور کلي دي .

۲- نوښار -

نوښار داشلي سینه پر کیڼي خوا پروت او پر دوو برخو ویشلی شوی دی .

پوره د خټکو علاقه او بله ټوله خالصه، پخپله د نوښار مرکز د تعمیري لرګو منډۍ ده سټېشن او چوڼۍ د رود پر کیڼې غاړې واقع دي، نوښار ته نـژدې په رسالپور کې د الوتکو میدان دی، مشهور کلي ئې دا دي:

چراټ: د ګرمۍ په وخت کې مرکز وي، دې ځای ته نژدې د سکرو ډبرې (کوټله) پیدا کیږي.

پبۍ: د اورګاډي سټېشن دی، هره هفته هلته میله کیږي، هندوانې ئې مشهورې دي، د مرچو منډۍ ئې هم ده.

خیرآباد: د عمارتي لرګو منډۍ او د اورګاډي سټېشن دی.

شیدو: په دې ځای کې د مسلمانانو او سکانو جنګ شوی دی.

اکوړه: دلته زرینې مرچۍ او خولۍ جوړیږي، د پښتو مشهور شاعر خوشحال خان خټک په همدې کلي کې زیږیدلی دی.

علاوه پر دې پیرپیاۍ، تاروجبه، اکبرپوره، د کاکا صاحب زیارت او نظامپور ئې مشهور ځایونه دي.

۞ ۞ ۞

۲ـ کوهاټ

د مرکزي پښتونستان په مشهوره علاقه د کوهاټ علاقه ده، چه اوس د کوهاټ د ضلع په نامه یادیږي.

څلور خواوې:

شمال ته ئې د اپریدو علاقه، پیښاور او د خټکو د علاقې غرونه پراته دي، لمر ختو ته ئې د سندرود، جنوب ته ئې د بنو علاقه او عیسی خیل دی، لمرلویدو ته ئې د کورم او د وزیرو غر پروت دی.

رقبه –
کوهات ټوله رقبه (۲۷۰۲) میله مربع ده، اوږدوالی ئي (۱۰٤) میله او پسور ئي (۵۰) میله دی.

نفوس –
د کوهات نفوس قریبا (۲۳٦۰۰۰) تنه دی، ټول پښتانه دي او پښتو وائي.

حرفت –
څپلی، لونګی، ټوکری او ازنګی ماته جوړیږي.

اورګاډی –
د کوهات په مرکز پورې د اورګاډي سړک شته او نورو ښارونو ته ئي
په واړو علاقو ګډ دی.

مشهوري علاقې –
د کوهات دوه مشهوري علاقې اړي ... او ... وا ...
... دي.

هنګو:
د هنګو علاقه هم پر دوو برخو ویشل شوې ده، یو اوږده برخه او بله ګوزه برخه.
دا علاقه په سر سبزه ده.
هنګو دوه د اورګاډي سټیشن لري یو د هنګو په نامه کلي او بل د ټل په نامه چه ددي لین
ور وستنی سټیشن دی، د هنګو په مرکز کې د پولیسو دفترونه د پاره یو ښکلی ... شته.
... د هنګو ... کلی دی.

۴- تیری:

هلته یو کرچنی ریاست گوتی شته، چه د تیری د نواب ملکیت دی، خو انتظام او اداره ئې البته د کوهاټ تر اثر لاندې دی. دا برخه د مالګې کانونه هم لري.

مشهور ځایونه ئې دا دي:

لاچي، دلته بنې خپلې، جرمه بنړی.

داود شاه بانډه، چه ددې تحصیل مرکز دی.

ګمکټ، ازرګادی، تیښتن دی،

علاوه پر دې کرک، جته، مالګین او بهادر خیل تر هم مشهور کلي دي چه هلته د مالګې ډیر کانونه شته.

❀ ❀ ❀

۵- بنو:

بنو هم د مرکزي پښتونستان لویه او مهمه برخه ده چه اوس د دغه ځای د یوې ضلع په نامه یادیږي

شاوخواوې:

شمال ته ئې د کوهاټ علاقه، لرختو ته ئې عیسی خیل او د میان والی علاقه، جنوب ته ئې د اسماعیل خان ډیره او لرلویدو ته ئې دوزیر او داوړ غرونه پراته دي.

رقبه:

د بنو ټوله رقبه (۱۷۰۰) مربعه میله ده.

نفوس:

تقریبا (۲۷۰۰۰۰) تنه دي، ټول پښتانه او پښتو ئې ژبه ده.

رودونه:

د بنو په علاقه کې دوه کوچني رودونه بهېږي چه يو ته د کورم رود او بل ته د توچي رود يا گمبيلا نوم وائي.

سړک:

بنو لوی سړک د کوهاټ څخه بنو ته او له هغه ځايه د اسماعيل خان ډېرې ته تللی دی بل يو خ

سړک وزيرستان او ټانک سره تړلی دی.

د کالا باغ څخه د لکي له لاري څخه بنو ته ريل تللی دی.

مشهوري علاقي:

د تنظيم او اداري له رويه د بنو علاقه پر دوو برخو وېشلې شوې ده چه اوس هره برخه ځانته تحصيل دی.

۱- بنو:

په دا تحصيل د بنو [illegible] کوردي د کورم [illegible] و [illegible] د [illegible] ی

[illegible] مشهور [illegible] دی.

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] دی.

۲- مروت

بنو د علاقې [illegible] مشهور [illegible] دی.

لمنځي، د تحصیل مرکز دی او داورګډی اینونه هم هلته سره یو ځای شوی دی.
علاوه پر دې شهبازخیل، قزنی خیل، تیتر خیل، اباخیل، عیسک خیل، بیګوخیل، واو خیل،
تیجو ډی او نور ئې مشهور کلی دی.

❀❀❀

٦ـ د اسماعیل خان ډیره

د مرکزی پښتونستان شپږمه او په اووه علاقه د اسماعیل خان ډیره ده، چه اوس یوه ضلع
بلله کیږی.

ځلور خواوی:

شمال ته ئې شیخ بدین او د بنو کوهستان لمر ختو ته ئې د سند رود، جنوب ته ئې
د غازی خان ډیره او لمر لویدو ته ئې د سلیمان غر پروت دی.

رقبه:

د اسماعیل خان ډیری ټوله رقبه (۳٤٧٠) مربعه میله ده.

نفوس:

د اسماعیل خان په ډیره کی قریبا (٣٧٤٠٠٠) تنه اوسیږي.

پیداوار:

غوڼی، غنم، باجری، جواری، نخودکی او کچوری پیدا کیږی.

صنعت:

په کلاچی کی ققلونه او چاقوګان جوړیږی.

لاري:

د اسماعیل خان له ډیري څخه تر بنو پوری دی، بیا له هغه ځایه تر ټانک او
وزیرستان پوری پوخ سړک تللی دی.

په سپاره موسم کې د سيند پر وود پر پل تړي او له هغې لارې نه د پنجاب سره تجارت کوي ، او په تاوده موسم کې د کښتيو په ذريعه تجارتي تګ راتګ ساتي .

مشهوري علاقې :

د اسماعيل خان ډېرې مشهورې علاقې چه اوس د تحصيلونو په نامه يادېږي دادي :

١ - ډېره د اسماعيل خان ډېرې تحصيل ، دا ځای د ټولې ضلع مرکز او د اباسند پرغاړه آباد دی ، او ډېره تجارتي منډه ئې بلله کېږي . دې ته نژدې د پهاړپور لويه واله بهېږي . لمر لوېدو خواته ئې د اکال ګړ قلعه ده مشهور کلي ئې دادي :

پهاړپور :

په زرخېزه کلي دی ، کجوري ډېري پکښې پيدا کېږي .

پنياله :

د شيخ بدين د غره په لمنه کې پروت دی او د چينو په واسطه اوبېږي هر ډول مېوه د ضرورت په قدر پکښې پيدا کېږي .

شيخ بدين :

دا کلی يو مشهور غراری .

کافر کوټ :

دا د تيمور د غره پر يوه غاړه پروت دی ، په زړو زمانو آثار پکښې ليدلی شوي دي دې ته نژدې د اباسند په غاړه يو واله زاملا شوې ده .

علاوه پر دې پر دې غره ... کلاچي ... کوټ جاتي ... چاه کان بوټه او نور مشهور کلي دي .

٢ - د کلاچي تحصيل ، د دې علاقه ده او په لمر ... کلاچي د دې تحصيل مرکز دی دا په دامن کې ... چاه کان او قلعه ... شمال خواته ... دی مشهور کلي ئې دادي ،

چودهوان :

داکلی دشیرانی دغره په لمنه کی پروت دی ـ کجوری او نوری میوی لری .

موسی زی:

دچودهوان شخه شپږ میله لیری پروت او ښه ښین کلی دی . د خلیفه صاحب زیارت هم دلته دی ،

تکواره:

ددې کلی خلق له تعلیم سره ډیر شوق لری ، مګر نوبه نې ډیری لږ دی ،

شاه عالم:

دلته هر کال میله کیږی .

رابن کـــلان :

دلته دشیرانیو نو ددهو و دار بډو او دپاره انـــګریزانو یو مجسمه پت جوړه کړی وه .

علاوه پر دې ګبری ، شموزی ، ګـــنداوی ، مروشان ، مامی ، لونی ، روهړی او پتنا له مشهور کلی دی .

۳ ـ دتانک تحصیل ، تانک ددی تحصیل مرکز او د اورګاډی ستیشن دی د تانک نواب هم دلته اوسی ، دېټنی او وزیرو دغرو لــرګی د همدی ځای منډی ته راځی .

ګل امام دتانک مشهور کـــلی او د اورګاډی ستیشن دی ـ په دې ځای کی فالیچی جوړیږی . ګمل ، اتار ، ملازی ، پاتی اوړوان تې مشهور کلی دی .

د مرکزي پښتونستان تاریخ:

د مرکزي پښتونستان ډېر پخوانی او روښان تاریخ لري ، د سکندر تر فتوحاتو دمخه د آریانی مشرانو په لاس کې و ، او د سکندر په زمانه کې د منځنی شرق له پر نفوسو او ودانو علاقو څخه شمیرل کېده . د دې پخوانی علاقې د عظمت او شان په شا و خوا کې په سانسکریت ، چینی ، یونانی ، او عربی ادبیاتو کې ډېر ثقه روایات شته ، استرابو بطلیموس او اریان په لومړی او دوهمه پېړی کې د دې علاقې په باره کې مهم بیانات کړي دي .

هغه وخت چه فاهیان په پنځمه پېړی او سونګ یون په شپږمه پېړی او هوان تسانګ په اوومه پېړی کې د پېښور دغه ولید ، تر هر څه دمخه یې د بودائی ستوپو د دوی توجه ځانته واړوله . عربی جغرافیه لیکونکو لکه مسعودی ، ابو ریحان بیرونی په نهمه ، لسمه او دولسمه پېړی کې او مغلی بابر په شپاړسمه پېړی کې د دې ځای ډېره ستاینه کړې ده . علاوه پر دې د دې ښکلی علاقې تاریخ دوه زره (۲۰۰۰) کاله پخوا په صحیح توګه ښکاره دی او ډېر هغه نور روایات هم موجود دي .

له دوو زرو (۲۰۰۰) کالو نه پخوا بودائی اوی پاچاهانو ګانې فرمانونه د دې علاقې په ډبرو او لوړو غرو کې کېندل شوي دي ، چه تر اوسه لا په قطعی صورت د الیکنې نه دي لوستل شوي او مسائل یې حل شوي نه دي . (۱)

له هغه وخت نه وروسته ډېرې سلسلې تیرې شوي چه په دې ځای کې یې سلطه او حکمرانی تر لوړه کړه مثلاً له یونانیانو نه وروسته ډېر شاهزادګانو او د ګریکو او باختری سلسلې څخه دا کوشانیانو ، ساکا ، هیفتالیانو ، او د اسلامی شاهانو نه د کابل هندوشاهیانو ، ترکانو ، غزنویانو او بیا وروسته یوسفزیانو ، هندو ، ترکو ، مغلانو ، سکانو او انګرېزانو د پښتونستان په دې علاقه کې حکمرانی کړې ده .

د پېښور په لویه وادۍ کې چه شا و خوا یې د لوړو غرو دایرې په شان

(۱) د شمالی غربی سرحد ګزېټیر نه انګلیسی کتاب د ملاغلی ځلمی ترجمه .

غرونه را چاپېر شوي دي چه له ډېرو پېړيو را هيسي د هغو په لمنو کي پښتانه ژوندون کوي او تاريخي ريکارډ د دوی د موجوديت په دې سيمه کي له دوهمې پېړۍ را په دې خوا چه تقريبا ديرلس پېړۍ کېږي په قطعي صورت ثابتوي . هغه وخت د کاڼي په غرونو کي د اباسين د لمر لويدو خواته ، او د کابل د سيند په جنوب کي پښتنو ژوندون کاوه . بنګښو ، اورکزيو ، اپريدو ، شينوارو ، او کاکړو چه د سالګي د غره په لمنو کي پراته وو ، په ډېره مړانه له خپلو ځمکو څخه مدافعه کوله ، او سره له دې چه هندوانو او راجپوتانو د شرق له خوا په تيره بيا د انونګا په وخت کي چه په دغه ځای کي د اقتدار خاوندو و ، د مرکزي پښتونستان تهديد يه او وه دوی د دباندېنو تجاوزاتو په مقابل کي شديد مقاومت درلود په هغه وختو کي غزنويانو د مرکزي پښتونستان څخه د هندوانو تهديد او سلطه د هغه ځای په شمالي برخو کي پسای ته ورسول او د سلطان محمود غزنوي فتوحاتو د مرکزي پښتونستان وضعيت بيخي وګرځاوه . په ۱۰۰۱ ميلادي کال د جيپال په ټوبنار او په ۱۰۰۸ ميلادي کال د انندپال د پېښاور کي قطعي ماتي وکړه . (۱)

سلطان محمود غزنوي په خپلو وروستنيو فتوحاتو کي د پېښاور ښار دوسلو او نورو جنګي اسبابو يو مهم مرکز وټاکه .

« پلو په نامتو مؤرخ وايي : « کله چه هم د پېښاور ښار پخوا ډېر ودان وه او ډېر اوسيدونکي ئي درلودل مګر د ډېرو عسکري جګړو او حملو له کبله اوس د دې ښار زوړ برتم او برم پاتې نه دی ، دغه ښار پر کنډوالو باندي ئي نوي ودانۍ جوړي شوي او زاړه اوسيدونکي ئي پر نورو اليش شوي دي . »

د پښتنو او عربي مآخذ چه له پخوا په مرکزي پښتونستان کي اوسېدله د دلازاک د طايفه وه ، کوم وخت چه غزنويانو خپل ځای غوريانو ته پرېښود او د غوريانو پر ځای مغل و افغان د دلازاک طايفه هم د سوات خوا ته وخوځېده او د دوی ځای ډېرو يوسفزو ونيو (چه د قبائلو په برخه کي د يوسفزيو تر عنوان لاندي به مفصل ذکر راشي) .

---

(۱) د ښاغلي حبيبي مقاله

په ١٥٠٥ میلادي کال بابر د کابل او غزني څخه د خیبر ل لاري د مرکزي پښتونستان مرکز «پېښاور» ته راغی او د مرکزي پښتونستان په ډېرو برخو کې کښې وګرځېد څو له هغه ي حسابه چې وي پښتونستان ته ولاړ او د «بوري» له دري څخه بېرته غزني ته راغی . بابر که څه هم د پښتونستان د پښتنو د سر کوبي د پاره حربي اقدامات وکړه مګر بیا هم د پښتونستان پښتانه د خپلو قومي مشرانو تر سیوري لاندې په آزادۍ سره ژوندون کاوه او خپله خپلواکي ئې ساتله . بابر بوواړه د زلازاکو د طایفې په لاربېوونه د پښتونستان د باجوړ تر سرحده پورې ورسېد او دغه عملیات د پښتنو په مقابل کې ئې له خپلو نویو وسلو څخه کار واخیست خو ناکامه شو . همدا شان د ده زامنو «کامران» او «همایون» د غوریا خپلو پښتنو له لاسه د ګوزن وصیفه پرغاره او د پښتونستان په نورو ځایو کې د آرامۍ او خوښۍ داغ ونه لیدله .

مغلي اکبر پاچا هم د مرکزي پښتونستان د پري حملې وکړې . او ډېر مشهور مشهور جنرالان لکه «بیربل» «ټودرمل» او «راجا مانسنګه» ئې د دې ځمکې د نیولو د پاره مامور کړه خو وروسته تر هغه چې پښتنو «بیربل» وواژه او دغه عسکري قوت ئې مات کړ . داکبر نورو جنګیالیو هم ونشوه کولای چې په پښتنو قبائلو کې نفوذ پیدا کړي .

داورنګ زیب په وخت کې هم د مرکزي پښتونستان د واشلي آزادی احترام ساتل کېده او کوم وخت چې ئې د پښتنو د ځمکې د نیولو ته سترګې سرې شوې دي او د وی د آزادۍ دښمن کړو لښکرئ ئې کړی ځی د خوشحال خان غوندې جنګیالیو او جنګیالیو پښتنو پلارانو د مقابلې سره مخامخ شوي دي او دوی ته ئې داسې زور ورکړي دي چې پخپله د خوشحال خان په قول ئې تر اوسه ماتېږه په قرار نه دي لګېدلي .

لا تراوسه ئې ماتېږه په قرار نه دی　　چې ئې ماسره وهلی سر په سنګ دی
لا په خوب کې په لرزه پرېوزي له کټه　　چې د چا ترغوږ زما د تورې شرنګ دی
که په داورنګ ګورې څه زه یم　　چې مې داغ په خاطر ایښی دا ورنګ دی

د احمد شاه بابا په وخت کې خو د پښتنو امپراطوري تر دهلي پورې خپره شوې وه ، او بیا د احمد شاه بابا د زوی تیمور شاه په وخت کې هم مرکزي پښتونستان ، لاهور ، سند ، ملتان او کشمیر د افغانستان د پښتنو د شاهي حکومت تر لاس لاندې وه . (۱)

تر تیمور شاه وروسته د زمانشاه په پاچهۍ کې هم کشمیر ، لاهور ، پېښاور ، کلات او بلوچستان د افغانستان د پښتنو په لاس کې و ، او په ۱۷۹۸ ع کال چې رنجیت سنګ سره د خپلو نورو سردارانو زمانشاه ته تسلیم شو ، نو زمانشاه د خپله لاسه رنجیت سنګ د لاهور حاکم مقرر کړ .

تر زمانشاه وروسته کوم وخت چې شاه محمود د افغانستان پر تخت کښېنوست سردار عبدالله خان د افغانستان د حکومت له خوا د کشمیر حاکم او شجاع الملک (چې وروسته شاه شجاع شو) د مرکزي پښتونستان یعنې د پېښاور حاکم و چې په ۱۸۰۳ ع کال شاه محمود د وزیر فتح خان په ذریعه پنځوس زره روپۍ د کشمیر د حاکم څخه مالیه واخستله او بیا یې د مرکزي پښتونستان د بنو او دامان څخه مالیه ټوله کړه .

تر شاه محمود وروسته چې شاه شجاع پاچا شو په دې وخت کې هم پېښاور د افغانستان د خاورې جزو ، خو د پېښاور مالیه یې اپریدیو پښتنو ته بښلې ، حتی شاه شجاع د سند د تالپوري سردارانو څخه هم هغه خراج واخیست کوم چې له څو کالو راهیسې یې د افغانستان حکومت ته نه و ورکړی (۲)

په دې ترتیب د سدوزو په ټوله دوره کې د مرکزي پښتونستان خاوره د افغانستان د خاورې برخه وه . په ۱۸۰۹ ع کال چې شاه شجاع په پېښاور کې و ، انګریزانو چې هندوستان تر لوېدیځ پورې نیولی و ، نو د فرانس د ناپلیون او د روس د الکساندر د خطر څخه د بچ کېدو لپاره یې ځان مجبور وګاڼه چې د افغانستان سره عهد او پیمان وکړي ، نو د هندوستان انګرېزي

---

(۱) (۲) د پښتنو تاریخ : لومړی ټوک ۱۴۸ - ۱۵٤ - ۱۷۳ - ۱۷۹ - ۱۸۱ مخونه .

حکومت د ۱۸۰۹ ع کال د فروري په ۲۵ د مونټ سټيوورټ ايلفنسټن تر مشرۍ لاندې
يو هيئت د راجپوتانې ، سيند ، ډيره غازي خان او ډيره اسماعيل خان په لاره
د کوهاټ په دره پېښور ته را واستاوه او د شاه شجاع سره ئې يو تړون وکړ
له همغه تاريخ څخه د پښتونستان او افغانستان د پښتنو بدبختي شروع شوه او
د انګريزانو استعماري او امپرياليستي حکومت ورو ورو د پښتونستان خاورې
ته را اوښتي شو ، چه وروسته به راتلئ ، مګر بيا هم انګريزانو د مرکزي
پښتونستان يوه برخه د برېتانيا د ټول حربي قوت په زور چه دې خوا ته ئې متوجه
کړې وه ، تر خپلې سلطې لاندې راوسته ، خو هر څه چه ئې وکړه د مرکزي
پښتونستان د پښتنو ژوندي روحيات او د آزادۍ غوښتلو احساسات ئې تر خپلې
سلطې لاندې رانه وستلای شوه ، او د هغه ځای پښتنو قريباً دوه سوه کاله په
مختلفو وختو کې د انګريزانو د امپرياليستي قوت سره مقابلې او مقاومتونه کړي
دي (چه د « د پښتونستان تحريک » تر عنوان لاندې به مفصل وليکل شي .)

په ۱۹۴۷ عيسوي کال چه انګريزان مجبور شوه له هندوستان څخه ووزي
ظاهراً ئې په دې چل او پلمه چه د هند مسلمانان بايد ځانته مملکت ولري خو په
حقيقت کې د خپلې امپراطورۍ د بقاء د پاره ئې د پاکستان په نامه يو مملکت
جوړ کړ ، او په دې وخت کې د مرکزي پښتونستان د پښتنو د ... و ، چه دا
ملکه خو هيڅ وخت د هند ... نه و ... ته تاريخ ... قوي ... ته ...
لري ، او انګريزان په خپل حق حقدار ته ... د ... ځای د پښتنو له
سره لاس واخلي ، مګر انګريزانو چه ... له ... څخه ...
قول کړی وي او ... کال ... وو ، تو
ځکه ئې د مرکزي پښتونستان پښتنو ته ... اختيار ورنه کړ ، د هغه ځای
پښتنو چه هر څه قلباً ... امپرياليستانو ... کاله وا چول
شو پښتانه مجبور شوه عملي اقدامات ئې شروع کړه او په دې اقدام کې د مرکزي
د پښتونستان د پښتنو ... قوله ... را ... خدمتګارانو
ولاړه چه (د پښتونستان د تحريک تر عنوان لاندې به مفصل ذکر راشي) ځوا امپرياليستي

قوت د دوی دواړو زړه ته ور او ښځي، زلمو او ځلميانو په جېل کې بنديان کړه او نور پښتانه ئې هم له خپل مشروع حق غوښتلو څخه په زور او زر پلمو شديداً منع کړه مګر سره له دې ئې و نشوه کولای چه د مرکزی پښتونستان د پښتنو د آزادۍ غوښتلو روحيات او احساسات ورژنی او هغه تر اوسه د آزادۍ غوښتلو مبارزه روانه ده او د مرکزی پښتونستان ټول پښتانه په يوه زړه او يوه خوله د زنده باد پښتونستان نارې وهي او آزاد پښتونستان غواړي او يقين دی چه ډېر زر به پښتانه پښتني غيرت او پښتني عزم خپل ځانونه د پرديو له منګولو خلاص کړي او د آزاد پښتونستان تر بيرغ لاندې به ودريږي!

۞ ۞ ۞

٤ ـ جنوبي پښتونستان: (بلوچستان)

د پښتونستان يوه مهمه او تاريخي برخه د بلوچستان په نامه يادېږي چه د پښتونستان جنوبي برخه بلل شي. بلوچستان د ګومل له روده شروع شوی تر بحيرهٔ عرب پورې او بيا د افغانستان او ايران له سرحده تر څنډه نيولي تر پنجاب او سنده پورې رسېدلی دی. لکه څنګه چه مؤرخين ليکي د هغو تحقيقاتو له مخې چه تر اوسه د بلوچستان په مختلفو نقاطو کې (نـل) او (جهاله وان) او نورو ځايو کې شوي دي دا ثابته شوې ده چه په بلوچستان کې د قبل التاريخ پنځه نيم شته او ... کاله د مسيح تر ميلاد د مخه په بلوچستان کې هغه اوسنی مدنيت و چه د نيل او سيند په ... شروع شوی او تر سند او ګنګا پورې خور شوی و (۱) بطليموس د يونان زوړ جغرافيه ليکونکی چه په دوهمه مسيحي پيړۍ کې ئې ژوند کاوه د بلوچستان ئې د جدروزيا په نامه ياد کړی او د

(۱) تاريخ افغانستان ـ د غبار تأليف ـ ۷ ـ مخونه ۰

آریانا نا داوو ولایاتو څخه یو ولایت شمېرلی دی (۱) په دې ترتیب او کلکولی تیک مدنیت په بلوچستان کې ښایېږي او د بلوچستان ځمکه د خورا زاړه تاریخي مدنیت ارونګې بلله کېږي. یو بل روایت دی چه په ۳۲۵ قبل المیلادي کې داوي سکندر د فوځو نو افسر «کریټ» نامې د سکندر په امر له ایران څخه د هلمند له لارې فوجي سامان دې برخوته راوړی وه او د «مولا» له درې څخه کوټې ته او له هغه ځایه د «سراوان» له لارې تېر شوی و (۲) دلته د هغه تر هغه چه د بلوچستان نور تاریخي واقعات ولیکم غواړم د بلوچستان جغرافي وضعیت شرګند کړم او له هغه وروسته ئې یا تاریخ ته راوګرځم.

جغرافیه:

بلوچستان د هغه تر هغه چه د انګریزانو د استعماري قوت پرې مسلط شي له خورا ډېرې زمانې پخوا څخه د افغانستان د خاورې یوه برخه وه، خو هغه وخت چه د انګریزانو استعماري قوت پر هند تېاوړ وکړ نو بلوچستان ئې هم جبرا د افغانستان څخه جلا او پر دوو برخو وویشه، یوې برخې ته ئې برطانوي بلوچستان ووایه چه د انګریزانو د چیف کمشنر تر اداري لاندې اداره کېده او بلې برخې ته ئې خارجي بلوچستان وایه چه په غیر مستقیم ډول د هغو افسرانو تر اداره لاندې وه دلته په مجموعي صورت د دواړو برخو جغرافیه لیکو (۳).

څلور څواوې:

شمال ته ئې افغانستان، لمر ختیځ ته ئې سند او پنجاب، جنوب ته ئې بحیرهٔ عرب او لمر لوېدو ته ئې ایران پروت دی، شمال غربي خوا ته ئې سرحدي صوبه پرته ده.

---

(۱) تاریخ افغانستان ۲۹ مخ

(۲) [illegible] قلات ـ ۱ مخ ـ په اردو ژبه.

(۳) په دې برخه کې د «جغرافیهٔ بلوچستان» له کتاب څخه استفاده شوې ده چه په ۱۹۴۸ ع کال په اردو ژبه لیکل شوې په کوټه کې چاپ شوې دی.

رقبه:

دبلوچستان ټوله رقبه (۱۸٤٦۳۸) مربعه میله ده، دبحر دساحل اوږدوالی چه دبلوچستان سره نښتی دی (٤۷۳) میله دی.

نفوس:

د ۱۹٤۱ ع کال داحصائیې له رویه دبلوچستان نفوس (۸٥۷۸۳٥) تنه دي.

قدرتی وېش:

دبلوچستان علاقه پردوو برخو ویشلي شوې ده یوه غرنۍ علاقه او بله میداني علاقه ده، غرنۍ علاقه ئې تر (۳۰۰۰) فټو پورې دسمندر له سطح څخه لوړه ده، او میداني علاقه ئې تر یو زر (۱۰۰۰) فټو پورې لوړوالی لري. په غرنۍ علاقه کې مشرقي او منځنۍ علاقې شاملې دي او په میداني علاقه کې شمال مغربي علاقه او څه هم دلس بیله او ددریای دشت علاقه شامله ده.

غرونه:

دبلوچستان دغرونو سلسله دانګرېزي د (S) د توري په شکل غوندې پیدا شوې ده عموما لغړ او بې بوټو راغلي، مشهور غرونه ئې دا دي:

۱ ـ دسلیمان غر، چه پښتانه ئې د کیسې غر هم بولي ـ ددې غره سلسله دګومل د رود او دسند د سیند په منځ کې پرته ده، او بلوچستان له پنجاب او شمال مغربي سرحدي صوبې څخه بېلا کوي ـ ددې غره ټول اوږدوالی دوه سوه او پنځوس میله دی، منځ اوچتې ئې شمالا او جنوبا پرووت او شاخکي ئې شرقا او غربا خپرې شوي دي.

۲ ـ تخت سلیمان، ددې سلسلې ټول اوچت ځای دی چه لوړوالی ئې (۱۱۲۹٥) فټه ته رسیږي. هلته دچلغوزیو او دمڼيلا ن ونې ډیرې دي. مار خوري او ګنګلی هوسۍ هم پیدا کیږي.

دشین غر او ژوب شکـلی علاقې هم په دې سلسله کې واقع دي .

۲ ـ د توبې غر ، دا غر د ژوب او پښین په علاقو کې پروت دی د افغانستان او بلوچستان ترمنځ پرېش واقع شوی دی (۳۰۰) میله اوږدوالی لري ، د چمن د علاقې سره د دې غر رخ شمالا او جنوبا پروت دی او په مقابل کې دې غره ته د خواجه عمران ، او «سر لته» وايي او د کوژک مشهوره دره په همدې غره کې ده ـ د پرې اغېزې ونې لري مګر ډېرزو او مېږو شپاره ... او ... شته .

۳ ـ د پروهې غر ، دا غر د جاله وان او سراوان په علاقو کې د مولا درود او د ژوب درو د تر منځ پروت دی (۲۲۵) میله اوږدوالی لري او (۷۰) میله ئې پسور دی د بلوچستان اکثره اوږدې غرونه د همدې غره په سلسله کې دي ، خلیفت ۱۱٤٤۰ فټه ، زرغون ۱۱۷۳۸ فټه او تکاتو ـ ۱۱۲۷۵ فټه لوړ دي .

د بولان او د ولاتی مشهوري دري په همدې غره کې دي د دې غره په شمال مشرقي لمنه کې د «زیارت» نومی ځای ډېر صحت بښونکی ځای دی ، او د موسم د تودوالي په وخت کې اکثرا دفترونه له ... او ... ځي ، دا غر ډېر ښه ... او ... ونې ... لري په دې غره کې د ښکار او ... پیدا کېږي .

٤ ـ د کړ تهار غر ، دا غر د جاله وان علاقه له ... ښکاري اوږدوالی ئې (۱۹۰) میله دی او ډېر ... ئې ... میله دی او د دې غره ... او ... کړه ... ئې (۷٤۳۰) فټه لوړه ده ... اوښتره وزې ... پیدا کېږي ، مګر ... [illegible] .

۵ ـ ... غر ، دا غر په جاله وان ... کې پروت دی منځ او ... ئې شمالا او جنوبا (۱۹۰) میله اوږدوالی او (۷۰) میله پسور لري ، ... او ... کړه ئې ... ۷۷۵۹ فټه لوړه ده په لوړو برخو کې ئې ... او ونې او په ... برخو کې ئې د ... ونې ډېرې پیدا کېږي د اوښانو ، پسو او وزو د پاره ... ډېر ښه ځای دی .

٦ ـ دچاغی غر ، داغر دچاغی په ضلع کی شرقاً او غرباً پروت دی اوږدوالی ئي (٩٠) میله او زیات پسور ئی ٣٥ میله دی دسلطان دغره مشهور آتش فشان په همدې غره کی دی څنګه چه دهلمند تولی لاری پردې غره تیرې دی نو د عسکری نقطهٔ نظر څخه ډیر اهمیت لری .

٧ ـ دراس غر ، داد خواجه عمران دغره یو ښاخ دی چه (١٤٠) میله اوږدوالی ئی لری د یره اوږده څوکه ئی راس نومیږی چه (١٠٠٠٠) فټه ئي لوړوالی دی ، د دالبندین میدان داغر دچاغی له غره څخه جلا کوی ، داغر وچ دی .

٨ ـ د سیاهان غر ، داغر مکران له خاران څخه جلا کوی ، اوږدوالی ئی (١٧٦) میله او پسور ئی ٣٠ میله دی ، وچ او لغړ دی .

٩ ـ د مکران منځنی غر : داغر د مکران په منځ کی پروت دی (٢٥٠) میله اوږد دی او ٤٥ میله پسور لری ، آبادی ئي لږه ده .

١٠ ـ د مکران د ساحل غر : داغر د بحیرهٔ عرب پر غاړه غاړه تر (٢٨٠) میلو پوری پروت دی اوزیات پسور ئی (٧٠) میله دی .

دغره هوا ډیری ډیری پیدا کیږی مګر کومه مستقله آبادی نلری ، شال خال وني لیدلی کیږی .

رودونه :

د بلوچستان رودونه ډیر واړه واړه دی ، لوی رود نلری مشهور رودونه ئې دادی :

١ ـ دژوب رود : دارود دپښین له غرانه ته د کند دغره څخه را وزی او ٢٤٠ میله کښته د ګومل درو دسره یو ځای کیږی ، دسره او ساده را منډ ونه ئی ممـا ونسانوی څنګه چه دغې رود غاړې لوړې دی نو کمکوته او په ښتی ور کولای .

٢ ـ دناړی رود : دارود سېوره راغه ته نږدې را شروع کیږی او په بلوچستان کی (٣٠٠) میله اوږدوالی لری ، دسې ... ته ئي لوړ الانی وا [illegible]

پسا چې د سیاهان د ماندې سره ګډیږي نو بیا انبار بولي ـ د مرې په علاقه کې بېځي ورته وایي . ډېر کښته نه دی او ځمکو ته اوبه ورکوي ددې رود معاونان نادریچی ، دا دا او سانګسان دي .

۳ ـ دلو هرود : دا رود د توبې د غرونو څخه راوزي ، ترپښت او شوارك تیریږي ، د جهانګي په علاقه کې د لوهرا سره ګډیږي اوږد والی ئې ۲۰۰ میله دی د دې رود نس ډېر ژور دی خو بیا هم څه نه څه ځمکې اوبوي . د مابزیو په علاقه کې ددې رود څخه د ماشین په ذریعه اوبه را خیږ ولی کیږي چه هلته ښه کافي ځمکې ته اوبه ورکوي .

۴ ـ د مولډ روډ : دا رود د بروهي د غره د مغلئي برخې څخه چه هربوئي ورته وایي راوتلی دی ، جهاله وان او کچهي علاقې ته اوبه ورکوي ، اوږد والی ئې (۱۸۰) میله دی .

۵ ـ د پیر رود : دا رود د پبه له غره څخه راوتلی دی او بحیرهٔ عرب ته توئیږي ټول ئې دومره ژور دی چه ځمکو ته هیڅ اوبه نه ورکوي ډیر لیري څخه او بلوچستان په منځ کې دا رود ویش اوبه لی دی .

۶ ـ دېر رالي رود : دا دی ته توچي راوتلی او دپښه غرونو څخه بهیږي جنوبي جالهوان او لس بیله اوبوي او بیا بحیره ته توئیږي اوږد والی ئې (۱۷۵) میله دی ډیری اوبه ئې جیل ته توئیږي چه هلته ئې پندورا جوړی او لهمځه څښایه بیا ځمکی اوبوي .

۷ ـ هنګول رود : دا رود د دادی څخه وراب شته راوزي د جهاله وان او مکران شمال مشرقي برخې ته اوبه ورکوي .

مشهور معاون ئې مشکئي دی دغه رود اوبه ډېرا لیري ځمکو ته راخیږي او دا رود د بلوچستان تر ټولو رودونه اوږد رود دی چه (۳۵۸) میله اوږد والی لري .

۸ ـ د رخشان رود : دا رود له هغه غرو څخه چه د مکران او سیاهان تر ونو سره پوشلي کیږي راوزي ، ټول اوږد والی ئې (۲۳۸) میله دی د پنجګور او نورو ځمکو ته اوبه ورکوي .

۹ـ د دشت رود، دا رود له ډېرو خوړو او ماندوله یو ځای کېدو څخه جوړ شوی دی ـ ۲۵۵ میله اوږد دی د دې رود او به د دې او کېچ او نورې ځمکې اوبوي .

کانونه:

په بلوچستان کې دا معدنونه شته:

۱ـ ډبرو سکاره (کوئله): د ډبرو د سکرو کانونه د بېن او کوټې سره غره کې او د قلات په ډګاري کې د ژوب په هندو باغ کې د لورالائي په دوکي کې ، د سبي په هرنائي ، نا کس ، کوسټ او شارګ کې او همداراز په مچ کې شته .

۲ـ کوګړ: دا کان د قلات په سنې ملاقه کې او د چاغي د سلطان په غره کې او د مکران په دشت کې شته .

۳ـ کروم: د کروم کانونه په هندو باغ او جنګ توا کې شته .

۴ـ اسباسټیس: په هندو باغ کې پیدا کېږي .

۵ـ شوره: چاغي ته نږدې شته .

۶ـ سپینه خاوره ، چه تباشیر او نور ځینې جوړېږي د سپین تنګي په سو چر دره کې پیدا کېږي .

۷ـ رانجه: د رنجو کانونه په جاله وان ، خزدار او چاغي کې شته .

صادرات:

۱ـ وړی چه هر کال قریبا اتیازره منه له بلوچستان څخه بهر ملکونو ته لیږل کېږي .

۲ـ تازه او وچې مېوې ، ۳ـ غالیچې او رنګونه ۴ـ هینجه ۵ـ زیره ۶ـ چلغوزي ۷ـ کجوري ۸ـ آلو ۹ـ شړۍ ۱۰ـ څرمنې او پوټکي ۱۱ـ د ساحلي ملاقې څخه کبان ،

دا ټول له بلوچستان څخه بهرنیو ممالکو ته صادرېږي .

لاري او سړکونه:

د اورګاډي لینونه: په بلوچستان کې څو اورګاډي لینونه شته .

۱ـ د چمن او کوټي ترمنځ چه الیون جوستیت ته نږدي بلوچستان ته را داخلیږي له سیبي څخه سپینږي ، کوټې ، بوستان ، د عبدالله له قلعه څخه تېرېږي او چمن ته رارسیږي ، د دې

این اوږدوالی ئې له جهت څخه تر چمن پورې ۲۶۵ میله دی دا لین د بلوچستان او هندوستان ترمنځ لویه لاره ده کوزك مشهور سورنګ پر همدې لین دی .

۲. د کوټې او زاهدان ترمنځ ، دا لین له سپېزنه نوشکي ، دالبندین ، نوك کنډی څخه تیر شوی او د ایران تر زاهدان پورې رسیدلی او ۴۵۶ میله اوږد دی .

دا لین پښتونستان له ایران سره نښلوی او د ایران سره د تجارت د پاره ښه آسانه لاره ده . دنشپه سورنګ چه نیم میل اوږد والی لری په همدې لین کې دی .

۳. د کهوسټ او هرنائی ترمنځ ؛ اوږی دا لین د بوستان او سبي ترمنځ تللی و ، خو اوس یوازی د سبي او کهوسټ په منځ کې جاری دی او چمن فټه نږدی د بوستان او کهوسټ ترمنځ دا لین قطع شوی دی د لورالائی د ضلع بر آمد او در آمد هم له دې لین څخه کیږی .

٤. د فورټ سنډیمن (اپوزی) لین ، دا لین د ګوله وږو ټښتو څخه دی او ټول اوږدوالی ئې ۱۸٤ میله دی د واورو او بارانو په وخت کې دا لین بندیږی .

دغې لین اوږدوالی [illegible] دادی ، کهنائی ، هندو باغ ، فورټ سنډیمن (اپوزی) کارن مهتر زئی چه د سمندر له سطح څخه ۷۲۲۱ فټه لوړ دی .

سړکونه :

۱ ــ د کوټې ــ سبي او [illegible] سړك ، د دې سړك اوږدوالی تقریباً دوه سوه میله دی د [illegible] څخه تر [illegible] پورې دا سړك په [illegible] کې تللی دی [illegible] ضلع کې دا سړك په [illegible] بیابان کې تیر شوی دی .

۲ ــ د کوټې او چمن سړك ، دا سړك ۷۸ میله اوږد او د بلوچستان [illegible] سړك دی .

۳ ــ د [illegible] سړك ، دا سړك [illegible] ته نږدې د کوټې او چمن له سړك څخه جلا شوی دی [illegible] خوشدل خان له لارې [illegible] ته رسیدلی دی .

٤ ــ د فورټ سنډیمن (اپوزی) سړك ، دا سړك [illegible] ته نږدې د کوټې او چمن له سړك څخه جلا شوی دی او [illegible] فورټ سنډیمن (اپوزی) ته رسیدلی دی دا سړك ۲۰٦ میله اوږد دی او د واورو او بارانو په وخت کې [illegible] بندیږی .

۵ ـ دا خدمه وال او وك كندي سړك ، دا سړك له كوټي څخه تر نوك كندي پوري ۳۰۹ ميله اوږد دی .

۶ ـ د قلات سړك ، دا سړك الك پاس ته نږدې د كوټي له سړك څخه جلا كيږي د مستونګ له لاري قلات ته رسيږي او ۸۸ ميله اوږد دی .

۷ ـ د لورالائي او كوټي ترمنځ ، دا سړك ۱۲۲ ميله اوږد دی چه د كچ زيارت چوتير او مسالن څخه تيريږي او لورالائي ته رسيږي . دا سړك ډيري لوړي ژوري اري او يوازي د كرمي په وخت كي كار ځيني اخيستل كيږي . د نومبر څخه بيا د اپريل ترمیا شتي پوري بندوي .

۸ ـ د سيپوره راغه سړك ، دا سړك د كوټي او فورټ سنډيمن (اپوزي) له سړك څخه خانوزي ته نږدي جلا شوي او اوږدوالي ئي ۱۳۵ ميله دی .

۹ ـ د هندو باغ سړك ، دا سړك د كوټي او فورټ سنډيمن له سړك څخه د سيف الدوله قلا ته نږدي جلا شوي او ۱۶۲ ميله اوږدی .

د سيف الدوله له قلا څخه تر لورالائي پوري ۴۶ ميله او د لورالائي څخه ۲۸ ميله ليري د سيپوره راغه د سړك سره كليږي .

۱۰ ـ د لورالائي او فورټ سنډيمن ترمنځ ، دا سړك ۱۱۴ ميله اوږدی ، د سره [illegible] ... [illegible] وپشت ميله [illegible] .

۱۱ ـ د لورالائي او فورټ [illegible] ترمنځ ، دا سړك ۱۷۷ ميله اوږدی [illegible] ... [illegible] .

۱۲ ـ د لورالائي څخه [illegible] ، دا سړك [illegible] ميله اوږدی [illegible] ... [illegible] .

۱۳ ـ د لورالائي څخه [illegible] پوري ، دا سړك [illegible] ميله اوږد دی .

۱۴ ـ د لورالائي څخه [illegible] پوري ، دا سړك د لورالائي او فورټ سنډيمن [illegible] ... [illegible] .

مکتبونه :

په بلوچستان کی دا دا مکتبونه شته .

۱ - یو انټر میډیټ کالج .

۲ - څلور عالی مکتبونه (های سکولونه) .

۳ - اتلس متوسط مکتبونه .

٤ - یوسل او (۱۰۱) ابتدائی مکتبونه .

❀ ❀ ❀

داخلی ریاستونه :

په جنوبی پښتونستان کی څو داخلی ریاستونه هم شته ، چه که څه هم د بلوچستان په عمومی تشکیل کی شامل دی ، خو په داخلی چارو کی ئې خپلواکه تشکیلات لری ، او پخپلو کورنیو اجرا آتو کی آزاد دی ، څنګه نو موږ دا هر ریاست جلاجلا توضیح ورکوو ، هغه ریاستونه په بلوچستان کی شامل دی :

۱ - قلات ریاست (د جنوبی پښتونستان په مرکزی برخه کی پروت دی) .

۲ - مکران ریاست (د جنوبی پښتونستان په جنوب مغرب کی پروت دی) .

۳ - خاران ریاست (د جنوبی پښتونستان لوېدیځ خواته دی) .

٤ - لس بیله ریاست (د جنوبی پښتونستان په جنوب مشرقی کی دی) .

۱ - قلات ریاست :

قلات د جنوبی پښتونستان په اوږدو [illegible] ریاست دی ، څنګه چه د قلات سرحدونه د ایران او افغانستان سره [illegible] قلات [illegible] همه په [illegible] قاقلیدلای شی .

خاوره او خلک :

[illegible]

[illegible]

[illegible]

رقبه:(۱)

د قلات رقبه تقریباً ۸۰ زره مربعه میله ده، اوږده یې تقریباً (۵۰۰) میله او پسور تقریباً (۱۳۵۱) میله دی.

ارتفاع:

د بحر له سطح څخه ۶ نیم زره فټه اوږدوالی لري.

له ختیزه د ... ۶۱ صحیح یو پر دوه او ۶۸ صحیح یو پر دوه طول البلد درجو تر منځ او جنوبي ... ۲۵ صحیح یو پر دوه او ۳۰ صحیح یو پر دوه عرض البلد درجو تر منځ واقع دی.

نفوس:

دهغې مردم شمارۍ له رویه چه په ۱۹۳۱ م سوی کال شوې ده د قلات نفوس تقریباً ۵ لکه تنه شمیرل شوي دي.

انتظامي برخې:

د قلات ریاست په دوو انتظامي برخو ویشل شوی دی او هغه دادي:

سراوان - جهلاوان - کچهي.

۱ - سراوان:

د سراوان رقبه (۳۳۵ ...) مربعه میله ده، شمال لوري ته یې [illegible] او [illegible] له ختیځ ته یې بولان او کچهي، جنوب ته یې جهلاوان او لمر لویدو خوا ته یې [illegible] او خاران پراته دي.

[illegible] ده او [illegible] سلسله [illegible] غرونه پراته دي، د [illegible] سلسلې نه علاوه [illegible] او [illegible] غرونه هم [illegible] په [illegible]

(۱) په [illegible] د [illegible] له [illegible] کتاب څخه چه [illegible] په ۱۳۲۹ [illegible] کې [illegible] استفاده شوې ده.

کې دباران اوبه راټولیږي او بیا دکینت ځمکې په اوبیږي، ددې او بوسره د دیشلک او ه اګو ه رودونه هم کومک کوي، آب وهوائې وچه او معتدله ده .

دسراوان پیداوار:

غنم، اوربشې، جوارې، تمباکو، ماش، هینجه، آلسو، د سراوان پیداوار دي .

کانان:

په سراوان کې یوازې دډبرو دسکرو کانان شته .

صادرات:

دسراوان څخه دډبرو سکاره (سکوکه) اسمان، وزي او هینجه دتجارت دپاره دباندې ځي .

خاص قلات:

خاص قلات هم د سراوان په علاقه کې دی رقبه یې ۹ ۲۳۹ ٤ مربعه میله ده او د بحر له سطح څخه ٦ نیم زره فټه لوړ واقع دی [illegible] قلات د کوټې څخه (۹۰) میله لیرې دی . له کوټې څخه تر مستونګه پورې اوبه [illegible] هم رافلی دي او له مستونګه څخه قلات ته [illegible] . له قلات څخه [illegible] میله لیرې [illegible] قلات [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]



جناب میر محمد اعظم خان د قلات خان



شته‌ېنه باغونه لري ، خصوصاً هندواني ئې دستاېلو وړدي .

ب : اسپنجی : چه د بنګلزي قوم دمستوګی ځای دی هلته دغرود ګـاو نو ښې ښې باغچې شته .

ج : مرد : چه شاوخوا ئې غرونه دي اوهلته دیو جهیل په دول دماران او به تولیږي .

ه : اسکـلکو : دشاهوانی دسردار ځـ ی دی اوهلته ډېر ښهوا نیان شته .

۲ـ جـالـه‌وان

رقبه ئې ۲۱۱۲۸ میله مربعه‌ده شمال خواته ئې «سراوان» لمرختوته ئې «کچهی» او سنده ، جنوب ته ئې «لس بیله» او لمرلویده وته ئې مکران اوخاران پراته دی مشهور غرونه ئې د «هربوئی» دغرڼیوه برشه‌ده کوچار غراودجنوبی جاله وان دغرونو په سلسله کی د «پب» غرشهرت لري .

دجاله وان د «مکلاچی» رود ، یاد «ښنګون» رود دبلوچستان مشهور رودونه دی ، دپب رود ۲٤۰ میله اوږد دی ، خو ځنګه چه ددځمکې نه ډېر تېریږي نو ډېری ځمکې او ولاې نشي دجاله وان هوا په اعتدال ده دېرو ميـانو آبادی زیاته ده .

پیداوار :

غنم ، اوربشی ، جواری ، تمباکو ، ماش او کجوری ډېری کیږي .

مشهور ځایونه :

۱ـ سوراب : چه دمکران او خاران پرلاره یوه تجارتی منډۍ ده .
۲ـ نیچارا : یو مشهور ځای دی . ۳ـ خضدار : یوه تاریخی قصبه ده .
ګندال : یوه تجارتی منډۍ ده هلته دژمي زماني کانوالي شته .

۵ ـ زهري ، دلته دنیابت مقام دی مدرسه او شفاخانه هم شته .

۶ ـ مشکی ، دلته هم نیابت دی .

۳ـ کچهی :

د قلات خورا اوږه لمر ختیزه برخه ده ، رقبه ئی (۵۳۱۰) مربعه میله ده شمال خوا ته ئی « بولان » او « سیبی » لمر ختوته ئی هم « سیبی » ده، جنوب ته ئي سنده او مغرب ته ئي جهاله وان دی . داعلاقه عموما میدانی علاقه ده دغه ځای مشهو ر رود ونه « ناړی » ، « بولان » ، « مولا » او « لمړی » رودونه دی، هوا ئی وچه او تو د ه ده، باران لږ اوری .

پیداوار :

غنم ، اوربشې ، کونجي ، پنبه او تر ټولو ډیر جواری کیږي .

کانان:

دمالګې ، ګچو ، اوشوری کانونه مشهور دی .

مشهور ځایونه:

۱ ـ ډیرا ګټ ، دلته علاوه د نیابت مستوفی او سیشن ، مدرسه او شفاخانه هم شته . دلته کسته و آلی هم پیدا کیږي .

۲ ـ ګنداوه ، علاوه د نیابت مستوفی هم اوسیږي ، مدرسه او شفاخانه هم شته دلته اول هم پیدا کیږي ، دلاس دستان او مال ستاله دی ، او دا ځای د تجارتی منډی په ځای کیږي .

۳ ـ ډهاډر ، دلته نیابت ، مدرسه او شفاخانه شته .

۴ ـ لهړی ، دلته نیابت شته ، هم مستوفی اوسیږي ، مدرسه او شفاخانه هم شته .

۵ ـ [illegible] نصیرآباد [illegible] دی .

٦ ـ مټهري : رئيساني سردار دلته اوسيږي .
٧ ـ حاجي شهر : دشاهواني سردار تاټوبی دی ، او هلته اس زوه څپه لوړ غر شته ، ښه هوا لري، آثارهم پيدا کيږي .

❀❀❀

۲-دمکران رياست:

دارياست ديښتونستان دقلات په جنوب مغرب کی پروت دی .

څلور خواوی :

شمال ته ئي دسيلهـان غر ، لمر ختوته ئي جهالاوان ، جنوب ته ئي بحيرهٔعرب اولمرلويدوته ئي ايران دی .

رقبه :

دمکران درياست رقبه ۲۳۲٦۹ مربعه ميله ده ددې علاقې ډيره برخه غرونه دي دغرونو په منځ کی اوی اوی دا گونه هم لري .

نفوس :

دمکران ټوله نفوس (۸٦٦٥۱) تنه دی .

ساحل :

دمکران ساحل دبحر پرغاړه دوه سوه ميله اوږدی .

بندرونه :

په مکران کی چه کم شی ډيری مشابهی ورځی او ديښتونستان د اقتصادی ژوند کسالی بلله کيږي هغه دمغه غماي بحری بندرونه دی ، چه په قيرونی دو کلو کی په دا بندرونه ديښتونستان بندرونه وبلل شی او ديښتونستان تجارت به هغه‌ي

لاری ددنیا سره شروع شی، حتی کولای شی افغانستان ته هم ترانزیټی لاره ورکړی، که څه هم هلته دري څلور واړه بندرونه شته، خو دوه بندرونه ئې ډیر مشهور دی.

یو «پسنی» او بل «ګوادر» چه زما په خیال دا دواړه افغانو نه په ډیر اټې تغییر پښتو دی چه اوړی «پاسنی» او دوهم «ګودر» دی او غیر مشهور بندرونه ئې «کلمت»، «جیونی» او «ارموړه» دی. پاسنی ته وړه قلعه هم لری.

غرونه:

په مکران کی دغرونو دري سلسلی شته، دمکران ساحلی غر، دمکران منځنی غر اودسیاهان غر.

رودونه:

دوه مشهور رودونه لری، یو ددښت رود، او بل دافشان یا رخشان رود، ددښت رود اوږد او په لړ دی او د رخشان رود دتروالی او دري څلور اوږدی کوم چه هلته د کجوری ونی ډیری دی.

پیداوار:

په مکران کی دادا شیزونه پیدا کیږی:

غنم، اوربشی، جوارې او وریجې ډیری دی، په میدانی علاقه کی چه کجوری پیدا کیږی، کیچ په برخه کی آم، کیله، نارنج، لیموهم شته ــ په پنجګور کی انار انګور، اینځر او ونې ډیری دی.

څاروی:

دمکران اوښان او غره ډیر مشهور دی.

صنعتونه:

کسبګری: اوبدل، کرل او دغرمی کار هومره شته چه خپل ضرورت پیاوه پوره کړی.

سړک :

دقلات څخه تر مکرانه پورې يو سړک راغلی چه بيا دپاسنی بندرته تللی دی .

تجارت :

دسيند لهلارې دخارج سره تجارت کولای شي او پر وچه داوښانو په ذريعه تجارت کوي .

صادرات :

دا شيز ونه له مکران څخه خارج ته ايستل کيږي : وړی - کڅه غرمنی - کجوري او کبان .

❀ ❀ ❀

۳ـ دخاران رياست :

دخاران رياست دبلوچستان په لمر لويد ز ه برخه کی پروت دی .

څلور خواوی :

شما ل ته ئې دچا ګی ضلع ، لمرختوته ئې جاله وان ، جنوب ته ئې مکران او لمر لويدوته ئې ايران دی .

رقبه :

دخاران رقبه ۱۸۵۶۵ ميله مربعه ده - څيره برخه ئې ريګ دی .

نفوس :

دخاران ټول نفوس (۳۳۸۳۵) تنه دی .

غرونه :

مشهور غرئې د راس ، غردی چه دمخه درته معرفی شو ، څو پل غر د کره پنامه لري چه دخاران په لمر ختيز ه برخه کې پروت دی ، او خاران له جاله وان څخه جلا کوي . دسيندان غرهم په خاران کې دی چه دمخه ذکر شو .

رودونه :

د ښاران مشهور رودونه دادي :

۱ ـ هېرمند رود : چه د ګزله غره څخه راوتلی او (۱۵۰) میله اوږد دی .

۲ ـ دمشخیل رود : دا د ایراني مکران څخه راوزي او دافشان درود سره ګډیږي .

۳ ـ دبږي اوهاري رود : دسپاهان له غره راوتلی دی او میان رود ته نږدې په مشخیل ګډیږي .

پیداوار :

غنم ، اوربشي ، جواري پیدا کیږي ـ خوهندواني ئي ډیری ښې او خوږ ې دی مګر ویاله ... ئي وچه او شګلنه ده ، بارانونه هم لږ کیږي ، ... هم شته .

حرفت :

[illegible]

لارې :

[illegible]

صادرات :

[illegible]

مشهور ښارونه :

[illegible]

۷ ـ رخشان ـ څنګه چه د ننه ځای اوسید ونکی کوچیان دی نو ځکه کوم مشهور او لوی
ښار نلری یوازی پخپله خاران چه د نواب ځای دی د یادولو وړ باله شی .

❀ ❀ ❀

٤ ـ دلس بیله ریاست:

دلس بیله ریاست دبلوچستان دجنوب په ساحلی برخه کی پروت دی .

څلور خواوی :

شمال ته ئې جهالاوان ، لمرختو ته ئې سنده ، جنوب ته ئې بحیرهٔ عرب او لمر لوید وته ئې ډیب غردی .

رقبه :

رقبه ئې ۷۱۳۲ میله مربعه ده ، شرقی برخه ئې غرونه ، منځنۍ برخه ئې میدانی ده ، او اوږدوالی ئې (٤٠٠) میله او پسور ئې (۲۰۰) میله دی .

نفوس :

دلس بیله ټول نفوس ۶۹۰۶۷ تنه دی (د ۱۹۳۱ ع کال دشمیر سره) .

غرونه:

دلس بیله دوه مشهور غرونه دی یو د کرتهار دغه غرونه شرقی شوی او [illegible] بل غر [illegible] دغره پښانه [illegible] چه ډیب دغره شانګه ده . او د
زیتون او کجکی ونی پکښی پیدا کیږی . هم او وزو د پاره ښه واښه لری .

رودونه:

لس بیله دوه مشهور رودونه لری ، یو د پورالی ، او بل [illegible] چه [illegible]
[illegible] ناڅلی دی .

جهيلونه:

هلته څو مشهور جهيلونه شته ؛

۱ ـ د سيار نده جهيل ، د ا دمياني د کـاونه پاس واقع دی . نه ميله اوږد او دوه ميله پسرور دی . هلته وحشي مرغان ډير پيدا کيږي ، اوبه ئي تروي دی .

۲ ـ د هور جهيل ، چه اتيا ميله اوږد او شلور ميله پلن دی ، اصلا داد سمندر يوه برخه ده چه وچې ته راوتلې ده . کبان پکښې ډير پيدا کـيږي ، شنډای ئي داوښانو دپاره ښه دڅر ځايونه دی .

پيداوار:

تر هر څه ډير هلته جواري کرل کيږي چه دهغه ځای خلك پري گزاره کوي . ماش او باجري هم پيدا کيږي . هغه داني چه تيل تري وزي هم هلته شته ، کجوري ، انار ، امرود ، جامن او فالسه ئي مشهوري ميوي دی ، شات هم پيدا کيږي .

کانونه:

په لس بيله کي معدنونه شوراکي دی ، خو تر اوسه پوري راايستلی شوي نه دی .

سړك :

د کراچۍ ښار څخه ترلس بيله پوري يو موټر رو سړك شته ، نور سړکونه نلري .

صادرات :

پسونه ، وزې ، غوايان ، پوستکي ، غوړي او شات خارج ته ليږل کيږي .

قبيلې :

دهغه ځای خلك زياتره کرونکي پيښه کړده او دوهم ئي کانو ... او کبان نيول دی .

مشهور ښارونه :

د لس بيله مشهوري علاقې او ښارونه دادي ،
اتهل ، مياني ، هيږ او اوتل ...

آمدني :

د اس پیله دریاست آمدني په کال کې ٤ لکه کلداري وې .

❀ ❀ ❀

ضلعې او تحصیلونه :

دا انګریزانو استعماري حکومت په جنوبي پښتونستان کې ځینې تشکیلات جوړ کړي وو، او د بلوچستان خاوره ئې علاوه له داخلي ریاستونو څخه پر ځینو ضلعو او تحصیلونو ویشلې وه ـ چه تراوسه پورې هم هغه انتظام هلته شته، نو ځکه دلته د بلوچستان نورې مشهورې علاقې دهغو تشکیلاتو له رویه چه اوس هلته جاري دي معرفي کوو هغه ضلعې او تحصیلونه دادي.

۱ ـ د کوټې اوپښین ضلع :

چه تحصیلونه ئې دادي : کوټه، پښین، چمن، شوراورود.

۲ ـ د لورالائي ضلع :

د دې ضلع تحصیلونه : بوري، دوکي، بارکهان، موسی خیل، سنجاوي .

۳ ـ د ژوب ضلع :

تحصیلونه ئې : اپوزي (فورټ سنډیمن) د سیف الله قلعه، هندو باغ .

٤ ـ د سبي ضلع :

تحصیلونه ئې : سبي، هرنائي، نصیر آباد، کوهلو .

٥ ـ د چاګي ضلع :

دا ضلع دوه تحصیلونه لري : نوشکی ـ دالبندین .

۶ـ دبولان ضلع :

❀ ❀ ❀

اوس هره ضلع او دهغې تحصیلونه په لنډ ډول ښیو .

۱ـ کوټې اوپښین ضلع :

څلور خواوې :

لمر لویدو او شـمـال خواته يې افغـانستـان ، لمر ختو طرف ته يې د سبي ضلع او ژوب ، جنو ب ته يې د بولان دره ده .

رقبه :

ټوله رقبه يې (۶۸۰۶) مربعه میله ده .

سطح :

دا ضلع د سمندر له سطحې څخه (۲۰۰۰) متره لوړه ده . اوبه دې ضلع [illegible] یاتره زاوله کیږي .

نفوس :

د دې ضلع نفوس (۱۵۶۲۸۹) تنه دي چه ټول پښتانه دي او په پښتو ژبه ګړیږي .

غرونه :

د دې ضلع [illegible] غرونه [illegible] شمال ته [illegible] او [illegible] غرونه دي . لمر ختو خواته يې [illegible] او [illegible] غرونه پراته دي ، [illegible] او [illegible] [illegible] کیږي .

رودونه :

په دې ضلع کې د ډېر مانډونه درودو په شکل شته ، چه مشهور ئې دمنه ، د کوړک ، دیشین ، داوږدې او کدنۍ رودونه دي . د کدنۍ رود د توبې ځینو برخو ته او په ورکوي او بیا دهلمند رود ته توئیږي ، دیشین داوږدې رود ډېره علاقه اوبوي .

پیداوار :

غنم ، اوربشې ، آلو ، جوارې ، نخود ، انګور ، بادام ، سیب ، بهی ، شفتالو ، زرد آلو ، انار ، شهتوت ، خټکي او هندوانې پیدا کیږي .

کاریزونه :

په دې ضلع کې تقریبا درې سوه کاریزونه شته چه په زرو ایکړه ځمکې اوبوي .

کانونه :

په هغه کې د ډبرو دسکرو (کوئلې) یو کان شته .

دتنګ راتګ لارې :

په دې ضلع کې داور ګاډې لارې او کاڼې سړکونه شته ، د کوټې ځخه چمن ته ، دالبندین ته ، سبي ته ، هند و باغ او نورو ځایونو ته داور ګاډي لیتونه تللي دي .

لوی لوی سړکونه :

۱ ـ یو سړک د کوټې ځخه چمن ته تللی دی . ۲ ـ د کوټې او چمن له سړک ځخه دپاره د پیلوټې سوښتی سره پر بل سړک جلا شوی ، چه دپیښې او خوشدل خان د بند له لارې پر شوبو ته تللی دی . دپیشین ځخه بوسړک سر ځاب ته هو غلی او په شاتو ز ګه ، کې تیر شوی ، د کوټې دغوږه سلیمین (ایو ګد) سړک سره یو ځای شوی دی .

۲ ـ د کوټې او چمن له اوږد سړک ځخه د ګلستان علاقې ته هم یو سړک تللی دی

چه دعبد الله دقلعه سره برته داوی سړك سره یوځای شوی دی ۰

٤ ـ دګلستان څخه یو سړك پنځپائی یووی تللی دی او بیا دکوټی او دالبندین دسړك سره یوځای شوی دی ۰

٥ ـ یو سړك دکوټی څخه سمنګلی ته تللی دی ۰

٦ ـ بل سړك دکوټی څخه سبی ته ورغلی دی ۰

٧ ـ دکوټی څخه دالبندین او نوك کنډی ته هم یو سړك تللی دی ۰

٨ ـ دکوټی ، دالبندین او نوك کنډی له سړك څخه ، لك یا سره ته نژدی یو سړك جلا شوی او دقلات خواته تللی دی ۰

٩ ـ بل سړك دکوټی څخه دزیارت ، هندو باغ او سپیره راغه له لاری لورالائی ته تللی دی ۰

کارخانې :

په یاروکی یوه دوه یو دریشلو کارخانه شته یوه کوچنۍ یوه دصابون [illegible] جوړولو کارخانه او یوه دپنسل تیارولو کارخانه شته ۰

تجارت :

هغه په پنځو کلونو کی داعلی دافغانستان او ایران اقتصادی ترمنځ [illegible] شه او [illegible] تجارتی [illegible] ډیر [illegible] دپښتونستان او افغانستان او ایران او پښتونستان ترمنځ یوه ښه تجارتی منډی [illegible] ګڼل کیږی ۰

صادرات :

۱ ـ وچه اولنده میوه ـ ۲ ـ وړۍ ـ ۳ ـ غالی (قالینی) ٤ ـ دصادراتو څیزونه دافغانستان او ایران ته ورځی [illegible] دی ۰

د دې ضلع تحصيلونه:

١- د کوټې تحصيل:

رقبه يې (٥٤٨) مربعه ميله ده، نفوس يې تقريباً (٨٦٠٠٠) تنه دی، د کوټې له ښار څخه علاوه کرانی، سرياب، هنه، سمنګلی، نوحصار، کچلاغ او بليلی د کوټې مشهور کلي دي. کوټه د جنوبي پښتونستان خورا ښکلی او مدني ښار دی، ګير چاپيره يې ښکلي ښکلي باغونه دي. لويې لويې ماڼۍ او عمارتونه لري. د جنوبي پښتونستان د اور ګاډو د اډو او د لويو سړکونو مرکز بلل کيږي. په کوټه کې يو د ګري کالج او يو څه عالي مکتبونه (هاى سکولونه) او يو حربي ښوونځی چه «ستاف کالج» نوميږي شته. د کوټې په ښار کې لټن روډ، بروس روډ، د څو ښو اوسنيو مارکيټ او مسجد جامع د ليدو ځايونه دي. د سرسبزۍ او ګلونو له حيثه د[illegible] باغ شهرت لري. «هنه» نومی مقام د ډيرې ننداري او تماشا ځای دی.

٢- د پښين تحصيل:

رقبه يې (٣٠٥٢) مربعه ميله ده، نفوس يې تقريباً (٥٠٠٠٠) تنه. هلته زياتره اڅکزي، ترين او کاکړ آباد دي. د پښين قصبه د کوټې څخه ٣١ ميله لرې لمر خاته خواته پرته ده. هلته د افغانستان له خوا ډيرې تجارتي قافلې ځي او راځي. په پښين کې يو منځنی مکتب د هلکانو د پاره او يو ابتدائي مکتب د نجونو د پاره شته.

مشهور ځايونه:

ګلستان، د عبدالله قلعه، ماي زی، د خوشدل خان بند د دغه تحصيل مشهور ځايونه دي. ګلستان ډيرې ښې ميوې لري، انګور، مڼې او انار په زياته اندازه پيدا کيږي. په ګلستان کې يو متوسط مکتب د هلکانو د پاره او يو ابتدائي ښوونځی د نجونو د پاره شته. د خواژه يا خوازه دره ګلستان ته نږدې ده. د عبدالله قلعه د کوټې او چمن پر سړک واقع ده. هلته د ګلونو يو ښه باغ شته. په ماي زي و د پښين

پر لویه رود بانندې یو لوی د اوبو ایستلو ماشین پروت دی چه ډیرو لیرو لیرو ځمکو ته اوبه رسوي ، هلته سل ایکړه ځمکه د انګورو باغونه دي .

د ژوب ضلع خان بند هغه ځای دی چه له دروخواو د غرونو په واسطه او له یوې خوا د بند له کبله د سیل اوبه هلته راغونډیږي او په زرو ایکړه ځمکه په اوبیږي ، د دې بند شاوخوا باغونه دي ، د ګرمۍ په وخت کې هلته خلك په ډلو ډلو ګرځي او کښینو کې سیر ته ځي د هیلبوشه پنکبار اری ، د هغه ځای مشهور کلي دادي : دلی زی ، کربلا ، میکل زی ، ګانګل زی ، نز کی ، ملك یار ، د حاجی خان قلعه او سیګی ئې اوی اوی کلي دي .

۳ - د چمن تحصیل :

رقبه ئې (۱۲۰۶) مربعه میله ده - نفوس ئې (۱۷۰۰۰) تنه دی - هلته اکثراً د اڅکزو قبیله پرته ده او د تجارت کار کوي .

پخوا چمن که څه هم وړ ځای دی ، خو هوا ئې په اوسمت پخپو نکښې ده د جنوبي پښتونستان د اورګاډي لین په چمن کښې ختم شوی دی . څنګه چه چمن د افغانستان او پښتونستان پر ولس پروت دی نو د یوې تجارتي منډۍ شکل ئې موندلی دی په چمن کښې یو منګنی ... و ... د هلکانو د پاره او یو ... ئې مکتب ... شته .

کوزك :

[illegible] مشهور ... د کوزك دره او تونل ... [illegible]

[illegible]

[illegible] ... له افغانستان

[illegible] ... افغانستان

[illegible] ... استعماري

[illegible] ... تونل

[illegible] ... (۳۰ ...) ... شوی دی .

۲ـ دلور الائی ضلع :

څنګه چه دلور الائی رود په دې ضلع کې بهیږي نو دا ضلع هم د دغه رود په نامه یادیږي .

څلورخواوې :

شمال ته ئې ژوب ، لمر ختو ته ئې پنجاب ، جنوب ته ئې د مری علاقه او لمر لوېد وته ئې دسبی ضلع پرته ده .

سطح او رقبه :

دسمندر له سطح څخه ئې لوړ والی تر (۳۰۰۰) فټه زیات دی. ددې ضلع ټوله رقبه (۷۹۹۹) مربعه میله ده .

غرونه :

ددې ضلع مشهور غرونه دادي :

۱ ـ تور غر : دا غر له جوهر خیل څخه دلونی تر روده پورې غځیدلی دی. ددې غره هسکه څوکه دمزوی زده ده چه اس زره او دوه سوه فټه لوړ والی لري ، په دې غره کې انګور ، زرد آلو او انار پیدا کیږي او په لمنه کې ئې دزیتون ونې شته .

۲ ـ سور غر : دا غر دضلع په مغربي برخه کې پروت دی . د موسی خیل تحصیل او ابوزئی علاقه سره جلا کوي ، په ژوب کې ورته تور غر وائي .

۳ ـ شبوج غر : دا غر دسلیمان دغره مغربي شاخ‌ګه ده . دلونی او دهسو اترو دوو ترمنځ او دموسی خیل لمر ختو ته پروت دی .

٤ ـ سپین غر : دا غر دسیف الله دقلعه تحصیل د بورئی د تحصیل څخه جلا کوي. دا غر پنه واته لري .

۵ ـ ګاندا پور غر : دا غر د بورئی د تحصیل په جنوب کې پروت او دوه څانګې لري ، دغو کې تحصیل دبورئی څخه جلا کوي .

٦ ـ دجانداران غر ، دافغر دکوهلو علاقه له بارکهان څخه جلاکوی ـ دغاړو یو
د پاره ښه دښر ځایونه اری ،

رودونه

دلور الائی مشهور رودونه دادی،

١ ـ دانبار رود ، داروددي ځای ترټولو رودونو لوی روددی چه دسپوره راځه
شغه راوتلی دبوری ، دوکی او مری په علاقو کی تیریږی ، دارود ښو نومونه اری،
په سر کی ورته اورالائی وایی ، دساهان دماندو سره چه یوځای شی دانمبار پنامه
یادیږی ـ دنوشکی په علاقه کی چه دلاکهی اونریچی ماندونه ورسره یوځای شی هلته
ددي رود نوم بیچی دی . اوبیا دمری په علاقه کی دبابر کچ ته نږدي چه دنها ډا او
سانگسان ماندونه ورسره یوځای کیږي دا رود دناړی په نوم یادیږی . د دوکی
د وکتاتی پل د پرهمدي رود باندی پروت دی .

٢ ـ دلوری الائی روده دا نمبار رود دمخه ترڅه چه د ساهان دماندو سره گډ شی
د اورالائی په نوم یادیږی، دلورالائی په رود کی یوازی دسیل اوبه راځی څکه نو کرهنی ته
ډیره گټه نه رسولای .

٣ ـ ددونی رود ، دادغره یوه شپله ده چه دژوبارت په سمه کی راوزی ، دوکی په علاقه
کی دوتل په نامه یادیږی ،

٤ ـ دتونسی رود ، دا رود د ترکه او رتها له د ماندو سره
د تونسی سر په مقام کی یوځای کیږی ـ کانی او په اری ـ تونسی سرته
نږدي د دیجلی سره گډ یږی او په [illegible] اسماعیل خان کی [illegible]
[illegible]

٥ ـ دلونی رود ، دا رود [illegible] ماندونو څخه جوړ شوی [illegible]
[illegible] په [illegible] کی سره یوځای کیږی ـ په رود کی [illegible] او [illegible]
[illegible] .

٦ ـ د [illegible] یا کنارهت رود ، دا رود دبگڅی په علاقه کی بهیږی او

د بارکهان علاقې ته توییږي ، د بارکهان له علاقې څخه د پسره قاضي خان ته ځي ، د هنګو نی مشهوره چینه هم د دې رود سره ده .

۷ – د ر کهنی رود ، دا رود د ر کهنی په علاقه کې تیریږي – منبه او به لري او ډیر کلي او بوي . د قاضي خان په ډیره کې د کاهان سره یو ځای کیږي .

پیدا وار :-

د لورالائي په ضلع کې دا شیزونه پیدا کیږي ،

غنم – اوربشې – جواري ، ماش – مرچ – تمباکو – مکې – دوته – آلو – بادام – انار – ننهکې – انګور ، زرد آلو – شفتالو – وني – ناشپاتي او ما لتې . . . .

کانونه :-

په لورالائي کې د ډبرو د سکرو او شوري کانونه شته .

پیشه :-

د دغه ځای د خلکو کسب او کار اکثراً تجارت او زراعت دی .

صنعت :-

په بارکهان کې د وړیو سترنجي ډیرې نفیسې تیاریږي ،

د شرمنو سامان هم په ښکلي ډول جوړیږي . د کالونو ورق او ... هم هلته ترقي کړې ده .

لارې او سړکونه :-

په دې ضلع کې دا وردګادی لین نشته ، سړکونه شته چه اوی اوی سړکونه

ئې دادي :

۱ـ دهرنانۍ څخه لوړلانۍ ته .

۲ ـ دهرنانۍ څخه سنجبادي ته ، تر دوکي ګنبد او

بارکیان پورې .

۳ـ د لوړلانۍ څخه فورت سنده یمدت ته ـ د کنجي مرغي

له لارې .

٤ ـ د لوړلانۍ څخه فورت سنده یمدت ته ـ د مرو شنګي

له لارې .

٥ـ د لوړلانۍ څخه موسی خېلو ته .

٦ـ د لوړلانۍ څخه بارکیان ته ـ د میختني له لارې .

۷ ـ د دوکي څخه واسع الله کارېز ته ـ د اسماعیل ترشاره پورې .

۸ـ د لوړلانۍ څخه وردار او ګنبد ته .

۹ـ د لوړلانۍ څخه کوټي ته د زیارت له لارې

۱۰ـ د لوړلانۍ څخه کوټي ته د سپیره ورقه له لارې .

۱۱ ـ د لوړلانۍ څخه د کسو قسي مند و باغ ته ـ د سیف الله د قلعه

له لارې .

۱۲ ـ د لوړلانۍ څخه میختر ته ـ چه د غازي قیان د پېرې

ته رسیږي .

صادرات :-

د لوړلانۍ څخه دانا هری وړنه خارج ته صادرېږي .

ورځنی ـ بادام او الو صادرات هر کال له لارې دا وردګادی په ذریعه او د

غازي ښار له لارې د لاړوه ترانو وسطه د پاڼه ی شي .

د لورالائی تحصیلونه :

په لورالائی کي دري تحصیلونه شته :

۱- دبوری تحصیل ، چه دموسی خیل تحصیل ئې هم تر اثر لاندی دی .

۲- دبارکهان تحصیل .

۳- ددوکی تحصیل ، چه د سنجاوی تحصیل ئې هم تر اثر لاندی دی .

۱- دبوری تحصیل :

دا تحصیل دضلع شمالی برخی ته پروت دی ، رقبه ئې (۲۰۷۲) مربعه میله ده ځمکه ئې زیاتره غرنۍ ده .

لورالائی ، میختر او موسی خیل ئې دلیدو وړ ځایونه دی . لورالائی یو اوړی ښار لری چه دهرنائی داورگاډی دسټیشن څخه ۵۵ میله لیری دی . دا ځای دسمندر له سطح څخه (۴۷۰۰) فټه لوړ دی او یو عالی ښوونځی دهلکانو دپاره او یو منځنی ښوونځی دنجونو دپاره لری .

دلورالائی خټکی او انار ډیر مشهور دی او شاو خوا دانارو باغونه ډیر لری .

میختر : لورالائی امر شاته ته دغازی خان دلیری پر سړک ۹۴ میله لیری پروت دی په دغه ځای کی یو ابتدائی مکتب ، یو ریسټ هاوس او یوه ډاکخانه شته ، او پیتیله میختر د ویډ یو اوبه منبتی بلله کیږی ، او دلته زیاتره هندوان آباد دی .

دبوری نور مشهور کلی دوکی ، رنګیوال ، وهار ، لاهور ، شبوزی ، مرته او پټان کوټ دی . په پټان کوټ کی یوه اوبه چینه او یو لوی تالاب شته چه خلک دلته د سیل دپاره ځی .

د موسی خیلو تحصیل چه دبوری تر اثر لاندی دی دبوری دضلع شمال شرق خواته پروت دی .

ددې رقبه ئې (۲۶۱۳) مربعه میله ده ، زیاته برخه ئې ډبرینه او غرنۍ ده

هلته د یر باران د ګرمۍ په وخت کې وي او د سردۍ په وخت کې باران لږ وي . ددې تحصیل ټول نفوس دري سوه تنه دی ، یو کوچنی بازار ، یو ابتدائي مکتب او یو ریسټ هاوس لري . « دوړګه » د موسی خیلو مشهور کلی دی او د موسی خیلو د بازار له مرکزه تقریبا ۲۵ میله لیرې پروت دی ، هلته یو ابتدائي مکتب شته او زیاته آبادي هم لري . د راړه شم « د موسی خیلو بل کلی دی چه د غازي خان له مرکز ۹ میله لیرې پروت دی او هلته هم یو ابتدائي مکتب شته .

۲ ــ د بار کهان تحصیل

دا تحصیل د ضلع په جنوب شرقي برخه کې پروت دی ــ ددې تحصیل ټول رقبه (۱۳۱۷) مربع میله ده ، ځمکه ئې ډیره زرخیزه او هوائي ډیره باراني ده د ژمي په موسم کې باران ډیر وي خو په سامره موسم کې باران لږ وي . په بار کهان کې یو ډاکخانه ، یوه شفاخانه ، یو ریسټ هاوس ، یو منډۍ او نخی دهلګکانو دپاره لویه کارخانه هم شته ، یو ابتدائي مکتب هم شته ، حاجي کوټ چوهر کوټ ، نهر کوټ ، میخاني ، ... ، ددې د بار کهان د تحصیل مشهور کلی دی ، هلته ډیرې زړې کنډوالې ليدلی کیږي ، وائي چه د ملکانو مرکز هم په همدې وخت کې پیدا شوي دي .

۳ ــ د دوکي تحصیل

دا تحصیل د اورالائي د ضلع په شمال برخه کې پروت دی ، رقبه ئې (۱۹۵۱) مربع میله ده ، او دا علاقه د سمندر له سطحې څخه (۳۰۰۰) فټه لوړه ده . ددې تحصیل مرکز ډیر مشهور دی ، د دوکي کلی یو د دوکي بازار ، یو ریسټ هاوس او اوی باغ لري چه په دغه کې اعلی قسم انګور او بادام پیدا کیږي ... ته ... [illegible] کهان هم ... کیږي ، [illegible] ... پیدا شوي ... [illegible] ... د دوکي ... کلي دی ، ... او ... بل ... [illegible] ... د ... [illegible] ... د کهاني بل ته ... [illegible] ... کیږي .

د سنجاوی تحصیل هم دژوب د تحصیل تر اثر لاندی دی . دا تحصیل د ضلع لمر لویدو خواته پروت دی . توله رقبه ئې (٤٤٦) مربع میله ده . ددې ځای منځنی لوړ والی (٦٠٠٠) فټه دی . د سنجاوی په کلی کی یو ابتدائی ښوونځی او یو ریسټ هاوس شته . جو تېره ، بغاو ، او بوری د سنجاوی د تحصیل مشهور کلی دی . جو تېره ښکلی ځای دی چه د لورالائی څخه ٤٥ میله لیری د زیارت د سړک په غاړه پروت دی . د بغاو کلی د دوکی د سړک پرغاړه له سړک څخه یو میل لیری واقع دی - د دغه کلی انار ډیر شهرت لری . د بوری دره ډیر سرسبزه دی . او به ډیری لری او شاوخوا ئې باغونه دی . د بوری بادام او زرد آلو ښه مشهور دی .

● ● ●

۴ - دژوب ضلع

څلور خواوی ، شمال او شمال مغرب خواته ئې افغانستان او مرکزی پښتونستان ، لمر خاته ته ئې د سلیمان غر ، جنوب ته ئې لورالائی ، لمر لویدو ته ئې د کوټې او پښین علاقه پرته ده .

رقبه او سطح :

دژوب توله رقبه ۹۶۲۶ مربع میله ده او د سمندر له سطح څخه له (۳۰۰۰) نه تر لس زره فټه پورې لوړ والی لری .

نفوس :

د ۱۹۴۱ ع کال د شمیر له قراره ([illegible]) تنه دی .

غرونه :

مشهور غرونه ئې دادي :

۱. د سلیمان غر ، چه [illegible] . او [illegible] د سلیمان [illegible]
[illegible] .

۲. [illegible]

د ۹۲۷۳ م قسمه لوړوالی لري، په دې غره کې د جلغوزو زیړو ونی شورا
زيري پيدا کېږي. غرڅه او د غره وزې هم شته. دتودوخې په وخت کې عسکري
دفترونه هلته ځي.

۳ ـ دتوبې غر : چه د اهم د بلوچستان د عمومي غرونو په سلسله کې ايکلی
شوی دی.

۴ ـ سپين غر : دې غره سلسله د ژوب د علاقې په منځ کې پرته ده او په دې سلسله کې
د زيري بوټي، د زيتون او ختچات (شنو) ونې زياتې پيدا کېږي، د رمو د پاره ډېر ښه
چر ځايونه لري.

۵ ـ د کند غر : دا غر د پښين او هند باغ په منځ کې پروت دی
هلته د غره بادام، د زيتون او ختچات (شنې) ونې زياتې پيدا کېږي،
په دې غره کې د کوچنيو ځنګلونو ځای دی، د دې غره ... خان قلعه او برشور
ته لاره تللې ده.

۶ ـ مسن ګونډ غر : دا غر د لورالائي او هندو باغ تر منځ پروت دی، د سيف الله او
[illegible]
[illegible]

۷ ـ [illegible]
[illegible]
[illegible]

روډونه :

[illegible]
[illegible]

۲ ـ [illegible]
[illegible]

۳ ـ [illegible]

او بیا (۷۰) میله په ژوب کې بهېږي بیا د پښتونستان او افغانستان ترمنځ د وېش کار ورکوي، د مرغې او کندل رودونه ئې مناونان دي .

پیداوار :

غنم، اوربشې، جوارې، تمباکو، آلو، په ځینو علاقو کې ئې کله کله وریجې پیدا کیږي، انګور، ناشپاتي، زردآلو، بادام، چلغوزي او هندواني هم ډېرې دي . د زیتون، خنجکو (شنو) او ځنګلي بادامو ونې هم زیاتې پیدا کیږي په تیره بیا په شنه غره کې .

کانونه :

د ژوب هندوباغ ته نژدې کرومائیټ راوتلي دي او د سیف الله د قلعه په تحصیل کې د ماڼکي کان هم شته .

لارې او سړکونه :

په ژوب کې داوړ ګاډي لین له بوستان څخه شروع شوی، د هندوباغ او سیف الله د قلعه څخه تېرېږي او فورټ سنډیمن (اپوزئ) ته رسیږي او دا لوی سړک ته ئې تللی دی .

۱- یو سړک له کوټې څخه هندوباغ ته، بیا د سیف الله قلعه ته او له هغه ځایه فورټ سنډیمن ته تللی دی، (۲۰٦) میله اوږدوالی لري، کله کله د باران له سببه بندیږي .

۲- بل سړک له فورټ سنډیمن څخه د مرغې کبزئي له لارې لورالائي ته تللی او (۱۱٤) میله اوږدوالی لري، د سیلابو په وخت بندیږي .

۳- دریم سړک له فورټ سنډیمن څخه د اسمعیل خان ډیرې ته تللی او (۱۲۳) میله اوږد دی .

صادرات :

وړۍ، وچه او تازه میوه، چلغوزه او د افغانستان څخه راغلي کابلي وټالیچې، کشمش، بادام او نور شیان ته صادریږي .

اوسېدونکي -

د ژوب ټول اوسېدونکي پښتانه دي او عموماً کاکړان دي .

مکتبونه -

په ژوب کې يو عالي مکتب ، اته ابتدائي مکتبونه شته .

* * *

دژوب تحصيلونه -

دژوب ضلع درې تحصيلونه لري .

۱ - داژوب تحصيل -

په اوس کې فورټ سنډېمن پورې اړه لري .

دا تحصيل د ژوب لمر ختيځ خواته پروت دی ټوله رقبه يې (۲۰۸۳) مربع ميله ده فورټ سنډېمن او مينا بازار يې مهم [illegible] دي ، فورټ سنډېمن [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

مينا بازار [illegible]

[illegible]

۲ـ دهندوباغ تحصیل ــ

هندوباغ د ژوب امرلویدیځ خوا ته پروت دی، تواه رقبه یې (۳۲۷۵) مربعه میله ده داځای پر یوه ډیره لوړه موقع پروت دی؛ ښه انـ ور، ښه زرد آلوا و بادام لري. هندوباغ، اود کمچوغی دره یې د لید و وړ ځایونه دي هندوباغ د کوټې څخه داپوزی (فورټ سنډیمن) پرسړک پروت دی، ډیر اوږد دی نو ځکه یې هوا سړه ده. پوښار لري چه داورګاډي دسټیشن څخه قریبا دوه میله لیرې دی. دهندوباغ مشهور کلی دادي؛ مهترزی کان، دفقیرزی مرغه، اورکس دسلطان زئي راغه، باکل زیء او بابوچینه. د مهترزی کسان بادام ډیر مشهوردي

د کمچوغی دره یوه ډیره سرسبزه اوښکلې دره ده.

۳ـ دسیف الله دقلعه تحصیل :

د سیف الله دقلعه تحصیل د ژوب دضلع په منځ کې پروت دی، ددې تحصیل تواه رقبه (۲۷۶۸) مربعه میله ده. جوګیری یې سرکاری مرکزدی. دسیف الله قلعه میرعلی خیل، مسافرچوړ او اختر زیء یې مشهور کلی دی.

دسیف الله قلعه دفورټ سنډیمن او کوټې پرسړک ولاړه ده او دا قلعه سیف الله خان جوړه کړې ده.

❀ ❀ ❀

۴ـ د سبي ضلع :

څلورخواوی :

شمال ته یې دلورالائي ضلع، جنوب ته یې دسنده علاقه، لمر خاته خواته یې غازي خان ډیره اولمر لویدوته یې د کچهي او د کوټې او پښین ضلع پرته ده.

رقبه او سطح :

دسیمې ټوله رقبه (۱۱۸۰) مربعه میله ده ، او د سمندر د سطحې څخه له (۱۰۰۰) فټو څخه نیولې تر (۳۰۰۰) درو زرو فټو پورې لوړوالی لري ،

نفوس :

په دې علاقه کې (۱۰۶۷۸۰) تنه بلوڅ ، پښتانه او بروهي آباد دي ، چه په پښتو ، سندي ، جګدالي او بلوڅي ژبو خبرې کوي ،

غرونه:

مشهور غرونه ئې دادي ،

۱ ـ د بروهي منځني غر ، چه د بلوچستان د غرونو په عمومي سلسله کې ذکر شو .

۲ ـ زرغون غر ، دا غر د کوټې د ښېښت او سبي ترمنځ پروت دی ، د مساجو ونې ډېرې لري او هره خواته ئې سرسبزه ده . د ګرمۍ په وخت کې د کوټې د ښېښت کهوسي او هرنائي خلك دې غره ته ورځي .

۳ ـ د خلیفت غر ، دا غر د هرنائي شمال ته پروت دی او ډېر مشکه هو که ئې (۱۱۴۴۰) فټه لوړه ده ، دا [illegible] ونې ډېرې دي .

۴ ـ هچیور غر ، د خلیفت د غره امر لويدو خواته پروت دی او [illegible] ئې ډېرې سختې دي ، [illegible] کوم چه د اور ګاډي لوسري لاين پر هغه تېر شوی هغه په هم [illegible] ئې دی .

۵ ـ د زرغون غره ترڅنګ [illegible] غر ، چه سرسبزه غر دی ، د دې غره شمالي خواته (زیارت) پروت دی .

۶ ـ [illegible] سلسله ، د دې سلسلې د [illegible] سوراب تنګي [illegible] له هرنائي څخه لورالائي ته سړك تللی دی ، دا سلسله هم [illegible] شوې ده .

رودونه :

مشهور رودونه ئې دادی :

۱ – د ناړی رود : د بلوچستان د رودونو په سلسله کی ولیکل شو .

۲ – د تلی رود : دارود د کوهلو له غرو څخه راوتلی دی د مری په علاقه کی تیریږی او تلی ته ځی ، ددې رود اوبو ته یو بند جوړ شوی چه هلته د سیل اوبه هم ورسره یو ځای کیږی او ځمکو ته اوبه ورکوی .

۳ – د لاړی رود : او د چتر ماند ونه هم دیاد ولو وړ دی ، چه اوبه ئې د کور ځمکی اوبوی .

پیداوار :

غنم ، اوربشې ، جواری ، او موټه ډیر پیدا کیږی د سبی په تحصیل او نصیر آباد کې شرشم هم کرل کیږی چه له هغو نه تیل باسی . د هرناڼی او نصیر آباد په شاوخوا کی وریجې او په هرناڼی کی ګنی هم په کافی اندازه شته . میوه لږ ده ځای ځای توت انګور ، ناشپاتی او بیر هم میندل کیږی د هرناڼی ماڼې او ناړنج ډیر مشهور دی .

ځنګلی :

د توت او نښتري ونې په میدانی علاقو کی ډیری شته .

کانونه :

په کهوسټ او شارګ کی ډبرو سکرو کانونه شته .

لارې او سړکونه :

د روډی ،روک ، کوټې او چمن د اور ګاډی لین جګیبت ته نږدې پدې ضلع کی داخلیږی له میدانی علاقو څخه تیریږی د بولان ضلع ته ځی ـ ددې لین په واسطه دا ضلع د بلوچستان

دنورو ځلمو سره نښلي ، دسپي څخه يو لين دبابر کڅ ، سپين تنګي ، هرناټي له لاري کهوست ته ځي ، دکهوست او ښارګڅ ددېرو سکاره چې هغه دي لين نورو ځايو ته ودل کيږي ،

صادرات:

دسپي څخه غنم ، اوربشي ، جواري ، بوره ، تمباکو ، شرشم ، تيل ، او د پېږي کښي او مالتي دباندي ځي ،

دسپي تحصيلونه:

دځي ځلم تحصيلونه پر دوو برخو ويشلي شوي دي ، يو سرکاري علاقه او بله قومي علاقه ،

سرکاري علاقه:

دسپي تحصيل ، دهرناټي تحصيل ، دنصير آباد تحصيل او دکوهلو تحصيل په سرکاري علاقه کي شامل دي ،

١ـ دسپي تحصيل :

دا علاقه د کهوي شمال خوا ته پرته ده ، ټوله رقبه يې (١١٤٨) مربع ميله ده ، دسپي ښار په ١٨٨٠ ع کال جوړ شوی دی ـ اوس هلته جوړ شوي دفترونه دي ، ددې علاقي ... سړي ... دي ، ... مړي ، سالنګان او ... ال ... مشهور کلي دي ،

٢ـ دهرناټي تحصيل :

هرناټي دسپي په شمال ... کې پروت دي ، ټوله ... د رقبه يې (١٥٩٥) مربع ميله ده ، هرناټي ... دسپي او کهوست ... کلي دي ... ٥٨ ميله ... اوله ... دي ، يو ... او ...

د هلکانو د پاره لري . کښې وریجې او مالتې ډېرې پیدا کیږي . ښارک، کواس
کچهه، کهوسته، پیرښار او زیارت ئې مشهور ځایونه دي . ښارک سوړ ځای دی
او د ډېرو د سکرو کان هلته شته . زیارت قریه (۸۰۰۰) فټه اوږد او ډېر سوړ ځای دی .
کهوسته د سند او پښین د اورگاډی آخرین سټېشن دی . د کهوسته اورگاډی این
د کچهۍ له لاری بوستان ته رسیدلی او دې ځای ته نژدې د کوئټې (د ډېرو د سکرو)
کان دی .
پیرښار د سپین تنگی څخه څلور میله لیری پروت او د گوګړو چینه هلته شته
چه ډېر ناروغان د علاج د پاره ورځي ، پوسټ هاوس هم لري .

۳ ـ د نصیر آباد تحصیل :

د دې علاقه په ۱۹۰۳ ع کال د قلات خان ته په اجاره
ورکړی شوې وه . رقبه ئې (۸۵۲) مربعه میله ده چه (۱۰۴) میله په اوږد و
او دوولس میله په پسور راځي . دا د بلوچستان ډېره وچه برخه ده ، باران لږ اوري
او تودوخه ئې زیاته ده . اوسته محمد ، او صحبت پور ئې مشهور ځایونه دي .
اوسته محمد د تحصیل څورا لوی ښار او مرکز دی . دا ښار د جیکب آباد او لاړکانه
ترلین پروت او نوی آباد شوی دی . د هلکانو د تعلیم د پاره یو منځنی
ښوونځی لري .
په صحبت پور کښې یو جامع مسجد شته چه د دهلي د جامع مسجد په شکل
جوړ شوی دی .
جهت پټ ، نصیر آباد ، ډوگی ، صحبت پور ، دولت پور ، مانجهی پور ، آدم پور
میرا بپور ، روجهان ، گنداخه ، گوټ غلام محمد ئې مشهور کلي دي ، چه هر یو
یو ابتدائي ښوونځی لري .

۴ ـ د کوهلو تحصیل :

دا علاقه غربي او د ضلع په شمال مغربی خوا کی پرته ده . ټوله رقبه ئې (۳۶۲)
مربعه میله او د زرگون او مری قومونه پکښې آباد دي .

د کوهلو څخه بارکزیان اوروکي ته سرکوزه تللي دي، یوه دا کښانه او یو ابتدائي ښوونځی لري. اوربانی، ملکزي، سردار بشار، میر زمان بنار، او خدایداد کلي ئې واده وا ده کلي دي چه دغرو په لمنو کې آباد شوي دي.

❁ ❁ ❁

قومي علاقې:

دسبي دقومي علاقو ټوله رقبه (۷۱۲۹) مربع میله ده او نفوس ئې (۵۸۱۱۲) ته دی. د علاقې پر دوو برخو ویشلی شوی دی چه یوې ته دمري علاقه او بلې ته دبګټي علاقه وایې.

دمري علاقه:

رقبه ئې (۳۲۲۸) مربع میله ده. دکهتر غر، دسیالو غر، او دجاندران غر ددې علاقې مشهور غرونه دي، داغرونه لوړ او بارانونه ئې لږ دي، دلو دې، ... او داډا رودونه په همدې علاقه کې بهیږي.

کهان، تنګی، کنډي، کهولی او یزه دمري مشهور کلي دي.
کهان دمري مرکز دی چه لمغه نه شاتاو مومیانی د باندې ځایو ته لیږل کیږي.

دبګټي علاقه:

ټوله رقبه ئې (۳۹۰۱) مربع میله ده. دزین غر، دمیږ دوسته غر، دپیرا غر او دکوچ غر دبګټي مشهور غرونه دي، داغرونه څه واښه او بوټي لري ساندو نه ئې هم شته دي چه دسیل اوبه بګټي بوشاي کبږي، بګټي ډیره، کبوري، لوټي، او آچ ئې مشهور کلي دي، دبګټي ډیره ئې مرکز دی او یو ابتدائي ښوونځی لري. له هغه ځایه تر سبي پورې سړک تللی دی.

❁ ❁ ❁

۵ - دچاګي ضلع:

څلورڅواوی:

داضلع دبلوچستان په لر لویدیزه برخه کې پرته ده، شمال ته ئې د سرلته غر او ساراوان، جنوب ته ئې خاران او لر لویدیزه ته ئې ایران دی.

سطح او رقبه :

ددې علاقې ځینې برخې (۳۰۰۰) فټه او ځینې برخې (۱۰۰۰) فټه لوړې دي ډېره برخه یې میداني او ټوله رقبه یې (۲۰۰۳٦) مربع میله ده .

نفوس :

نفوس یې (۲۹۲۵۰) تنه دي چه ګویا پر یوه مربع میل تر دوو تنو لا هم لږ سړي رسېږي .

غرونه :

ددې علاقې لمر خاته ته دسرلته د غره سلسله ده چه دا علاقه دساراوان دعلاقې څخه جلا کوي ، ددې سلسلې مشهوره څوکه (٦۳۳۰) فټه لوړه ده مشهور غرونه یې دادي :

۱ . دراس غر ، دبلوچستان دغرونو په سلسله کې ایکل شوی دی .

۲ـ د کچاغره دا غر دشغیل هامون له لمر لویده څخه شروع کېږي او تقریباً سل میله اوږد دی . په دې غره کې رانجه او سرمه پیدا کېږي ، خو کانونه یې لا نه دي را ایستل شوي دښکاریو دپاره دښکار ځایونه لري .

۳ ـ دچاګی غر : دبلوچستان دعمومي غرونو په سلسله کې ذکر شوی دی .

٤ ـ د چترو غره چاګی ته نژدې د سلطان او ډمودن دغرو سلسله ده ، دچاګي سلسلې سره نښتې ده ـ او دسلطان په غره کې د کوګرو کان شته وفي نلري .

روډونه :

مشهور روډونه یې دادي :

۱ ـ د خیسار روډ ، په دې روډ کې ټول کال اوبه بهېږي او دنوشکي ښار او علاقې اوبوي .

۲ ـ د پښین لوړه روډ دا دغه دبلوچستان دروډو په سلسله کې واوره شوېدی

۳ ـ مور جین ، بلاو ، تهلاب اومیر چیاوا دچیاکی واړه رودونه دی .

٤ ـ دلوړه هامون رود ، دا رود دچیاکی کـلوته ژودی یې یې ژوری ۱ و ۳۸ میله اوږددی .

٥ ـ دمشخیل هامون ، دادخاران اوچاگی په منځ کی جنو بی خوا ته ویش دی ددې تو له رقبه (۳۵۰۰) مربعه میله ده .

٦ ـ زنگی ناو ، دانوشکی ته نژدې یو جهیل دی ، چه همیشه اوبه لری ، دیغنی وخت کی هلته د ہیلیو ښکار ډیر وی .

آب وهوا :

ددې ښلع دلمراو یدو خوا په کـال کی (۱۲۰) ورځی باد لری چه دمی امیاشتی شخه د ستمبر ترمیاشتی پوری دباد طوفان اوسیای جاری وی .

پیداوار :

غنم ، اوربشی ، جواری ، نخود او ماش کرل کیږی . په کشنکی او نوشکی کی انگور ، مڼی او انار شته . غټکی اومنه وانی ډیری دی .

کانونه :

په دې ښلع کی دگوگړو او د رانیو کانونه شته ، دگوگړو یو کان دسلطان په غره کی دی .

صنعت اوحرفت :

دغه ځای خلک دخپل ضرورت ډیری دودیز ټوکری اوقالیچی او نور کالی جوړوی په کښیوه کاو نیر کی هم اوږي لاسر لری .


لاری اوسړکونه :

دکوټی شخه تر اهدان ناوړ کښښی لین ددې ښلع ته راغلی او له دې ځایه کشنکی نوشکی ، دالبندین او نوک کنډی له لاری زاهدان ته ځی .

یو سړک له کوټی شخه نوک کنډی ته او له نوشکی شخه خاران ته تللی دی .



دپښتونستان دا يو آباد يوه سرسبزه منظره



دچاګی تحصیلونه :

چاګی دوه تحصیله لري، یو نوښکی او بل دالبندین .

دنوښکی تحصیل :

نوښکی د چاګی دضلع لمرخاته خواته پروت دی، ټوله رقبه ئې (۲۲۰۲) مربعه میله ده . لمرخاته خواته ئې غرونه او نوره برخه ئې دا ګونه دی . نوښکی داورګاډي له سټیشن څخه د وه نیمه میله لیري پروت دی . یوه دا ګټسانه، یو منځنی ښوونځی د انځی دهلـکانو دپاره او یو ابتدائی ښوونځی دنجونو دپاره لري .

❀ ❀ ❀

٦ـ دبولان ضلع :

بولان دهغې مشهوري دري نوم دی کومه چه دافغانستان او پښتونستان ترمنځ پرته ده او اوږدوالی ئې ٥٤ میله دی . دا ضلع دهمغې دري پنامه یاد یږي .

څنګ خواوې :

شمال ته ئې کوټه، پښین، لمرلویدو ته ئې سراوان، جنوب ته ئې کچهی او لمرخاته ته ئې دسبي ضلع پرته ده .

رقبه :

ټوله رقبه ئې (٥٣) مربعه میله ده . ترمنځ پوري داعلاقه غرنۍ ده، ترمنځ کوزې خواته دلاټي څي میدان دی، چه ۲٥ میله اوږده او زیات له زیاته ۹ میله پلن وردی .

نفوس :

ټوله آبادی ئې (۹۰۰۹) تنه دي . یه دي کی او یه برخه دسر ګاوي او کرانو ده .

غزونه :

د بزومی دمنځنیو غرونو یوه څانګه چه داته را رسیدلي ده چه د دې ضلع په مختلفو برخو کې په مختلفو نومونو یادیږي ، لکه : کوهان اتهه ، شکه ، نوجوار ، قندهار او نور ئې مشهور غرګي دي . دمچ شمالي خوا غرونو ته د خراسان غرونه وایي د خراسان په غرونو کې دغره بادام ، انار ، زیتون او دشنو ونې پیدا کیږي .

رودونه :

په دې ضلع کې دوه رودونه شته ، یو دبولان رود او بل دمشکاف رود .

۱ ـ د بولان رود . کوك پورته نودې راوزي ، مګر پوازی دبولان په سر کې او په لرې ـ بیانشته ، خوچه دصراوان پاهادرن او کور بې له مانده سره ګډه شي نو بیا او به پیدا کوی .

۲ ـ د مشکاف رود ، داړود د غرونو له شپلو څخه جوړ شوی دی دسیل او به پکښې راشي .

پیداوار :

غنم ، اوربشې ، جوارې ، ماش پکښې کرل کیږي ، دهغه غنم ئې [illegible] دي په منطقې [illegible] برخه کې ئې ماليه [illegible] ، ګیوړي هم پیدا کیږي ، په [illegible] برخه کې ئې انګور ، بادام او [illegible] شته .

کانونه :

دمچ په شا او خوا کې [illegible] کانونه شته [illegible] ګوګړ او [illegible] لاس ته راځي .

لارې او سړکونه :

د [illegible] او [illegible] او ګاډي له همدې ضلع څخه [illegible] او [illegible] سره [illegible] او [illegible] ګاډي [illegible] دې ضلع ته را داخلیږي . د مشکاف ، [illegible]

کولپور څخه په دښت کې تېرېږي .

د کوټې ، سبي او جيکب آباد سړك داورګاډي د لین سره څنګ پر څنګ په دې ضلع کې تېرېږي .

صنعت :

د بولان ښځې په کشیده کارۍ کې ښه لاس لري .

صادرات :

د بولان څخه وړۍ او سبوس دباندې وړل کېږي .

تشکیل :

داضلع داوسني تشکیل له رویه دقلات دحکومت تر اثر لاندې ده .

دبولان مشهور ځایونه :

۱ - مچ : دا د بولان داورګاډي د یو اوي سټېشن دی ودانۍ یې درلوده چه په ۱۹۳۵ ع کال د زلزلې په سبب وران شو . دصوبې سنټرل جیل هم دلته دی . یو ابتدائي ښوونځی دهلکانو دپاره او یو ابتدائي ښوونځی د نجونو دپاره لري . ددغه ځای د سکرو کانونه دې ځای ته نږدې دي چه هلته په زرو زرو مزدوران کار کوي

۲ - کولپور : دا قصبه دبولان داورګاډي پر لین پرته ده د دې ځای اوبه والې قریبا ښې زړه وړه دي ، په شاو خوا غرونو کې ډېره پیدا کېږي .

کرته ، کېچوري ، مراك او رنسالي دهغه ځای د یادولو وړ کلي دي .

※ ※ ※

د بلوچستان تاریخ :

په سر کې مو ولیکل چه بلوچستان څاور پنځه زره کاله د مسیح تر میلاد د مخه مدنیت درلوده ، او هلته مو تاریخي اسنادهم راوړل ، دلته د بلوچستان نور د رو مختي تاریخي حالات په لنډ ډول ذکر کوو .

وایی چه هغه وخت په قلات کی یوې آریائی کورنۍ د «سیوا» په نامه حکمرانی کوله او تر اوسه پوری دقلات سیوی علاقه ده هغې کورنۍ په نامه مشهوره ده .

څنګه چه داسلامی سلاطینو حکومت په بلوچستان کی له اومی عیسوی سنې څخه شروع شوی دی نو غالب گمان کیږی شی چه د «سیوا» دکورنۍ حکمرانی تر اسلام اسخوا دمخه وه . ممکن دی چه دسیوا کورنۍ دسنده درا جا سره ارتباط درلوده . دهغه راجا نوم «سهارا» و . چه دسلیمان له غره نیولې تر سیستانه پوری ئی حکمرانی کوله دکیکانان علاقه هم ددهٔ په قلمرو کی وه چه غالباً اوسنی قلات ته نژدی وه

دعربو حمله :

په ۶۵۸ عیسوی کال دامیر المؤمنین حضرت علی کرم الله وجهه په عهد کی د عربو یو جنرال چه تغر بن دعر نومیده په کیکانان حمله وکړه او په مکران کی ئی خپل یو ځنی مرکز وټاکه . او په ۶۶۴ ع کال ئی قصدار هم ونیو . او بیا له وان ئی پخپل قلمرو کی داخل کړه .

دسیوا دکورنۍ خاتمه :

عرب تر هغه پوری [illegible] دقلات دسیوا دکورنۍ حکمرانی ته ئی خاتمه ورکړه .

دغزنویانو دوره :

د ۹۷۷ ع کال په شوا وشاکی ناصر الدین سبکتگین پر بلوچستان حمله وکړه او دقصدار [illegible] سبکتگین [illegible] سلطان محمود د غزنوی [illegible] وان علاقه [illegible] غزنوی دوره ئی هم [illegible] سلطان [illegible] .

دغوریانو دوره :

تر غزنوی شاهانو وروسته دغوری کورنۍ په سلطنت کښې هم سرا وان شامل وو په ۱۲۰۲ ع کال شهاب الدین غوری د سرا وان او مکران حکومت خپل یوه مریی ته چه تاج الدین الدور نومیده وبخښه .

خوارزمی دوره :

۱۲۱۹ ع کال ته نږدې سلطان محمد خوارزم بلوچستان ونیو ، او سراوان هم ده په قبضه کې راغی .

چنګیزی دوره :

په ۱۲۲۳ عیسوی کال د چنګیز زوی مکران او جاله وان ونیول .

دالتمش دوره :

په ۱۲۲۵ ع کال سراوان او جاله وان د سلطان التمش په قبضه کښېوتل .

ارغونی دوره :

د غلو لسمی پېړۍ په پای کې د سراوان علاقه د قندهار د حکومت جز و ، چه هلته تر (۱٤۷۰ ع) کال پورې د غوریانو حکمرانی وه ، هغه وخت چه سلطان حسین میرزا پر قندهار قبضه وکړه نو قندهار او د قندهار ملحقه علاقې لکه شال ، پښین ، مستونګ ، سیبی او نور (چه اوس د پښتونستان علاقې بللی کېږي) امیر شجاع الدین ذوالنون ارغون ته وبښلې . بیا چه شجاع الدین وفات شو نو هغه ټولې علاقې ده د زوی شاه بیګ ارغون په قبضه کښېوتلې چه هغه په ۱۵۱۱ ع کال خپل پایتخت له قندهاره شال یا کوټې ته را نقل کړ .

میرواری حکمران :

په دې وخت د بلوڅو قبیلې قوت و موندلو او له مکران څخه د قلات خواته را غلل او په پښتنه ... کې ئې قلات ونیو . په هغو ورځو کې د بروهي قبیله هم منځ ته راووتله ، او په دوو پېړیو کې د دغه قلات احمدزي قبیلې پر ټول مغربی بلوچستان قبضه وکړه او د میرواری نامې پښتون په مشر تو سره ئې خورا ښه حکومت جوړ کړ . دا پښتون مشر د جاله وان علاقې په سوراب نومی مقام کې او سېدو ، چه د قلات بلوڅو ئې ... ورو وې . میرواری تر څو چه وروسته چه له ... سره ... کړې ... قلات هم ونیو او د ټول بلوچستان حکمران شو .

دمغلو دوره:

له ۱۵۳۰ عیسوي کال څخه تر ۱۵۴۵ ع کال پورې قندهار د میرزا کامران پلاس کې و . د ۱۵۴۵ ع کال په دوبي کې همایون د سیبي له لارې د شال او مستونګ علاقې ته راغی . او مستونګ ته نژدې ئې په یو باغ کې ځای ونیو . دوه کاله وروسته قندهار ته ولاړ . کوم وخت چه همایون د هندوستان پر تخت کښیناست نو د شال او مستونګ علاقې ئې لونګه خان نامي بلوچ ته ورکړې .

دمغولي اکبر په وخت کې د مستونګ علاقه د قندهار د حکومت شرقي برخه وه مګر هغه وخت چه بروهي قبیلې ډېر طاقت ومونده له قلات څخه ئې د مغلو حاکم ویوست او میر ابراهیم خان میروادی ئې راوباله چه له خپلو زامنو څخه کوم څوک د قلات حاکم وټاکي او هغه خپل نمسی چه میر حسن نومېده ور واستاوه تر میر حسن وروسته د ده اولادې تر ۲۵ پښتو پورې پر قلات ، سوراب ، توتهار ، او مستونګ باندې حکومت وکړ ، چه اوس هم د دوی په قبضه کې دي .

د احمدزیو دوره:

د احمدزیو کورنۍ لومړی مشر احمد خان و چه په ۱۶۶۶-۶۷ عیسوي کال کې ئې مغولي حاکم د آغا جعفر ته ماتې ورکړه او مستونګ ئې ونیو . وروسته ئې پر شوراوک ، باغبانه ، کرخ او چهکو باندې قبضه وکړه . تقریباً دیرش کاله د دې علاقې حاکم و . او هغه وخت چه وفات شو د ده زوی میر ابی خان په ۹۶-۱۶۹۵ ع کال د قلات د حکمرانۍ واګې پلاس کې ونیولې . تر ده کم دوه کاله حکومت وروسته په ۹۸-۱۶۹۷ ع کال د ملتان د مغولي حاکم سره په یوه جګړه کې مړ شو او د ده د وصیت په قرار د ده مشر زوی سمندر خان ئې پر ځای کښېنوست . په وخت چه سمندر خان د ملتان د مغولي حاکم ته ماتې ورکړه او ... نو ایرانی کماندانو پر قلات حمله وکړه ، میر سمندر خان ... ایرانی کماندانو ئې په جګړه کې ... او پورې او تل

چېرو قبالی باندی حمله وکړه او دسند هی حکمرانانو څخه ئې هر کال څلوېښت زره روپۍ باج اخیست، خو په ۱۴ - ۱۷۱۳ عیسوی کال وفات شو، تر ده وروسته دده نابالغه زوی احمد خان ثانی دقلات پرمسند کښېنوست او خپل وړور عبدالله خان ئې دکوټې حاکم مقرر کړ، خو هغه تر څو موده وروسته یاغی شو او دمستونګ په علاقه کې جګړه ونښته، میر احمدخان ماتې وکړه بیرته قلات ته راغی او په ۱۶-۱۷۱۵ ع کال وفات شو. تر ده وروسته عبدالله خان دقلات دحکمرانۍ واګې پلاس کې واخیستلې ده یو زړور خان و، پرله پسې ئې په اسمعیل خان او مکران ئې حمله وکړه، او بیائی دقندهار پادشاه شاه حسین هوتک سره مخالفت پیدا شو، خو شاه حسین او نور محمد کلهوړه دسند حکمران داتحاد لاس سره ورکړ او عبدالله خان ئې په کویټه کې محاصره کړ هغه و، چه ژمی راغی او دوادی دلی خپلو خپلو ځایونه ولاړلې خو په ۳۱-۱۷۳۰ ع کال عبدالله خان دکلهوړه دپوځ سره په یوه جګړه کې شهید شو.

دده پرځای محبت خان کښېنوست، په دې وخت کې دقلات په سیاست کې اخوند محمد صالح نامی ډیر دخالت درلود او میر محبت خان دده په اشاره دمستونګ آمدنی خپلو دوو ورونو التاز خان او نصیر خان او خپلې مور ته وقف کړه. دوه کاله وروسته دکورنی ساز شو نو په نتیجه کې محبت خان قید شو او التاز خان ئې پرځای کښېنوست، مګر دشاه وانی قوم په مرسته له قیده آزاد او جاله وان ته فرار شو، دقلات خلق دالتاز خان له ظلم او جبر څخه ډیر ناراض و، نو ځکه ئې دنادر افشار بلنه (چه هغه وخت په قندهار کې و) ومنله او هغه ته ئې خواست وکړ چه د التاز خان په عوض دی میر محبت خان دقلات حکمران وټاکی، نادر افشار ددوی غوښتنه ومنله التاز خان ئې بندی کړ، او محبت خان په ۱۷۳۶ ع کال دیوه ایرانی افسر د لطف علی سره دقلات خواته روان شو، او خپل کشر ورور نصیر خان او دهغه مور او دالتاز خان زوی مراد علی ئې دیرغمل په توګه په قندهار کې نادر شاه ته پرېښودل او علته التاز خان د نصیر خان له لاسه ووژل شو، او ځکه چه ګناه د التاز خان وه نو نادر افشار میر نصیر خان ته څه ونه ویل.

په ۱۷٤۰ ع کال چه نادر افشار د هندوستان تر حملې وروسته بیرته پښتونستان ته راغی، عبد الله خان د میان نور محمد کلهوړه د اخوا وژلی شوی و ، نو ځکه نې محبت خان د هغه پر ځای د قلات حکمران وټاکه . د ده د حکمرانی په وخت کی اس پیله هم په قلات پوری وتړله شوه .

د احمد شاه بابا دوره :

د محبت خان وضعیت روز روز د نادر افشار سره ورانیده خو په دې وخت کې چې نادر افشار مړشو او اعلیحضرت احمد شاه بابا د هغه پر ځای د شهنشاهی پر تخت کښېنوست محبت خان د احمد شاه بابا سره هم مخالفت شروع کړ ، احمد شاه بابا مجبور شو هغه معزول کړی خو ځکه چه نې د احمد شاه بابا امر و نه مانه نو په ۱۷٤۹ ع کال احمد شاه بابا د مستونګ خواته څه پوځ و لیږه او تر څه جګړې وروسته د محبت خان لښکر ماتې وکړه .

او په ځای محبت خان د احمد شاه بابا د لښکر په لاس ونیول شو او د هغه نې قندهار ته واستاوه ورو نیم کال وروسته چه هلته مړشو نو ده پر ځای حاجی خان د ده ورور مقرر شو خو ځکه چه حاجی خان ډیر ظالم سړی و ، د هغه ځای ټول خلق ور څخه په تنګ شول ووډي ، علاوه د احمد شاه بابا په مقابل کی ئې ځینی ورا ده اتمان خان په بغاوت کی هم راضی اخستی وه ځکه ئې احمد شاه بابا هغه معزول کړ او د هغه په عوض ئې د هغه ورور نصیر خان په (۱۲ - ۱۷۵۰ ع کال) د قلات حکمران وټاکه .

قاضی عطاء الله خان په خپل کتاب د پښتنو تاریخ کښی لیکی چه نصیر خان تر نادر سړی و ، او د احمد شاه بابا د انتخاب په وخت کې هغه سره قندهار کې د انتخاب ... کې شامل و ، او د احمد شاه بابا په پاچا کیدو هغوی هم خوښی ښکاره کړې وه . بیا د احمد شاه بابا سره د ایران او هندوستان په هڅو کې شامل و (۱) ... احمد شاه بابا ...

(۱) د پښتنو تاریخ - قاضی عطاء الله - ۱۱٦ مخ

په عوض د کوټې ، مستونګ ، هرنه او اجل علاقې هم ورو بښلې او نصیر خان بیا پخپله
(۹) واره پر مکران حملې وکړې او هغه یې ونیو او د ګچکیو د ملك نیمه مالیه یې
هم خزانه جاري کړه او بیا یې لس بیله هم پخپل اقتدار کې راوستله ، حتی د سند د حکمرانانو
څخه یې د کراچۍ بندرګاه هم ونیوله (۱) تر له (۱۷۵۸ ع کال) پورې د نصیر خان او
احمدشاه بابا تعلقات ډیر ښه وو ، خو هغه وخت چې نصیر خان د مرهټو د حملې او د تیمورشاه
د را ایستېدو او د احمد شاه بابا د لاسه د پنجاب د وتلو خبرونه واورېدل ، نو بیا یې
د احمد شاه بابا په مقابل کې بغاوت شروع کړ ، احمدشاه بابا د خپل دوست په بغاوت ډیر
حیران شو . لومړی یې یوه دوستانه جرګه ور واستوله ، خو نصیر خان ونه منله او د احمد
شاه بابا مقابلې ته تیار شو ـ احمدشاه بابا هم مجبور شو د خپل وزیر شاه ولیخان په افسرۍ یې
یوه فوځ ور واستاوه ، خو شاه ولیخان په مستونګ کې تر یوه خونړي
جنګ وروسته ماتې وکړه ، مګر نصیر خان یې تعقیب ونکړ ، مستونګ
بیا نوی یې خپل قوځونه دیره کړل ، دا پلا احمد شاه بابا پخپله د یوه لوی
لښکر سره د مستونګ خوا ته روان شو تر لنډ جنګ وروسته یې نصیر خان
ته سخت شکست ورکړ او نصیر خان مجبور شو قلات ته ولاړ شي ، احمد شاه
بابا په هغه پسې روان شو او د قلات ښار یې محاصره کړ ، تر څه مودې
وروسته نصیر خان له محاصرې نه په تنګ شو ، د روغې غاړه دانې یې احمد
شاه بابا ته ولیږل ، احمد شاه بابا هم هغه ومنل او په دې شرطو نو
د روغې تړون وشو :

۱ ـ بلوچستان به د پخوا په شان د احمد شاه بابا تر سلطنت
لاندې وي .

۲ ـ هر کله چې احمد شاه بابا خپل سلطنت ته بهرني جنګ وي ، نصیر خان
به هم فوځي مرسته ور سره کوي .

۳ ـ دې امدادي فوځ ته به خوراك ، کالي ، باروت او نور جنګي سامان د احمدشاه بابا
له خوا ... ورکوي .

---

(۱) یادګار تاجپوشی قلات ۲۲ مخ

٤ - احمد شاه بابا نصیر خان ته (چکه چه هغه هلاته ئي د مملکت طبیعي جزء ؤله) کالنی خراج معاف کړ .

ددې تړون د ټینګولو په غرض احمد شاه بابا د نصیر خان ورېره خپلې ور کړه، قاضي عطاءالله خان لیکي چه احمد شاه بابا خپل ځان ته د نصیر خان ورېره او ده په نکاح کړه (۱) مګر مولوي دین محمد لیکي چه احمد شاه بابا خپل زوی ته د نصیر خان ورېره وغوښتله (۲) په هر صورت له هغه نه وروسته د احمد شاه بابا او نصیر خان منځ سیاسي پیوند ټینګ شول، او احمد شاه بابا نصیر خان ته د «بیګلر بیګی» یعنی امیر الامرا خطاب ور کړ .

تر احمد شاه بابا وروسته :

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

(۲) [illegible] تاریخ [illegible]

(۳) [illegible]

اوددې کومک په عوض محمود د خان هم خوځلی د قندهار د حکمرانانو سره د سند په حملو کې
مرسته وکړې، مګر بیا له محمود خان ډېر کمزوری حکمران و، هم دا سبب و، چه دده په
وخت کې خو واره بغاوتونه وشوه، خو په (۱۷ - ۱۸۱٦ ش) کال وفات شو، اودده پر ځای ئې
زوی محراب خان ثانی کښېنوست، خو په مقابل کې ئې د بهرام خان خلف احمد
یار خان پورته شو مګر څه ئې ونه کولای شوه، د محراب خان په لاس کښېوتی، او
دده د وزیر په اشاره چه داد محمد خان نومیده ووژل شو، وزیر داد محمد خان
ډېر ظالم، پاچاهۍ او حسود سړی و، ډېر لایق سرداران ئې ووژل، چه په هغو کې
یو ډېر مشهور د سردار عبدالرحمن خان وه او په ۱۸۳۲ ع کال دهمدې عبدالرحمن
خان زوی ملا محمد حسن هغه وزیر ووژه، چه وروسته همدا ملا محمد حسن دهغه پر ځای
وزیر مقرر شو.

دانګریزانو دوره:

په ۱۸۳۸ ع کال انګریزانو غوښته چه د شاه شجاع د مرستې د پاره
افغانستان ته عسکر ولېږي، څنګه چه د قلات د خان اعتماد ضروري و، او څنګه ئې خپل
یو افسر (لفټنټ لیچ) د محراب خان ملاقات ته واستوه، مګر څنګه چه محراب
خان پر آزادۍ مین سړی و، او انګریزانو له هغه ملاقات څخه څه نتیجه وانه خیستله، او په
هغې منځ کې د محراب خان وزیر ملا محمد حسن خپل پلار د انتقام په نیت دانګریزانو
او د محراب خان تر منځ [illegible] انګریزانو ته به ئې ویل چه تاسې له دې لارې
[illegible] سامان پوسته هغه به ضرور د قلات خان قبضه کړي [illegible]
[illegible]
[illegible] چه شاه شجاع [illegible]
ملا محمد حسن هغه په عوض [illegible] او هغه ته ئې ویل چه محراب
خان د انګریزانو [illegible]
انګریزان [illegible] محراب خان [illegible] دانګریزانو په [illegible]
[illegible]

د انګريزانو خلاف جهاد ته راو بلل ، کوم وخت چه له هغه غلو شخه خپلې خطونه وستل د پوليټيکل ايجنټ دراس بيل ، په لاس ورغلل ، نو انګريزان دې ته لا په غصه شو ، خو بيائې ددې دپاره چه شاوخوا دبلوچستان نور سرداران ورته وته پاڅي او دوهمه پلا ئې د انګرېزي بارونو ، نوي انګريز محراب خان ته ور واستاوه او محراب خان ئې دشاه شجاع دملاقات دپاره کوټې ته وباله ځکه چه محراب خان پوهېده چه دادانګريزانو يوچال دی او که کوټې ته ولاړشي بيرته قلات ته نشي راتلی نواله تلو شخه ئې انکار وکړ ، او ټل دديوسي دخوښې دپاره ئې هغه ته يوه معاهده ور امضا کړه چه هغه ئې هم ټه دبارنس ته روانه وه او په لاره کې سرې ورته کښېنول او بېرته ئې خپلې واخيستله .

په ۱۸۴۹ ع کال دنوامبر په ۱۳ ئې نېټه دي استعماري فوج د قلات خوا ته ولېږه او صرف په دې ګناه چه محراب خان او دهغه ملګرو په خپل وطن کې انګريزانو ته ځان او خپل دوه ورځې آزادي ئې ساتله دانګريزانو عسکرو پر قلات تېرى وکړ ، محراب خان او دبلوچستان خپلو نورو سردارانو په غوښتلو ئې دمقابلې دپاره دانګريزانو مقابله وکړه او تول تر ساعت ميدان ته راوتلی وه ، خو ځکه چه داستعمار چپانو انګريزانو فوج ډېر زيات وه ، نو محراب خان او دهغه نور [illegible] ملګري دانګريزانو په [illegible] شهيدان شول او [illegible] ئې [illegible] خپل [illegible] وطن قربان کړل . دمحراب خان شهادت په (۱۲۵۵ هجري) کال کې واقع شو هغه او شهادت ور [illegible] انګريزانو قلات [illegible] او هغه [illegible] د آزادو انسانانو آزادي ئې [illegible] کال [illegible] ۱۸۳۹ [illegible] خان [illegible] قلات [illegible] .

[illegible] خان [illegible] محراب [illegible] انګريزانو [illegible] ځکه [illegible] چه [illegible] [illegible] [illegible] کې [illegible] د قلات [illegible] [illegible] ، [illegible] وخت [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible]

دکلات په حکومت پوری اړه درلوده (۱۸۴۰ ع کال) . وروسته انګریزانو د اغلاقی له کلات نه جلا کړی نصیرخان ثانی ته ئې وسپارلی ، او په ۱۸۴۱ ع کال د اکتوبر په ۶ ئې د نصیر خان سره یوه معاهده وکړه ، خو هغه وخت چه انګریزی فوځ له کابل څخه وتښتید نو هغې معاهدې هم د یوه ردی کاغذ حیثیت وموند . کوم وخت چه په یورپ کی روسانو څه جنجال پیدا کړ ، نو انګریزانو د سرحد د زیات ټینګوالی په غرض (۱۸۵۴ ع کال) یوه بله بشپړه او مکمله معاهده وکړه ، او د انګریزانو حکومت د قلات خان ته سالانه پنځوس زره کلداری د امداد د پیسو په دې شرط ومنلي چه انګریزی فوځ ته د تګ راتګ اجازه ورکړي او د هغه ځای امنیت وساتي . څنګه چه نصیر خان هم په زړه کی د انګریز مخالف و نو انګریزانو په ۱۸۵۷ ع کال نصیر خان ته زهر ورکړه او دا خان هم دانګریزانو د استعماری سیاست قربانی شو .

تر ده وروسته ده ورور خداداد خان د شپاړسو کالو په عمر د قلات خان وټاکل شو . که څه هم پخپله خداداد خان په ښکاره د انګریزانو مخالف نه و خو د ده بانفوذه مشاوران چه یو داروغه د ګل محمد خان او بل د ګنګارام هندو د انګریزانو پر سخت دښمنان وو ، او د هغوی په تحریک د هغه ځای غیرتی ټوری آزادی غوښتونکو سردارانو پر انګریزی فوځ حمله وکړه ، او دا حملې تر دوو کالو پوری جاری وې ، دې حملو انګریزان وارخطا کړه او د هغوی د وار خطائی په اثر په ۱۸۵۸ ع کال د قلات خان ته علاوه پر پخوانیو پنځوسو زرو کلدارو پنځوس زره نوری روپۍ هم منظوری کړې ، خو په دې شرط چه خان به د هغه ځای د سرحد ګړی آرامه وی . مګر دې پیسو هم څه فایده ونکړه او ... چه د خاران آزاد خان او د ده پسی پلاه مشران هم د قلات د آزادی غوښتونکو مجاهدینو سره یو ځای شوی وو . هغه و چه انګریزانو په ۱۸۶۳ ع کال پخپله خان ته پوره شول او خان ماتې وکړه سخته ته ولاړ نو ده وروسته خپل شان ده د کاکړی د انګریزانو له خوا د قلات په خانی انتخاب شو . تر یو کال حکومت وروسته د ۱۸۶۴ ع کال د مې په میاشت د آزادی غوښتونکو له خوا ووژل شو . خداداد خان بیرته د وروسته د سردارانو د مشورې سره ...

بیر ته هغه زورونو دا دخان پیاد قلات خان شو. د ۱۸۶۵ ع کال په مارچ کې تاج محمد خان
زهري ورته پورته شو، خو ماتې یې وکړه او دی هم پلاس ورغی. د همغه کال د جولائی په میاشت
دا سې بیلې آزادۍ غوښتونکو نور الدین خان د مینګل سردار په مشرۍ د انګریزانو پر خلاف د قلا
خان ته پورته شو خو د انګریزانو استعماري قوت هغوی ته هم د هغوی فطري حق ور نکړ، او هغوی
اني گرفتار کړل مګر نور د ورکیالو وروسته چه له قیده خلاص شول د ۱۸۶۷ ع کال د اکتوبر په میاشت
کې بیا د آزادۍ بیرغ دانګریزي قوت پر خلاف پورته کړ خو بیا هم په استعماري قوت
زور ونه رسید، په ۱۸۶۸ ع کال د مارچ کې [illegible] نامې انګریز چه د دوی او د قلات
شاغاسي ولي محمد خان ترمنځ د روغې خبرې اترې وکړي [illegible] کامیاب نشو
ځکه چه مستونګ ته ورغی او په لس پله کې هغو سو د آزادۍ غوښتونکو چپاوي وه
ځکه چه انګریزانو د میر خدا داد خان حکومت ټینګ [illegible] او د ۱۸۵۸ ع په [illegible] کې
[illegible] د قلات [illegible] ۱۸۷۲ ع کال په مارچ کې بیا
[illegible] کوښش وکړ چه آزادي غوا
[illegible]
[illegible] ۱۸۷۲ ع کال انګریزانو آزادي غوښتونکو
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

دا هغه دسانلو دپاره قلات ته راشي ـ ددې ترون له بر کته دخداداد خان تنخواه د کاله یو لک روپۍ شوه ، او پنځه ویشت زره روپۍ د کویټې دحاکم دپاره او پنځه ویشت زره نوري دخان دکینو نورو ملګرو دپاره منظوري شوې .

وروسته چه خان دافغانستان او انګریزانو په جنګ کې انګریزانو ته ډیر ښه لوی خدمتونه وکړه نو دانګریزانو له خوا ده خدمتو په عوض د دجی-سی-ایس-آئی خطاب او دری لکه روپۍ بونس (انعام) ورکړه شو (۱)

په ۱۸۹۳ ع کال خداداد خان دانګریزانو په مشوره د قلات تخت خپل زوی محمود خان ته پرېښود او پخپله دپښین خواته ولاړ او هلته د ۱۹۰۸ ع کال دفروری په میاشت مړ شو .

محمود خان ته په ۱۸۹۳ ع کال دسرجیمس براون ایجنټ ګورنر جنرال له خوا په کوټه کې دقلات دحکومت چارې ور تسلیم شوې ده ته دانګریزانو له خوا په ۱۸۹٤ ع کال د جی-سی-آئی-ای خطاب ورکړه شوی و ، د ۱۹۳۱ ع کال د نومبر په دریمه بې لدې چه ځانته ولیعهد وټاکي وفات شو ، د محمود خان تر وفات وروسته اوسنی دقلات خان دقلات رئیس وټاکل شو .

دقلات اوسنی خان محمد اعظم خان نومیږي چه دخداداد خان دویم [illegible] زوی دی په ۱۲۸۸ هـ ـ ۱۸۷۰ ع کال دصفري په میاشت دچارشنبې په ورځ زیږیدلی او په ۱۹۳۳ ع کال دفبروري دمیاشتې په ۲۶ نمبر دوایسرای لارډ ولنګډن له خوا د [illegible] تخت ناستي مراسم په کوټه کې [illegible] دانګریزانو له خوا رسما د قلات خان وپیژندل شو [illegible] دغه کال دجون په میاشت کې د جی-سی-آئی-ای خطاب ورکړ .

دقلات خان [illegible] په [illegible] کې [illegible] دی .

(۱) بلوچستان ګزیټیر قلات ـ ۴۳ مخ

۵ ـ تیئول: یا دامپ ریاست (۱)

تیئول چه اوس ئی دامپ ریاست بولی د پښتونستان هغه یوازنی ریاست دی چه اهالی ئی حق د ملکیت نلری او د ریاست ټول املاک یوازی د ریاست په نواب پوری اړه لری او نور اهالی خو لکه د نوکرانو او خو لکه د بزګرانو په حیث ژوند کوی.

په دې ریاست کی له ډیره وخته د یوې قدیمې کورنۍ څخه نواب پښاغه رئیس دی.

خلک او خوی:

د [illegible] خواته ئی د [illegible] اوه کورنه او هزاره علاقې دی [illegible] او [illegible] ئی [illegible] [illegible] [illegible] اماری [illegible] [illegible] دی [illegible] طرف ئی [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible]

ژبه:

تیئول په [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible]

[illegible]:

[illegible]

[illegible]:

[illegible]

---

(۱) [illegible]

چې کېږي په ټول ځوری د غرځولو یا ایښولو یا تېرولو او واک ئې نلري ، دده سر کردګانو ایستل یا تېښتول په ثواب اهلري .

پیداوار :

حبوبات: غنم، شولې، جوارې، اوربشې او ځغني .(۱)

میوه او کانې: کېله، خاشخاش چه افیون ترېنه اوباسي .

څاروي: غواګانې، مېښه، وزه او پسه .

محصولات: غوړي، وړۍ .

تېنول علاقې :

۱ - پخوانۍ په هزاره کې چه د نواب د هستوګنې ځای دی شو واړه کلي شته .

۲ - شروډيرهنډ: علاقه چه شو کلي لري .

۳ - د کوټ جرال علاقه .

٤ - د پهلارو علاقه چه شو کلي لري .

٥ - د اشرو، شیروان کلي هم هغه دي چه په وړوکي باړ او لوړ د تو پښتو وېلو او کېلو خانه هم لري، د کار شاني کاریګر یو نفر هندي دي .

مشهور کلي :

[illegible]

د کوزو ته لاره

[illegible]

[illegible] :

[illegible]

---

(۱) [illegible]

د ټينول اداره:

د ټينول ټوله اداره په نواب اړه لري هلته چې د نواب صاحب بل قانون نه چلېږي او کوم وخت چه انګريزانو راغلل دهغه غاړې خارجي سياست هغوی په لاس کې واخيست او په داخلي چارو کې ئې نواب خو دمختاره پرېښود ، په اداري کارو کې دمشوري مجلس لري چه د نواب رايه حاکمه ده د يوازي د ځينو امراو د پاره دا تشکيلات لري .

۱ ـ يو قاضي د دعوو د فيصلې کولو د پاره .

۲ ـ يو تن مجستريټ (منصف)

۳ ـ دوه زره تنه ملازمين [illegible] لري [illegible] ورکوي [illegible]

[illegible] (۱) [illegible]

[illegible] ورکوي .

[illegible]

[illegible]

۵ ـ [illegible]

[illegible]

[illegible] کوي .

[illegible]

[illegible] :

[illegible]

(۱) [illegible]

[illegible]

[illegible] ([illegible])

د ټینول ثروت:

د ټینول اساسي ثروت کرنه ده، ټول محصولات د همغه ځای په نواب اړه لري. د ټینول صادرات د شمیر لږ کي دي.

د ټینول نواب:

د ټینول اوسني نواب فرید خان نومیږي، دی د نواب محمد زمان زوی دی وایي چه د دوه پیړیو نه را هیسې د افغانستان د حکومت له خوا هلته د تپانچه دارانو په توګه مقرر وو، او هغه ځای د جاګیر په توګه ورکړه شوی و. هغه وخت چه د انګریزانو استعماري قوت د نورو برخو په توګه کې ئې د پښتونستان دا برخه هم له افغانستان څخه جلا کړه.

فرید خان او پاکستان:

په ۱۹۴۷ ع کال چه انګریزانو پاکستان جوړ کړ نو د پاکستان واکدارانو د پښتونستان د دې برخې د نواب په باره کې پلانونه وسنجول، خو په نتیجه کې ئې په ۱۹۴۸ ع کال د امب نواب فرید خان پیښور ته راوبلله او هلته ئې د مستقیم پښتونستان په کابینه کې د ګډون دعوت ورکړ، کله چه نوموړي نواب د پاکستان د واکمنو پالیسي ولیده نو هیڅ چاره ئې نه وه موندلې، نو ئې هغه دعوت ومانه او په کابینه کې ئې ګډون وکړ. نو په همدې چل پاکستاني واکدارانو د امب د ریاست د برخې د ټول حاصلاتو په کنټرول او د ریاست د ادارې په چارو کې لاس وهنه شروع کړه چه په آخر کې ئې د نواب ... ریاست حیاتي ... کړه او همغه ځای ... آزادي ... پښتونستان ته ئې د پاکستان ... د امب ریاست ... د پښتونستان په کابینه کې ... نواب ... له ... آزادي ... پښتونستان ...

٦ــ اباسین:

دا د پښتونستان هغه علاقه ده چه د سندو رود یا اباسین هم هغه ځای څخه سر چینه اخلی او بیا ئې په لمنه کی نور رودونه ورسره یوځای کیږی چه ددی ټولو سیندونو مجموعي ته د اباسین ... وائی او هغو ګلو ته چه د اباسین په غاړه سر چینی ته نژدی پراته دی د اباسین کوهستان وائی. دا کوهستان د هندوستان شمالی خواته پروت دی چه د همالیه د غرونو یوه برخه ئې نیولې ده.

څلور خواوي:

لمر خاته خوا ئې په ګلګت پوری نښتې ده (چه د کشمیر علاقه ده) [illegible]

[illegible]

د اباسین سیندونه:

[illegible]

[illegible]

[illegible]

له هغه څخه لږ ختيځ لوري ته را ګرځي، د پېښاور پر نو ښاره باندې تېر بېږي د پنجاب شمال مغرب علاقې ته داخلېږي.

داباسين دغاړې کلي :

هغه کلي چه پښتنو په کوهستان کې د اباسين پر دواړو غاړو پراته دي دادي:

ګلګت

چيلاس (پدې دواړو ځايو کې پښتو دانګرېزانو تسلط وي .)

تانګير

جال کوټ

داريل

پټن (داد ياغستان کلي دي)

کولی

سکر ګاه

شنګی

بټه پيا

تيرازی

بيلی (داد آزاد پښتونو علاقه ده .)

ګلاني (و هم هغسې شان دوا)

تواره

بيلو (د ياغستانه د آلائي علاقه ده)

ته کوټ : (" " " د اباسين شرقي غاړه)

دوبند (د تنولو په پراتيو اوه لري)

توربېله

هکربکر (شرقی بلوته)
چیچ هزاره
سیو
کیسال
پتن (دسبند غربی بلوته)
پیچال
پنگر (دسبند غربی بلوته ـ دسوات بهوالی اده اری)
پیشام (دکاناله کوهستان شته)
پتسال (دسوات بهوالی اده اری)
تنگی
منداکی
هور (غربی بلوته)
کنانگر
چنگول
کنافر گرام (غربی بلوته)
دیچکیر ملوله (دسوات به والی اده اری)
هگری (دآزادو چهارنو سره)
[illegible] (دایتول دنواب ملاق)
کیاگیل ـ [illegible]
پیتا
[illegible]
کنابچ ([illegible])
[illegible]
پلوسه
[illegible]
ستانه گره

دځمکې وضعیت :

د کوهستان ډیره برخه غره ییزه ده، ځینې هوارې شیلې هم لري غرونـه ئې په ځنګلونو پټ دي. هوارې ځمکې ئې ټولې شالي زارې دي - دغرونو دغر دپاره خورا ډیر مال څرلري، د کشمیر په څیر ښکلې منظرې لري .

مرکزیت :

کوهستان یو ټاکلی مرکز نلري، ځکه چه هلته کوم ښار یا یوه اویه قصبه نشته چه هلته بازار یا ډیری ودانۍ وي . خان او رئیس هم نلري دهر کلي هر سړی آزاد ژوند کوي، په دې ورستیو کلو کې دغه ځای دشاوخوا ریاستونو لکه چترال، دیر، سوات د کوهستان دځینو برخو دنیولو کوششونه کړي دي او څو کلي ئې ځینې نیولي هم دي، خو یوه برخه لاهم پخپسی آزادانه ژوند کوي . انګریزانو هم نه غوښته چه کوهستان دې په کوم ریاست پوری وتړل شي .

آب وهوا :

هوائې ډیره سړه ده، خو ډیره صحت بخښه او خوشحاله او ښکلې ده، تا روغی ډیره لږ ده . که ناروغه هم پیداشي دغه ځای په ځینو وښو ئې علاج کېږي . او به ډیری دي، هری خوا ته ولاړ رودونه بهېږي .

اداره :

د کوهستان خلق له پخوانه خپل منځي جګړې په خپله خوښه ژوند کوي، او په معاملاتو کې له خپلو ملایانو څخه پوښتنه کوي .

پیداوار :

په کوهستان کې دادا څیزونه پیدا کېږي :

و . حبوبات، غنم، اوربشې، شولې او نوره غله دومره لږ چه بل ځای ته ئې ضرورت نه پیدا کېږي .

۲- حیوانات، پسه، بزه، غواګی تر خپل حاجت زیات لری.
۳- ځنګلونه، د تعمیر لوی لرګی پیخی ډیر لری، لکه نښتر، بلوط او نور...
٤- میوې، دغره انګور، انار او چهار مغز او نور هم شته.

غرونه:

کوهستان له غرو څخه جوړ شوی دی چه شاید هر غر به ئی ځانته نوم لری خو ډیر مشهور غرئی د بهادر سر، د نومیږی. داغر د پالس په علاقه کی پروت او د هغه ځای تر ټولو غرونو جګ غر دی.

تجارت:

د کوهستان مهم صادرات دارچی لرګی دی چه د سیند په واسطه ئی ښار ته وړی، بی له دې نه وزی، پسونه، شات، غوړی، پوڼکی، زیره، چار مغز هم د تجارت د پاره خارج ته وړی. کوم شی چه له خارجه راوړی دوی هغه رخت، مالګه، چای او قند دی.

صنعت:

په کوهستان کی کرباس، پلاس، کمبل، شړی، او [illegible] کیږدی، [illegible] جوړیږی او آهنګری صنعت د اړتیا په قدر شته.

لاری:

په کوهستان کی سړک نشته، [illegible] هم خرابی دی، مګر له [illegible] څخه دوی لاری شته، [illegible] له لس [illegible] تللی شی.

چه له [illegible] او [illegible] تللی او [illegible] ته رسیدلی شی، [illegible] لاری [illegible] څخه سوات ته را تللی او له هغه ځایه کوهستان ته تللی شی، چه [illegible] لاری د [illegible] او [illegible] څخه [illegible] د [illegible] تللی شی.

دکوهستان او سیدو نکی :

په کوهستان کی دوي طائفي اوسېږي :

یوه کوهستانی طائفه چه ځانته ژبه لري او ددوی مختصر حال د د کوهستانی طائفی ترعنوان لاندی د پښتونستان د قبائلو په فصل کی اوسنلای شی .

بله طائفه پښتانه دي چه اویه برخه ئي چغرزی قبیله ده . دا قبیله ددي خط په جنوبی حدودو کی داباسین په دواړو غاړو پرته ده . چه ددوی حال هم د چغرزی ترعنوان لاندی ذکر شوی دی .

نفوس :

پښتانه دوی ټول شمیر دري لکه (۳۰۰۰۰۰) یاله ، خو اوس چه ددوی ډیرخی برخی د چترال مهتر ، د دیر نواب او د سوات والی نیولی دی ، نو ممکن دی چه اوس د آزادو کوهستانیانو شمیر یو لک (۱۰۰۰۰۰) ته ورسیږي .

اوزان او مقادیر :

[illegible]

ژبه :

په کوهستان کی ددوو ژبې دی یوه طائفه د دوی مخصوصه کوهستانی ژبه ده بله پښتو .

مشهور کلی :

[illegible]

کم شیان چه هلته نشته :

په کوهستان کی دا شیان نشته :
خان ، رئیس ، ظلم ، نفاق ، گوندی ، اسباب سازی ، خانه جنگی ، سیاست ، فیشن ،
دروغ ، بخل ، حرص ، طمع ،

۞۞۞

۷- باجوړ

د آزاد پښتونستان له نورو حصو او سیمو برخو څخه یوه هم د باجوړ علاقه ده ، دا علاقه هم پخوا د افغانستان د شاوری جز بلله کېده ، خو د پرنګیانو نحس قدم چه دې خوا ته راغی او د خپلو سیاسی او ناوړو اغراضو دپاره ئی د افغانستان څخه جلا [illegible] کړی نووي خوښه چه باجوړ هم پخپل [illegible] قلمرو کی شامل کړی ، مګر باجوړ که څه هم په ظاهره له افغانستان څخه بېلا شو خو د هغه خپلواکی آزادی خوښونکو پښتنو د انګریزانو غلامی هم ونه منله او د هغوی ملی او پاك مقصد دپاره ئی ټکاو ګاو له انګریزانو سره غزا ګانی وکړی خو په پای کی پخپله انګریزانو دا ومنله چه دوی په داخلی آزادی کی [illegible] آزادیاته دی .

د باجوړ په [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

د پښتنو تاریخ « کې داسې لیکي : « باجوړ د « ترکانړو » ملک دی قبلې ته ئې د هندوکش جنوبي غرونه دي ، قطب ته ئې د هندوکش او اوتمانخیلو غرونه دي ، او نمر خاته ته ئې دا وتمانخیلو غرونه جنګېدلي دي ، او په منځکښې ئې پنجکوړه ته د ره تسلسل ده ، [illegible] طرف ته ئې د [illegible] غرونه دي .

طبیعي وضعیت :

د باجوړ ملک او ډېر زور میدان دی . او قریبا ۳۵ میله او د قبلې په نمرخاته او قطب په سوئیل د وو لس میله پلن دی ، دچار چاپېره غرونو په وجه په دې ملک کښې ډېرې ښکلې درې هم شته او دا ملک د پېښاور په شان زرخېز دی ، د پنجکوړې او د باجوړ د میدان په منځ کښې د « باډوی » دره ده ، اګر چه باجوړ د « ترکانو » ملکیت دی مګر په نورو غرونو کښې قطب او قبلې طرف ته کافران او سیږي چه هغوی اوس مسلمانان شوي دي ، او په میدان کښې « رود باړي » اوسیږي داوم هغوی هر هغه سړی ته اخلي چه څوک د « ترکانی » وی ، د باجوړ او سوات په منځکښې د اوتمانخیلو غرونه دي . (۱)

حیات افغاني [illegible] پر دې معلوماتو داهم زیاتوي چه باجوړ [illegible] لوړې قسمې لري [illegible] باجوړ چه [illegible] ورته وائي [illegible] ګې « چه حیات افغاني په قول په دې [illegible] کوره [illegible] پنجکوړې [illegible] [illegible] آباده ده [illegible] ښکلې دي [illegible] هم د باجوړ [illegible] علاقه ده مګر [illegible] د باجوړ [illegible] کښې [illegible] او زراعت دی ، په [illegible] هم شته (۲)

[illegible]

د باجوړ [illegible] ([illegible]) [illegible] میله [illegible]

---

(۱) د پښتنو تاریخ ــ ۳۶ مخ (۲) حیات افغاني ... ۲۴۲ ــ ۲۴۳ مخونه

قبائلي ویش :

د باجوړ اکثري برخې د قومونو په نومونو باندې ویشلې شوې دي او په همغو نومو سره یادیږي . د باجوړ مشهوره قبیله د ترکاڼو قبیله ده چه پر دوو لویو پښو ویشله کیږي ـــ یوه پښه ئې د سالارزي او بله د ماموند ده ، دی چه ددې کتاب دقبائلو په برخه کې به و لیکل شي . خو دلته یوازې ددې قبیلو هغه برخې راوړو چه د باجوړ څینې علاقې دهغوی په نامه یادیږي .

د ترکاڼو د سالارزیو پښه دوه لوی خیلونه لري چه یوه ته «مسیت» او بل ته «اسمیک» وائي . مسیت بیا پر دوو برخو ویشلی شوي یو «ارسیت» او بل «برسیت» . ارسیت د جندول ریاست ته نږدې پروت دی چه د جندول او ارسیت ترمنځ غر پروت واقع شوی دی . د سالارزو له خوا جندول ته یوه لاره د ارسیت په [illegible] کوره په نو می علاقه باندې تللې ده . برسیت اسمار ته نږدې دی خو ترمنځ ئې یو غر پروت دی . د سالارزو څخه اسمار ته [illegible] لاره ده [illegible] سالارزو [illegible] ددې ساحې کې [illegible] .

[illegible]

مشهوري لارې :

[illegible]

پر غره سر کانو ته رسیدلي او بله لیاره دهلال خیلو شخه پر «چمر کنډه» تللي ده او
پر «ناوه» باندې سر کانو ته رسیدلي ده، او دچار منګك له اخوري حد شخه چه
نورشا ته ته پروت دی یوه لاره دبنار ریاست ته او دویمه لاره په «کل آباد»
د کونړو پرغره د «کمانګره» په خوړ ناوکي ته تللي ده او دریمه لاره دچارمنګك
په «کټکي» په «شاخاني» ماموندو ته او څلرمه لاره په «هلکي» چار منګك
دماموندو د «کواتي» په طرف ور غلي ده.

د ماموندو د تنګك راتنګك او یه لاره دلوی ماموند په حد کښې د «غاښي» په
غره «مره وره» او «چغري» ته تللي ده او بله لاره هم دلوی ماموند په حد کې
د «کبري» په غره «سوبدتن» دري ته (نپته‌شوي «شیګل» ته پرې تېګ‌راتګ کېږي
دریمه لاره په «غلوزو» او «تني» نومي ځای دبنار ریاست ته پر عنایت کلی
او د شین کوټ ته تللي ده.

غرونه:

دبا جوړ مشهور غرونه دادي:

۱ - «توربزنځوړ» داغر [illegible] لوړ جګك دی په [illegible] کي هم په [illegible] ده او [illegible] وی، په دې
غر [illegible] کي [illegible] شوله [illegible] سوه [illegible] او [illegible] ده په [illegible] ارچه [illegible]
زیات دی.

[illegible]

[illegible]

د دې غره سره د چترال علاقه، د دیر ریاست او د افغانستان خاوره نښتې ده، د دې غره مشهور کلي دا دي: کنجګل، باروګی، حصاره، مروره، هندوراج، اوشرتن . . . . .

د دې غره کوتلونه:

په دې غره باندې دا کوتلونه شته.

۱ ـ لاهوري کوتل چه له دیر څخه چترال ته تېرېدا ر لاره ده.

۲. تېرول په حصه کې له باندې برول څخه داغر باغ او زاده برول خوا ته، په دوبانې کې دیابو د ټکټ راتګ لاره ده.

۳. دوانګام په حصه کې له باجوړ باندې د اسمار خوا ته لاره ده، چه په ژمي کې [illegible] هم شته پانه پټوي.

۴ ـ [illegible] له [illegible] لاره ده.

۵ ـ [illegible] د هندوراج [illegible] لاره ده او [illegible] تماشې وایي.

۶ ـ [illegible] او [illegible].

۷ ـ [illegible] کوتلونه [illegible] لاره ده.

۳ ـ [illegible]:

د دې غره په لمنو کې او [illegible] او [illegible].

[illegible] (س) په غره مشهور [illegible]

[illegible] په [illegible] د دې غره [illegible]

کې ئې د میا عمر صاحب علیه الرحمه زیارت دی ، په جنوبي لمنه کې ئې د مېزري بوټي ډېر دي چه دغه ځای د بوریا اوبدلو د صنعت سره ډېره مرسته کوي ، او دغه ځای لوی صنعت هم بوریا اوبدل دي ، داغر د پېښاور د دفاع له نقطهٔ نظره ډېر اهمیت لري او د انګریزانو د تجاوز په مقابل کې ئې خورا مهم رول لوبولی دی ، او ډېرو ملي مجاهدینو ته ئې پناه ورکړې ده کوم چه د انګریزانو د ظلم او تجاوز څخه آزاد پښتونستان ته راتلل ، د دې غره ته نژدې پنځه شپېته سوه زاړه قبرونه شته ، چه وایي د سلطان محمود د غزنوي سپاهیانو قبرونه دي چه د هندوستان د نیولو په وخت دلته مړه دي .

د دې غــره لارې :

داغر څو لارې لري چه د پښکلوځي پسې سینه تېرې شوي د مېري څوا ته تللي دي .

۱ـ د اتمان لاره چه پر سینه باندې ئې سیم اچولی دی چه له دغه څخه لارې یوځي او د بازاو تنګي ... ته رسیږي .

۲ ـ د برات لاره چه د یوه په ... کې له سینه پورته ... ته او کوټ ، او ... تنګي ته رسیږي .

۳ ـ شربتي لاره چه له ارنګه څخه د ملا کلي او ... ته تللي ده .

... :

په پېښاور کې د اشیان جوړ یږي :

۱ـ ... ئې ... ، ... ، ... ، ... ، ... او ... جوړیږي .

۲ـ د ... صنعت ... ، ... ، ... او ... جوړ یږي .

۳. د دغو منډو ډېټي او هم نڅگي په حد کي توپك تياريږي.

٤. د شړيو اوډل او د کراستو جوړول هم رواج لري، په تېره بيا د جنډول شړي، ارمي، گرمي او رنگ کي ډېري مشهوري دي.

پيداوار:

اوربشي، غنم، شرشم او شالت د باجوړ پيداوار دي، خو څنگه چه اوبه لږ لري نو اکثره کرهڼي ئي للمي دي، نسك هم کرل کېږي. غوړه او [illegible] ئي باسي او تجارت ئي کوي.

مشهور زيارتونه:

په باجوړ کي دغه زيارتونه ډېر مشهور دي:

۱. مشقاري بابا زيارت.

۲. [illegible] صاحب زيارت.

مشهور کلي او د [illegible]:

دلته د باجوړ د مشهورو د کلو او [illegible]

[illegible] (۱)

۱. [illegible]:

د کلو نومونه	[illegible]
[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]

(۱) د افغانستان [illegible] ۱۳۲۵ [illegible]

شینکو تەی	٢٠	»
زگە دیزی	٠٦	»
خرکنێ	٢٢	»
هزار ناو	٣٠	»
بەدان	٥٠٠	»
دیر	١٦٠	»
عەری	٤٠	»
شاهی تنگی	١٤٠	»

٢ــ اباژی قام :

دەکلو نو مو نەه	دەکورو نو شەدرە	
شیری	٢٠٠	کورە
ودکوتی شرکی	٦٠	»
کنگە	٨٠	»
یاداواری	٦٠	»
کنکهسارە	٨٠	»
کشرنە	١٦٠	»
عیدە	٤٠	»
شاکو	٤٠	»
تینی	٨٠	»
قلمتی	٤٠٠	»

٣ــ دیرم سکازی قام :

دەکلو نو مونەه	دەکورو نو شەدرە	
موشە	١٨٠	»
یەشارشا	٦٠	»

سرکی	۳۰ کوره
میشه	۱۴۰ ″
مزو لمنگل	۲۰ ″
چوکام	۶۰ ″
چوکام شا	۶۰ ″
چونگی	۵۰۰ ″
دغه دواړه	۸۰۰ ″

٤ـ د ککازي قام:

د کلو نومونه	د کورونو شمېره
کټ کوټ	۴۰ کوره
[illegible]	۴۰ ″
لغړی	۴۰ ″
ترخوي اوبه	۴۰ ″
میشه	۶۰ ″
[illegible]	۸۰ ″
[illegible]	۴۰ ″
[illegible]	۴۰ ″
[illegible]	۲۰ ″
[illegible]	۴۰ ″
[illegible]	۶۰ ″
[illegible]	۲۰ ″
[illegible]	۸۰ ″
[illegible]	۴۰ ″
[illegible]	۳۰ ″

چنار	۱۲۰	کوره
ګټونه	٤٠	»
خلوزوی	۲۰۰	»

٥ـ د یوسف خیل قام:

د کلو نومونه	د کورو شمېره	
غراب	۸۰	کوره
بادوبابا	۳۰	»
دواوګي	۳۰	»
ګټونه	٤٠	»
زګي	۱٤٠	»
ملنګي	۲۰	»
جنګ کډای	۱٦	»
ککوړ	۲۰	»
ټنګي	٤٠	»
چناو	۱۲۰	»
عجب مشکي	۲۰	»
کروړ ډو	۲۰	»

٦ـ د هموخیل قام:

د کلو نومونه	د کورو شمېره	
ګیږي	٤٠٠	
ګړدي باغ	٤٠	»
ببوي	۸۰ کوره	»

۷ـ د خلوزو قام:

د کلو نومونه	د کورو شمېره	
ملا شي	[illegible]	کوره

ئشنۆ	١٢٠	»
خۆی [illegible]	٤٠	»
ولات	٣٠	»
[illegible]	٢٠٠	»

دەریاچەی مەرگ :

دەریاچەی [illegible] مەرگ دەکەوێتە [illegible] پاشی .

دەریاچەی [illegible] دەریاچە [illegible] دوورو دوو [illegible] و لاوە [illegible] جنوبی [illegible] و میلو
بەفاصلە [illegible] و [illegible] و [illegible] دی [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible] .

[illegible]
[illegible] .

[illegible]

د باجوړ خانان :

په باجوړ کې له ډېر پخوانه خاني رواج درلود دغه ځای اکثر قومي مشران د خان په نامه یاد شوي دي ، خو د باجوړ په خانانو کې د دوې کورنۍ ډېرې مشهورې دي .

یوه د ابراهیم خېلو کورنۍ او بله د مست خېلو کورنۍ ، چه دلته به د دواړو کورنیو لنډه معرفي وکړو .

د ابراهیم خېلو کورنۍ :

ابراهیم نامې د باجوړ د سالارزیو د قوم مشر و ، چه د مغلو د امپراطورۍ په وخت کې ئې د خپل وطن او خپل قوم د آزادۍ د پاره د هغې د مغلو د استعماري قوت سره ډېرې مقابلې وکړې او په ډېره مېړانه ئې د باجوړ د خپلواکو پښتنو په مرسته د مغلو استعماري پښې د باجوړ له خاورې څخه لنډې کړې او په اخر وخت کې له [illegible] تر [illegible] او [illegible] او د [illegible] تر آخري سرحد [illegible] ئې خپل [illegible] ورسا وه او [illegible] ئې [illegible] د ابراهیم د مېړانې او [illegible] شهرت [illegible] خواته خپور شو او د قوم له خوا د خان په لقب ونازول شو .

د ابراهیم [illegible]

[illegible] د ابراهیم [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

ئي د پښين خان وو . او تر ده پسې وخته ئي هلته خاني کړې وه .

محمد خان د وه زامن پاته شوه . يو پاينده خان چه اوس ئي هم اولاده په پښين کي شته او بل عبدالله خان نوميده چه د سالار زيو قوم هغه اسمار ته يوت او هلته د انګام د ره ترسره او پاتې يوري ده ته تر خاني لاندې وه . تر عبدالله خان وروسته ده زوى کامران خان او تر هغه وروسته حضرت علي خان او تر هغه وروسته شاه طهماس خان دهغه ځاى خان وو . شاه طهماس خپله يوه لور د افغانستان د پاچا امير عبدالرحمن خان زوى سردار حبيب الله خان ته په نکاح ورکړې وه . هغه وخت چه شاه طهماس وفات شو نو ځکه چه د ده نرى زامن نه وه غلام خان او غلام الله خان او عبد الله [illegible] افغانستان حکومت هغوى د کونړ او [illegible] کابل ته واوستل او هلته ئي په تنخواه ور مقرر کړه [illegible] غلام خان [illegible] شوه .

[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

چه محمد ظفر خان مشرو؛ نو په خاني ومنل شو؛ محمد ظفر خان تر څه موده وروسته د کوز نو بر دا ګوهنه فلاکانو چه ددې د پلار په وخت کې د بهار په خانی پورې تړلی شوي وو بېر ته د پښد په خانی پورې وتړلې شو او څه پس دغه کورنۍ اختلافاتو له کبله چه تل ئې پښتانه برباد کړي دي محمد ظفر خان د خپل ورور عبدالغفار خان د لاسه مړ شو او په دغه ځای کې بیا عبدالغفار خان د محمد ظفر خان د نوکر پلاس ووژل شو او خاني عبدالسبحان خان ته پاته شوه غلام رسول خان هم د عبدالسبحان خان مشري او خاني ومنله دا واقعات په ۱۳۵۲ ه قمري کال کې پېښ شوي وو.

د بهار خاني د الله یار خان وه. دالله یار خان تر مرګه وروسته د ده په اولاده کې میر عالم خان مشهور او لوی خان و؛ چه په باجوړ کې د خپلې کورنۍ ټولې برخې د ده په لاس کې وې. او بیائې د امیر خان د خوا نه تر تالاش؛ چکدرې او دلاکنډ حتی [illegible] تر [illegible] او میرخې تر [illegible] ئې خپله خاني اوږده کړه او د امیر [illegible] تر [illegible] [illegible]

[illegible]

محمد جانخان د سردار خان زوی (د نواب صفدر خان ورور) هغه
د غلام حیدر خان زوی، هغه د امیر خان زوی او هغه د منصور خان زوی
دی. د منصور خان له اولادی څخه یو مشهور خان صفدر خان و، چه حتی نوابی
هم کړی وه، صفدر خان اووه ورونه درلودل چه نومونه ئې دا دی:
کریم خان، فتح الله خان، حبیب الله خان، عبد الرحیم خان، سردار خان، شیرعلی
خان او محمد یعقوبخان. هغه وخت چه ئې پلار (غلام حیدر خان) وفات شو د ورونو
تر منځ پر خانی باندی شدید اختلافات پیدا شول، چا وچا سره وژل، څوک او څوک
۱ــ	۱۸٤٦ ع	د پښتو اتمان زي	.....
۲ــ	۱۸٤۷	د باېزو قبیله	لفټن کرنیل برادشاسي ...
۳ــ	۱۸٤۹	...	...
٤ــ	...	بلوچستان	...

(۱) حلال او توپ د پښتون به سرحد کې د مستر ... تالیف د حقایق واضح به توګه پښتون به سوا

شمېره	کال	د تجاوز ځای	د انګرېزانو د افسر نوم
۵-	۱۸۵۰ ع	د کوهاټ د درې اپرېدي	برېګېډير سر کمبيل
۶-	«	بنو	۱ دالټن ، کوك او کوان
۷-	۱۸۵۱	مومند	برېګېډير سر کمبيل
۸-	۱۸۵۲	«	«
۹-	۱۸۵۲	وزيرستان	ميجر نکلسن
۱۰-	« «	دانمي زي	برېګېډير سر کمبيل
۱۱-	« «	اوتمان خېل	«
۱۲-	« «	درويش خېل وزير	ميجر جي نکلسن
۱۳-	« «	حسن زئي	کرنيل مېکيسن
۱۴-	۱۸۵۳	« «	
۱۵،	۱۸۵۳ ع	آدم خېل اپرېدي	کرنيل باليو
۱۶،	«	مومند	کرنيل کاټن
۱۷،	۱۸۵۴	آکا خېل اپرېدي	لفټن کرېچي
۱۸،	۱۸۵۵	مېران زي	برېګېډير چمبرلين
۱۹،	« «	ربيا خېل ود کزي	« «
۲۰-	۱۸۵۶	توري	« «
۲۱،	۱۸۵۷	يوسفزي	ميجر واګن
۲۲،	۱۸۵۸	خوړو خېل اواوړ	ميجر جنرل کاټن
۲۳،	۱۸۵۹	درويش خېل وزير	برېګېډير جنرل چمبرلين
۲۴،	۱۸۶۰	« «	« «
۲۵،	«	وزير ومسعود	«
۲۶،	۱۸۶۲	هندوستاني مهاجرين	برېګېډير جنرل کاروك
۲۷،	۱۸۶۳	مومند	کرنيل مېکلاډل
۲۸،	۱۸۶٤	«	«
۲۹،	۱۸۶۸	وړ کزي	[illegible]

نمبر	کال	د تعلا ز ډلی	د انګریزانو افسر نوم
۳۰	۱۸۶۸ ع	تور غر	جرنل وایلډ
۳۱	۱۸۶۹	ورکزي	جرنل کرنب کیز
۳۲	۱۸۷۲	دوړ	
۳۳	۱۸۷۷	جواکي اپریدي	کرنیل ماکنا
۳۴			جرنل کیز وراس
۳۵	۱۸۷۸	اوتمانخیل	کپتان بیټي
۳۶		رانی زی	میجر کمپبل
۳۷		اوتمانخیل	کرنل جنکنز
۳۸		زخه خیل اپریدي	جرنل ماډ
۳۹	۱۸۷۹	اپریدي	
۴۰		مومند	کپتان [illegible] او میجر دالیس
۴۱		زیمخت	جرنل تایلر
۴۲	۱۸۸۰	مومند	جرنل ډوران
۴۳		بیټني	کرنل راینه
۴۴		درویش خیل وزیر	جرنیل ګاډن
۴۵	۱۸۸۱	مسعود وزیر	جرنیل ګاډن او کینیډي (۱)
۴۶	۱۸۸۴	وزیر [illegible]	
۴۷	۱۸۸۸	هزاره او تور غر	
۴۸	۱۸۹۰	[illegible]	
۴۹	۱۸۹۱	اورکزي [illegible] هزاره [illegible]	
۵۰	۱۸۹۴	وزیر او مسعود	
۵۱	۱۸۹۵	[illegible] چترال (چهاونۍ انګریزانو عسکر محاصره شوه)	
۵۲	۱۸۹۶	توچي وزیرستان	
۵۳	۱۸۹۷	[illegible] سرحد [illegible]	

(۱) [illegible]

شمیر :	کال :	د تجاوز ځای	د انګریزانو د افسرانو نوم :
٥٤	۱۹۰۰ »	مسود	
٥٥	» »	»	
٥٦	۱۹۰۵ »	اپریدي ، مومند	
٥٧	۱۹۰۸ »	» »	
٥٨	۱۹۱۳ »	توچي - وزیرستان	
٥٩	۱۹۱۵ »	بنیر - باجوړ - مومند	
٦٠	۱۹۱٦ »	مومند (چه د انګریزانو په واسطه محاصره شوي و)	
٦١	۱۹۱۷ »	مومند - مسود	
٦٢	۱۹۱۹ »	دوړ - خیبر - ژوب - وزیرستان	
٦٣	۱۹۲۰ »	» » » »	
٦٤	۱۹۲٥ »	وزیرستان	
٦٥	۱۹۲۷ »	مومند	
٦٦	۱۹۳۰ »	پیښاور - اپریدي ، مومند ، وزیر	
٦٧	۱۹۳۲ »	مومند - باجوړ	
٦٨	۱۹۳۳ »	» »	
٦٩	۱۹۳٥ »	مومند - وزیر	
٧٠	۱۹۳۷ »	وزیرستان (چه د انګریزانو حکومت [illegible] دوا - دوا اوږد)	

مصارف :

څنګه چه په ۱۹۳۵ ع کال د انګریزانو [illegible] شوي دي [illegible] تجاوزو [illegible] انګریزانو [illegible] مصرف [illegible] (۱)

ملک [illegible] خان [illegible] د انګریزانو [illegible] لیکي چه په ټول [illegible] د انګریزانو عسکري مصرف له [illegible]

(۱) مسئلهٔ پښتونستان - ۳۳ مخ .

کړ وه او چه له هغه څخه «دوه ویشت کروړه» خاص د پښتني سرحد پاره لګیده (۱)

نو لوستونکی لدې تجاوزاتو او لدې مصرف څخه د انګریزانو امپریالیستي پټ نیت اټکلولای شي چه دوی تر څه اندازې د بې ګناه پښتنو په بربادۍ پسې ملا تړلی وه ؟؟!

۶ـ اوسنۍ دوره:

د پښتنو او انګریزانو هغه کشمکش روان و، چه د زمانې تقاضا او د هندوستان د خلقو بیدارۍ انګریزان مجبور کړه چه نور نو د خپل استعمار کمپله د هندوستان له اولسي ځمکې څخه ټوله کړي. خو څنګه چه ئې نه غوښته چه دا ځمکه پخپله د انګریزانو د امپراطورۍ له نفوذ څخه خلاصه شي او په تیره بیا د بولان، ګومل، خیبر او چترال درې ورته د ځانولو خولې بیکاره پریږدي.

نو د ۱۹۴۷ ع کال د جون په دریمه ئې هندوستان پر دوو برخو وویشه چه یوه ئې په نوم ئې هندوستان او بله ئې پاکستان وباله. پدې وخت کې د پښتنو او قولي حق پسندو ځینو دا یقین و، چه د پښتنو د ځمکې اختیار به پښتنو ته وسپارل شي.

ځکه چه انګریزانو او پښتنو تر اوږدو کلونو وروسته د پښتنو د ځمکې یوه برخه ئې په زور له پښتنو څخه قبضه کړي وه نو چه انګریزان تله حق دا و چه د پښتنو ځمکه ئې بیرته پښتنو ته حواله کړې وای او د برما او سیلون په شان ئې د دعوی مشروع حق آزادۍ منلی وای. همدا سبب و، چه خان عبدالغفار خان د خدائي خدمتګارانو مشر په مرکزي پښتونستان (پیښاور) کې او خان عبدالصمد خان د انجمن وطن مشر په جنوبي پښتونستان (بلوچستان) کې د آزاد پښتونستان آواز اوچت کړه او جناب فقیر ایپي په جنوبي پښتونستان (وزیرستان) کې د دعوی تائید وکړ.

خو انګریزانو د پښتنو دا حق آواز وانه وریده او په محکوم پښتونستان کې ئې ابتدائي ... کړي شروع کړه ... دیاده ئې ... تیار کړه چه په ئې هندو او ... مسلمانان ... دیارو.

---

(۱) سرحد پر ... ۵۰۰ مخ.

او د رای ورکوونکو څخه صرف دا پوښتنه کېدله چه د هندوانو خوا ته ځي که د مسلمانانو ؟ دا یې نه پوښتنه چه د هغه ځای د پښتنو د آزادۍ پوښتنه وه او د هغه ځای د پښتنو مشرانو یې آواز اوچت کړی و، هیچا و نه کړه او نه انګریزانو دې پوښتنې ته موقع ورکوله .

د دې غیر عادلانه رویې په مقابلکې تولو آزادي‌خواهو پښتنو له رای ورکولو څخه ځان وژغوره او په رای ګیرۍ کې ئې هیڅ برخه وانخیستله او د محکوم پښتونستان له قریبا دري ملیونو کسانو څخه صرف د دري لکو خلقو نومونه د رای ګیرۍ په دفتر کې ثبت شول او هغه هم اکثره هغه پنجابیانو ته د رای ګیرۍ اجازه ورکړی شوې وه چه په محکوم پښتونستان کې په تجارت مشغول وو، چه په دې ترتیب نو خالصو پښتنو خو دا لږ برخه په هغې اجباری رای ګیرۍ کې اخیستې ده او سره له دې تولو چلو او فریب کارۍ او دا چه په مقابلکې هیڅوک او هیڅ مخالف موجود نه و بیا هم په سلو کې نه څلویښت دا یې د انګریزانو د توقع پر خلاف ښکاره شول . د هم دې غیر عادلانه او شا ختکی رای ګیرۍ په اثر د انګریزانو امپریالستی حکومت د محکوم پښتونستان ځمکه د پاکستان خاوره اعلان کړه .

په دې وخت کې د افغانستان حکومت چه د پښتونستان له پښتنو سره دینی ، آزادی عنعنوی او قومی اشتراک لري د ۱۹۴۷ ع کال د جون په ۱۳ په لندن کې د افغانستان د مختار وزارت په ذریعه د انګلستان پر حکومت داسې پروتست وکړ :

په دې اسمو ورستنیو کلونکې د افغانستان حکومت په وارو وارو د انګریزانو نمایندګانو ته خبر ورکړی دی چه که په هند کې تبدلات پیښ شي باید د سره د ملیونو پښتنو سرنوشت ته بې اعتنائی سره و نه کتل شی ځکه نو شو د ستنیو تقریرونو د پښتنو له کبله هغه تعهدات او تکالیف چه د تومونو خاوندی په موضوع کې د افغان او انګریز د تیرو شویو معاهدو څخه ناشي نو د نافذ نه ګڼل کیږي :

د انګریزانو امپریالستی حکومت د افغانستان دې معقول یاد داشت ته داسې نا معقول جواب ورکړ چه :

د سرحد ولایت د هغه یو لاینجزی جزء دی ... له هغو جغرافیائي عواملو څخه چه د هغه وسلتان امنیت د هغو تابع دی صرف نظر کیدلای نشی .. او په سرحد کی یو آزاد دولت تشکیلول د هغه دفاع کمزوری کوی (۱) .

هغه وخت چه دا انګریزانو دي ته اړ وا اقدام نه یوازی د حکومت پښتونستان پښتانه په قهر او غضب راوستل بلکه د آزاد پښتونستان او د افغانستان په هر ګوټ کی انګریزانو ددې سیاست ظلم په مقابل کی شدید نفرت او سخت احتجاج پورته شو .

د پاکستان نوی دو میشون حکومت هم کله چه د خپلو پادارانو د په د پښتو په مقابل کی ونیوله او د محکوم پښتونستان په پښتنو ئې سخت ظلمونه شروع کړه .

د ۱۹٤۸ ع کال د اګست په ۱۲ نیټه د صوبه سرحد په چارسده نومی ځای کی پر پښتنو قتل عام جوړ کړی او پاسموونی کښتاو پښتانه ، ماشومان ، ښځی او بوډاګان ئې شهیدان کړل او حتی هغه شخصای پاک قرآنونه چه ئې پښتنو میرمنو پاسر غوږ ولی نیولی وه په ماشینګنونو سوری سوری کړه .

د هغه ځای د پښتو محبوب او ګران مشر خان عبد الغفار خان ئې د ۱۲ ز لو څخه اتی [illegible] او [illegible] حق په جیلونو کی واچول او هم [illegible] پښتونستان ([illegible]) [illegible] آزادی [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] پښتونستان [illegible]

[illegible] آزاد پښتونستان [illegible] د پښتونستان [illegible]

[illegible]

[illegible]

ترتیب [illegible]

---

(۱) مسئلهٔ پښتونستان ۲۹ مخ



په امریکا کی د پښتنو مېرمنو له خوا د پښتونستان بیرغ اوچت شوی دی
(د اتاد زونی مشیگان د ولایت د دیترایت ښار)



د امریکا د میشگان د پښتنو ښځی او نر واړه اوزاړه د پښتونستان د بیرغ
احترام پر ځای کوی

۱۳۲۸ - هجري شمسي :

۱- ددې کال د حمل په ۳۰ د لومړي ځل د پاره د پښتونستان سور بیرغ د آزاد پښتونستان په «تیرا» علاقه کې د ننګیالي پښتون عبدالحکیم خان له خوا پورته شو او په زړو پښتنو هغه ته سلام او احترام وکړه .

❀ ❀ ❀

۲ - د همدې کال د ثور په ۱۸ د باجوړو په چلوزئیو کې د آزاد پښتونستان بیرغ د پنځلسو زره و پښتنو په منځ کې هسک شو او ټولو قسم یاد کړ چه پښتونستان به ګټي او د پښتونستان بیرغ به په خپلو وینو ساتي .

❀ ❀ ❀

۳ - ددې کال د سنبلې په نهمه د آزاد پښتونستان د ټولو قومونو د نمایندګانو له خوا یوه لویه جرګه په کابل کې وشوه او پخپل منځ کې ئې یو مهم تړون لاس لیک کړ چه ددې تړون مواد دادي :

الف : مونږ د آزادو قبایلو ټول قامونه عهد او قول کوو چه آینده به په وحدت او ښو خبرو او کارو کښې پخپلو منځو کښې یو ډه ارتباط سره لرو ، د هر قسم پیښې په مقابل کښې به ټول په یو ډه مشوره او ټینګ اتحاد ده پرو ، او هیڅ یو قوم به هیڅ کله یو کار ځانګړی او د نورو قامو سره د سلا او مشورې نه بې نه کوي .

ب : د آزادو قبایلو ټول قومونه به په ګډه کوښښ کوي چه د پښتونستان د نورو برخو داوسیدونکو سره هم خپل ارتباط قائم وساتي او دهغوی سره به هر کار او ټولو ښو کار کښې ځانونه شریک ګڼي .

ج : ټول آزاد قبائل به د خارج د هر قسم او تجاوز په مقابل کښې به یو لاس او یو فکر مقاومت کوي ، او په دې وسیله به کوښښ کوي چه د پښتونستان آزادي حاصله کړي هغوی به په دې لاره کښې هر قسم ټکلیفو ته

ګټه اخيستونه نيسي او د هر ډول امتيازاتو او مادي مفادو څخه
به تېرېږي .

د : که د پښتونستان په هر قام او هره برخه باندې د هر خارجي دولت له خوا
تيري او تجاوز شي نو ټول قامونه به د دغه په مقابل کښې د ډېرې او هغه تجاوز
په ګوزار وي .

هـ : دا جرګه به اوس د لته جوړه شوې ده او مرکزي لويه جرګه چه د
پښتونستان د آزادو قبائلو ترمنځ وشوه او آينده به په نږدې وخت کښې د ټول پښتونستان
د مشرانو او پوهانو يوه لويه جرګه کېږي او په هغې کښې به ټول حل طلب مسائل
حل کېږي .

و : د آزاد پښتونستان د تشکيل د پاره لوی مرکزي لويه جرګه چه د
آزاد پښتونستان د مختلفو قومونو نمايندګان پکښې را غونډ شوي و او د
پښتونستان د آزادۍ او پوره ملاتړ کی د افغانستان حکومت او ټول [illegible] چه
[illegible] د پښتونستان [illegible]
[illegible]
[illegible]

❁ ❁ ❁


نن د ۱۳۲۸ کال د [illegible] ۳ د آزاد پښتونستان د تيرا [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

بسم الله الرحمن الرحيم والذين استجابوا لربهم واقاموا الصلوة وامرهم شورى
بينهم ومما رزقناهم ينفقون .

[illegible] د پښتونستان [illegible]
[illegible] (پښتونستان) [illegible]



د پښتونستان د تیراه مجاهدین چه اغای مولوی غیرت گل خان ئی مخ کی ولاړدی



حاجي غازي خان کابلي دهند د پښتون جرګې سکرتر د پښتونستان په ورځ نطق کوي

عدل او وفاداری خدمت وکړو او بې د قوم د اعتبار او وفا مړي نه به یو کار قبول نکړو.

ب : د تیرا دا پر بندو قوم دین د اسلام مقدس دین دی.

ج : د اقوام خپل ټول کارونه د قرآن عظیم الشان او د شریعت د احکامو په مطابق اجرا کوي.

د : زموږ رسمي ژبه پښتو ژبه ده.

هـ : موږ پښتانه ټول آزاد یو او پس له دې به هم خپل استقلال ساتو او د خپل استقلال د حفاظت د پاره هر وخت فداکارۍ ته آماده یو.

و : زموږ د مملکت ټول داخلي او خارجي کارونه به (د ټول پښتونستان د مرکزي حکومت د جوړیدو تر وخته) د تیرا د شورى له خوا تصویب او اجرا کیږي.

ز : په معمول صورت به د تیرا شورى په هرو ... وکیلانو ... اجتماع کوي.

ح : په هر هغه تصویب کښې چه د شورى د وکیلانو د دوو برخو اتفاق حاصل شي د آزادو او اکثریت تامین شوی دی.

دې شورى د ۱۳۲۸ هـ کال د قوس په ۲۱ یوه مهمه اعلامیه ... قومي مشرانو، خانانو، پاچاانو، علماوو، افغانستان، د ټولې دنیا د پښتنو، د اسلامي ملتونو او د متحدو ملتو د موسسې په نامه خپره کړه او ... د آزاد پښتونستان ... وه.

❀ ❀ ❀

د ۱۳۲۸ د قوس په ۲۶ د آزاد پښتونستان د شورى ... خانانو او ... مشرانو ... جرګه کړه او ... د ... په ... کښې خپل ... تصویب ... اعلان کړ :

الحمد لله الذي وفقنا بمتابعة كلامه كما قال (واعتصموا بحبل الله جميعا ولا تفرقوا) وصلى وسلم على رسوله الذي بالاتحاد امرنا والاتفاق ... كما قال (ولا تفرقوا ولا ... وكونوا عباد الله اخوانا) اما بعد موږ د آزاد ... د ... او ... د ... وکیلانو ... د ... ټولو ... د ...

وکیلان شوی یو ، او دخدای (ج) او دخپلو قامونو په مخ کښی مو اِدوفا داری قسم خوړلی دی چه د پښتونستان دی خاوری او آزادئ په لاره کښی مسئول یو .

دا یو په اتفاق دغه لاندی مواد دخپل اساسی قانون په دول تصویب او ، او خپلو قامونو ته دهغو دعملی کولو او پیروی سپارښتنه او امر کوو :

الف : مونږ د آزاد سرحد تولو پښتانه د یوه مرکـــز تابع یو چه هغه د پښتونستان حکومتی مرکز دی .

او د همدغه مرکز داداری او سیوری لاندی به خپل آزاد ژوند ون تیروو او تر هغه پوری به خپل مرکز د تیر اشانگی محلی شوری یو ځای بولو .

ب : زمونږ کړن لاره (خطمشی) د اسلامی مقرراتو او حنفی پاک مذهب په مطابق ده چه د تول پښتونستان دحکومت کړن لاره به وی .

او مونږ به د محمدی (صلعم) دپاک دین او دحنفی مذهب متابعت کوو .

ج : زمونږ دغه موقتی مرکز به د دکوهی په شینوار وکښی د (صافو د خوانیخو) پنامه یادیږی .


د : د هر هغه خارجی قوت ، سیاست او وسائلو سره به سخته مبارزه کوو چه زمونږ د آزادئ مخالفت کوی ، او د کراچی حکومت به پخپله خاوره کی هیڅکله نه منو .

ه : که زمونږ د قومونو څخه چه کوم څوک یا کومه ډله د کراچی د حکومت نه پیسې یا نور کومک په لاسه راوړی دهغه دی وکیلانو په مخ کښی به محاکمه کیږی او جزا به ورکول کیږی .


و : تر هغه وخته چه د پښتونستان دمرکز تشکیلات جوړیږی زمونږ د تولو کورنیو او بهرنیو کارو د اجرا کولو مسئولیت به د محمدی وکیلانو په غاړه وی .

ز : د پښتونستان تول څوک حق لری چه په دغه مرکز کښی په پوره احترام یو ځای کیږی او دی ډیری په .

ح : دا جرگه به په هر (۱۵) ورځو کښی یو ځل غونډه کوی او خپل وړاندې غاړی کار د ونه په کولو او اجرا کولو باندې .



دهند په حیدر آباد کښې د پښتونستان بیرغ چه هغه ځای اوسېدونکي پښتانه ورته سلام کوي



دهغه په بهیر کښې د پښتونستان بیرغ چه دهغه ځای خدائی خدمتګاران ورته
احترام کوی

ط: ددې جرګې تصویبونه هغه وخت اعتبار پیدا کوي چه د نمایندګانو د دوو برخو په رایو ووشي.»

ددې شورى مشر جناب محمد شعیب جان د چارمنګ د مرحوم مجاهد ګل صاحب ورور وټاکل شوی دی.

❀ ❀ ❀

۶: د همدې کال د جدي په اوومه ورځ د آزاد پښتونستان د ملاکو رو او شلمان قومونو د پښتونستان بیرغ اوچت کړ او د ملایانو په ګډون کښې یې محلي شورى جوړه کړه او خپل مرام یې داسې اعلان کړ:

«الف: د شورى ټول وکیلان به د ټولو خلقو په مخ کښې د پښتونستان سره د وفادارۍ قسم خوري.

ب: دغه محلي شورى ځان د پښتونستان د (تیرا شانګۍ) په ملي شورى پورې تړي او بیا له دې به دغې شورى یو جزء بلل کېږي.

ج: – ټولې هغه فیصلې چه تر دې تاریخه د پښتونستان د تیرا شانګۍ ملي محلي شورى کړېدي، مونږ وکیلانو له هغو ټولو سره په ټینګه په موافقه لرو، او تر څو چه زمونږ د یو ځای کېدو منظوري د پښتونستان د تیرا شانګۍ له خوا راغلې زمونږ فیصلې به د ښاغلي عجب خان په موقتي ریاست په (ملایانو ګډون) کښې کېږي او ددې د پاره به شورى په هره هفته کښې یو ځل غونډه کوي(۱)»

❀ ❀ ❀

۷: د ۱۳۲۸ ه کال د جدي په لسمه د (وقارو ګربابا) په زیارت کښې د باجوړ د سالارزو له خوا د باجوړ شانګۍ محلي شورى تشکیل شوه او خپل مرام یې داسې وټاکه:

«الف: د شورى وکیلان په ټول اخلاص او دوستانه په لاندې ډول قسم خوري:
د پاک خدای (ج) او د قرآن عظیم الشان په نامه قسم خورو او عهد و پیمان کوو چه د خپل وکالت په موده کښې به خپل قوم او وطن ته په صداقت خدمت کوو، او د اسلامي احکامو په اساس او د پښتونستان د ملت په مفاد به وفادار او صادقان یو

---

(۱) د خپلواکۍ ترون – ۲۴ مخ.

او دا وفادارى به د خپل ژوند تر آخره پورى د خپل ځان او مال په قربانى ساتو .

ب : د باجوړ د سالار زو شورى تر هغه وخته چه د پښتونستان د باجوړ د ټولو قامونو شورى (د باجوړ شا نګه) جوړه شى خپل کارونه به پخپله کوى او هغه وخت چه د غه شورى جوړه شوه کسان به ورته پوره کړى .

ج : زموږ رسمى دين د اسلام مقدس دين دى .

د : محمدى (صلعم) شريعت د احکامو په چارى کولو کښى به پوره کوشش کوو او په موضوع کښي چه د پښتونستان رسمى ژبه پښتو ده د پښتونستان د ترلاندى ټکي [illegible] ملى شورى پښتو ژبى فيصله موږ هم تاييد وو او هم له هغې سره به اجرآت کوو .

هـ : هغه ټول کسان چه د پښتونستان د آزادى په موضوع کښي خصوصاً يا په مخالفت کوى زموږ د دين ، وطن ، قوم ، ننګ ، ناموس او آزادى غليمان دى ، او د داسى کسانو سره به د دښمنى معامله کوو .

و : ښځى د سالار زو ټول کورنى او قبائلى کارونه به د دغې شورى له خوا اجرا کيږى .

ز : د پښتونستان شورى (د باجوړ شا نګه) به په هر و (۱۵) ورځو کښى جلسه [illegible] د ([illegible]) [illegible] .

ح : زموږ ملى او رسمى بيرغ هغه دى چه [illegible] د تيرا [illegible] ننګيالو له خوا [illegible] شوى دى .

[illegible]

[illegible] پريکړه [illegible] .

❊ ❊ ❊

۱۸ د ۱۳۲۸ د [illegible] ۲۲/۳/۱۳۲۳ ورځى د يرستان (منطقى پښتونستان) د ټولو قامونو استازو په ([illegible]) مقام کښى يو لوى جرګه جوړه شوه او د منطقى پښتونستان ايالتى شورى [illegible] . [illegible] د آزاد پښتونستان اوى مجاهد [illegible]

فقیر صاحب ایپي دوزیرستان دا یالتي شورى په مشرۍ او د یاست ومنل شو او د جدي
په (۲٦) ورځ جنرال ب فقیر صاحب د خپل حکومت مرام او سیاست داسې څرګند کړ:

«الف: د پاکستان له حکومت نه غواړو چه د پښتونستان د (۷) ملیونو پښتنو د خاورې آزادي او تمامیت د امن او صلح له لارې اعتراف وکړي او له فتنې او ګډوډۍ نه دې خپلو لښکرو او ملکي مامورینو او ایجنټانو ته امر وکړي چه خو د آزاد پښتونستان له ټولې خاورې نه ووزي او که دا ونه کړي نو کوم واقعات چه د دوی د دې له جهت په اثر پیښ شي د هغو د ټولو عواقبو مسئولیت به هم د خدای او هم د متحده ملتو د موسسې په نزد د پاکستان په غاړه وي.

ب: څنګه چه زمونږ نظراتي وسائل نیمګړي دي د خپل ورور افغانستان له دولت څخه چه تل د پښتونستان سره صمیمي همدردي لري هیله کوو چه زمونږ پروګرام د پښتونستان متعلق د افغانستان په راډیو او جرایدو کښې نشر کړي.

ج: د دنیا د عدالت پسندو مرکزو او د ملتو له موسسې نه غواړو هیله کوو چه پښتونستان دې یو آزاد ملت او مملکت او د خپل برحق او مسلم حق په حیث وپیژني او د پاکستان حکومت دې مجبور کړي چه د پښتونستان د خاورې په آزادۍ او تمامیت اعتراف وکړي.»

۞ ۞ ۞

۹: د ۱۳۲۸ هـ کال د دلو په [illegible] د منځني پښتونستان محلي شورا جوړه شوه او په (ز یارت غانبي) کې ئي غونډه وکړه، د لومړۍ غونډې فیصله ئي دا وه:

الف: هغه تصویبونه چه پرون د شمالي پښتونستان [illegible] له خوا شوي دي هغه ټول [illegible] کولو اړونده کړي.

ب: هغه [illegible] چه [illegible] پښتونستان د محلي ایالتي شورا او حکومت له خوا د پښتونستان د محلي [illegible] او [illegible] شوي او [illegible] هم دا دې د [illegible] هم هغه د پښتونستان د محلي [illegible] په ټول [illegible] او [illegible] کښې [illegible] کړي.

ج: [illegible] چه د افغانستان د ملت او حکومت [illegible] چه د پښتونستان [illegible] او [illegible] ورونه دي د هغو اخلاقي کومکو او همدردیو نه چه [illegible] د پښتونستان د آزادۍ او سعادت په لاره کښې [illegible] کوي [illegible]

او داد ورڅکوی چه دپښتونستان ملت به هغه هیڅکله هېر نکړی او هیله لری چه دپښتونستان او افغانستان دملتونو ورور ولی او اتحاد دهمیشه دپاره پوره ټینګ او نه شکېدونکی پاته شی .

د ... دشورای عمومی غونډی په یوه هره میاشت کښی یو ځل په مرکز (زیارت غانبی) کښی کیږی او ددې دپاره چه کارونه ښه او په زړه پوری په مخ ولاړشی دشورای له غړیو نه ئې د(۷۲) تنو غړیو یوه جرګه (کمیټه) جوړه کړه او هغه ئې موظفه کړه چه هروخت په غونډه کوی او د فوری کارو داجراکولو امر پوره کوی اودشورای عمومی غونډی ته په دخپلو کارو رپوټونه وړاندی کوی (۱) »

۱۳۲۹ هـ ش

د ۱۳۲۹ هـ کال دمیزان په لومړی ورځ دجنوبی پښتونستان (بلوچستان) ملی شورای جوړه شوه او خپل ایالتی حکومت ئې په (توبه) نومی علاقې کی اعلان کړ او دخان محمد ایوب خان په مشرتوب ئې دپاکستان د حکومت پر خلاف خپله مجاهده شروع کړه .

❁❁❁

په همدې ترتیب د پښتونستان تحریک تر هندوستان او امریکا پورې ورسید .

په هندوستان کی ددې تحریک دپرمخ بوولو دپاره یوه فوریه جرګه د(پښتون جرګه هند) بنا به دمولانا محمداکبر خان په مشرتوب او د غازی خان کابلی په سکرټری جوړه شوه او تحریک ئې تر اوسه پورې مهمې مهمې جلسې کړی او د پښتونستان دتبلیغ په لاره کی ئې موثر قدمونه اخیستی دی .

ددې ځای مطلب دپاره ئې څېړنی رسالې په انګلیسی او اردو ژبه نشر کړی او اوس هم یوه مجله د(پښتونستان) په نامه په انګریزۍ ژبه په ډهلی کی چاپوی .

په دې سږ کال ئې خپل لوئی او مرکزی اجلاس ته د آزاد پښتونستان نما ینده ګان هـ

(۱) د خپلواکی تړون ... ۳۰ مه ګڼه





ور غوښتې وو ، او سږ کال ئې د مې په میاشت خپل دوهم اجلاس په ډهلي کې منعقد کړ او اوس هم د پښتونستان د تحریك د پاره په ډیر جدیت لګیا دي کار کوي .

همدا شان د امریکا په مشیګان او کلیفورنیا په ایالتو کښې چه پښتانه اوسیږي په ډیرې فداکارۍ د پښتونستان د تحریك د پرمخ بیولو د پاره د عمل میدان ته را وتلي دي ، د مشیګان پښتنو د ښاغلي امیرشاه مومند تر مشرۍ لاندې او د کلیفورنیا پښتنو د ښاغلي ډاکټر او رنګ شاه خان په مشرتوب د پښتونستان ټولنې جوړې په امریکا کې جوړې کړي دي او د پښتونستان د خدمت په لاره کې په ډیر فعالیت مشغول دي . د امریکا د پښتنو له مهمو فعالیتونو څخه یو فعالیت همدا وو چه کوم وخت د پاکستان پخوانی صدراعظم په ۱۹۵۰ ع کال او د پاکستان خارجه وزیر ظفرالله خان چه په ۱۹۵۱ ع کال امریکا ته تللي وو ، د امریکا پښتنو په خورا جوش او خروش د هغوی په مخ کې د پښتونستان مظاهرې کړې دي ، دوی په هغو ځایو کې چه دوی اوړي اوچتې کړې وې چه پر هغو باندې په انګریزي ژبه داجملې لیکلي وې :

د ژوندی دی وي پښتونستان - مړه دی وي د پښتونستان دښمنان . خان عبدالغفار خان او ۱۲ زره پښتنو سره ولي په جیل اچول شوي دي ؟ [illegible] هغو [illegible] لاړ شي چه پښتونستان جوړ شي !!! .

د امریکا د پښتنو یو نماینده [illegible] امیرخان [illegible] کابل [illegible] د پښتونستان [illegible] د افغانستان [illegible] ([illegible]) [illegible] کابل [illegible] ایکل شي) .

[illegible]

[illegible] د پښتونستان [illegible] د پاکستان [illegible] [illegible]

حکومت هم د پښتنو دی اقدامات ته بیکار ناست نه دی بلکه هر څومره قوت چه ئې درلود په خورا ډېر زور او شور ئې د پښتنو تباهی ته ملا تړلې ده څو تنه چه ئې پلاس ورغلی هغه ئې جیلخانو ته استولي او یا ئې فرار کړی دی او که آزادو پښتنو باندی ئې مسلسل بمونه اورولي او تیجاوزونه ئې کړی دی چه دلته ئې په ډېر لنډ ډول د پاکستان د حکومت څو مهم او لوی تجاوزونه د نمونې په ډول ذکر کوو :

۱ ـ د ۱۹۴۸ ع کال د اګست په دوولسمه ورځ د پاکستان متجاوز او دومیتون حکومت د محکوم پښتونستان په چارسده مقام کی قتل عام جوړ کړ چه سوو بې ګناه پښتانه او پښتنې پیرمخی، ماشومان او بوډاګان ئې په ماشین ګنونو او توپو سره وویشتل حتی د پاک خدای قرآنونه ئې هم په ګولیو سوری سوری او شهیدان کړل . د پاکستان حکومت پدې غرض دا قتل عام جوړ کړ چه د هغه ځای پښتنو د آزادی غوښتنې ولې او خپل مشروع حق خپلواکی ئې غوښته .

۲ ـ د ۱۹۴۸ ع کال د جون په ۳۱ د وزیرستان مجاهدینو د «ټی» په علاقه کی لویه غونډه کړې وه چه په هغه کی ئې د خان عبدالغفار خان د خلاصیدو او د خپلې آزادی په باب کی مذاکرې کولې . د پاکستان متجاوز حکومت په داسې غونډه او په ګناه بلله څو د شیر محمد خیلو، عمل خیلو، بوزې خیلو او محمد خیلو پر کلیو ئې د هوایی ښار په بمباری وکړه ، ډېر بیګناه انسانان او واښه ئې ووژل . دې بمباریو او وحشی او وژنو ئې مسلسل دوام درلود .

۳ ـ د ۱۹۴۸ ع د جولائی په ۴ نېټه بیا د پاکستان حکومت د مده خیلو ، او تما نزو ملمت خیلو او د ... پر قامونو باندی دوولس ورځې مسلسله بمباری وکړه .

۴ ـ د همدې کال د اګست په ۲۰ د پاکستان متجاوز حکومت د ... په علاقه کی د خپلې آزادی غوښتونکو پر کورونو بمباری وکړه .

۵ ـ د ۱۹۴۸ ع د سپتمبر په ۲ د پاکستان متجاوز حکومت د ... او د کاکا خیلو پر کلیو ئې بمباری وکړه ، ... د دې په وسیله خلقو ته ئې ډېر جانی او مالی تاوان ورساوه .

٦ـ د ۱۹٤۹ ع کال د فروري په ۲ د پاکستان حکومت اعلان وکړ چه د پاکستان حکومت دې ته حاضر دی چه د فقیر صاحب ایپي د نمایندګانو سره مفاهمه او خبرې اترې وکړي که چیرې ئې د پاکستان د حکومت نمایندګان قانع کړه نو د پاکستان واکوالان دې ته تیار دي چه د پښتنو مطالبه ومني . پښتنو د پاکستان د حکومت په دې اعلان باور ونکړ او د جون په ۲۵ پښتانه د «سپین وام» په علاقه کې سره یوځای شول ـ خو د پاکستان د حکومت له خوا د مفاهمې او خبرو اترو په عوض د ماشیندارو او توپو ګولۍ او د جهازو بمونه پر پښتنو واورول شول . دا بمباري له مرختو ښځه تو امراو یدو پوري تجاوري وه

۷ـ د ۱۹٤۹ ع کال د فروري په ۱۷ چه د ملك اشد د علیه د حمة پر زیارت د منځنۍ پښتونستان دوه زره ملي مجاهدینو چه په هغو کې لوی لوی علما ، سپین ږیري او د حاجیون هم شامل وو ، لویه جرګه کړې وه . دوی د پاك خدای د قرآن په لوستلو او په تکبیر ویلو مشغول وه چه د پاکستان د ظالم حکومت دوه جهازونه په هوا کې د دوی پر سر د اغلل او سمدستي ئې ماشیندار پرې وچلول او بمونه ئې پاندې واورول له بلې خوا له میرام شاه نه د لویو توپونو ډزې شروع شوې ، چه ډیر د قرآن شریف قاریان او د اسلام د دین علما او نور بې ګناه پښتانه شهیدان شول .

۸ـ د ۱۹۵۰ ع کال د مارچ په ۱۷ د خیسور او توچي پر علاقه باندې د پاکستان د متجاوز حکومت له خوا شدیده بمباري وشوه چه ۲۱ تنه بېګناه پښتانه شهیدان شول .

۹ـ د همدې کال د جولائي په ۲٦ چه د وانه په علاقه کې د پاکستان د حکومت د تجاوزونو پر خلاف مظاهره وشوه . د پاکستان د حکومت هوائي جهازونو هغه علاقه سخته بمبارد کړه .

۱۰ـ د ۱۹۵۰ ع کال د ستمبر په ۷ چه د طاوس خان ، مسود په بخیل کوټ پاندې د پښتونستان بیرغ اوچت کړی و ، د پاکستان د حکومت جهازونه د هغه پر کور او پر شاوخوا کلیو خورا بېرحمانه بمباري وکړه ـ ډیر ماشومان ، ښځې او نارینه ووژل .

۱۱ـ د همدې کال د ستمبر په ۱۳ چه فقیر صاحب ایپي د جهازو ټوټې په کلي کې میلمه و ، نو د پاکستان حکومت د جهازو په ۹ ټوټو پر هغه کلي بمباري وکړه .

۱۳- د ۱۹۵۰ع د اکتوبر په ۳ چه دوانې په دلانه کې احمدزیو، وزیرو د پښتنو بیرغونه اوچت کړی وه، د پاکستان د متجاوز حکومت جهازونه د اقلعه او کې د عمانه بمباری وکړه. (۱)

پاس ترتیب د افسرانو د امپریالیستي مکتب شاګردانو د انګریزانو تر تګ ورد پښتنو په باب کې هم هغه د شیلو استاذانو د ښمنانه پالیسي تعقیب کړه او هم هغه شا له انسانیت او اسلامیت نه لیرې رویه د پښتنو سره د اواخیستله. خو سره له دې ټولو مظالمو او شدیدو بمباریو ئې بیاهم و نشوه کولای چه د پښتنو سرونه ټیټ کړي.

د پښتونستان پښتانه که څه هم د پاکستان د حکومت غوندې وسله نلري او نه ئې لوی توپونه او هوائي جهازونه شته خو یوازې د پښتني غیرت او همت له برکته ئې په لاس اوزه و توپکو د پاکستان د متجاوز حکومت د جهازونو او توپونو او ماشینو مقاومت کړی دی.

او خپل مشروع حق آزادي ئې ساتلی ده او هم د پښتونستان د تحریک په لاره هره قرباني او فداکارۍ ته حاضر شوي دي او تر [illegible] په پوره آزاد پښتونستان کې [illegible] کول [illegible]


پنځمه برخه

د پښتونستان توضیحات :


[illegible]

[illegible]

(۱) [illegible]



امریکایي پښتانه د پښتونستان د بیرغ احترام کوي (د کلیفورنیا په سکرامنتو کې - د ۱۹۴۹ ع کال د جون ۱۰)



ماخذونو څخه چه زما لاس کې وه ، د پښتونستان ټول نوميالي را غونډ کړم څو بيا به هم ډير داسې نوميالي وي چه ما ته نوم او پيداش نه وي او يا ئې د ژوند حالات په لاس را غلي نه وي ، نو ځکه به او ستونکي زما عذر ومني .

ترتيب :

د پښتونستان نوميالي په دې برخه کې د «الفبا» په ترتيب راوړه شوي دي ځکه دلته لومړی د «الف» نوميالي په ذکر شروع کړو چه د نومو په سر کې ئې «الف» وي او بيا به نور نوميالي هم په دې ترتيب ذکر شي !

الف :

۱ - آخون درويزه :

د (۹٤۰ هجري) په حدودو کې په پېښاور يا ننګرهار کې زيږيدلی دی پلار ئې «ګدا ئي» او نيکه ئې «سعدي» نوميده .

دده نيکه ګان له قندوز څخه د شمالي پښتونستان خوا ته راغلي وو ، پښتانه آخون درويزه په عالم او ډېر ديني متعصب او په پښتو کې ډير مشهور اثري د پښتو قديم په ادب کې ډيره نوي ځکه ئې درس پاته شوي دي . متداوله علوم ئې له ملا محمد يا پيش او ملا محمد زنګي او ملا سنجر يا پيش څخه او په طريقت کې ئې د پير بابا (سيد علي ترمذي) لاس نيولی کړی و .

په پښتو او پارسي ډېر تاليفات لري ، چه ځينې ئې مشهور هم دي ، د دده تاليفاتو شمير (۵) ليکلی شوی چه مشهور ئې دا دي :-

۱ - مخزن الاسلام چه په مخزن درويزه يا مخزن پښتو مشهور دی .

۲ - تذکرة الابرار والاشرار ، چه په پارسي ژبه دی او په (۱۲۱۳) کې چاپ شوی دی .

۳ - ارشاد الطالبين (پارسي دی) .

آخون درویزه د پیر روښان سخت مخالف و، او هم دی و چه د پیر بابا په پیروی ئې پیر روښان ته د پیر تاریک لقب ورکړی وو.

دی په ۱۰۴۸ هجری کال په مرکزی پښتونستان (پېښاور) کښی وفات شوی او په (هزارخانو) کښې ښخ دی.

۲ـ آخون ګدای:

دمغلو تر عصر وروسته شاعرو په دوره کښی د پښتو شاعرو ـ ده ژوند په ۱۱۷۲ هجری کال پائی ته دی.

ده یو کتاب د منافع المسلمین په نامه په پښتو نظم کړی دی چه وروسته په دا آخون ګدای د مشهور د شو په طریقت کی د میان کاکا شیخ رحمکار او په شعر کی د میان بابا پیرو وو.

د غزلیاتو دیوان هم لری دا ئې نمونه ده دی:

چه په زړه کی درد ئی اوږده دیده وینه — کله نی دی ده او خوی د ښه وینه
په صاحب نظرو کی په غم نصیبی شی — سترګو ته ئې هم په غم ښکاریږه وینه

۳ـ آخون قاسم:

د [illegible] دغه دوره شاعر [illegible] آخون قاسم د [illegible] آخون دی په ۱۱۷۲ هجری کال کی د [illegible] کتاب په پښتو او [illegible] د [illegible] ئې [illegible] آخون درویزه د [illegible] دی.

[illegible] کتاب [illegible] په (۱۸۱۰ عیسوی) کال [illegible] دی.

[illegible]

پیر روښان [illegible] جلال الدین ته د [illegible] وروسته ئې [illegible] کړی دی.

د ده د ژوند او ده د کلام نمونې د هماغه کتاب په (۳۱۲-۳۱۳-۳۱۴) مخونو کې مفصل ليکلې شوې دي ـ بيا ليکلو ته ئې تکرار دی، هلته دې رجوع وشي.

۵ـ احمدجان:

د پښتو شاعر او په عالم وو، په (۱۳۳۲ هـ ق) کال د پېښور په ..... د ..... علاقې کې اوسېده.

ده د نظم تکولو سره ئې ډېره دلچسپي درلوده ـ په نظم کې ده ملا نعمت الله پيروي کړې. دا قصې ده په پښتو کړې دي، چه ټولې چاپ شوې دي:

۱ـ شهزاده شهرويه

۲ـ ورقه و گلشاه.

۳ـ ممتاز

۴ـ شهزاده بهرام و گل اندام.

۵ـ امير حمزه

۶ـ يوسف زليخا.

دا رباعي د ده ده:

ستا غمونو سرې په زړه کې وطن ونيو   مستي اوښته سر دې عشق که بدن ونيو

ناڅه غونډه نصيب شوه د ناسته کړ   ما په ځان پورې پټوله کفن ونيو

۶ـ احمد اخونزاده شيخ:

د پښتو له شعر وپېژندګو شاعرانو څخه و ـ او ..... کاله د ..... پېښور ..... په شنوارو علاقه کې اوسېده.

دامير حمزه داستان ئې په پښتو نظم کړی دی.

۷ـ احمد يار طالب:

د پښتو يو بل شاعر ..... غزليات او رباعيات کتاب ..... کړ ..... ځان

چاپ کړی دی . دی په قوم فریدخیل او د اشغر په او ته انزو کی اوسیده ، خو قبر ئې په مردان کی دی . دا مطلع دده د غزل دی:

دا گلرنگه اوښو دا نیشتر د چا دی؟
دا دوان قدم بوسی له نور د چا دی؟

۸- احمدجان (نښتر)

د پښتو له مشهورو نثر لیکونکو څخه و ، څه تر پرسخ کاله پورې په پېښاور کې اوسېده سنې کال (۱۳۲۰ ه ش) کال وفات شو . دی دیر وخت د انګریزانو د پښتو معلم و . دا کتابونه ده په پښتو لیکلي او یائې ترجمه کړي دي :

۱- تاریخ افغانستان؛ چاپ شوی دی .
۲- گنج پښتو .
۳- د قصه خانی گپ چاپ شوی دی .
۴- هغه دغه؛ چاپ شوی دی .

۹- احمد گل

د آزاد پښتونستان د [illegible] اوسیدونکی او مشهور شاعر و ، د پښتو او [illegible] په نظم کړی دی .
په (۱۲۸۱ هجری) کال وفات شوی دی .

۱۰- آدم درخانۍ

مصنف [illegible] معلوم نه دی .
د (۹۵۵ هجری) [illegible] په [illegible] کی اوسیده [illegible] د [illegible] په پښتو کی [illegible] جلال الدین اکبر [illegible] (۹۶۳ - ۱۰۱۴) [illegible] کی و .
آدم خان او درخانۍ [illegible] ملاوستان لو و .

۱۱ - ارزانی:

د پښتو مشهور شاعر و، په پارسي، عربي او هندي ئې هم شعرونه ويل. په قوم خيشکی او د پير روښان ملګری او خپلوان. آخون درويزه د ده داسې تعريف کوي:
«يو تيز فهم او فصيح شاعر و، په عربي، پارسي، هندي او پښتو کې به ئې اشعار ويل...»
وائي چه د خيرالبيان د کتاب په ليکلو کې ئې هم برخه اخيستې ده.
يو کتاب ئې «چار رساله» نوميږي چه په څلورو ژبو دی. بل مستقل ديوان هم اري.

۱۲ - ارسلا سواتی

په سوات کې اوسېده او د پښتو ملي شاعر و. دالمستر پخپل «هار و بهار» کې دده ذکر کوي. ده اکثر اشعار پر ملي لحنو نواو او ازانو ويلي دي. د يوې چار بيتی سر ئې داده:

په تور د وشـــو ورته لاړم ننـــوا تی
يار مـــې د کـــن له ته پخپله مـــې که پا تې

۱۳ - اسماعيل سربنی:

د بيټنی زوی او د سربن ورا ره و. سربن زوی نه دراوده. ټل به ئې خپل ورور بيټ نيکه (بيټنی) ته شکايت کاوه. بيټ نيکه خپل د ازوی (اسماعيل) ده ته ورکړ او اسماعيل
د سربن پالو د کې ورو ژل شو. څو چه د پاښت زيستو لکې دوساني ګڼې جوړ شو او د
پښتونستان د کسې په غرونو او ده مدوه په ولايت کې ئې بارشورت ووه ده دې سربن ده
يو دې چه اوس شيخ وه. د پښتو شا عر هم و. د (٥٠٠) کاله په شاو خوا کې
اوسېده — ده د يو شعر پر بنا چه د خپل کاکا د زوی د څر ښوونې په پلټون کې ويلی دادی:

څه پو هې د يو ن هې — مخ ئې پلټو ن هې
ه کسې خر ه شته — کې خر خوو ن هې

۱٤ـ اشرف خان هجری :

د خوشحال خان خټک مشر زوی او د پښتو ژبې مشهور شاعر دی . هجری ئې تخلص و [illegible] مشر و ، او د خپل د متجاوزو مغلو سره ئې ډېرې جنګونه کړي دي . خو په ۱۰۹۳ هجری کال د اورنګ زیب پلاس ودی او د بیجا پور د په قلا کې تر اسو کالو بوری بندی و او په همغه بندیخانه کې په ډېرې ناکامی وفات شو ـ دی په خپله وائي :

د غراب عندلیب خټک ئې بند په هسې ملک کې | چه مغلو ملا ئې تړ په وائي

دوطن په هجران کې ئې سوز تا ک شعرونه لري چه دلې ېې ئې دادی :

بې وطنه تنها پروت یم په غربت کې | ئن له مسافره همدم د صنم غم دی

د هواد آشنا په ستر ګو لیده نشی | که په خوب د [illegible] شي بس کرم دی

قاصدان له [illegible] | سلام باد دا د سوی [illegible] ئې هم دی

۱۵ ـ احمد نو :

د آخون [illegible] او د پښتو ژبې [illegible] شاعر و [illegible] ۹۰ هجری کې [illegible]

[illegible] ،

۱۶ ـ افضل خان خټک :

د اشرف خان هجری زوی او د خوشحال خان خټک [illegible] .

[illegible] د پښتو ژبې شاعر او [illegible]

[illegible] په (۱۱۰۸ ه) کال [illegible] خوشحال خان

خټک [illegible] افضل خان [illegible] په [illegible] کابل [illegible]

بوت [illegible] کابل [illegible] .

د خوشحال خان [illegible]

[illegible] .

[illegible] دی :

۱ـ تاریخ مرصع، د پښتنو عمومی تاریخ دی .
۲ـ علم خانهٔ دانش، (د کلیله او دمنه ترجمه) .
۳ ـ پادری هیوز دده یو بل کتاب هم ذکر کوی .
دی د ۱۱۸۳ هـ کال د برات په میاشت وفات شو .

۱۷ـ اکبر خټک :

دافضل خان خټک زوی او د پښتو ژبې شاعر و ، د پښتونستان د خټکو په علاقه کی اوسیده .

۱۸ـ اکبر شاه :

د پښتونستان د پښتو ژبې شاعر دی د بونیر په جنګ کی شامل و ، او د هغه جنګ وقایع ئې په پښتو نظم کړی دی .

۱۹ـ الله داد :

د پښتو شاعر دی چه مستر راورټی د قاسم علی اپریدی د قصیده ی په حواله د ده نوم ذکر کړی دی .

۲۰ـ الله داد :

د جلال الدین زوی او د پیر روښان لمسی و ، چه د مغلو او زخوا او ير خلاف ئې ډیرې جنګونه کړی دی .
(تفصیل ئې ددې کتاب په ۳۴۲ مخ کی راغلی دی . هلته دې اوکتل شي) .

۲۱ـ الهیار اپریدی :

د پښتو شاعر ، او د پښتونستان د کالرستان د بودی په علاقه کی اوسیده .
په (۱۱۰۹ هـ) کال کی زیږیدلی دی او تر (۱۱۴۱ هـ) کال پوری ژوندی تو ...
دی . دغزلیاتو بشپړ دیوان ارئ دیوی غزلی مطلع ئې دا ده :

ستا په غم کی بند یوان یم د ا یبور په نشم
د یلتون او ئي تو ... په ... په نشم

۲۲ـ امام الدین:

شیخ امام الدین محمد عنایت الله دشیخ کبیر بالا پیرزوی او دشیخ قاسم نمسی و د(۱۰۲۰ هجری) کال دمحرمی میاشتی ددوشنبی په ماښام دپېښور په «بډنی» کی زیږیدلی او د (۱۰۶۰ هجری) کال دمحرمی په ۲۳ دچهارشنبی په ماښام وفات شوی دی مورئی «تاج بی بی» نومیده دملك ددو یز لور وه ۰

امام الدین لوی شیخ او مشهور روحانی و، په تاریخ کی ئی هم لاس درلود ۰ یو کتاب ئی د «تاریخ افغانی» په نامه په پارسی لیکلی او په هغه کی ئی دپښتو تاریخ راوړی دی ۰

۲۳ـ امام الدین:

دپښتونستان یو بل قصه ویونکی شاعر دی - تر (۱۲۰۰ هجری) وروسته ئی ژوند کاوه ۰ د «مجموعه» قصه ئی په پښتو نظم کړیده ۰ راورتی ئی دخپل گرامر په مقدمه کی ذکر کړی ۰

۲۴ـ امان گجرانی:

دپښتو شاعر و ۰ اودپېښاور د په شا و خوا کی اوسیده ۰ د «مقتول جفاء» افسانه ئی په پښتو ژبه د «افسانه ختم» او د هیناده نظم کړی او ترجمه ئی په ۱۲ دولو کلی شوی ده ۰ کړیده ۰

۲۵ـ امانت ملیار:

دپښتو قوی شاعر و ۰ دپاد پښتونستان دپېښور د پېښلاخ د ملیانو په کلی کی اوسیده ۰ ده خپل اشعار اکثره پر مقلی اوزان ویلی دی ۰

۲۶ـ امانت:

دپښتونستان بل شاعر دی دپاچا جهانزاده کی اوسیده او پاخوانی ئی کوله ۰

۲۷- امته‌خان اکوزی:

د پیر روښان مجاهد ملګری و، چه د متجاوزو مغولو سره ئې زیات جنګونه کړی دی (د دې کتاب ۳۰۸ مخ ته رجوع وشی).

۲۸- امیر:

د پښتو ژبې شاعر دی، چه د پښتو او رنجیت سنګ د جنګ وقایع ئې په پښتو نظم کړی دی. په (۱۸۸٦ عیسوی) کال وفات شوی دی.

۲۹- اودل:

اصل نوم ئې «عبدل» او د پښتو شاعر دی چه د خوشحال خان ختک په وخت ژوندی و شپږ دیوان ئې درلود، او د هغه وخت د «هسی» په مشهوره مشاعره کی ئې ګډون کړی دی چه مطلع ئې داده:

لکه زه یم ستا په غم کی ډک له وینو ړ مون هسی
نه به یان نه په حـــغا وی پر به وینو دړون هـــسی

۳۰- اخون چالاک:

یو مجاهد عالم او په فام ختک و. ده د پښتونستان د مسافو او شیخو او په مرسته د اسلام تبلیغ د پاره ډیر خدمتونه کړی او هم د متجاوزو مغلو دښمن و. شو په پای کی د مغولو امبتهان دلاسه مړ شو او قبر ئې په پېښور کی دی.

ملا مست پخیل کتاب (سلوك الغزات) کی ده داسی تعریف کوی:

د ازموز اخون همیش په یاد د د د ین دی
چه له منځه ئې تیا د ه تینتی د نیا ئی

اخون درویزه هم ده ذکر کړی دی.

۳۱ - ایمل خان: (۱)

دمومندو پوښــتګبالی پښتون و، چه په مومندو کی د «ایمل باچاه» او «ایمل غازی» په نامه شهرت لری. ده ته د قوم د مشرتوب پټکی میاجان محمد صاحب ور په سر کړی و.

هغه وخت چه خوشحال خان د متجاوزو مغولو په مقابل کی جنګونه کول د پښتونستان د مومندو دی ښاغلی مشر هم د متجاوزینو پر خلاف ملا تړلی وه. ده کور په دهزار ناوه کی و، ده به تل د مغولو د کاروانو لومخه نیوله او ډېر تاوان به ئی ورداړاوه.

خو کله چه مغولو دډېر فوج په زور پرده حمله وکړه، او یوځل ئی دده کورهم وسیزه چه خوشحال خان ئی داسی یادوی:

پوری په خونه دا یمل خان شو　　　　په سول دخوئی خان خانان شو
داور که ونه مردایم نادی وهم　　　　په وار وار پوری په دست افغان شو

هغه چه ایمل خان او خوشحال خان دواړه د یوه مسلک مقصد دپاره د مغلو لښکرو جنګیدل نو ایمل خان خپل یو ملګری چه «دریا خان» نومیده خوشحال خان ته ولیږه او په دی واسطه د خوشحال خان او ایمل خان اتحاد قایم شو او له هغه نه وروسته دواړه یو د بل ملاتړوه.

خوشحال خان هم خپل ملګری ایمل خان په ډېرو اشعارو کی یاد کړی دی. کله چه پښتنو د مغلو متجاوز فوج تالا کړ خوشحال خان وائی:

ایمل خان مومند په ننګیالیتوب دواړه
د خوشحال خټک په دننګ پوښتنو دی.

تر اخره پوری ئی هیڅ ده دنیا وزه

بل ځای دده ملګری داسی ذکر کوی:
د ایمل قدوقامت آغاز شو　　　　د مومنده و همتان شو.

---

(۱) کابل مجله د ښاغلی ننګرهاری لیکنه.

بل وخت په هغه اوی جنګ کی چه خوشحال خان د مغولو په مقابل کامیاب شوی دی د ایمل خان د تو ري د اسي ستاینه کوی :

ایمل خان دریا خان دواړه مرګ ئې مه وه .

هیڅ تقصیر د واړو و نه کړ وار په وار

د خیبر دره ئې سره کړه په وینو

په کړ په ئې هم روان کړ دندو کار

تر کړپې تر بیا جوړ ه سمې غرونه

په لږ زه په زاړ له شو په پار پار

په هغې او د ي چه جنګ کیږی پنځم کال دی

هره ورځ د سپینو تورو ځي پیهار

اول جنګ دلو ډ ی شاد تا تر ي و

چه خلو یښت زره مغول شول تار و تار

بیا له پسه جسونت سنګه شجاعت خان و

چه ایمل ئې په ګنډ او و پو ست ده مار

شپږم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه

چه ایمل کړ په خپا ښې کی تار و مار

په مو مند و کی مشهور نه ده چه « ایمل خان پاچا » پر خپل سکه وهلی وه د خپل د اج ئې قایم کړی و .

په آخر کی څنګه چه متجا وز ینو دی پښتنو ددی مشرسو ه په تو له جنګ نه و لاری نو د فریب او چلی لاره ئې ونیوله او د رشوت په زور ئې یو خاين پیدا کړ دی خا ئن ایمل خان ته زهر ور کړه او د کو زی په پښه کی شهید او د د ما یه په ده پوه کی ښخ شو . خوشحال خان دده په مرګ داسی ماتم کوی :

ایمل خان دریا خان د واړه په ننګ تیر شول په ننګ ئې ژوند وړ وړ واړه په فراق کی زما زړه آه او ماتم دی .

بل ځای وا یی .

ايمل خان دريا خان دواړه په ننګ ولاړل
اوس خو پاتې و مغول ته يو خوشحال دی

دا ايمل خان اولاده، اوس هم د مومند دري په هزار ناوکي په ايمل خيلو مشهور ده.

ب

۳۲- بادر

بادر: ديښتو شاعر و، چه د پښتونستان د يوسفزو په علاقه کې اوسېده، په ملي چاربيتو کې ئې ښه مهارت در لود.

د يوې چاربيتې مطلع ئې دا ده:

بيګا دي يم وهلی محبوبه

۳۳- بسارکی:

د پير روښان د نمسی «احداد» ملګری و، چه د جهانګير په وختو کې د پښتني ننګي پوځای کولو د پاره په هغه جنګ کې شهيد شو چه په کابل د پښتو او دهند د مغلو ترمنځ وشو.

۳۴- بايزيد:

دا هم په رديف کې دی د «پير روښان» نامه ته رجوع وشي.

۳۵- بابا سيدګل:

ديښتو ژبې قديم او پوخ ښکی شاعر و چه د ... يکلي ... کلي کې ئې ژوند کاوه په (۱۲۰۰ هجري) کال پيدا شوی او تر سل کاله ئې عمر در لود شعرونه ئې په ملي طرز ويلي دي - يو بيت ئې دا دی:

په ژړا سرې سترګې ولاړيمه دلبر لاړ شو
لکه آفتاب په شفله پر مازيګر لاړ شو

۳۶- بای خان :

د پښتونستان د بنېر د علاقې د پښتو ژبې شاعر او په (۱۱۰۰ هجری) کال کی ژوندی و .

د مولانا جامی (لیلی او مجنون) ئې په پښتو نظم کړی دی .

عبد الرحیم هوتك دی د « خټك » سره چه بنائی مقصد خوشحال خان وی په یوه ردیف کی راوړی . وائی :

که می نادی د تاثیری کړې تر ستونی
پېر کابل به د « خټك » او « بای خان » شم

۳۷- بـرامت :

د پښتو شاعر و چه دار مستتر ئې یوه غزله پخپل کتاب کی ضبط کړې او مطلع ئې دا ده .

د سپینی خولې دی شم قربان
یو رته کړه چشمان

۳۸- بـرهـان الـدین :

د نادر خان ځوی د پښتو شاعر و ، او د پښتونستان په هزاره علاقه کی اوسېده په (۱۱۷۴ ه) کال چه اعلیحضرت احمد شاه بابا د پاڼي پت پر میدان مرهټانو ته ماتې ورکړه دا باغلی هم غازیانو په دله کی شامل و ، او دغه تاریخی جنګك قصه ئې په پښتو نظم کړې ده .

دار مستتر دده د اشعارو یو مجموعه چه ایبټ آباد کی موندلې وه ، [illegible] خان او افضل خان د جنګك قصه او د آدم خان او درخانۍ قصه هم په پښتو نظم کړې دي ، د پاڼي پت د جنګك قصه داسې شروع کوي .

احمد شاه بابا په جهاد د او وېله
د غزا په نیت ... خوله له کعبا ...
پښتنې مغوا ... لاندې کړې کفار د و
د اخېستو می په زړه د و ګسر ... یدلنه
یا به ننګ د پښتانه پوره په ځای کړم
یا به بایم اکروته ... پرې با ... ی خپله

۳۹ - بیبی نیکه :

د پښتو د پښتنی شاعرو په منځ کې بیبی نیکه دی‌ دی د پښتونستان د سلیمان د غره چه پښتانه ئې د ... پوه وی ، په امتوالی د اوی خدای په عبادت مشغول و ، د پښتنی اسما الرجالو لیکوالو لیکی چه پښتو ... ډیری طاقتی دی نیکه ته منسوب وی ، او دپېو نیکه دوه ... او د ... مشهورو پښامه یادوی ، ... مو ... په ... او د پښتنی پښامه هم ... او د ده زوند ئې د (... ۳ او ... ۴ هجری) تر منځ تخمین کړی دی ، ... لیکوالو ... ئې ... او ... لخه ... نیکه علاوه پر زهد د پښتو ... ئه شاعر هم و ، سلیمان ... لو ... په ... (... ۶ هجری) کې ئې لیکلي ده ، د بیټ نیکه پو ... د ... مناجات د اوری دی چه ... پښتنا د ... او هغه دا دی :

اوبه خدایه ! اوبه خدایه !	ستا په مینه په ... خدایه
... دی ... او ... کی	توله ژوی به ... دی کی
... ی ... غرو ...	زمږ ... دی ...

دا و ... کړی ... ځی خدایه
او به خدایه ! او به خدایه !

... زموږ ...	... کی ... ځلی دی
مینه ستا ...	... پرمله ...
... او ... ستا ...	... و و ... تبا ده

دا ... خدایه !
اوبه خدایه ! اوبه خدایه !

٤٠ – بی نشانه :

د پېښاور د فارسي ژبې شاعر و، چه ده د «تذکرهٔ آفتاب عالمتاب» د ښکلو پر وخت چه د «روز روشن» تذکرې څو اله ورکړې ده د خلو پښتو کسانو ...

دا ددې پښتو نه ده دی :

دلبر بیا که کفش کفت خانهٔ دل است	منزل گه خیال تو ویرانهٔ دل است

این زلف تا بخاک که شد حلقه می زند	برهم مده بیاد که کاشانهٔ دل است

از حال «بی نشان» غریب ای صبا بگو
با یار دلنواز که بیگانهٔ دل است

پ

٤١ – پایاب :

د پښتو شاعر و، اود (۱۲۵۰ هجري) کال په حدودو کې د پېښاور په ښار خوا کې اوسېده ده یوه غزل په «هادو بهار» کې راغلی دی .

٤٢ – پاینده ملا :

د پیر روښان له ملګرو څخه و، چه د متجاوزو مغلو نو سره ئې ډېرې جګړې کړې دي او د مغولو د تجاوز پر خلاف ئې د پیر روښان په ملګرو کې د پښتنو پیاشوای دی .

٤٣ – پیر بابا :

پیر بابا د پښتونستان یو لوی روحاني شخصیت او مشهور دی، د ده نوم سید علي او د پلار نوم ئې قنبرعلي و، نیکه ئې سید احمد نور نومېده، چه ئې ترمذ څخه قندوز ته راغلی و، ځکه دی په سیدعلي ترمذي هم مشهور دی .

دەخپل ابتدائی تحصیل لەخپلە نیکە څخه چه ډیر ریاضت کښ او عالم سړی و پای ته ورساوه .

په ۹۳۲ هجری کال چه همایون دبابر زوی هند فتح کاوه نو قنبرعلی ئې د ده زوی سیدعلی سره له قندوز څخه هندوستان ته بوت او دهغه په دربار کې ئې د (امیر نظر بهادر) لقب ورکړ او له درباري ژوند سره ئې ډیره علاقه درلوده او په پیر بابا پسې هم د دربار کالی اغوستل خو هغه وخت چه پیر بابا په ښه او بد پوه شو نو دده روح هغه تکلف ژوند بد راوه ، التروخت به دربار ته تی او ډیر وخت به ئې دعلماؤ په صحبت کې تیراوه او دعلومو تحصیل به ئې کاوه ، خو چه له درباري چارو ئې بیخی زړه تور شو له پلار ئې رخصت واخیست د (مانسور) په ناحیه کې داوی محقق او مدرس شیخ سپلونه شاگرد شو او د فقه کتابونه ئې له هغه څخه واوستل بیا دخپل دې استاد په واسطه شیخ سالار رومی (شیخ بها والدین سامت) ته معرفی او د طریقت په سلسله کې داخل شو .

له هغه ځایه گجرات ته ولاړ او هلته ئې ډیر مریدان پیدا کړه ـ کوم وخت چه پښتون شیرشاه همایون ته ماتې ورکړه او هغه دلښکر سره دکابل خواته روان و نو ډیر بابا پلار په گجرات کې خپل زوی ولید او دوی همیانی ئې یوه دسرو زرو او بله دسپینو زرو پیر باباته ورکړې خو دا همیانی کوم وخت چه پیر بابا د خپل پیر دلیدو دپاره اجمیر ته تیرپلاری دشیرشاه پښتو سپاهیانو ځنې واخیستلې دا ځکه چه دوی خپل منځ کې په پاد سو ژبه خبرې کولې (۱) چه اجمیر ته ورسیده پیرئې وفات شوی و ، ډیرد و سیت سره سم ئې دهغه جینه واخوستله او د خپل وطن (قندوز) په لیت رهی شو .

خو چه پښاور ته را ورسیده حاجی ... الله او ملک گدای ککیانی له پیر بابا نه خواهش وکړ چه ددوی علاقې ته ولاړ شي او هلته تبلیغ و ... وکړی ـ هغه و چه (دوابه) ته ولاړ او ډیر خلق ئې مریدان شول تر یو کال ... چه ئې بیا دقندوز اراده وکړه

---

(۱) دتتمة البیان د ترجمې ضمیمه ـ د کابل طبع ۱۹۷ مخ .

دده مخلصانو ورته وویل چه ددیو سفرو په علاقه کښې دوه ملحدان پیدا شوي دي چه یو « پیرولی » نو میږي چه په اصل بړیڅ پښتون دی او بل « پیرطیب » چه غلجی پښتون دی .

پیر بابا بیا مجبور شو دهغوی سره دمناظرې دپاره هلته ولاړ شي هغه دوه تنه ئې دیو سفرو څخه ویستل خو څنګه چه پیر طیب د پیر بابا په تګ قندوز ته خبر وو نو دا آوازه ئې واچوله چه «ما پیرعلی قندوزته وغوځاوه » !

مخلصانو ددې دپاره چه دا آوازه دروغ شي پیر بابا ته زاري وکړې چه یو کال بل هم هلته پاته شي .

هغه وو چه یو کال پاته شو خو کال لا پوره نه وو چه دملي زي طائفي ملك دولت خان خپله خور (بی بی مریمه) ورپه نکاح کړه په همدې نسبت پیر بابا خوکاله په پښتونستان کې پاته شو خو او لادونه ئې پیدا کړه بیا نو دخپلی مور اوخپل پلار د لیدو دپاره قندوز ته ولاړ، پلارئې وفات شوی و؛ دمور زیارت ئې وکړ بیا دمور په اجازه بیرته پښتونستان ته راغی

هلته ئې د پیر روښان سره مناظرې شروع شوې او پر هغه ئې دپیر تاریك نوم کیښو دچه وروسته دپیر بابا شاګرد آخون درویزه هم دده لارد پسې تعقیب کړه اوپیر روښان ته به ئې پیر تاریك وایه اوپه یو دوبه ئې یادوه. همدا شان ئې جلال الدین کلال د(نادان) په نامه یادکړ . همدا رنګه ئې د(شیخ عمر) او(پیر جلالي)سره مناظرې وکړې .

هغه وو چه په ۹۹۱ هجري کال دپښتونستان په بونیر کې وفات او هم هلته ښخ شو او اوس به پښتو کښې په پیر بابا مشهور دی او د ټول خلق [illegible] زیارت ته ورځي. پیر بابا مذهب کړی ئې پیر مناقب و او دده د پښتو سادګی پلوه چه مشیدانو او پیرانو به دا سې خبرو غولیدلی څنګه چه نسب پوازې شعائ ته مطلع دی [illegible] .

آخون درویزه لیکلي چه [illegible] زما [illegible] پیر بابا ته مرتني کول او زما په مقتر کی یی دا هم وویل چه [illegible] پیر بابا

په ډیر انزجار وویل چه : «هو، د پښتنو پیر بابا همداسی وی!» او ما ته یې توصیه وکړه چه له [illegible]ي په عتو ښځه لاس واخله !

د پیر بابا اولاده :

د پیر بابا ورو وسته د پښتونستان او افغانستان پښتنو د پیر باباولادې ته د احترام په سترګو کتلی دی او اوس هم ور ته ګوری، دده په اولاده کی دا کسان مشهور دی:

۱– دده داولادې ترټولو مشهور سړی چه نه یوازی په افغانستان او پښتونستان کی ئې شهرت درلود بلکه په ټوله اسلامی او غیر اسلامی دنیا کی دده نبوغ منلی شوی، علامه سید جمال الدین افغانی و، چه د مشرق شاهان دده نه د ډیر ښه ویریدل او د غرب فلاسفه دده ذکا ته سر ټیټوی.

پیر بابا د سید جمال الدین افغانی د نیکه و، یعنی د نیکه پلار په دې ترتیب: سید جمال الدین ابن سید صفدر ابن میان مصطفی ابن سید علی ترمذی د پیر بابا [illegible]

۳– سید محمود د پاچا چه په [illegible] حیثیت درلود – امیر دوست محمد خان د [illegible] خان [illegible] په [illegible] ور کړی و، سید محمود د پاچا د سید بهاوالدین پاچا زوی و، چه هغه خیل ور سید فقیر پاچا و، [illegible] او [illegible] سید لطیف پاچا هم [illegible] د [illegible] مشر زوی سید فقیر پاچا په عوض خیل کشر زوی سید بهاوالدین پاچا ولیږه و تاکه او سید فقیر پاچا د [illegible] الاد په [illegible] کی سید بهاوالدین پاچا [illegible] هغه و، چه امیر دوست محمد خان سید فقیر پاچا ته کښ شه افغان ته [illegible]

دسید بهاوالدین پاچا ؤری ته شي دغازي اکبر خان لوردکړه (۱) دا پاچهان تول د پیر بابا اولاده وه .

۳ـ داسلام پور شیخ پاچا هم دپیر بابا له اولادې څخه دی .

٤ ـ سید حسین پاچا دلغمان هم دپیر بابا په اولاده کې مشهور دی .

تبصره :

له واقعاتو څرګندېږي چه دپیر بابا داولادې دنوابي او شاني اقتدار په افغانستان کې د ۱۲٦۲ ه راهیسې چه دپښتون سید جمال الدین دزېږېدو اتم کال و ، قطع شوی دی . خو د امیر عبد الرحمن خان په وختو کې کوم وخت چه په ۱۳۰٤ ه قمري کال له هنده راغی ، ددې کورنۍ څخه پنځه خانې ورلاړه (۲)

٤٤ ـ پیر سباك :

داخون چالاك ورور او یو مجاهد عالم و ، دی دخپل ورور سره په اکثرو مجاهدو کې حاضر او ملګری و .

٤٥ ـ پیر محمد کاکړ :

دپښتو ژبې ډیر خوږ ژبی شاعر تیر شوی دی ، په قوم کاکړ او د (۱۱۲۰ هجري) په شا و خوا کې دپښتونستان د کاکړستان په (ژوب) علاقه کې زیږېدلی او بیا په هند کیو په قندهار ته راغلی دی ، چه په قندهار کې داعلیحضرت احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلیمان استاد او معلم و تاکل شو .

---

(۱) (۲) دتتمة البیان د فارسي ترجمې مقدمه ، د کاکړ بیل طبع ۱۳۱۸ ص ۷ ـ ۸

دی دخپل عصر لوی عالم او مدرس وه او لوړی سړی دی چه دپښتو ژبی صرف و نحو ئې لیکلې ده او پرهغه ئې « معرفة الافغانی » نوم ایښی دی . داکتاب ئې دشهزاده سلیمان دپاره لیکلی وه خو په افغانستان کی دپښتو صرف ونحو لومړی کتاب دی . دشعرو نو ځانته مستقل دیوان هم لری چه د پښتو نو شعر ئې پخو زړونه رسیږی . ده په (۱۱۹۶ هجری) کال ئې له لیکلو څخه وزګار شوی دی دده داديوان دپښتو ټولنی له خوا چاپ شوی دی او دده داد باعی چه دوطن په فراق کی ئې ویله ده نمونه خوږه ده چه وائی :


موږ له هیواده تنها د اغلی یو
د بن غوطیان یو په دام و تلی یو
خمار زه ظلم را پا نه ی مکړه
د خو یاران نو فراق تللی یو

دپیرمحمد کاکړ شعرونه ډیر له سوزه ډک او خوږ دا خوندور دی . د اغزل هم ده ده :

[illegible]

۲۹ — پیر معظم شاه :

[illegible]
(۱۱۸۱ هجری) کال [illegible]



ملا بیو ناتھ صاحب



د ترنګزو حاجي صاحب

د «تواریخ حافظ خان» په نامه لیکلی دی چه د پښتنو د مهاجرتو او جګړو وقایع پکښې داخلې دي.

٤٧ - ملا پیونده:

دا ملا صاحب د مځکني پښتونستان د وزیرستان څوړا اوی مجاهد تیر شوی دی او د کفارو سره ډیرې غزاګانې کړې دي. او انګریزانو پخپلو کتابو کې ملا پیونده صاحب د خپل ځان ډیر خطرناک دښمن بللی دی. دی د مسعود د قوم په روحاني مشرو د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې کابل ته هم راغلی و.

په ۱۸۹۷ عیسوي کال چې د مځکني پښتونستان خوداز یات وزیر او مسعود پښتانه د انګریزانو پرخلاف پاڅول. دی د ګرځاند کربوشی د ملا صاحب مریدو، د ده غزاګانې ډیرې مشهورې دي.

٤٨ - ترنګزو حاجي صاحب:

د پښتونستان لوی عالم او مشهور مجاهد و، د ده اصلي نوم حاجي فضل واحد و، او د پښتونستان د پېښور چارسدې ته نږدې د ترنګزو په کلي کې اوسېده. ځکه د ترنګزو په حاجي صاحب مشهور شو.

حاجي صاحب د [illegible] صاحب [illegible] او [illegible] ملا صاحب شاګرد او [illegible] د ملا صاحب [illegible] مرید و [illegible] د خپل [illegible] او استاذ په حیث ومانه.

حاجي صاحب نه یوازې [illegible] د پښتو د آزادۍ [illegible] کړی دی [illegible] د هندوستان د آزادۍ [illegible] انګریزانو [illegible] سره زیات جنګونه کړي دي او [illegible] محمود [illegible] انګریزانو د مقابلې [illegible]

حاجي صاحب سره ددې چه په جهادونو مصروف و . بيا ئې هم د پښتنو د پوهولو او تعليم فکر ساته او ددې غرض دپاره ئې په ۱۹۱۱ ع کال دپيښور په علاقه کې څو اسلامي مدرسې تاسيس کړې چه مشهوره مدرسه ئې د ګدر مدرسه وه .

په دې مدرسو کې تر هر څه نه زيات د آزادۍ درس ورکول کېدل او اومرى سوځ چه له دې مدرسو څخه د آزادۍ فيض موندلې اولادونه سته د حاجي صاحب ملاتړ شوي دي هغه خان عبدالغفار خان و . خو انګريزانو د حاجي صاحب دا اقدامات ونه زغملی شوه هغه ټولې مدرسې ئې بندې کړې او حاجي صاحب مجبور شو له محکوم پښتونستان څخه د آزاد پښتونستان مومندو قبائلو ته ولاړ شي .

په ۱۹۱٤ ع کال چه د اروپا جنګ شروع شو نو حاجي صاحب د مولانا محمود الحسن صاحب او نورو ډيرو علماو په مشوره د هغه کال د جون په ۲ نيټه د بونير علاقې ته ولاړ او هلته ئې د انګريزانو پر خلاف د جهاد اعلان وکړ او د ابتدا له ددې څخه ئې پر انګريزانو حملې وکړې او څو ځايه ئې هم ورځني وسول .

بيا له هغه ځايه د آزاد پښتونستان د مومندو او صافيو علاقې سره کمه ته ولاړ او په غازي آباد کې ډيره شو .

په ۱۹۱۹ ع کال چه د افغانستان د استقلال جنګ و . حاجي صاحب له ډيرو مومندو پښتنو سره يو (ن ۸) ځانونه له انګريزانو سره د افغانستان د آزادۍ دپاره څو مياشتې ډير سخت جنګونه وکړه . او بيا په ۱۹۳۰ ع کال چه خان عبدالغفار خان بندي شو او د خدائي خدمتګارانو د انګريزانو ډير فشار راغلی و . حاجي صاحب د دوی د کمک په غرض د (ګنداو) غزا شروع کړه او انګريزانو ته ئې ډير تاوانونه ورسول او د ډيرو مشکلاتو سره ئې مقابله کړې وه . کله چه او نوا کې په اومري غزا کې هم حاجي صاحب پخپله شريک و .

په دې ډول د حاجي صاحب ټول ژوند په جهادونو کې تېر شوی دی . حاجي صاحب په آزاد پښتونستان کې يو آزاد لښکر د مشعله په نامه هم تاسيس کړی و چه په پښتو ژبه ئې . (۱)

---

(۱) کابل مجله پ ۲٦ ګڼه .

حاجي صاحب د ۱۳۱۶ هـ ش کال په ژمي کي ديو سلو پنځو کالو په عمر وفات او د آزاد پښتونستان د سره کمر په غازي آباد کي ښخ شو.

ج

۴۹ - جان محمد کاکړ :

اصلا د پښتونستان د کاکړستان و څخو په قندهار کي اوسيده په پښتوي شعرونه ويله او په (۱۲۳۰ هجري) کي ئې ژوند کاوه د قرآن کريم حافظ هم و ميرزا حنان د قندهار بل شاعر دى داسي يادوي :

جان محمد حافظ کاکړ په نعت ومدح   سيال ئې نه و په پښتو ي په و يل

۵۰ - جلات خان :

د پښتو شاعر و، د جلات او محبوبا قصه ئې په پښتو نظم کړي او د حسنيو جنګنامه ئې ليکلي ده .

۵۱ - جلال الدين :

د پیر روښان په مجاهدو او شاعرو کمالي ذوق يې چه تر پير روښان وروسته د هغوى وزيرو په مقابل کي د ده پر کار نامو څرګندي دي - دده پوره شعرونه او دده مشهور نامې دده کتاب په (۲۰۹ - ۲۱۰ - ۲۱۱ - ۲۱۲) مخونو کي وګورئ چه هغه ته ي پاڼي دي .

۵۲ - جمال خان :

د خوشحال خان مشر ورور و او لوى ولي الله او صوفي تير شوى دى - د پښتو شاعر هم و ديوان هم لري .. دده زيارت اوس په فقير بابا مشهور دى .

ح

۵۳ ـ حافظ الپوری:

هغه یو مشهور شاعر دی چه د پښتونستان د سوات د کوهستان د علاقې په «الپوری» کلي کښې اوسېده.

د احمد شاه بابا معاصر دی او د تیمور شاه په وخت کښې هم ژوندی و.

ده د اشعارو دیوان په ۱۳۵۲ هجري کال د کاکا صاحب له زیارت څخه چاپ او خپور شوی دی.

حافظ الپوری د صوفیانه ژوند درلود او د خپل عشق په باب کې داسې نظریه لري:

زه تا پسې یم د مجنون یا عاشقۍ کې　　خلیفه د فقیرانو نه یم چه مال غواړم

۵۴ ـ [illegible] کاکا صیاد:

د پښتونستان د کاکا صاحب د زیارت اوسېدونکی [illegible] عالم او شاعر و، ده په پښتو کې څو آثار لري چه مشهور یې دادي:

۱ ـ [illegible] قصه.

۲ ـ [illegible] کیف [illegible].

۳ ـ [illegible] ترجمه [illegible].

۴ ـ [illegible] القلوب ترجمه [illegible].

۵ ـ [illegible] پښتو شوی [illegible].

۶ ـ [illegible] (١٠٠٠) [illegible] کتاب دی.

[illegible] کاکا د (١٢١٠ هـ) په شاوخوا کې وفات شوی دی.

۵۵ ـ [illegible]:

د پښتو ژبې شاعر دی چه [illegible] کې دی او [illegible]

غزلی مطلع ئې داده :

چه دی وګوری و مخ ته وطن پریږدی   وطن څه دی چه روح والوزی تن پریږدی

٥٦ ـ حسین .

د خلاصة الاسلام کتاب ئې په پښتو ترجمه کړی دی او د ایکلو سبک ئې د اخون دوریزه سبک ته ورته دی یعنی په نیم منظوم نثر ایکلی شوی دی .

٥٧ ـ حکیم :

د پښتو شاعروئیجه ا صلاد آزاد پښتونستان دی خو دوسته د کامی دوا ګټ کلی ته داغلی دی .

شعرونه ئې پرملی ایجه وپله دیوی مشهورلی مطالبتی مطلع ئې داده :

سور تیاک دی په جبین پاندی شغلی که قلند دی   پښان لښکه د نور

د اوزی دد لباره چاسره نه کړی خست بری   په وخت د ماز پکو

٥٨ ـ حلیمه :

د خوشحال خان خټک لور او د پښتو ژبې شاعره وه د عبدالقادر خان خټک خور

معاصره هم وه .

نورو شعرو ته یې ئې ایښکلي او ارسال ورته ګول . [illegible]

[illegible] پښتو شعر خور لیا وه .

[illegible] غزله ئې [illegible] داده :

د آشنا په فکر خوبه هسې شاد شوم   [illegible]

[illegible]

[illegible]

٥٩ـ حمید بابا:

د پښتو ژبې خورا مشهور او لوی شاعر دی .

په قوم ماشوخیل مومند او د پښتونستان د پېښاور په سربند کلي کې او سېده او په ۱۱۳۷ هـ کال کې ژوندی [illegible] دی .

حمید بابا د پښتو د ادب استاد او ډېر نکته سنج او نازک خیاله شاعر تېر شوی دی له هغه نه یو مخصوص سبک لري او په شعر کې تلازماتو استعارو او تشبیهاتو کې ډېر ماهر دی .

دده شعري دیوان [illegible] په منځ کې په در و مرجان شهرت لري نور آثار یې هم شته چې [illegible] یې دادي :

۱ـ د شاه و ګدا د نظمي ترجمه (۱۱۳۷هـ) .

۲ـ د مولانا غنیمت د نیرنګ عشق ترجمه .

چې دا دواړه چاپ شوي دي .

د نیرنګ عشق د [illegible] دادنی شعرونه نمونه لوستونکو ته [illegible] د دې لوی استاد شعرونو [illegible] د مولانا شي چې دا دي :

شمع نه دی [illegible] د شمعې زړه دی — یا وتلی د سینې دم له خولې د مړه دی

یا [illegible] د نیم بسملي مرغه د خولې ده — یا مجنون ته [illegible] د لیلی ده

[illegible] یا [illegible] موج دی — یا له [illegible] د حیرت وتلی موج دی

دا [illegible] دی :

دا زړه [illegible] خیال د یار [illegible]

[illegible] د نیرنګ [illegible] پیاله [illegible]

حمید بابا وفات د ۱۷۳۲ عیسوي مساوي د ۱۱٤٥ هجري کال [illegible] دی .

* [illegible] ګل [illegible]

[illegible] حمید بابا [illegible] په پښتو [illegible] شعرونه [illegible] او [illegible] کې [illegible] .

دده ژوند د(١١٠٠ ﻫ) په شا وخوا کې تخمين شوی دی .
په ملی وزن ئې شعر ونه ويل، دا ر مستتر دده يوه غـزل له ضبط کړې د د چه سرئې دا دی :

یاتیك ستا پر جبین دی — یا ستر که د سبا ده
یاجام د چین ماچین دی — یاسپینه خواله زیباده

٦١ – حمید گل :

دپښتو شاعر دی چه د پکلي په ترنگری کی اوسیده یوه غزله ئې دا ر مستتر په هار و بهار کې ضبط کړې ده .

خ

٦٢ - خا لقداد :

دآخوند درویزه زوی و، په پښتو ئې شعر ونه ویل یوکتاب ئې د شرایط و احکام ایمان ، پنامه په نظم کړی دی

٦٣ - خان گل خلیل :

دمرکزی پښتونستان (پېښور) دخواوو د پښتو شاعر دی چه (١١٥٠ ﻫ) کې ئې ژوندی و دده یوی غزلی مطلع دا ده .

دا مسینه پرتی ستا پخوا لاندې — که ونه کړې نه سپوږمی د ستا له ملا .

٦٤ - خان میر :

دپښتونستان د پښتو یو شاعر و دده خوږ پناه ئې یوه افسانه له پښتو برخته په پښتو نظم ترجمه کړي ده دا پښتو ده دی :

دنیا فان کښو مو گا نوته دی گوری — که نشتر وهلې شی دزده په سر خوار
چه نشانی ئې د سپو تنو په تن نه ښکا — او نه په خهخا پیدا کی سپو را لخوا .

٦٥ ـ خواجه محمد بنګښ :

دپښتونستان د بنګښ دقبیلې دپښتو شاعرو، په اشعارو کښې ئې تصوفي رنګ زیات دی دشعرو نو یو دیوان لري ـ داورنګ زیب (۱۰۶۹ هـ جلوس) په عصر کې ژوندی و دا بیت ده دی :

زړونه په ماتوه لعل د بدخشان دی   بیا مشکل دی د جوړ ول د شکسته وو

٦٦ ـ خوشحال خان خټک :

دپښتو خودا لوی ملي شاعر او ادیب دی چه اوسني یو هان ئې «دپښتو پلار» بولي دادپښتو پلار دشهبازخان زوی او دیحیی خان نمسی او دملک اکوړي کړوسی او په قوم خټک و دی د (۱۰۲۲ هـ = ۱۶۱۳ ع) کال د ربیع الثاني په میاشت دپښتونستان په اکوړه کې زیږېدلی دی .

خوشحال خان ایښکه شنګه چه دپښتو دپلار د خطاب وړ کړ شوی دشیا همدا چه دپښتو پلار هم دی [illegible] مستشرق لیکي چه د خوشحال خان تا اپغانستان [illegible] او پښتون [illegible] جامه ته د [illegible] پوازې دده کلیات [illegible] پښتو ته دی .

د خوشحال خان په اشعارو کې هر ډول عشقي ، اجتماعي ، فلسفي ، [illegible] ، حماسي ، اخلاقي [illegible]

[illegible]

[illegible] بیان [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] ایجاد کړی وه [illegible]

[illegible]

[illegible] دپښتو [illegible]



دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالى د زمانې خوشحال خټک يم

او د پښتانه قوم د آزادۍ ساتلو په لاره کې خورا زیاتې فداکارۍ کړې او ډیر زحمتونه یې ګاللي دي.

خوشحال خان د پلار تر مرګ وروسته (۱۰۵۰ هـ) د قوم مشرتوب تا ګل شو څنګه چه د هغه د مغلو پاچا اورنګ زیب د پښتنو په تباهۍ پسې و، نو ځکه خوشحال خان د هغه مخالف شو او ډیر سخت جنګونه یې ورسره وکړه چه د ده په قول په یوه جنګ کې یې د مغلو څلوېښت زره عسکر تار په تار کړه (د مغلو سره د خوشحال خان د جنګونو مفصل واقعات د دې کتاب په ۳۱۶، ۳۱۷، ۳۱۸، ۳۱۹، ۳۲۰، ۳۲۱، ۳۲۲، ۳۲۳، ۳۲۴، ۳۲۵، ۳۲۶، ۳۲۷، ۳۲۸، ۳۲۹، ۳۳۰ مخو کې ولولئ.)

خوشحال خان په یونانی طب کې هم نه لاس درلود او دده مشهور آثار دا دي:

۱ ـ کلیات: چه څلوېښت زره بیتونه لري ـ یو وار په هند کې چاپ شوی او بیا په (۱۳۱۷ هـ) کال په قندهار کې طبع شوی دی.

۲ ـ تاریخ پښتو: چه نسخې یې ډیر نادرې دي.

۳ ـ عیاردانش: د پارسي انوار سهیلي پښتو ترجمه.

٤ ـ د یادونو کتاب: چه افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې هغه ته حواله ورکړې.

۵ ـ فرخنامه: د قلم او توري جنګ.

٦ ـ فضل نامه: شرعي مسایل یې په بحر خفیف مثنوي کې راوړي دي.

۷ ـ د ریاض الحقیقت.

۸ ـ باز نامه.

۹ ـ هدایه: د عربي فقه پښتو ترجمه.

۱۰ ـ آئینه: تصوفي پښتو نثر دی.

۱۱ ـ صحت البدن: د طب یو کتاب دی.

۱۲ ـ دستار نامه.

۱۳ ـ زنځیري.

۱٤ ـ یوه رساله: د متفرقو مضامینو.

دپښتو پلار خوشحال خان د ۷۸ کالو په عمر د (۱۱۰۰ هـ — ۱۶۹۱ ع) کال د ربیع الاولی په ۲۸ پخپل مسکن د «سرای» تومی ځای کی وفات شو او دده د دوستنی وصیت همداو چه :

«ما هلته ښخ کړی چه دمغلو سپور ی او دمغلو د سپرو دپښو گردمی پر ما ونه لویږی !»

٦٧ — خوشحال خان شهید :

دخوشحال خان خټک له کورنی څخه دپښتو شاعر و ، دی دسعدالله خان زوی د افضل خان لمسی او د اشرف خان هجری کړوسی دی . د خپل پلار دریاست په وخت کی دتیری حاکم و .

اعلیحضرت احمدشاه بابا دی دپښور حاکم و ټاکه او دده وروړنی د اکوړی حاکم مقرر کړ . د اخوشحال خان پلار مرهټیانو سره په یوه جنګ کی چه پر حسن ابدال کیده قریبا د (۱۱۶۶ هـ) په شاوخوا کی شهید شو . دامقطع دده غزلی ده :

زه چه مست په لب دیار یم هیڅ حاجت د شراب نشته

اور دعشق می زړه کباب کړو هیڅ حاجت دکباب نشته

٦٨ — خیرالدین :


د پیر روښان زوی و ، د هغه دمغلو سره چی دخپل ورور جلال الدین په مشرتوب په جنګونه کړی دی . چه پای کی دمغلو په [illegible] تو دیله کی ښخ دی .

٦٩ — داحداد نور

احداد د پیر روښان لمسی او دمغلو سره ئی قیادت جنګونه کړی دی ، په (۱۰۳۵ هـ) کال چه تر ډیرو جنګو وروسته احداد دجهانګیر د لښکرو په لاس کښیووت



د خوشحال خان خټک مزار



د خوشحال خان خټک قبر

او داحداد پر قلاتي قبضه وکړه په قلاتکي يوازې داحداد يوه اور پاته وه ـ دجهانګير سپاهيانو غوښته هغې ته لاس واچوي خو څنګه چه داحداد اور پښتنه وه د بې ننګۍ تر وژ اله ئې مرګ ښه وباله اود قلا تر د يواله ئې ځان دباندې واچاوه او د پښتنې ننګ په لاره کې قرباني شوه.

(ددې کتاب ۳۱۳ مخ ته دې رجوع وشي) دا مره شوه څو متجاوز ته ئې ثابته کړه چه که دپښتو يوه ښځه هم پاته شي لادښمن ته نه تسليميږي.

۷۰ـ داراشاه :

دپښتو ژبې شاعر و . او د پښتونستان دپېښور په شاوخوا کې او سپين شعر وئه ئې په ملي وزن ويل .

۷۱ـ دبابړې ملاصاحب !

دپښتونستان ډېر مشهور مجاهد او لوی عالم تېر شوی دی . ده اصلي نوم سيد امير خان و په قوم سالارزی او په ۱۲۶۱ هجري کال دسالارزو په ايتي نومي کلي کې زېږيدلی دی، داسو کالو په عمر دتعليم دپاره سوات ته ولاړ هلته ئې فقه ، حديث ، اصول ، تفاسير صرف ، نحو او نور متداوله علوم ولوستل ، او بيا هلته په تدريس مشغول شو .

وائي چه ملا صاحب د بدعتونو سخت مخالف و ، دمثال په توګه نقل کوي چه هغه وخت په سوات کې يوه ګټه وه چه د هغه لپاره خلکو زيارت باندې جوړ کړی و ، او هغه زيارت ته خلکو داز داز عقيدې درلودلې څنګه چه دا مسئله د شريعت ته مخالفه کاره و ، نو يوه شپه ملا صاحب دخپلو شا ګردانو سره ولاړ ، او هغه ګټه ئې ماته کړه او زيارت ئې ويران کړ .

خو ددې مسئلې په هواندو ډېر په تاثير و کړ نو څنګه ملاصاحب مجبور شو له سوات څخه بايجوړ ته ولاړ هلته موده ولوسته ئې دهغې دملا نجم الدين صاحب لاس نيو ی او [illegible] په جوړ ئې او چمر کنړ کې دهغې دملاصاحب سره يو ځای او سيده شو چه دهغې د ملاصاحب له خوا ماذون شو پسانو دچار منګ په باړه نومي ځای کې مېشته شو او ولوسته د چار منګ [illegible] آباد ته ولاړ .

د باړې ملاصاحب ډېر سخي او نيکخويه سړی و، په زرګو زرو خلق به د ده لنګرته ورتلل او بې امتيازه ډېرې ډوډۍ خوړله، له همدې جهته يې په خلکو کې ډېر رسوخ او نفوذ درلود او ډېرو خلکو ورته اعتقاد درلود ملا صاحب د پښتونستان د آزادۍ او مرکز د سيمې مجاهد و، او د متجاوزو انګريزانو سره يې ډېر جنګونه کړي دي چه د وانا او شکی غزاګانې يې ډېرې مشهورې دي .

د سيمکو، ډبرې، دولګبروټ، پنج پانو او ليسکنډي په مشهورو غزاګانو کې ملاصاحب شرکت درلود. دی د ۱۳٤۱ هـ د روژې په مياشت د اتيا کالو په عمر وفات شو او د چمالدمنګ په ګل آباد کې ښخ دی .

۷۲ ـ د اکاخيلو ملاصاحب :

د آزاد پښتونستان د تيرا د علاقې يو مشهور مجاهد ملا و .

د ده اصلي نوم سيد اکبر او د اکاخيلو په ملاصاحب يې شهرت درلود، ډېر نفوذ خاوند و، ډېر شوقي دی د امير عبدالرحمن خان سره يې هم ارتباط ساته او د انګريزانو سره يې ډېرې غزاګانې کړي دي چه د ۱۸۹۷ ع کال غزا يې ډېره مشهوره ده .

۷۳ ـ د الينګار فقير صاحب .

د آزاد پښتونستان د باجوړ لوی مجاهد تېر شوی دی .

فقير صاحب مشهور کې باباجي يو او ټول باجوړ سر او پلو يې ښې ګړنې ده .

د انګريزانو سره يې غزاګانې کړي دي او په (۱۳۱۰ هش) کال کې يې د اتلو او د ايليټ شورت سره يې ... کړي ده په ۱۳۲۰ هـ ش کال وفات شو او په باجوړ کې ښخ دی .

٤ ۷ ـ درخانۍ .

د طاوس خان يوسفزي لور او د آدم خان يوسفزي مينه وه .

د آدم خان او درخانۍ عشقي افسانه په پښتو کې ډېره مشهوره ده د (۹۵۰ هـ) کال په شاوخوا کې ژوندۍ وه (د آدم خان نامه ته دې رجوع وشي) .

۷۵ - درویزه .

(د الف ردیف د «آخون درویزه» نامه ته دی رجوع وشی) .

۷۶ - دسوات بابا صاحب :

د سوات «بابا صاحب» د پښتونستان له خورا مشهورو شیخانو او روحانی لارښوونکو او ملی مجاهدینو څخه و . اصلی نوم ئې ملا عبدالغفور صاحب دی چې په پښتونستان ، افغانستان او کشمیر کې په دې القابو یادیږی .
«د سیدو بابا صاحب» - «د سوات صاحب» «د سوات باباصاحب» - «آخوند صاحب» «آخوند بیګی صاحب» «غوث صاحب» په ۱۲۱۳ هجری = ۱۷۹۴ عیسوی کال د سوات په «جبړی» یا «جابړی» کې زیږیدلی دی او د نسب سلسله ئې د باجوړ صافیو پښتنو ته رسیږی چې په صافیو کې پاقندهاری طائفې ته منسوب دی .
د سوات صاحب له وړکتوب څخه په پرهیز ګاری او تقوی مشهور و ، ابتدائی تعلیمات ئې په خپل کور کې او متوسط ئې په (بېرنګوله) کې له یوه خورا مشهور عالم څخه پای ته ورسول . بیا ئې د «ګجر او ګړی» په کلی کې چې د پېښور ښار ته د ... سخت ... د پا ښتونه وپستل او په قادریه طریقه کې ئې د شیخ محمد شعیب تور ډیری لاس نیوی وکړ ، لومړی ئې د خپل انزوا دوولس کاله د اباسین په غاړه تېر کړه او بیا په «قاضی» کلی کې اوسیده وروسته د «ثابت خیلو» مسجد ته راغی چې تر اوسه ئې هم هلته حجره شته . له هغه نه پس «کړندی» ته ولاړ چې هلته دده یادګار یو مسجد ... پاتې دی له هغه ځایه «ګلدری» ته ولاړ او بیا د «نیکی خیلو» د «سلاتی» د «ملوچ» کلی ته او د هغه ځایه ئې «مخیه» ته تشریف یوړ او هلته په یوه غار کې په ریاضت مشغول شو . له هغه ځایه د سیدو بابا نومی ګاونډی کلی ته راووست او د خپلی ... کړه . په ۱۸۴۵ عیسوی کال د سوات (سیدو) کلی ته راغی او تر اوږدی مودی ... د پر مشهور او روحانی رهنما ... شو ... اوس ... پلان او ... ئې ... کړه ملا نجم الدین صاحب د هډې ، ملا عبدالوهاب صاحب د ماڼکی ، ملا ولی الله صاحب د ... شاه بابا د کربوغې ، ملا ... صاحب د ... او ... آخوند زاده صاحب او نور ده مشهور خلیفه ګان دی .

په ۱۸٦۳ عیسوی کې چه د انګریزانو استعماري فوځ په سوات حمله وکړه د سوات صاحب په امبیله کې د نورو مجاهدینو سره د هغوی مقابلې ته پاڅیدل او تورلنې جنګ وروسته د روغې شرایط ترتیب او روغه وشوه ۰

په دې شرایطو کې د انګریزانو له خوا یو دا شرط هم و ، چه د (ملکه) مقام به انګریزان سوځی هغه و ، چه د هغه ځای تر سیځلو وروسته انګریزان بیرته ولاړه ۰

دا جنګ په ۱۲۸۰ هجری کال په امبیله کې و ، ددې جهاد تاریخ ته (غزای بنیر) وویل شوه ۰

باباصاحب په (۱۲۹۵ هـ ۱۸۷۷ ع) کال د سوات په سیدو کې لدې فانی جهان څخه سترګې پټې کړې او اوس دده د مزار په واسطه سیدو ته (سیدو شریف) وایی او د سوات اوسنی والی هم دده له اولادې څخه دی ۰

د بابا صاحب مکتوب امیر شیرعلی خان ته :

بابا صاحب د امیر شیر علی خان سره ډیره دوستانه مکاتبه درلوده ، کوم وخت چه د امیر شیرعلی خان او انګریزانو مناسبات سره خراب شول نو امیر د سوات بابا صاحب ته د غزا په باب کې ولیکل ، وایې چه بابا صاحب سپین کاغذونه مهر کړه او امیر ته ئې دا ولیږل او ورته وې لیکل چه د پښتو هر قبیله چه امیر غواړی د انګریزانو سره غزا ته یا مخبری په دې سپینو کاغذو دوی د هغوی نوم نه ولیکی او ورته دې لیږی هغوی به خود ا … پاڅی او هغه ئې هم ورته ولیکل چه زه هر وخت غزا ته تیار یم ۰

پلروشتنی د امیر شیرعلی خان د زوی عبدالله جان د ولایت عهدۍ د تبریک په مناسبت امیر ته یو څه ځای دلته مکتوب دا لیږلی و ، چه د شمس النهار په اخبار کې چاپ شوی دی او دلته ئې کټ مټ را نقلوو ۰

بسم الله الرحمن الرحیم

محب الفقراء ملاذالغربا ومشید اعلام اهل اسلام ناصر دین متین سیدالانام علیه الصلوات والسلام اعنی مشفقی محبی ام امیر صاحب عالی مناقب همواره محفوظ در حفظ حافظ حقیقی بوده باشند .

بعد از دعوات وافیات ترقی درجات دارین وترسیل تسلیمات مسنون سید الکونین مخفی رای شریف نماندکه مراسلهٔ محبت سلسلهٔ ایشان که مشتمل بر تقرر ولیعهدی وقایم مقامی سردار کامگار خجسته اطوار سردار عبدالله خان قلمی فرموده بودند رسید مضمون مندرجهٔ آن بخوبی منکشف گردید چونکه مبنای این امر موافق طریقهٔ سلف وسبب تسکین جمع رعایا وزیردستان است الله تبارك وتعالی بفضل وکرم خود این قصد جدید وسعید را مبارك فال وفرخنده مال گرداند که همیشه گروه مسلمانان وزمرهٔ مؤمنان از اخلاق کریمهٔ آن سردار نیك کردار در حیز امن وقرار بوده باشند وانشاءالله تعالی چنانکه گذشته این فقیر همیشه آن امیر صاحب را در دعای خیر برای عمل صالح یاد کرده است من بعد نیز در دعای اوقات خمسه آن امیر کبیر زمرهٔ مسلمانان به معیت فرزند ارجمند سردار عبدالله خان فراموش نخواهم کرد .

مجیب الدعوات بعز اجابت رساناد بالنون والصاد علاوه بر آن از شنیدن این خبر خیریت اثر خورسندی وخوش طبعی این جانب را حاصل شد که در این امر خیرخواص وعوام مندرج است انجا مش بخیریت تمام باد وزیاده ایام بکام باد .

محرره یوم دوشنبه ١٤ شهر شوال المکرم سنه ١٣٦٠ والسلام علی من اتبع الهدی .

٧٧- دوستم :

دوستم د یوسفزو د ملاتړي د پښتو شاعر وه چې ملي لهجه شعر وئیلی دده دوی چار بیتې (د پښتو نثوا هار و بهار) کې راغلي دي .

٧٨- دوست محمد ختك :

د خوشحال خان ختك له اولادې څخه و، د پلار نوم ئې اکرم خان، نیکه ئې بهرام خان

ور نیکه ئي زر نام خان و، چه د هغه پلار پاینده محمد خان او د پاینده محمد خان پلار عبدالقادر خان او هغه دخوشحال خان ختک زوی دی .

دوست محمد ختک دپښتو ژبی اوی لیکوونکی او پوخ شاعر و، دی له پښتونستان څخه دقندهار دپنجوائی علاقي دمحتشم کلی ته راغلی و .

دده یواوی کتاب د «بحر العلوم» پنامه په «۱۲۹۰ هـ» کال په پښتو نظم کړی دی چه «۱۱۵۹» صفحي او تقریبا «۲۰۰۸۰» شل زره او اتیا بیتونه لری .

بل کتاب ئي دخپل پلار په امر له عربی «طریقة احمدیه» څخه په «۱۲۹۲ هـ» کال د «اخلاق احمدیه» پنامه په پښتو ترجمه او نظم کړی دی چه یو ولس زره بیتونه لری .

دده دشعر ونو لویه برخه مثنوی قسم دی د دوست محمد ختک دټولو نظمونو شمیر شلو پنځو زرو بیتو ته رسیږی .

په نثر کی ئي هم ښه لاس درلود او پوخ لیکوونکی دی، دواعظ کاشفی تفسیر حسینی ئي په (۱۲۷۵ هـ) کال په پښتو ترجمه کړی دی او هم ئي پر دلائل الخیرات باندی فارسی شرح لیکلی ده چه په دې حساب ئي دفارسی ژبی لیکوال هم گڼلی شو .


۷۹ .. دوست محمد کاکړ :

دپلار نوم ئي بابر خان او اصلاً دجنوبي پښتونستان دژوب اوسیدونکی و .

د پښتو ژبی ښه لیکوونکی او شاعر تیر شوی دی، په تذکره او پسته کی ئي ښه لاس درلود په (۹۲۹ هجری) کال ئي یو کتاب دتیرو شویو پښتو په شرح حالکی مرتب کړ او نوم ئي «غورت نامه» ورباندی کښینود .

دغه کتاب له «تذکره غوریه» څخه اقتباس دی، چه دده پلار نظم کړی او بیا ورته نثر وه، دی وایی: «..کتاب ورکوالی دائی لیکي ... د ... هغه وخت چه بابر خان وفات شو او زه په کور ننوتم نو هغه کتاب ورک سوی و او چا ضایع کړی، نو چه دا نظم د خپل پلار پهماتم کی ورسره نسو لیکه چه کتاب ورک و...(۱)» .

(۱) پټه خزانه ۷۰ مخ



لسانة بابا



عمرا خان د باجوړ مشهور مجاهد

دوست محمد کاکړ په (۹۱۲ ه) کال د کاکړ بابا د زیارت دپاره هرات ته تللی و او چه بېرته ژوب ته ولاړ هلته ئې «غرغښت نامه» تجدید کړه.

۸۰ - دولت لوانی:

د پښتو مشهور شاعر او د پیر روښان مرید و.

د ده نوم شیخ دولت الله او د پلار نوم ئې «داداو» و، او په قوم د پلار له خوا لوانی او د مور له خوا اورکزی پښتون و - په ۱۰۵۸ ه کې ژوندی و د شعر د نو کلیات لری خو چاپ شوی نه دی د دیوان قلمی نسخه ئې د پښتو ټولنې په کتابخانه کی شته بله نسخه ئې په برټش موزیم کې تر ۴۲۲۸ لمبر لاندی ضبط ده - دده د یو غزلی څو بیتونه دادی:

زه اول هم دیوانه وم، دیوانه یم لا تر اوسه
له دلداره همخانه وم، همخانه یم لا تر اوسه

له طفلی نه عاشق وشوم، غم طلب او بلاکش وم
د دلبر د مخ په شمع، پروانه یم لا تر اوسه

زه هلك هم افسانه وم، له عالمه بېګانه وم
تر څلو پښتو کالو تېر شوم، بېګانه یم لا تر اوسه

۸۱ - رحمان بابا:

د پښتونستان هغه مشهور او لوی شاعر دی چه ټول پښتو ولس ئې د بابا په لقب ورکړی او هیڅ یو پښتون به نه وی چه د رحمان بابا نوم ئې اوریدلی نه وی.

او ډیر به لږ داسی پښتنی کوروی چه هلته د رحمان بابا دیوان موجود نه وی.

د رحمان بابا پلار عبدالستار نومیده په قوم مومند او په ۱۰۴۲ هجری کال د پېښور په بهادر کلی کی زیږیدلی او په ۱۱۱۸ ه کال وفات شوی او د پېښور په هزار خانی کی ئې مزار دی.

د رحمان بابا خپل ابتدائي تحصيلات په خصوصي تو ګه له ملامحمد يوسف يوسفزي څخه تکميل کړي او بيا د نورو علومو د اوستلو دپاره هندوستان ته تللی دی .

د رحمان بابا شعر په پښتو کې هغسې شهرت موندلی دی لکه د خواجه حافظ شيرازي شعر چه ئې په فارسي کې لري پښتانه د رحمان بابا په اشعارو فال ګوري او دده له روحانيت څخه استمداد کوي .

اکثر مستشرقين لکه هيوز (۱) ورتی ويلي او نور چه د پښتو ادب سره آشنائي لري هم رحمان بابا د پښتو شعر له پيشوايانو څخه بولي . اشعار ئې تصوفي او عشقي دي په ټول ديوان کې ئې هيڅ يو راز هزل او ابتذال نه ليدل کېږي او نه د چا پيرو دی دی پخپله وايي .

چه د انورو شاعرانو کاندی هغه نکا ‌‌ ‌ ‌ ‌ رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی

دده يو غزل دادی :

زه د اهسې د يوانه او مجنون چا کړم ‌ ‌ ‌ ‌ لا دواچه له رسومه بيرون چا کړم
نه پوهېږم چه دا چادی په ماځولي کا ‌ ‌ ‌ ‌ ليونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
ګومې ستر ګي ګوم بانړه ګومه غمزه ده ‌ ‌ ‌ ‌ دوب شهيد غوندې په خاکو په خون چا کړم
توان تو فيق نشو د فتنو دا څخه نو ‌ ‌ ‌ ‌ په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم
رحمان هيڅ له خپله ځايه نه ... نيم ‌ ‌ ‌ ‌ چه دا هسې د نګاه بيتاو مجنون چا کړم

٨٢ — رحيم داد :

څو آثار د رحيم له اولادي څخه وه په پښتو کې شعر ونه ويل او شعر ونو ئې تصوفي رنګ لاره .

٨٣ — رسول داد .

يو کتاب ئې د (بدرالبيان) په نامه په پښتو نظم کړی دی .
دی په فقه خبر دی او په ګومل کې اوسېده .

شعر ئې مذهبي رنگ لري . تر (۱۲۸۱ ﻫ) پورې ژوندی و . په طریقت کې ئې دسید محمد عمر لاس نیولی و .

۸٤ - رضی لودی :

دشیخ حمید لودی چه دالپتگین اوسبکتگین (۳۵۱ - ۳۹۰ﻫ) په وختو کې دملتان حکمران و ، ورور دی .

شیخ رضی دشیخ حمید په امر دپښتونستان غرونوته راغی او دلته دوه کاله داسلام په تبلیغ مشغول و .

۸۵ - رمضان .

دپښتونستان دپېښور په خواوشاکې اوسېده اودپښتو شاعر و .

ز

۸٦ - زاهدخان :

زاهد خان دپښتونستان د پېښور پښتو شاعر و - او شعرونه ئې په ملی وزن و یلی دی .

س

۸۷ - سفید شاه :

دپښتو شاعر و ، اودپېښور دعلاقې په سرای صالح کې اوسېده ، او دپښتو ژبې دهدایة الاعمی نسخه ئې منظوم کړې دی .

۸۸ - سکندرخان خټک :

دپښتو شاعر اودخوشحال خان خټک زوی دی .

یو کتاب ئې د «مهر ومشتری» په نامه په پښتو نظم کړی دی . او دا دغه کتاب ترجمه ده چه په ۷۷۸ هجری محمد بن احمد العطار التبریزی په پخوازړو پښتو کی منظوم کړی و او څو ترکی شاعرانو په ترکی هم ترجمه کړی دی .

دا شاعر د دیوان هم لری - د یوې غزلی مطلع ئې دا ده :

مغنی ګوتی په تنبور زده دی په بم هم
هم ساقی شته هم بهار شته صنم هم

۸۹ - سعادت خان :

د خوشحال خان خټک له اولادې څخه و . پلار ئې افضل خان نومیده او په «جهانګیری» کی اوسیده . د (۱۳۰۰ هجری) کال په حدودو کی ژوندی و . دا دوه بیتونه ئې د خپلو دوو ورونو «اکبر - او اشرف» په یادتانه کی ویلی دی :

فلک څه نا کرده ساته کړي دو شادی
چه می ستر ګی په زړه کی فولادي شوې
نوی نوی غم د اخلی زما په خونه
خبر نه یم د غم ما کوه ویری شوې

۹۰ - سلطان محمود ګدون :

د اباسین د غاړو د پښتنو قومی مشر و - او د (۵۰۰۱ هجری) کال په شاوخوا کی اوسیده .

۹۱ - سوراج :

اصلاً هندو و . خو په پښتو ئې شعرونه ویلی دی - د پښتونستان د بنو د علاقې د لا شاهان سردارانو ئې د خپلو شعرونو کی ستایلی دی .

۹۲ - سوکیه :

د سوات د علاقې یو هندو و چه په پښتو ژبه ئې شعر وایه - د ده نوم د الف مستقر ضبط کړی دی .

۹۳ - سید احمد (مولوی) :

مولوی سید احمد د پښتونستان د کوهاټ [illegible] یو مشهور عالم و . د (۱۲۹۰ هجری) په شاوخوا کې ئې ژوند کاوه . ده د پښتو متلونو یوه مجموعه لیکلې ده چه یوه نسخه ئې د لندن په موزیم کې محفوظه ده ، یادې مجموعې کې د پښتو (۶۷۹) متلونه راغونډ شوی دی .

۹۴ - سید نور :

د پښتو شاعر و ، او د پښتونستان د پېښور [illegible] اوسیده [illegible] د گلشن اشعار افغانی » په نامه د پښتو [illegible] شاعرانو د اشعارو یوه مجموعه اری ؛ چه یوه نسخه ئې د اسلامیه کالج په لائبریری کې پرته ده .

۹۵ - سنډاکی بابا .


د پښتونستان نوی عالم او مشهور مجاهد تېر شوی دی ، په ۱۲۳۷ هجری کال د پېښور [illegible] د ولاقې په (سنډاکی) کلی کې زیږیدلی دی ، تر تعلیم وروسته ئې د جهاد [illegible] کې پیدا شو د شیخ الهند محمود الحسن صاحب [illegible] ملگری وه [illegible] [illegible]

او دهغه دزوی شاه جهان خخه ئې دا آرزو بوده کیدی نشوه بیاجوړ نه ولاړ او ملته ئې د انګریزانو پرخلاف تبلیغ او تحریک شروع کړ مګر څنګه چه (شارخان) دانګریزانو طرفدار و نوسنډاکي بابا دهغه سره مخالف شو ددی دپاره ماذونان اکه دترنګزو حاجی صاحب اودبابړی ملا صاحب او نور دچارمنګ سلارزو اوماموندو قبایل ور سره متفق شوله او پرشار بانس ئې یرغل وکړ دغه کوړی کلي ئې وسیځه پدې وخت کي دشار خان سنډاکی بابا سره پوره ملاقات وکړ او سره جوړ شول بیائی په آزاد پښتونستان کښې یو جمعیت د (جمعیت احرار) په نامه جوړ کړ چه په هغه کي محمدجان خان د شار داپنګار نقیر صاحب ، دمیان کلي سید معروف خان پاد شاه دکیندلی حکیم صاحب او مولوی فضل الدین او نور مجاهدین پکښې شامل شول او د انګریزانو پر خلاف ئې د جهاد اعلان وکړ ، پدې وخت کښې ئې یو نمایندہ چه په کابلی ملا صاحب مشهور و د افغانستان د هغه وخت پادشاه امان الله خان ته دا ولیږه امان الله خان هم د مرستې وعده ور سره وکړه خو شوداُ نمایندہ بیرته پښتونستان ته رسیدو سنډاکی بابا وفات شوی و ، دسنډاکي بابا وفات داوبا کالو په عمر په ۱۳۰۷ هجری شمسی کال ددیر په (سندل) کلی کښې واقع شوی دی .

سنډاکی بابا پوځاری او مجاهد عالم وچه غوښتل ئې د پښتونستان پښتانه دانګریزانو داستعماری قوی پر خلاف پاڅوی او د پښتو پوره استقلال وساتی .

[illegible] سید امیر خان :

سید امیر خان په خوه آدم خیل افریدی د امریکا [illegible] [illegible] پاڼا امریکا [illegible] پښتو [illegible] د پښتونستان آواز [illegible] [illegible] ۱۹۲۳ [illegible] کال [illegible] په [illegible] افغانستان ته [illegible] د پښتونستاني [illegible] [illegible] وفات شو او د پښتونستان [illegible] که [illegible] [illegible] د پښتونستان [illegible] [illegible] آرزو [illegible] کوی .



مرحوم سید امیرخان ایزدی



جانګلی خیر محمد خان د آزاد پښتونستان د وزیرو قوم
یو ننګیالی مشر

ش

۹۷ ـ شاه افضل :

دپېښور دخوا د پښتو شاعر و ، دامير حمزه داستان چه د احمد آخون خټه نيمګړی پاته شوی و په ۱۲۸٦ هـ کال ئې په پښتو نظم بشپړ کړی دی. دده د يوې غزلې مطلع داده :

زه بلبل مې په ګل يم خزان شه ګرم ستا وصال له خدايه غوارم هجران شه ګرم

۹۸ ـ شاه عالم :

د پښتو شاعر دی چه د پښتونستان داسماعيل خان د ډېرې په ګنډاپور کې ئې ژوند کاوه ، دا رباعی دده ده :

چه له خيا له دی په مخ زلفې خورې کړې

زړه مې خود شو له هيڅ مې [illegible] کړې

چه په سرو شونډو دې وخندل رقيب ته

په ژړا مې له [illegible] کړې

۹۹ ـ شا پسند :

د پښتو شاعر و او د (۱۳۰۰ هـ) په حدود کښې اوسېده ، [illegible] ذکر داخل دی .

۱۰۰ ـ شا ګل :

په پېښور کې اوسېده او د پښتو شاعر و ، [illegible] دده اثر داده [illegible] مستشرق [illegible] کړی دی .

۱۰۱ ـ شاه غریب:

دپښتو شاعر و، چه د حبیب ګل میاه په بیاض کی ئې نوم داخل دی .

۱۰۲ ـ شاه شیر:

دپښتو شاعر دی، چه د حبیب ګل میاه په بیاض کی ئې نوم داخل دی .

۱۰۳ ـ شهنواز:

دبنیر د څوا دپښتو شاعر تیر شوی دی ، د(۱۲۰۰ ھ) په حدودو کی ژوندی و ، په بهار نوروزی کی ئې یادو یو شعر دا دوه بیتونه دده دی:

ز ه د زده ویښی مدام لکه مینا خورم   چه ساقی نکړی کرم په باب ګما
د بهار له سیله چه جدا شو   دا خسته خاطر غمګین بی تاب ګما

۱۰٤ ـ شیخ قاسم:

لوی عارف او عالم، د ولادی شیخ قدم [illegible] چه مشهور شیخ متی د اولادی څخه و
[illegible] دپښتو شاعر و ، شیخ قاسم په (۹۵٦ ھ) کال [illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

شاهرو، دده نسوم «آدم» اود «ملي» زوی دی، د(۸۰۰هـ) په شاو خواکې ژوندی و.

په ۱٤۲٤ع - ۸۲۹ هجری کال چه ئې دسوات علاقه فتح کړه دهغې فتح تاریخ ئې په پښتو نظم کړی دی.

شیخ ملي یو کتاب «دشیخ ملي دفتر» پنامه لري او راورټي مستشرق هغه لیدلی دی، یوه نسخه ئې دلندن په (برټش موزیم) کې موجوده ده. وایي چه د ده قبر په پېښور کې دی.

۱۰٦- شیخ محمد اکرم:

شیخ محمد اکرم دپښتونستان دخیبر ددرې اپریدی پښتون و، چه په مصر کې ئې په علم او عمل او تقوا شهرت موندلی دی او په قاهره کې اوسیده. دی دخیبر په دره کې پیدا شوی او تر ابتدائي تعلیم وروسته د(۲۱) کالو په عمر د نورو علم دطلب د پاره هند ته ولاړ، په انکښهو کې ئې دلویو لویو عالمانو څخه منطق، حکمت، عقاید، تصوف، حنفي فقه، طب، ریاضي او نور عربي علوم ولوستل او لوی عالم شو، خو ده دعلم سره زهد او تقوا هم درلوده.

په (۱۲۷۲هـ) کال دحج په نیت حجاز ته ولاړ، تر حج وروسته دمصر دازهر دپوهنتون په افغانی (سلیماني) رواق کې دیره شو. هلته دلویو عالمانو دتوجه مورد وګرځید او ډیر پوهان ورباندې څوانه شول چه یو له هغو څخه شیخ حسین مرصفي مشهور پوهاند و، څنګه چه دده دعلم شهرت په قاهره کې خپور شو نو یوه ورځ ئې سوداګر چه دکشمیر معارف ئې خرڅول او په «کشمیري» مشهور و، شیخ صاحب ئې خپل استوګنځي ته یوړ او نه میاشتې هلته و، په دغه وخت کې دقاهرې اکثر خانان او پاچایان لکه حسن پاشا منشتر ای دمصر کتخدای او اسماعیل پاشا خاصم اونور د ده زیارت ته راتلل، خو ددې پېښنا نه شیخ دعلم او فضیلت خبرې ئې دمصر والي امیر احمد پاشا ته ورسولې امیر هم دده لیدو ته راغی.

بیا نو د اپښتون شیخ له مصر څخه ترکیې ته ولاړ او هلته ئې دمعارف حکومت له (شیخ الاسلام) سره وکتل شیخ الاسلام داقرار وکړ چه دا پښتون شیخ په استوګم

علمی منصب او یا کومی عملي اخیستلو دپاره داغلی وی خو پښتون شیخ ورته غږ کېده
کړ ه چه د ده پیله سیاحته بل مقصد نلرم او اس میاشتې ئې هلته تېرې کړې وروسته
شام ته ولاړ او له شامه ئې ازمیر ته سفر وکړ دهغه ځای عالمانو ډېر احترام په ستر ګه
ور ته وکتل او د هغوی په خواهش ئې اس میاشتې هلته تېرې کړې او په اس و میاشتو کې
ئې دفتو حات المکیه دیباچه دهغه ځای علماؤ ته په درس ولوستل او تر هغه وروسته
بیا مصر ته ولاړ

پدامی حال کی چه دازمیر لوی علما ده په ټینګه ډېر خواښتي وه شام ته ولاړ
هلته دشیخ سلیم العطار چه دخپل وخت خورا لوی عالم و میلمه شو او ډېر پو هان ده
ددرس په حلقه کی شامل شول او له ده څخه ئی په علم هیئت کی دافلاکو د تشریح څه
رسالی او هم ئی دابن عربی فصوص الحکم زده کړل او هغه ئی په ډېر له لاری مصر ته
او بیا د بحر احمر او خلیج فارس او بصری له لاری بغداد ته ولاړ هلته سید احمد حسینی
د نقیباشرافو نقیب شیخ په خپل کور کی میلمه کړ او ده خدمت ته ئې ملاوتړله له هغه
وروسته د حسین پیر تروب له ځنګله د نوی سفر نه و نو مصر ته ولاړ او هلته د قاهری په یو
مسکورکی چه په خان خلیلی مشهور و میشته شو او ډېر ګلونه په تدریس مشغول و اسماعیل
پاشا هغه د علمی شخصیت په مقابل کی ښه معاش ورته ورکا که او ایو ... کې کاتب پاشاه
د مصر داو قافو ناظر شیخ صاحب دمحمود ... کی ... وت چه د ازهر
له ... کی ... په ... د علم په اقامه مشغول شو ... کال ... ئی هلته تدریس وکړ او
... (۱۳۴۷ ه) کال د ربیع الثانی په میاشت
... کې په (۹۰) کالې عمر ... ئې فانی دنیا څخه سترګې پټې کړې
پداسی حال کې چه عمر ئی اته ... شو

او په بستان العلما د مجاورانو په ... کې ښخ شو

دده د اوږد علمی شخصیت ... کانی ده چه دازهر د پوهنتون
... ئي دکال ... د پاره ... کیږي او
... شیخ ... ګڼه ... د ازهر څخه دازهر
شیخ الشیوخ ... په ... د علمی مقام
... شیخ محمد اکرم څخه بل ... ده ئې او د علمی
... چه ... الهجرا و ... شوی دی
هغه وخت چه د ... پښتون شیخ ته ... هغه وصل او ... بل :

«زمونږ ئی ددوی په ازهر شه ۲ که دمصر حکمرانی هم ماته دا وسیادی وبه ئی نه منم له» .
رحمة الله علیه رحمة واسعة (۱) .

۱۰۷ ـ شیر احمد شیدا :

دپښتو شاعروا دپښتون په شاوخوا کی اوسیده ددی یو ودوکی منظوم کتاب اری چه دسوات دبابا صاحب، دهغوی صاحب اودمانړکی صاحب ستاینه ئی کړیده .
او په (۱۳۰۱ هـ) کال کی چاپ شوی دی . په فارسی ئی هم شعر وایه .

۱۰۸ ـ شیر محمد :

دپښتو شاعر اود آخون پدویزه له اولادی څخه ښکاری دده دبر ژو نـد ننګرهار کی تیر شوی دی دا پښتو نه دده دی :

یا ګوښه وای له سریو　　پر آسمان پاندی سحاب وای
یا عاشق وای پر مهرویو　　یا معشوق لکه مهتاب وای
چه نه دا شو نه هغه شو　　شیرمحمد ککی تراب وای

ص

۱۰۹ ـ صدرخان خټک :

دخوشحال خان خټک زوی او دپښتو ژبی شاعر دی شعر ونو یو ښکلی دیوان لری په اشعارو کی ټکله د پلار خوشحال . او ځان ته صدر تخلص کوی .
د نظامی خسرو اوشیرین ئی هم په پښتو کړیدی، یادی هم دده ئی ... په کلید افغانی کی ځینی ... کړی دی دیری غزلی ... دادی :

اګه زه چه ... ستا په غم کی پلاتونه هسی
... جدائی په اوه کی ... هسی

---

(۱) د آریانا مجله ـ ۷ کال ۲ ګڼه ۴۰ مخ

۱۱۰ ـ صمد :

د پښتو شاعر دی چه یادری هیوز دده یوه غزله په کلید افغانی که ضبط کړېده او دوه بیتونه دده دی :

بې له یاده دا ښکاره ژوندون زبون شو
اشتیاق می دزده مرګ ته افزون شو

د حیرت ګوتی په غاښ کړی طبیبانو
له «قانون» او له «شفاء» می د نبض برون شو

قانون او شفا دابن سینا دوه کتابونه دی .

ط

۱۱۱ ـ طالب شاه :

د پښتونستان د پښتو ژبی شاعر دی ، او د حبیب ګل میا په بیاض کښی نوم داخلی دی .

ظ

۱۱۲ ظریفخان :

د پښتو شاعر دی ، چه داد مستر په ګلدسته کی دده یوه غزله ضبط کړېده چه سرئی دادی :

یاد م ستا په حبیب کی زما پېړ وان دی
ګمان می ، نفتی بېرون ما ښام دی

ع

۱۱۳ – عبدالحکیم صاحب کاکړ :

مشهور په میان عبدالحکیم صاحب د پښتو له اوږو عرفاؤ څخه و ، ده په طریقت او تصوف کې ډیر شهرت درلود .

په (۱۱۵۰ هجری) کال له قندهار څخه د پښتونستان کاکړستان ته ولاړ ، ددهٔ مزار په تل او چټالي کې ډیر شهرت لري او ډیر خلق ئې زیارت ته ورځي .

۱۱٤ – عبدالحلیم درویزه :

د عبدالله زوی او د آخون درویزه لمسی دی . په پښتو ئې شعرونه ویلي ، تر زر هجري وروسته ئې ژوند کاوه .

۱۱۵ – عبدالرحیم هوتک :

دغه تکړه شاعر د پښتو شاعر او عالم و ، ده په اصل کې د پښتونستان د ږوبلان اوسیدونکی و ، څو وروسته قندهار ته راغی ، په (۱۱۵۰ ه) کال له وطن څخه جلاشو او بیا کاله له وطنه لیری و ، پښتو کاله په ښارادرنده او نورو ځایونو کې په تیر تهران کې تیر کړي دي .

ددهٔ یو دیوان لري چه لا چاپ شوی نه دی ،

ددهٔ یاده د آشنا پر مقام و ده شه

زما دیاله د ... و کړ څه کوتر شه

او یو کم چه وی تول وو پنه په ستر کو

د ... الی ... د ... یوه خپل شه

۱۱٦ـ عبدالرحمن سواتی:

د پښتو شاعر او د سوات د کانړلي د کلي اوسېدونکی و. ده غوښتي دي چه د موسيقي په مقاماتو برابر شعر ووايي.

وايي چه پوهنتت قاضي هم و، ځکه نو په قاضي عبدالرحمن هم یادشوی دی.

۱۱۷ـ عبدالرشید آخون:

د سلطان حسین زوی او د عبدالرحیم قریشي لمسی د ملتان له پښتنو څخه و. چه پیا ودوسته انګر کوټ ته داغی. د پښتو له مشهورو شاعرانو څخه و. د «رشید بیان» مشهور دیني کتاب چه د عوامو په منځ کښې ډېر شهرت لري حتی د کښېنو کوډنیو تعلیمو په نصاب کښې هم شامل دی هغه آخون عبدالرشید په (۱۱۲۹ ه) کال په نظم کړی دی.

۱۱۸ـ عبدالعظیم رانی زی:

د نور د خان لمسی او د پښتو شاعر و. د پښتونستان په سوات کښې اوسېده. په ۱۱٦۷ ه کال زیږېدلی او په ۱۲٥۳ ه کال وفات شوی دی.

د شعرونو دیوان لري، علوم ئې د پېښور په ښار ټولکال کې لوستي دي او بیا ئې په خپله هم درس ته تدریس کاوه.

دا بیتونه د ده دي:

[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]
[illegible]	[illegible]

۱۱۹ـ عبدالعلي آخوندزاده:

د پښتو بو ... شاعر او د پښتونستان په کوهاټ او [illegible] کې اوسېده ... [illegible] ... په خپله [illegible] ... [illegible] ... پښتو [illegible] ... په ملي لهجه شعر وايه ... [illegible] ... شهرت لري.

۱۲۰ــ عبدالقادرخان خټک:

دخو شحال‌خان خټک‌زوی او دپښتو ژبې زبردست ادیب اوخوږژبی‌شاعرو، د۱۰۶۱ هجری کال دجمادی‌الثانی په ۲۳ زیږید لی دی . دی په نثراونظم کی ډیر تالیفات اری مشتر ر او ډېر یخپل کتاب «انتخاب‌شعرپښتو» کی لیکی چه‌عبدالقادر خان شپېته کتابونه لیکلی دی ، په‌ادبی فنونو اوعلومو کی دښو‌معلوماتو څښتن‌و ، دده شعری کلام‌له‌هره تعقیده پاک او سپېڅلی دی .دده مشهور آثار دادی :

۱ــ دیوان : چه‌په ۱۳۱۷ هـ کال‌په قندهار کی چاپ شوی‌دی .

۲ــ یوسف‌زلیخا: چه‌په ۱۱۱۲هـ کال ئې‌نظم کړی‌دی .

۳ــ ګلستان سعدی : چه په پښتو ئې ترجمه کړی اونوم ئې «ګلدسته» ورباندی ایښی

۴ــ حدیقهٔ خټک : په ۱۱۱۵هـ کال ئې‌نظم کړی‌دی .

۵ــ دآدم خان اودرخانی قصه .

۶ــ یوه رساله ــ دڅهل حدیث پنامه . پنځه‌سوه بیته .

۷ــ نصیحت نامه : چه‌ټول پښتو نه ئې دتجنیس صنعت اری .

عبد القادر خان په ۱۱۱۳ هجری کال دخټکو دنماینده په حیث کابل‌ته داغلی ؤ دده اریاعی ډیر مخوندونه دی :

یاد انا و لیزی ‌شو اکی خاکی [illegible]

اسیا [illegible]

۱۲۱ــ عبدالله:

د مشهور [illegible]

[illegible] .

۱۲۲ــ عبدالله:

د ملا [illegible] الدین زوی‌او دپښتو ژبی شاعر [illegible]

[illegible] په تقلم کړی‌دی .

۱۲۳- عبدالوهاب (مولانا):

د پښتونستان له مشهورو علماو څخه و، چه دا شعر یې د دوآبې کې اوسیده و. د سلطان گلا ون ملـگري او خلیفه و. آخون چالاک دده له مریدانو څخه و. آخون درویزه هم دی پوه عالم او تپه پرهیزگار سړی بولي، او وائي چه په پښتو، پارسي، عربي او هندي تالیفات لري. کنز الدقایق ئې په نقه کې منظوم کړی دی. اوی مجاهد هم و مزار ئې د پېښور په (اکبر پوره) کې دی او په آخون پنجو بابا یادیږي.

۱۲۴- عثمان:

د پښتو شاعر تیر شوی دی، او دده دوه غزلې په کلیدافغاني کې راغلي دي. دی د عبدالقادر خان خټک معاصر دی.

۱۲۵- عجب خان:

د پښتو شاعر و، چه د پېښور په چمکني کلي کې اوسیده د «نوشاد» داستان ئې په پښتو نظم کړی دی.

۱۲۶- عصمت:

د پښتو شاعر و، او د پښتونستان د بونیر په علاقه کې اوسیده، د ده یوه چاربیتي ماد. مستر بیلیو کتاب کې نقل کړې ده، چه سر ئې دا دی:

زه [illegible] اسماعیل [illegible] له [illegible] استونزی دوالده [illegible]

۱۲۷- عظیم:

د پښتو شاعر و، او د پښتونستان په اشنغر علاقه کې اوسیده، د عبدالعظیم دا [illegible] د ده په وابه کې وائي:

[illegible]

۱۲۸-علیخان ختک:

دافضل خان زوی داشرف خان هجری نمسی او دخوشحال خان ختک کړوسی دی . دپښتو ژبې مشهور شاعر و، تر (۱۱۵۰ ه) کال ودوسته ئې ژوند کاوه . د پلار له مرګه پس په اکوړه کې دخپل قبیلې مشر وټاکل شو . دشعرونو بشپړ دیوان اری چه په (۱۳۵۸ ه) کال په پېښور کې چاپ شوی دی .

تر (۱۱۸۰ ه) پورې ژوندی و، دا پښتو نه دده دی:

تول دې په زار او په قربان او په جان پو لی
جان خو څما جان ئې وایه جانه خان د چا ئې ؟
زه درپسې درسته شپه په ژاړم لکه پرخه
ته سباخندان لکه ګل واز ګریوان د چا ئې ؟

۱۲۹-علی محمد مخلص:

دپیر روښان مرید او خلیفه او د دویزه وائې چه دالرزانې شاعرو ود دی . د پښتو شاعرو ، میرزا خان او قاسم علی اپریدی یاد کړی دی د ده شعر تصوفی رنګ لری .

۱۳۰-عمرا خان:

عمرا خان د آزاد پښتونستان د [illegible] او مشهور [illegible]
تېر شوی دی [illegible] پلار محمد زمان خان [illegible] .

عمرا خان دانګریزانو دامپریالیستی قوت سره ډیرې جګړې کړې دي .
په ۱۸۹۲ م کال چه نواب محمد شریف خان ددیر څخه وشړل شو عمرا خان ددیر [illegible] خان شو [illegible] خواتې له چترال [illegible] په انګریزانو حمله وکړه له هغو [illegible] انګریزان وشړل [illegible] کال [illegible] و [illegible] .

په دې وخت انګرېزان د عمراخان اقداماتو ته متوجه شول او د آزاد پښتونستان [illegible] د دې [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] د عمراخان [illegible] خو عمراخان هغه وخت د مردان [illegible] سره [illegible] د خوا [illegible] او [illegible] چه انګرېزان د چترال [illegible] د خېل [illegible] او چترال هم وشو [illegible] انګرېزانو محاصره کړی هم وو [illegible] د انګرېزانو د [illegible] قوتونو [illegible] لوی لښکر [illegible] د چترال [illegible]

څنګه چه د عمراخان [illegible] پښتو جنګو ولو [illegible] مجبور شو [illegible] انګرېزانو [illegible] حمله وکړی [illegible] امیر عبدالرحمن خان [illegible] د [illegible] او [illegible] په کابل کې او [illegible] عبدالرحمن خان [illegible] او مقبول معاش [illegible] وتاکه او په [illegible] تر ژونده [illegible]

[illegible] انګرېزانو [illegible]

[illegible]

[illegible] (انګرېزان) [illegible] کال وفات [illegible] (١٢٢١ ه ش) کال وفات شو.

[illegible] کال [illegible]

[illegible]

۱۲ [illegible]

د [illegible] شاعر [illegible] (١٢٠٥) کال [illegible] شاعر [illegible] په [illegible] هم [illegible] شعر په پښتو نظم کړی [illegible]

۱۳۲ عمرخان :

د آخون درویزه له پیروانو څخه و، په پښتو ئې شعرونه ویلي او کلام ئې د آخون درویزه سبک ته نژدې دی .

۱۳۳ ـ عنوان الدین کاکاخیل :

دا پیښې آباد په کلي کې اوسیده ، په ۱۸۸۲ ع کال کې ئې د سوات د جنګنامه وقایع او د هغه ځای جغرافیائي حالات په نظم کړي دي ، دا د مستند دي له نوو شاعرانو څخه و، ده «اخلاق جلالي» هم په پښتو کړی دی .

۱۳٤ ـ عیسی ګل :

د پښتو شاعر و د (۱۲۵۰ هجري) شاوخوا [illegible] د [illegible] ضلعې کې اوسیده .

غ

۱۳۵ ـ غازالدین :

د پښتو شاعر و، شعرونه ئې [illegible] (۱۲۱۵ ق) [illegible] او د سوات د [illegible] [illegible] [illegible] .

۱۳٦ ـ غریبي :

د باجوړ د پښتو شاعر و چه په [illegible] کې ئې شعرونه [illegible] دي .

۱۳۷ ـ غلام محمد :

د پښتو شاعر او د پېښور په [illegible] کې اوسیده [illegible]

کــګبانړی دی او دمستر راورټی په قول په ۱۷ هجري پېړۍ کې ئې ژوند کــاوه
دده مشهور ده آثار دادي :

۱ ـ جنګنامه .

۲ ـ معراج نامه : چه په (۱۱۱۵ هـ) کال ئې په پښتو نظم ترجمه کړې ده .

۳ ـ دوالضحی منظوم تفسیر .

٤ ـ دسیف الملوك قصه .

۱۳۸ ـ غلام محمد خان پوپلزی :

دپښتو شاعرو اودپېښور په چارسده کې اوسېده . یو روښن خیاله او متجدد شاعر و ، ده
دا آثار ترجمه کړي اولیکلي دي :

۱ ـ مدوجزر اسلام : دا دمولانا حالي مشهور کتاب دی چه غلام محمد خان
په پښتو نظم ترجمه کړی دی اوپه (۱۳۱۰ هـ ـ ۱۸۹۳ ع) کال چاپ شوی دی .

۲ ـ فرلاد او زوی قصه : دمولانا حالـي دمتر په اولاد د دکتاب پـه نظم
ترجمه ده .

۳ ـ [illegible] قاعده : په دې کتاب کې او یا ئې ته دلیك اولوست دزده کړ لــو
قاعدې په پښتو لیکلي شوی دي اوده دا ادعا کړېده چه ددې قاعدې د [illegible] کو له به
نتیجه کې کیدا ی شي چه یو ناخوانده سړی په یوه هفته کې دومره نوازنده شي چه خپل
[illegible] کاغذونه اجرا کړي .

۱۳۹ ـ غلام محمد [illegible] :

دپښتو او فارسي او اردو ژبــي شاعرو [illegible] په [illegible] ګیرې کلي کې اوسېده
دده شه ا شعار د [illegible] زمان [illegible] اخوا د [illegible] په نامه چاپ شوی دی او اشعار
ئې ښه خوندور دي .

(ق)

۱٤٠ ـ فیاض :

د پښتو افسانه ویونکی شاعر و په موسیقی کښی ئې هم مهارت درلود دغه د مغلو په دوره کی اوسیده کوم پښتو (شاه بهوش) سرغوره بهرام او گل اندام قصه ئې په پښتو نظم کړې ده دغه چه په (۱۸۹۲ ع) کال هم په کلیه افغانی کی نشر کړی او بیا جلا هم چاپ شوی دی .

ق

۱٤١ ـ قاسم علی اپریدی :

د پښتو یو ښه شاعر دی او ښه لیکوال گڼل کیږی [illegible] [illegible] ستم خان اوړا [illegible] [illegible] کلی کی اوسیده .

په ۱۱۸۳ هجری [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] دیوان [illegible] پښتو [illegible]

[illegible]

[illegible] دیوان [illegible]

٤ ـ قصاید افریدی: په پارسي او پښتو چه په پښتو یوه خوابنامه هم لري .

٥ ـ فرهنګ افریدی: چه د فارسي لغات او مصدرونه د پښتو، کشمیري او اردو ژبو د لغاتو او مصدرونو سره راوړه شوي دي .

ده پخپلو اشعارو کي «افریدی» تخلص کاوه .

١٤٢ ـ قلندر اپریدی:

د پښتو شاعر او په (١١٥٠ هـ) کال دیادي او جمرود په شاوخوا کي اوسیده، د «میرا» نامي سره ئې عشق درلود، په اکثرو غزلو کي د «میرا» نوم د معشوق پر ځای یادوي . ده د قلمي دیوان یوه نسخه په ١٢٨٣هـ کال د امیر محمد اعظم خان په وخت کي د منشي عبدالنبي خان په سپارښت «حبیب» نامي یادګار لیکلی ده . په پښتو کښي د قلندر او میرا جانان په نامه یو نکل هم شهرت لري . دا رباعي د ده ده:

اوسپه! او خوري د سترګو تودي
په اوړه ولاړه ستړي په ګودي
ښکاریان لاکله د ګوډ بندیان شوه
خوږي ولاړي دي تشي تودي

وائي چه قلندر په سوات کي وفات شوی دی .

١٤٣ ـ قمرالدین میا:

د مولانا ولد ... زوی او د حافظ حفیظ الله نمسی و، په (١٢٧٣ هـ ق) کال د پیښور په ... کي زیږیدلی او په (١٣٣٦ هـ ق) کال په ... کي وفات شوی دی . میا قمرالدین د خپل وخت له مشهورو متصوفینو څخه شمیرل کیږده او ... تالیفات لري . نوی د ... کي د مولانا ... میا ... او د ... متصوفینو څخه ... ده مشهور آثار دادي:

١ ـ تنویر الضحی في تفسیر سورة والضحی، په فارسي ژبه تفسیر شوی او (١٤٠) مخونه لري .

۲ـ ریاض شاداب: د «ایاك نعبد و ایاك نستعین» تفسیر په فارسي ژبه (۲۰۰) مخه لري.

۳ـ روضة الواعظین: د خلو پښتو مشهورو حدیثونو خطه داسو حدیثونو شرح او ترجمه په فارسي ده.

٤ـ جنان الجنان: ۲٤۰ مخونه لري او د حضرت آدم د هبوط په نسبت د خدای تعالی د ۲٦٦ حکمتونو بیان.

۵ـ جمع الغرایب فی منع عن بیان المعایب، د غیبت نه په ٤۸۲ مخونو کې.

٦ـ هدیة الاصدقاء: د «الصلواة معراج المومنین» د حدیث تشریح په عربي ژبه ۱۰۰ مخونه لري.

۷ـ د «افضل الذکر لا اله الا الله محمد رسول الله» د حدیث شرح په ۱٦۰ مخونو کې.

۸ـ دوې رسالې: د اشارة په اثبات کې چه یو د چاپ شوې هم ده.

۹ـ یوه رساله د پادشاه د حقوقو په باب کې چه پر رعایاوې لري.

۱۰ـ یوه رساله د رعایاؤ د حقوقو په باب کې چه پر پادشاه یې لري.

۱۱ـ د حافظ شیرازي د دیوان شرح.

علاوه پر دې میا صاحب د ادب سره هم علاقه درلوده، په پښتو او فارسي یې شعرونه ویلي دي.

ک

٤٤۱ـ کاظم خان شیدا:

د پښتو د ادب د آسمان یو ځلانده ستوری او نازک خیاله شاعر تېر شوی دی.

دی د افضل خان خټک زوی او د خوشحال خان خټک لمسی و، په ۱۱۳۵ هـ کال زېږېدلی او د ۱۱۹۳ هـ کال په شاوخوا کې وفات شوی او په سرهند کې ښخ دی. ده خپل د اشعارو دیوان په ۱۱۸۱ هـ کال تدوین کړی دی، په اشعارو کې یې نزاکت، لطافت، بکر خیالات او خواږه تشبیهات ایسل کیږي او د پښتو شعر پوهان ده ته د پښتو د بیدل وائي.

دا دلته یوه داوړ همتی په باب کی ددهٔ د کلام نمونه ولولیء :

چه همت می نیکا د یر په هسکو او — لکه موج نیکره یم دیریو تلو
سوال می خوی له ددا فتا نه ابره نهدی — هاغه ودانه دپا خوا له کړه یه غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خیږم آسمان ته — نه زه م بیار لکه شبنم پر دوش د گلو

۱٤٥ ـ سکامگار :

دپښتو شاعر اولاد ئی د خوشحال خان خټک د قبیلی خان وه په ۱۱۹۳ هجری کال ژوندی و او د مړانی تاریخ ئی معلوم نه دی .

دا شعاعو دیوان لری خو چاپ شوی نه دی .

۱٤٦ ـ سکندو خان :

سکندو خان دامیرزی دپښتو منوج اولیکو نکی او همر نی شریف دی د و مه خیلی قبیلی هستوی په ۱۰۰۳ هجری کال ئی د پښتو تاریخ ایکلی دی او دا ... ئی ... جنګو نهای وه دی هسوانی په هلاته کی او ...

۱٤٧ ـ سکندر بهادر :

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

---

(۱) خلاصة الجهد

گ

۱٤۸ - گل صاحب :

مرحوم گل صاحب د آزاد پښتونستان معاصر مجاهد او توميالی، ده اصلي نوم محمد يوسف او د باجوړ د چار منګ په گل آباد کې او سيده. د انګريزانو سره يې ډيرې غزاګانې کړي دي او په ۱۹۳۰ ع کال يې د دې مياشتې د انګريزانو د متجاوز قوت مخه نيولې وه او د ليکنه‌ی په غروتو کې ورته پروت و. په ۱۳۲٦ ه کال کابل ته هم داغلی و او د پښتونستان په تحريک کې يې هم ښه برخه اخيستې ده. گل صاحب شه وخت په آزاد پښتونستان کې د « اتفاق » اخبار په سنګې چاپ هم چالاوه او په دغه ذريعه يې د پښتونستان آواز او چتاوه دی. په ۱۳۲۸ ه کال په گل آباد کې وفات شو.

۱٤۹ - گل محمد :

د پښتو شاعر او د هزاره علاقې په دوديال کې اوسيده د سيد احمد بريلوی تر قيادت لاندې يې د سکانو سره جنګونه کړي دي. د ۱۲۵۰ ه کال په حدود کې ژوندی و. په ملي لهجه يې شعرونه ويل.

۱۵۰ - گوجر :

د پښتو شاعر په قوم ترکانی او په جندول کې اوسيده د ۱۲۸۰ ه کال په حدودو کې ژوندی و.

۱۵۱ - گوهرخان خټک :

د خوشحال خان خټک زوی او د پښتو شعر يو ديوان يې هم درلود.

م

۱۵۲ ـ مانکی صاحب :

دده اصلی نوم شیخ عبدالوهاب او دسوات دبابا صاحب خلیفه و، ده پخپله هم ډیر مریدان درلودل مانکی صاحب په پښتو نثر یو وړوکی کتاب لری چه دعقایدالمؤمنین نومیږی دی په (۱۳۲۲ه) کال وفات شو. مانکی صاحب روحانی ژوند درلود.

۱۵۳ ـ محمد جی لیونی :

دپښتو شاعر و او په یکلی کی اوسیده تر ۱۳۰۰ هجری پوری ژوندی و، د۱۷۸۶ عیسوی کال دسپتمبر په ۱۵ فرانسوی مستشرق دار مستتر د ایبټ آباد په جیل خانه کی پیدا لی و، شعرونه ئی په ملی لهجه ویل.

۱۵۴ ـ محمد خان :

دپښتو شاعر و، او دپیښور په اشغر کی اوسیده دپښتونخوا په هار و بهار کی ئی ځینی چار بیتی داخلی دی. د(۱۲۵۰ه) کال په حدودو کی ژوندی و.

۱۵۵ ـ محمد دین :

دپیښور د نوبهار دعلاقی پښتو شاعر و، او په ۱۳۰۰ه کال ژوندی و. دمحمد دین پښتو چاربیتی ډیری مشهوری دی دیوې چاربیتی سر ئې دا دی:

دنیا پرست آوازی لاړې په عالم کی لوی پلو
زه ئی سوکیم په اور زیات ئی کوز که له جبینه

۱۵۶ ـ محمد رفیق :

دپښتو ښه شاعر و، او دپیښور په اکبر پوره او بیا په صوابی کی اوسیده. دی داشعار و یوه مجموعه دمجموعهٔ دیوان شمس الملکه په نامه لری چه پردو برخو ویشلې

شوي ده او يوه قلمي نسخه ئې د اسلاميه كالج په كتابخانه كې شته د امير عبدالرحمن خان په وخت كې كابل ته راغلى و. د(١٣٣٦هـ) د مخه وفات شوى دى .

١٥٧ـ محمد مظفر :

د ملا اسمعيل قريشي زوى و، او د پښتو ژبې ښه ليكوال تېر شوى دى . د داعظم كوفي تاريخ ئې د افضل خان خټك په سپارښتنه په ١١٢٦ هـ كال له پارسو څخه په پښتو ترجمه كړى دى .

نو له دې څخه داثر كنده شوه چه د يو د تنې كتاب ترجمه كوونكى چه افضل خان خټك گاڼه كېده هغه نه دى بلكه د ده په سپارښتنه محمد مظفر ترجمه كړى دى .

١٥٨ـ محمد گل مسعود :

د پښتو شاعر و، د پلار نوم ئې محمد داؤد او په قوم مسعود و. د ١١٤٠ هـ كال په حدود كې په پښتونخوا كې اوسېده .

١٥٩ـ محمدى صاحبزاده :

د پښتو ښه شاعر او د مياعمر شمكني زوى و، د شعرونو يو ديوان لري .

١٦٠ـ محمد يوسف ميا :

د پښتو ښه ليكوال و، او د اشنغر په ډېره تنگي كې اوسېده په قوم كاكا خيل ميا دى . د د توبة النصوح په نامه ئې د نظير احمد يو كتاب په پښتو ترجمه كړى چه په ١٣٢٢هـ كال طبع شوى دى .

١٦١ـ محمد يوسف يوسفزى :

ملا محمد يوسف يوسفزى د پښتو د مشهور شاعر رحمان بابا استاذ و، چه د پټو خزانې د مؤلف په قول رحمان بابا فقه او تصوف او نور علوم له همدې ملا صاحب څخه لوستلي دي .

۱۶۲ محمود:

د پښتو شاعر و، او د مـردان د علاقې په مرغز کې اوسېده. ده په چار بیتو کې یوه لاس د داود او په چار بیتو کې شه قصې او حکایتې مضامین بیان کړي دي.

۱۶۳ ـ محمود:

د پښتو شاعر و، او د پېښور د مردان په علاقه کې اوسېده. د ده نوم دارمستتر مستشرق پخپل کتاب کې ضبط کړی دی.

۱۶۴ ـ محمود آخونزاده:

د آزاد پښتونستان داوړ کړو له فاملو، پخپل قام کې ئې شه رسوخ درلود. د افغانستان د استقلال په جنګ کې ئې د انګریزانو سره شه جنګونه کړي دي، او د آزاد پښتونستان اوی مجاهد یاله کېده.

۱۶۵ ـ میرزاخان انصاري:

د نورالدین زوی او د پیر روښان نمسی و، او په «تیراه» کې اوسېده. د داود تی په قول ګرځنده او سیاح سړی و، په پښتو ئې شعر ویلی، او د اشعارو یو دیوان لري. په ۱۰۴۱ هـ کال د دکن په جنګ کې شهید شو. په تصوف عالم و، د ده د غزلي مطلع ئې داده:

چه دیار د مینې خوب په خراب زړه وهم

[illegible] په د نور د چیا منت په خه وهم

۱۶۶ ـ ملامست زمند:

ملا مست زمند د پښتو شاعر او د ۹۷۰ هجري کال په حدودو کې اوسېده مجاهد سړی و، او یو کتاب ئې د خیرالبیان په سبک د سلوک الغزاة په نامه تالیف کړی دی. د آخون درویزه [illegible] هم اوسېده ګویا ملامست زمند د پښتونستان او افغانستان مشترک نومیالی دی.

د ده مزار په شینواړو کې د مست بابا په نامه یادیږي.

١٦٧ - مسعود گل پاسنو :

د محمد عمر چمکني مرید او د پښتو ژبې ښه شاعر و د (١٢٠٠ ه) په حدودو کې ئې ژوند کاوه د احمد شاه بابا جنګونه ئې په یوه مثنوي کې بیان کړي دي ۰

١٦٨ - مشیرالدین میا :

د پښتو لیکوال لیکونکی او د پېښور په «سره ډېرۍ» کې اوسېده ۰
یو کتاب ئې د «مشیر الاخلاق» په نامه په اخلاقو کې او بل کتاب ئې د «تاریخ برامکهٔ افغاني» په نامه لیکلی دی چه او مهال اثر ئې چاپ شوی هم دی ۰
مشیرالدین په قوم کاکا خیل میاو ۰

١٦٩ - مطیع الله پیر خیل :

د پښتو شاعر او د پښتونستان د پاسین په خاوره اوسېده تر (١٢٥٠ ه) کال پورې ژوندی و (دده د اشعارو دیوان) په ١٢٣٦ ه کال پای ته رسیدلی دی - کله کله ئې فارسي شعرونه هم ویل ۰

١٧٠ - معین الدین :

د پښتو شاعر او د پېښور د چارسدې ته نږدې اوسېده په ١٢٥٦ ه کال ئې د مقدار واقع قصه له فارسي څخه په پښتو ترجمه کړې ده ددې کتاب یو نسخه په پېښور میوزیم کې ساتل شوې ده ۰ د پښتو شعرونو یو دیوان ئې هم درلود ۰

١٧١ - مقصود :

ملا مقصود د پښتو شاعر او د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د پښتو [illegible] په [illegible] کې اوسېده [illegible] په چار بیتو کې جنګي چار بیتې هم [illegible] او ملال پورې [illegible] کې [illegible] ئې هم کړي دي [illegible]

۱۷۲ ـ میا احمد :

د پښتو ژبې یو شاعر او د اسماعیل خان ډېرې په کلاچي کې اوسېده د شعر دیوان لري - چه یو نسخه دده په خط د اسلامیه کالج په کتابخانه کې شته او (۱۰٤) مخه لري ـ د ۱۳۰۰ هـ په شاوخوا کې ئې ژوند کاوه .

۱۷۳ ـ میا رجب :

د پښتو شاعر و او د (۱۲۵۰ هـ) په شاوخوا کې تېر شوی دی - شعر و نو ئې په ملي لهجه ویلي او په (بهار نوروزي) کې ئې څو غزلې داخلې دي .

۱۷٤ ـ میرا :

پلار ئې کوکي خیل اپریدی او مور ئې خلیله وه په پښتو کې بېسواد شاعر و ، په پښتو موسیقي کې ئې هم مهارت درلود او ډېر اکثر اشعار ئې په ملي لهجه او د پښتو په آهنګونو برابر ویلي دي ، دده اشعار په پښتو کې شهرت لري او په (۱۳۰۰ هـ = ۱۸۸۵ ع) کال ژوندی و او په (سپینه ډېرې) کې اوسېده .

۱۷۵ ـ میرا جان کاکاخیل :

میراجان سیدکاکاخیل د پښتونستان هغه فداکار زلمی دی چه پښتو سره ئې مینه له پخوا پښتو او پښتونستان د آزادۍ په لار کې د انګریزانو د استعماري سیاست قرباني شو .
میراجان کاکاخیل هم په لومړي قدم سره او پښتو ... پښتو څخه چه ... کاله پخوا ئې خپل کوران پښتونستان څخه چه ... تجاوز ئې ... ایلي او ... څخو استریلیا ته تللی وه ... او هلته ئې تجارت کاوه او ... ورو ورو ئې داسلام د دین تبلیغ شروع کړ او هغو استرالیایانو ته ئې د تبلیغ په اثر مسلمانان شول او ... ملا ... مسجد ... په استرالیا کې ئې د اسلام د تبلیغ ... په ۱۸۹۹ عیسوی کال ئې ... په ... کې یو انقلاب او تحول پیدا شو ... تحریک ئې د قومي او سیاسي تحریک شکل او ... استرالیا په پښتو کې ئې قومي تحریک

شروع او یو جمعیت ئې د «مجلس وطن» په نامه جوړ کړ ـ خو د استرېلیا حکومت د انګریزانو په اشاره هغه وېښ او حساس پښتون له استرېلیا څخه ویوست او میراجان کاکا خیل له هغه ځایه امریکا ته ولاړ .

هلته ئې د کلیفورنیا په خواوشا پښتنو کې خپل تحریک ته دوام ورکړ، ډېر پښتانه ئې د ځان همخیاله او همفکره کړه او د پښتنې خاورې د آزادۍ فکر ئې د دوی په مغزو کې کېښناوه .

څو ورځې وروسته د امریکا ټول پښتانه چه د آزادۍ په خوند به پوهېدلي وو، د مجلس وطن په حزب کې شامل شوه او مرکز ئې د کلیفورنیا په ښار لسمېر و ... کې وټاکل شو .

دې جمعیت په ۱۹۰۲ عیسوي کال د محمد عزیز خان یو سفري ترمشر توب لاندې یو هیئت له امریکا څخه د پښتونستان خواته را واستوه، دا هیئت که څه هم په پټه د ډېرو ټېرو د عملي په ټول زړه ور شوی و، خو چه ... د ته راو رسید، هلته ئې ټول غړي د انګریزانو له خوا ګرفتار شول :

محمد عزیز خان د پښتنو حساس ځلمی په غرغره او نور ملګري ئې په حبس دوام محکوم شول .

داوه د پښتونستان د آزادۍ یولاره کی د انګریزانو د امپریالیستي ډېرو په لاره قربانی .

مګر څه موده وروسته پښتونو لوی میراجان د خپلو خوړ لو ډله کاکا او ملګرو سره په ۱۹۰۲ عیسوي کال د پښتونستان اراده وکړه، د جاپان او ... او افغانستان له لارې د پښتونستان خواته د انقلاب او تبلیغاتو د خپل تحریک مرکز وګرځاوه او د انګریزانو د حکومت پرخلاف ئې اصلاحات شروع کړه، دلته ... [illegible] ... هر څو چه څومره د دې ... میراجان کاکا خیل ... د انګریزانو د استعماري سیاست د پاره خطرناک ... او ... میراجان ... سیاسي ... دا چه انګریزانو ... د حکومت ... شرط ... .

میراجان کاکاخیل چه پاك زړه درلود د خپل قوم د ګټې دپاره یې ډېر شرط ته غاړه کېښوده ، خو هلته چه ورغی دستي د انګرېزانو سپاهیان ور پاتې دي او ګرځېدل او میراجان د استعمارچیانو په لاس کې بندي شو .

اېریدیو که هر څه شر او شور جوړ کړ خو میراجان کاکاخیل د پښتونستان آزادي خو پښتونخکی پښتون چه له هغه وخته ورك شوی دی او نه یې پاهیڅ پته معلومه نشوه او د امپریالیستیانو د امپریالیستي سیاست قرباني شو !

۱۷۶ - میر احمد شاه رضواني :

په ۱۲۷۹ هـ کال د پېښور په [illegible] کې زېږېدلی او د ۱۳۵۳ هق کال د روژې په میاشت وفات شوی دی . د پښتو پیاوړی ادیب وه او ډېر تالیفات لري چه مشهور تالیف یې د «وافیه» په نامه د پښتو ژبې ګرامر دی چه په اردو لیکلی دی .

په پښتو او فارسي هم ښه پوهېده او ډېر خو زیات خدمت یې د پښتو د پاره کړی دی او وائي چه د ده په توجه پښتو د حکومت پښتونستان د کالجونو په تعلیمي نصاب کې داخله شوې وه په پښتو او فارسي یې شعرونه ویلي دي .

د ده تالیفات قریبا دیرش [illegible] چه مشهور یې دا دي :

۱، وافیه د پښتو ژبې ګرامر یې په اردو لیکلی دی .

۲، ګلستان افغاني : چه د حکومت د تعلیمي نصاب د پاره لیکلی شوی دی .

۳، بوستان افغاني : دا هم په تعلیمي [illegible] کې لیکلی شوی دی .

۴، تاریخ کافرستان .

۵، آئینه قدیم .

۶، [illegible] د پښتو [illegible] .

۷، تاریخ افریدي .

۸، سفرنامه رضواني .

۹، میریات رضواني .

۱۰، تحقیق الالسنه .

۱۱، دیوان وقصاید رضوانی .

۱۷۷-میرخان:

د کریمداد شاه کرد اود پښتو شاعرو، چه مرزا خان نې د مرزا او دولت سره په یوه ردیف کی داوړی، دی وایی :

یو مرزا ، میرخان ، دولت د علم کان وو
دسلوك شعر ئې کړی دی افضل

ن

۱۷۸- ناصر :

د پښتو شاعر او د پېښور پخوا وشاکی او سیدونکی دی حال ئې معلوم نشو .

۱۷۹ - نجیب :

د یوسفزو دعلاقی پښتون شاعر و په ځته یوسفزی او د شعر یو دیوان لری چه دلته ئې په موزیم کی شته د (۱۲۰۰ ه) په شاوخوا کی ئې ژوند کاوه .

۱۸۰ - نعمت الله :

د پښتو مشهور شاعر و چه د پېښور په نوښار کی اوسیده لږی قصی ئې په پښتو نظم کړی دی چه مشهوری ئې دادی .

۱ - د لیلی او مجنون قصه .

۲ - د نیمبولا او تیمبولا قصه (دلاهور طبع) .

۳ - د فتح خان قصه .

٤ - د حضرت علی جنګنامه (دلاهور طبع) .

٥ - د حاتم طائی قصه (دلاهور طبع) .

٦ - د الف لیلی قصه (د لاهور طبع) .
٧ - شاهنامهٔ افغانی (د لاهور طبع) .
٨ - د موسی او گل مکی قصه .
ده د (١٣٠٠ هجری) کال په شاوخوا کښی ژوندکاوه .

١٨١ - نعمان الدین أحمد :

دېښوو په « سرهدیري » کی اوسېده او کتا کتا خیل میادی د «ظفر النساء» پنامه ئی یو کتاب د میرمنو دپاره لیکلی او په (١٣٢٢ ه) کال په هندوستان کی چاپ شوی دی ، د ابن بطوطه سفرنامه ئی هم په پښتو کړی ده .

د نعمان الدین احمد ښځی هم یو کتاب د (زینت النسا) پنامه لیکلی دی .

١٨٢ - نور الدین :

د پښتو شاعر و او د پېښور په پیر بالئي کی اوسېده .

د امیر دوست محمد خان په عصر کی ئې ژوند کاوه ، د پښتو غېږي جنګي قصی ئې په پښتو نظم کړی دی چه څه برخه ئې د ادبستو په «هادو پښا ره» کی اقتباس کړې ده .

١٨٣ - نور شالی :

د پښتو شاعر و او د پښتور په خواوشا کی اوسېده .

١٨٤ - نور علی شاه :

د پښتو شاعر و او د پانی د جنګکه وقایع ئې په پښتو نظم کړي دي په (١٨٨٦ ع) کال وفات شو .

١٨٥ - نور محمد مولانا :

مولانا نور محمد د یوسفزو د ملانو یو نامتو عالم او د مولانا عبدالوهاب زوم او

مرید و اصلي نوم ئې محمد یونس او د باسین په کوهستان کې د اسلام په تبلیغ مشغول و
دېر چالاك په ملــکرې ئې ډېر جهادونه کړي دي چه د پښتونستان له لویو مجاهدینو
او غازیانو څخه شمېرل کیږي .

وایي چه د پښتو ژبې سره ئې ټینــګه علاقه درلوده او پــه (١٠٥٩ هـ) کــې وفــات
شوی دی .

١٨٦ - نوروز :

د پښتو مشهور شاعر و چه د پېښور په کماو خېلو کې زېږېدلی دی او اشعار ئې په
ملي لهجه او د پښتنې موسیقي پر اوزانو سم ویل .

د موسیقي سره ئې زیاته علاقه درلوده په تېره بیا په پښتو موسیقي کې د ډېر مهــارت
خاوند و ، ځینې هندي وزنونه ئې په پښتو کې داخل کړي دي د ده چاربیتي په عوامو کې
ښه شهرت اري د ده د غزلو دوه دیوانونه د ده کوچنی بهار نوروزي » او د لوی بهار
نوروزي په نامه په لاهور کې چاپ شوي دي .

١٨٧ - نیاز محمد نیازی :

د پښتو شاعر و ، او د باجوړ په چار کې اوسېده او په قوم سالارزی و ، په ملي لهجه ئې شعرونه
ویل او د (١٢٧٠ هـ) په حدودو کې ئې ژوند کاوه .

١٨٨ - نیکبخته :

یوه عارفه پښتنه مېرمن وه چه په پښتو ئې شعرونه ویل پلار ئې شیخ الله داد نومېده
په خوږه موږ ی وه او په اشنغر کې اوسېدله .

په (٩٥١ هـ) کال د شیخ قدم په نکاح شوه او په (٩٥٦ هـ) کال مشهور شیخ قاسم
(مشهور عارف) ددې له نسه پیدا شو .

ددې مېرمنې یو کتاب د « ارشاد القراء » په نامه په (٩٦٩ هـ) په پښتو نظم لیکلی دی
ددې کتاب یوه نسخه د ټپي خزانې د مولف پلار په خوږه مکي لیدلې وه .

و

١٨٩- واصل :

دپښتو ښه شاعر او د پېر او ښان پېر و معلومېږي .
خوشحال خان خټک دده ذکر کړی دی او دخان سره ئې په یوه ردیف کی داوړی وایي :

چه دمو نږه په حساب دی　　　　هیڅ می ندی واصل هېر

کاظم خان شیدائي هم داسې یادوی :

یو میرزا دولت واصل هم　　　　ښه کلام لری حاصل هم

١٩٠ - ولی محمد :

دپښتو شاعر او د (١٢٤٠ھ) کال په حدودو کی په سوات کی اوسیده .
دسوات دبابا صاحب مرید و او په یوه کتاب کی ئې دخپل پیر شرح حال او دهغه دژوند واقعات په نظم لیکلی دی چه دوه زره بیتو ته رسیږي .

ی

١٩١ - یونس :

په قوم مومن خیل او د پښتونستان په خیبر ایجنسۍ کی اوسېده دپښتو ښه شاعر تیر شوی او دشمسان باباڅا گرد و په (١٣١٠ھ) کال ژوندی و ... دا شعار او دیوان لری چه یوه قلمی نسخه ئې د افغانستان په شاهی کتابخانه کښې شته ... د یوې غزل مطلع ئې دا ده :

[illegible]



[illegible]

اوسني څو نوميالي مشران

بې ځايه به نوي چه ددې برخې په پای کې د پښتونستان دځينو اوسنيو نوميالو نومونه
او د ژوند حالات وليکل شي .
البته دا به د پښتونستان د ټولو اوسنيو نوميالو تذکره نه وي بلکه د څو هغو مشهورو
نوميالو يادونه ده چه اوس د سمتي د پښتونستان په تحريک کښې مهمه برخه اري او
ما ته ئې لنډ ډېر د ژوند حالات په لاس راغلي دي - نو ځکه له هغو نوميالو څخه چه
د ژوند حالات ئې ما ته ندي موندلي عفو غواړم او داکار به وروسته چه د پښتونستان لوی
او بشپړ تاريخ ليکل کيږي زه يا نور حساس او ليکوال پښتانه پای ته ورسوي .
د پښتونستان د اوسنيو څو مشهورو نوميالو لنډه معرفي داده :

خان عبدالغفار خان

د پښتونستان دا برجسته شخصيت چه د دنيا هر ګوټ د ده د نامه سره آشنا دی او
اوس په دې جرم چه د پښتونستان او پښتنو آزادي غواړي ده د اسو زړو شيدائي
خدمتګارانو سره د پاکستان د حکومت په تورو جيلونو کې ډېر ونه اوږ حمتو نه
کالی په ۱۸۹۰ عيسوي کال د اوتمانزو په کلي کې چه له پېښور څخه ۲۲ ميله ليري
د اشنغر په حاصلخيزه ناوه کې پروت دی وزيږيده .
خپل تحصيلات ئې د خپل مرحوم پلار بهرام خان ... په ژوند [illegible]
په عالي مکتب کې پای ته ورسول [illegible] چه په عسکري مسلک کې شامل شي
[illegible] او [illegible] انګريز افسر [illegible] هندي لايق افسر
[illegible] انګريز افسر [illegible]
[illegible] عبدالغفار خان
[illegible]
له هغه تصميم څخه تېر شو .
وروسته ئې نو په اصلاحي تبليغاتو شروع وکړه او [illegible]
[illegible] په [illegible] لاس پوري کړي [illegible]

ویښه په ویښه اخیستل بې ځایه خرخونه کول، ګوندې او نور ....
چه امریکې د ترنګزو د حاجي صاحب په اتفاق د بې سوادۍ پرضد مجادله شروع کړه
او یو مدرسه ئې تاسیس کړه، څه ډیر وخت تیر نشو چه دوی د دې مجادلې د انګریزانو
توجه ځانته وګرځوله، د خان عبدالغفار خان ئې بندي کړ او د ترنګزو حاجي صاحب
د آزاد پښتونستان د مومندو علاقې ته ولاړ او هلته ئې د انګریزانو پرخلاف د جهاد اعلان
وکړ، په ۱۹۲۰ ع کال د خلافت د تحریک په اثر کابل ته راغی او په ۱۹۲۱ ع کال ئې
یو انجمن «د انجمن اصلاح الافاغنه» په نامه تاسیس کړ چه وروسته د انجمن نوجوانان په نامه
یاد شو، دغه وخت په همدې کال بیا د انګریزانو
له خوا بندي او په اعمال شاقه محکوم شو، کومه ظالمانه رویه چه په دې بندګۍ د انګریزانو
له خوا د خان سره کیدله د خان جسمي روغتیا ئې او په سلسله ووسوله، په ۱۹۲۹ ع کال
د انجمن نو جوانان د خدائي خدمتګارانو په حزب تبدیل شو او د خان عبدالغفار خان
دا تحریک ډیر ژر د محکوم پښتونستان په ټولو برخو کې خپور شو خو څنګه چه
خدائي خدمتګارانو د جهاد په نامه او د آزادۍ د لارې د شهیدانو د وینو په رنګ سره
کمیسونه اغوستل نو په اوږه سرکی د (سرخ پوشانو) په نامه مشهور شول مګر
انګریزانو د دوی سرې جامې د (بالشویکی) دلیل وباله او سرخ پوشان ئې
د بالشویکو په نامه متهم کړه، ځکه نو خان عبدالغفار خان د خپل حزب نوم (خدائي خدمتګار)
کیښوده.

د خدائي خدمتګارانو د حزب لنډ مرام او پروګرام دادی:

۱ - د هر بالغ انسان بې له کوم امتیازه د دې حزب غړی کیدلای شي.
۲ - فرقه پرست خلک په دې حزب کې شاملیدلای نشي.
۳ - هر خدائي خدمتګار به وطني کالي اغوندي.
۴ - د خلق د خدمت اراده به تل ساتي او آماده وي.
۵ - بې ځایه خرڅ به په ښکلو کې نه کوي.
۶ - ټول غړي به په ورځ کې ... د وطن په شان رفتار کوي.
۷ - د حزب امر به تر هرڅه دمخه په ډیره عملي کوي.

قسم :

۱ـ زه بخپل ځان په صداقت خدائي خدمتګارۍ ته وړاندی کوم .

۲ ـ زه به خدائي خدمتګارۍ کی له داسی حزب څخه ځان ژغورم چه له هغه څخه زمونږ حزب ته نقصان ورسیږی .

۳ ـ زه به په کامل ایمان دقوم او وطن د آزادۍ دپاره په ځان او مال کار کوم .

خان عبدالغفار خان دخدائي خدمتګارۍ د تحریک په باب کی داسی وایی :

«دخدائي خدمتګارۍ تحریک د بنی نوع انسان دپاره خدمت د جذبي سره منځ ته راغلی دی . دا تحریک یو مذهبی ، اخلاقی او سیاسی تحریک دی . یوازی هغه څوک ددی حزب غړی کیدای شی چه بی له امتیاز او بی له استثنا خدمت وکړی ، له بدیو څخه ځان وژغوری ، له ریاکاری او مکر څخه ځان وساتی ، دخدای او دخدای دمخلوق دخدمت دپاره خپل سر او مال ونه سپموی ، له کبر او غرور څخه پرهیز وکړی ، انصاف پسند وی ، زحمت وکاږی ، له حرام خوړلو څخه اجتناب وکړی او دشپا دشپا ووایی .»

په ۱۹۳۰ ع کال بیا دانګریزانو له خوا بندی شو او بیا تر ۱۹۳۷ ع کال پوری (پیله څو میاشتو) تقریباً اووه کاله ئی دانګریزانو له خوا دهند په مختلفو زندانونو کی زحمتونه او ډیروبونه وګالل خو په زندان کی ئی هم له خپل مقدس مرام څخه لاس وانه خیست مګر څنګه چه له یوی خوا دقوی دښمن په مقابل کی ئی (چه انګریزان وو) مساوی قوت او وسایل ملاتړ نه درلود او له بلی خوا انګریزانو ورپسی دبالشویک پښاره پروپاګند کاوه نو خان عبدالغفار خان مجبور شو خپل حزب قوی کړی او هری ئی په (۱۹۳۱ ع) کال دهند دهغه وخت اکثرو اسلامی جمعیتونو ته خپل نماینده ګان ولیږل او هر یوه ئی څخه غوښته وکړه چه یو مسلمان سیاستمداران دهیڅکله ئی لاس ور نه کړ او زړه ئی ... چه دهغو حزب دانګریزانو په مقابل کی تقویه کړی څنګه ئی مجبوره شو چه د کانګرس د ... (چه دهغه خوداقوی حزب و) مرستی وغواړی څنګه چه د کانګرس له خوا په هر ... ددوی ملګری وشله شوه او د (۱۹۳۱ ع) کال د اګست په میاشت کی د خدائي خدمتګارانو حزب په کانګرس پوری تړلی او ... له دې تړون خان عبدالغفار خان او ګولای ... چه خپل ځان او خپل حزب له تباهي او اضمحلال وژغوري .

هغه وخت چه د جرمني جنګ شروع شو او کانګرس د انګریزانو سره د عدم تعاون اعلان وکړ خان عبدالغفار خان د کانګرس د نورو لیډرانو سره د انګریزانو له خوا بیا بندی شو او درې کاله په زندان کې و .

په ۱۹٤۷ ع کال چه انګریزان مجبور شوه له هند نه ولاړ شي او د پاکستان او هندوستان ویش منځ ته راغی خان عبدالغفار خان او د ده ملګرو د (آزاد پښتونستان) آواز اوچت کړ . دا آواز یوازې د ده یا د ده د ملګرو آواز نه و بلکه د داوو ملیونو آزادی غوښتونکو غیرتمندو پښتنو د آواز نمایندګي یې کوله .

څو انګریزانو د خان عبدالغفار خان دې حق آواز ته غوږ نه ونیواو د پاکستان حکومت د خپلو استاذانو په پیروی د پښتنو د احق غوښتونکي مشر زندان ته ور ټوت او تر اوسه پورې د پاکستان د استعماري او متجاوز حکومت په تورو جیل کې شپې او ورځې تیروي او زحمتونه ګالي .

خوی او سجایا :

خان عبدالغفار خان نهایت ساده او بې ساخته پښتون دی .

خو ډېر ټینګه اراده او قوت لري . کوم کار ته چه ئې اراده وکړه بیا هیڅ شی د ده د ارادې مانع کیدلای نشي .

تر څو چه د خپلو پښتنو د منځه ناکالي او فوسني او لیږ سره د قوم په خدمت لګیا او خپل ژوندئې په دې لار کې وقف کړی دی . پیکادی د مطلق حیوانیت تړه پوری .

القاب :

د ده عموماً د پاچا خان بلل کیږي ، فخر پښتون او ... فخر افغان لقب هم ورکړی شوی .

جواهر لال نهرو د ده د فخر سرحد په لقب یاد کړی او مولانا آزاد ورباندې د فخر آسیا لقب ایښی دی .

په ابتدا کې پښتنو خلکو ورته د ګاندي سرحد هم ویل او د ملنګ بابا په لقب هم یاد شوی دی.

افکـــار:

د خان عبدالغفار خان افکار د دوی له خپلو وینا ګانو څخه داسې خلاصه کیدای شي:

۱: د مذهب په نسبت وايي: د خدای په هر قوم او هر مملکت کې د هدایت دپاره نیک بندګان را استولي دي.

هر نیک لارښود نیکي بندګانو ته همغه تعلیم ورکوي چه خدای هغه ته امر کړی وي.

د مذهب څخه مقصد د خدای سره محبت او د هغه ګانګي ته تسلیم او د خدای او د رسول داو امرو تعمیل دی.

۲: د مذهب په نامه د خیانت په باب کې وايي:

دوېر افسوس ځای دی چه خلقو مذهب ته تغیر ورکړی دی او د مذهب په نامه فتنه او فساد جوړ دوی.

د دنیا هیڅ مذهب د اجازه نه ورکوي چه د مذهب په نامه ماشومان او اطفال ووژل شي ښځې بې عفته او بې عصمته شي او د وژلو او غارت کولو بازار تود شي. په حقیقت کې هیڅ مذهب داسې بې تمیزي او بې لارې ته اجازه نه ورکوي.

۳: د مقدسو کتابو په باب کې وايي:

د [illegible] کتل شي د هر مذهب مقدس کتاب [illegible] او انسانانو ته [illegible] کوي. [illegible]

۴: د هندو په باب کې وايي [illegible]:

د هندوستان په اړه [illegible] انسانان ژوند کوي.

دا مملکت د هر هغه چا دی [illegible] مسلمانان [illegible]

دی ورك كړی داسو دا غلطه ده، څكه چه اس كړوړه (سل مليونه) انسانان ورك كول آسان كار نه دی. او كه مسلمان په دی خيال كی وی چه هندو تباه كړی دا هم وهم دی.

حقيقت دا دی چه دا مملكت د هندو او مسلمان مشترك وطن دی.

او س د دی مسئلې فيصله پښپله د دی مملكت په او سيدونكو اړه لري، څنګه چه يو بل تباه او محو كولای نشی نو بايد فكر وكړی چه په محبت او اخلاص ژوند كول غواړی او كه په جنګ او نفرت؟

۵، دانګريزانو په نسبت وايي:

څنګه چه ليدل كيږی دا ټول موجوده فسادونه دانګريزانو له لاسه دی. انګريزان غواړی دوه قومونه په جنګ سره واچوی خو دوی پښپله ووايي چه انګريزان دی زموږ له وطنه ووځی.

۶، د پښتونستان په باب كی وايي:

د هند كانګرس كار فقط همدومره و چه دانګريزان له هنده وباسی، دانګريزان چه ولاړه د كانګرس كار ختم شو، د صوبه سرحد حكومت بايد پښتنو ته وسپارل شی همداراز د پنجاب حكومت پنجابيانو ته او د بنګال حكومت بنګاليانو ته، په پښتونستان كی بايد داسی حكومت تاسيس شی چه هغه ټول انتظام په خوله او اداره او د خواو حكومت به وی.


پښتون مجله:

خان عبدالغفار خان د پښتو د يو هولو او ويښولو رساله په پښتو ژبه يوه ډيره ښه سياسی او اجتماعی مجله نشروله چه دده د بنديدو سره سم دا مجله هم توقيف شوه.

د ايپی فقير صاحب

جناب ميرزا علی خان د ايپی په فقير صاحب مشهور (۱) د مرحوم ارسلا خان زوی په قوم توری خيل وزير د آزاد پښتونستان ډېر مشهور او زړور مجاهد دی چه لا د انګريزانو په وخت كی د پښتونستان د پښتو د آزادۍ ساتونكو او مبارزو په لاره كی او قيام كړی دی او په انګريزانو يې ډير تاوان او زيان رسولی دی او اوس هم پښتو ته او

(۱) ايپی په وزيرستان كی د يوه كلی نوم دی.



تحریکا لیکو بریالی شی چه د بریتانیا دامپراطورۍ له خوا دده دمقصد په لاره کښی خنډ کیدل .

دا ایپی فقیر صاحب د ۱۲۸٤ هجری کال په حدودو کی دوزیرستان په خیسورو کی زیږیدلی دی وروسته تر هغه چه ئې متداوله علوم په پښتونستان او په هند کی ولوستل د پښتونستان د پښتنو د آزادۍ عشق د ده وګما ره چه دفقیر دیوی لښکری سره د انګریزانو لوی امپراطورۍ ته د جنګ او جهاد اعلان وکړی او دده عزم داسی تر ازل نا پذیره وو چه د انګریزانو دامپریالیستی قوت مسلسلو بمبارو او ځورو دا د پرو پیسو ونشوه کولای چه په هغه کی پوه دوکړ خلل هم پیښ کړی حتی دده یوازی دټول پښتونستان آزادی غوښتله بلکه هندوستان ئې هم نه غوښت چه د انګریزانو په استعماری کړی کی پاته شی او هغه وخت به ئې ویل دزه یوازی دهغه جماعت ملګری او ملګرم چه هندوستان د انګریزانو له مینې تو بې څخه آزاد کړی . زما په نزد هغه جماعت چه غواړی انګریزان همیشه په هندوستان قابض وی په انتها درجه دښمن ئې او ملامت وړدی (۱) » .

هغه وخت چه انګریزانو هندوستان پرېښود برخو ویشه د ایپی فقیر صاحب هم یو له هغو پښتنو نو میالیو څخه و چه د پښتونستان د آزادی آواز ئې له آزاد پښتونستان څخه اوچت کړ او تر انګریزانو وروسته ئې دهغوی د شاګردانو په ضد د پاکستان دو دګوالانو پر خلاف مجادله شروع کړه ، او دوه کاله دمخه دوزیرستان پښتنو دهغوی شاهانه خدمت او مجاهدی په مقابل کی د پښتونستان دوزیرستان دایالتی حکومت دد رئیس په حیثیت اعلیحضرت او فقیر صاحب ئې د خپل حکومت دملی ناصر اعلان کړ .

د [illegible] په ګومات او [illegible] (...) [illegible] شوی قوم په همکاری سره د ۱۳۲۸ د کال د جدی د ۲٦ ورځی [illegible] او تاریخی ورځ ئې د وزیرستان دمحلی حکومت [illegible] اوا دی چادی ټوله دی پروګرام سره سمی چلیږی .

(۱) د « پادشاه خان و آزاد پښتونستان » رساله .

۱ – د پاکستان له حکومت څخه غواړو چه د پښتونستان په تمامیت او استقلال د صلاح او امن له لارې اعتراف وکړي او له نورې ورځې څخه دې خپل ټول لښکري او ملکي ایجنټانو و مامورینو ته امر وکړي چه فوري د پښتونستان له ټولې خاورې څخه ووزي . که داسې ونه کړي نو د هغو ټولو خونړو واقعاتو مسئولیت به چه د پاکستان د دې اجابت په اثر پېښېږي نو ښکاره دی هم د خدای او هم د متحده مللو د موسسې په نزد د پاکستان په غاړه وي .

۲ – چه هغه ګه زموږ نشراتي وسائل نیمګړي دي د خپل ورور افغانستان له دولت څخه چه ټول د پښتونستان سره عمومي همدردي لري هیله کوو چه د پښتونستان مربوط زموږ پروګرام او اطلاعات دې د افغانستان په راډیو او جرایدو کې نشر کړي .

۳ – د دنیا د عدالت پسندو مرکزو او د متحده مللو له موسسې څخه غوښتنه کوو چه پښتونستان د یو آزاد دولت او ملت په شان د خپلو حقوقو په حیث وپیژني او د پاکستان حکومت مجبور کړي چه د پښتونستان د خاورې په آزادۍ او تمامیت اعتراف وکړي .

د فقیر صاحب خصوصي ژوند ډېر ساده او فقیرانه دی په خوراک څښاک او پوشاک کې ډېر په تمام معنی ساده ګي خوښه ده او له تکلفاتو څخه ډېر نه لري .

متاهل دی څو اولادونه لري .

[illegible] د خدای په عبادت او یا د خدای [illegible] په خدمت مشغول وي [illegible] او [illegible] تېروي .

[illegible] صاحب [illegible] [illegible] د [illegible] [illegible] او د [illegible] [illegible] [illegible] د [illegible] [illegible] [illegible] .

[illegible] صاحب [illegible] [illegible] [illegible] په [illegible] [illegible] .

د [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] په [illegible] [illegible] صاحب [illegible] .

«فقیر ایپی آن کسیست که طوایف وزیرستان را در شمال غربی هندوستان علیه دولت انگلیس شورانیده است ، این شخص یکی از شجاعترین انقلابیون بوده و دارای ارادهٔ بس محکم و راسخ است ، در اثر مساعی فقیر ایپی صلح و آرامشی که انگلیسها در شمال غرب هند بوجود آورده بودند بیک آشوب وطغیانی مبدل گشته . و طوایف وزیرستان بامسرت وهیجان تابع ارادهٔ این شخص می باشند .»

بل ځای لیکي :

«نفوذ وقدرت و بسط حوزهٔ فرمانروائی این شخص انگلستان را بو حشت انداخته وهیچگونه وسیلهٔ برای دفاع از منافع خود درین نواحی در دست ندارد ، درصورتیکه فقیر ایپی می تواند بیک فرمان تمام پیروان خود را بجهاد وا داشته و با دوانه کردن آنان بکوهستانهای پر پیچ وخم ومرتفع آن سرزمین منجر بطغیان وآشفتگی سختی در آن نواحی بشود .»

همدارنګه د دې وخت کې د يوې انګليسي جريدې «استريټ ويکلي آف انډيا» يوه نامه نګار تر دې عنوان لاندې چه «د پښتنو ته جلا مملکت غواړي» د فقير صاحب د شخصيت په شا وخوا کې يوه مفصله مقاله ليکلې ده چه دلته ئې يوه برخه د دې دپاره را نقلوو چه د ايپي د فقير صاحب او د شخصيت د خارجي ليکونکو له نظره لا ښه لوستونکو ته څرګنده شي . دا نامه نګار داسې ليکي :

«د حاجي ميرزا علي خان نوم به اغلباً د لوستونکو توجه خورا جلب نه کړي خو که د فقير ايپي نوم ياد کړو نو يقين دی چه د برتانيا د پوځوانو افسرانو په

زونډو کې د ويرې او وحشت وګي او ... ويرونکي ... .

دا ... ...

د ... سپاهيانو ... او ... ... تازه ... ...

... ګوښه ته ... .

حاجي ميرزا عليخان يعنې فقير ايپي ... ...

اغزي ... .

د بریتانیا او هند عسکري دستو پوره دوه کاله یعنی له ۱۹۳۵ ع څخه تر ۱۹۳۷ ع پورې د ممدي پوه سري په مقابل کې ډیر جنګونه کړي دي چه په نتیجه کې د بریتانیا له مالیاتو څخه یو نیم ملیون پونډه خوشې مصرف شوه .

بریتانیا له فقیر ایپي څخه پریمانه اوله ده څخه ئې بدرالله ، خوده او ده ملګرو په « ګوریلا » جنګونو کې ډیر مهارت درلود ، په دې جنګونو کې د فقیر ایپي سره تر ۷۰۰ یا ۸۰۰ تنو زیات قبایلان نه وه ، خو د انګریزانو امپراطورۍ د رسمي تخمیناتو له دوه دیرشو او څلویښتو زرو تنو ترمنځ فوج د هغوی په مقابل کې په کار اچولی و .

په وارو وارو به د فقیر ایپي پناه ګاه د الوتکو په ذریعه سره ویشتل شوه هغه کلي او کلا ګانې به چه ده به پکښې اوسیده د بمبارد په واسطه ورانشول ، او په وارو وارو به ئې د ده د مرګ اعلان کاوه او حتی ویل به ئې چه په منظر عام کې ئې په دار هم ځړولی دی .

امکان لري چه ده سیوری به ئې په دار کړی وي ، ځکه چه د دوی وزګار تیا څه او [illegible] نه ئې له اوپښتوا له هغه چه ستو ماني وا چوي فقیر ایپي به له کوم پل ګوټ څخه وتو ته دا او پښتو او ډیر تاوان ته به ئې ور ورسول ؟ همدا راز څو واره له مرګه خلاص شوی دی .

له شلو کالو راهیسې خاص [illegible] ډیره پووند په [illegible] کوی او [illegible] له پوه [illegible] په پل [illegible] ته په [illegible] کړی دی ، چه پښتو انګریزان [illegible] کړ دا نه وو ، او اوس [illegible] پاکستانیان [illegible] دی .

فقیر ایپي ډیر نور مال [illegible] او [illegible] فقیر قامت او [illegible] زیات [illegible] او ایپي چه ده [illegible] کوم په [illegible] کې [illegible] انګریز [illegible] د فقیر ایپي په [illegible] .

فقیر ایپي [illegible] کاله پښتو [illegible] قوم په پوه [illegible] ژوند [illegible] دی .

دهلکتوب له خاطراتو څخه چه کوم شی د فقیر یاد دی هغه دده ټوپك دی ، دی وایی:
«هغه وخت چه اوه کلن وم پلار می یو ټوپك او اوه دانی کارتوس ماته راکړه او یوه
ټبره ئی په سپین دسمال کی ونغښتله او ده ټبرو پر یوه کوټه ئی کښېښوده او ماته ئی امر
وکړ چه هغه نښه وولم ، ما نښه خطا کړه ، پلار می پوه سخته څپیړه و وهله او په قهر ئی دانه
پوښتنه وکړه ، مگر زما زوی نه یې ؟

د دغه تر هغه چه پلار می بل سړك ووهی مور می لمنی خلاص کړم او زه ئی له ځانه سره
بوتلم ، مور ماته نښه ویشتل را زده کړه او په دوی ورځی وروسته می د پلار سره د نښی ویشتلو
د مسابقې اعلان وکړ ، پلار می کوم نی مسابقه و ته هر یوه شل شل دانی کارتوس
دراو ده ، پلار می دری واره نښه خطا کړه او ما فقط یو وار ، پلار می ډیر خوشالی له شو او
همغه ورځ ئی یو نوی کمیس راته واخیست ، نو له هغې ورځی څخه بیا تر ننی ورځی
پوری بی ټوپکه نه یم !»

د فقیر شخصیت کاملا د ده د خپل زحمت برکت دی ، هغه وخت چه ئی پلار وفات
شو ، دی دوولس کلن و ، دوه کوچنی وروڼه ، دری خویندی او یوه مور ئی ورته [illegible]
شول ، لیکن و ارستل ئی زده کړه ، قرآن ئی یاد کړ او ملا شو ، خو د انگریزانو
د قوت پر خلاف په یوه جهاد کی د خپلی قبیلی مشر و ټاکل شو ، له همغه جهاد
راهیسی شل کاله کیږی چه فقیر ایپی د یوه ملی زعیم او سالار په حیث د پښتنو
د دښمنانو په مقابل کی ولاړ دی . فقیر وایی چه « زه د انگریزانو په مقابل کی
له خپلو کړو څخه پښیمانه نه یم ، ځکه چه انگریزانو زمونږ [illegible]
اوبل پل لانسی [illegible] خپل [illegible] پیدا کړی ، په انگلستان کی [illegible]
(جن) او بلا په حیث پیژنی خو زه [illegible] خو د [illegible] ایمان
لاوړی او له خونریزی څخه ی پروا نه کوی ».

کله د غورځنگ چه پښتانۍ د انگریزان حاضر و چه خپلا [illegible]
ودرکړی خو بیا هم په خپله آزادی [illegible]
حاضر [illegible] چه فقیر او [illegible] آزاد وی .

څلویښت کاله کیږی چه انگریزانو هندوستان [illegible]

په عقیده انګریزانو او س هم دهغه نیمې قادي ته سترګې نیولې دي او غواړي چه د پاکستان په واسطه هغه نیمه قاره او په تیره بیا د شمال غربي سرحد ایالت اداره کړي .

فقیر په دې عقیده دی چه : «انګریزانو د پښتانه قوم سره لوی ظلم کړی دی او د دوی د مملکت یوه لویه برخه ئې پاکستان ته بخښلې ده . داغوښتنې خمکې ورو سته تر هغې مخا هغې چه سرمورتیمر دیورند په ۱۸۹۴ ع کال لاس ایک کړه دیوې بې خیا ونډې خمکې شکل ئې وموند . دې خمکو په انګریزانو پورې اړه نه درلوده ځکه ئې نو ددې حق هم نه درلود چه هغه بل چا ته وبخښي !»


رشتیا هم دا ده چه د تاریخ له نقطهٔ نظره د فقیر ایپي منطق قوی دی ، ځکه چه ورو سته تر هغه چه د هند نیمه قاره په تلوار ووېشله شوه دا ځمکې و پاکستان ته وسپارلې شوې او فقط د هغو له اوسېدو نکو څخه یوه دا په قدر ته واخیستله شوه چه په هغه کې هم قوي بیا پښتو سره په سلو کې شلو په دای ګیری کې برخه واخیستله دا د محکومو منطقو حال وه او په آزادو منطقو کې خو کومه دای ګیری هم و نشوه او حتی د آزادو منطقو له اوسېدونکو سره یو ځای باب کې چا مشوره هم و نکړه . د همدې تاریخي حقایقو په اساس فقیر ایپي د یوه آزاد پښتونستان دعوه کوي .

د فقیر ایپي غوښتونې پایه سر سره ونه پاله شوی دی خو زړور ، وطنخواه او نومکری زعیم دی او بیا په دغربي مخا اکو خلق ښه پلی هغه زاده او قر سره معلومات په ده په باره کې ئې لري تجربه نظر کړي . فقیر ایپي کوم خل اوله قانون هغه تبدیلی دهري نه دی پاکه د ی خوا اوري ایه آل لري او غواړي چه قوم ئې د خپل په شان آزادانه او آبرو مندانه ژوند وکړي . پاکستان باید د فقیر ایپي په نظامي قدرت او قوت اعتراف وکړي . فقیر تر پاك او ګاله توس لري او د غره د جنګ د پاره ئې ماشینداره هم شته د توپخکو ، ټوپکچو او ګاله توس جوړولو معدلي کارخانې هم لري . او عسکر ئې په ګوریلا جنګ کې د جهان له هیڅ عسکر څخه ورو سته نه پاتېږي . که د فقیر ایپي او پاکستان په منځ کې جنګ و نښلي افغانستان به هم و جنګیږي او ځکه چه افغانستان د خپلو ورونو سره مینه لري



ڈاکٹر شفا اصفہانی

مرحوم قاضي عطاؤالله خان



هغه وخت چه په دې کتاب کې د مرحوم قاضي صاحب لنډ سوانح چاپ شول قاضي صاحب لا د پاکستاني حکومت په تورزندان کې د ژوند ورو ستني شپې ورځې تېرولې خو اوس چه ئې د کتاب چاپېږو په دوهم ځلې دا خبر ليکو چه قاضي صاحب تېر په ۱۳۳۰ ه کال د داو په پای کې د پاکستان د حکومت د سختو تکاليفو له امله شهيد شو.

انا لله وانا اليه راجعون

په ننګ که مړ شي هغه مړ نه شي
د ای ننګيالو ژوند په بقا ده
که مړ په وا انتقام له ننګه
هغه په ننګه پاته دنيا ده
(احمد شاه بابا)

سرحدات اوري او غربي ديموکراسي هم له اوضاعو څخه سترګي پټولای نشي دا دی د فقیرایپی وروستی جملی چه وایی :

«پښتونستان زموږ په نزد یو موجود او حقیقي څیز دی، خوب او خیال نه دی که زموږ آرزوګانی او آمال په صلح جویانه وسایلو تر سره نشی پښتانه به د خپلی توری په زور د پښتونستان جوړ کړی او هیڅ قوت ددوی له دی لاری څخه منصرف کولای نشی ».

داکتر خانصاحب

داکتر خان صاحب د خان عبدالغفار خان مشر ورور او د پښتونستان له مشهورو لیډرانو څخه دی چه اوس د آزادیخواهی په جرم د پاکستان په تورو جیلونو کی شپی ورځی تیروی او د پښتونستان د آزادی په لاره کی د پاکستان د حکومت ظلمونه ګالی .

داکتر خان صاحب په ۱۸۸۳ ع کال له پېښور د شمال ۳۰ میله لیری د چارسدی په اتمانزو کی زیږیدلی دی .

د خپل پلار د بهرام خان په ژوند مکتب ته داخل شو او وروسته تر هغه چه د میټری کولیشن امتحان ئی د پنجاب په پوهنتون کی ورکړ یو کال ئی د بمبئی په (ګرانټ میډیکل) کالج کی درس ولوست او بیا د خپل پلار په توجه د تحصیلاتو د تکمیل په غرض انګلستان ته ولاړ او هلته ئی پوره اس کاله درس ولوست .

په ۱۹۱۱ ع کال هغه وخت چه ده ورور خان عبدالغفار خان د انګریزانو په لاس کی بندی و ، ده د لندن په (تهامس هسپیتال) کی د (ایم آر سی) امتحان ورکړ او په فرانس کی د جنګ محاذ ته واستول شو .

ده په انګلستان کی یوه انګلیسی میرمن په نکاح کړه او په ۱۹۲۰ ع کال د وطن خواته راهی شو .

داکتر خان صاحب په داسی وخت کی وطن ته راوګرځید چه د ده پلار [illegible] او د قوم ټول مشران د انګریزانو په استعماری زندانو [illegible] لا نیولی وه .

دي و ضعيت د ده روح متاثر کړ او د انګريزانو پر ضد په مجادله کی داخل شو انګريزانو شو ځلی اعتقاد ورکړ او شو واره ئې بندی کړ خو ده له مبارزي څخه لاس وا نخيست شو چه د خدائی خدمتګارانو په حزب کي شامل او د ژوند رنګ ئې بیخی بدل شو. داو کس ژوند پر ځای ئې ساده ژوند غوره کړ او ځان ئې طبيعت ته وسپاره.

لکه چه وائي ډاکټر خان صاحب ژوند يوه دلچسپه بازيچه بولی او سياست هغه لوبه ګڼی چه نه ئې پایلل پایلل دی او نه ئې وډل وډل دی او هم سياست او مذهب سره جلا ګڼی.

ډاکټر خان صاحب ډير خوش طبعه او زنده دله انسان دی حتی له ورو ماشومانو سره هم په خندا خندا او ګرمجوشی مجلس کوی.

هغه وخت چه د محکوم پښتونستان صدراعظم و هم ئې خپل ساده ژوند پريښود او د نورو صدر اعظمانو غوندی نه و چه له محيط ليری او بيل اوسيدل او خلقو ته نه ورتلل دي کیدل.

ډاکټر خان صاحب تل له تودې سره بی له تکلفه په تماس کي و.

وائي چه يوه ورځ کوم سپين ږيری سړی ده ګريوان ته لاس واچاوه او ورته ئې وويل چه دا له کومه وشتا چه ته صدراعظم شوي يې تا قوم ته څه خدمت کړی دی؟

ډاکټر خان صاحب په ډيره ساده او وضعيت ځواب ورکړ:

دهماما خدمت چه ته زما ګريوان ته لاس اچوی، لکه چه د نورو صدراعظمانو په وخت کي دي دا جرئت نه درلود.

ډاکټر خان صاحب تل د دوستانو سره پلوه او هيڅکله ئې د قوم په مقابل کي له تشدد څخه کار نه اخيستل.

مثلاً پښتو نو صدر اعظمانو به د اشتاشيونو په مقابل کي د پوليسو څخه کار اخيستو او کوم وخت چه به خلقو پر هغوی هجوم راوړ نو اوښکي بهونکي غاز به ئې استعمالوه خو ډاکټر خان صاحب دوی ته لاسي نه وه.

وايي چه کومه ورځ خلقو د مسلم ليګ او انګريزانو په تحريک د ده پر کور ئی هجوم راوړ او غوښته ئې چه ډاکټر خانصاحب کور په تېښتو و ولي پدې وخت کې ډاکټر خانصاحب يوازې له کوره راووت او خلقوته يې وويل :

«ورونو! پدې کور کې ستاسې خويندې ميندې دي او ستاسې خو به څه په تېښتو ولي کړئ نه ؟» نو او خلقو لاس ونيو، همداراز يوه بله ورځ چه خلقو ده پر دفتر حمله کوله او د مسلم ليګ په تحريک په ډېر غضب او قهر د ده د دفتر خواته روان وو، ډاکټر خانصاحب يوازې د دوی مخې ته راووت، کوم وخت چه هغوی ته راننږدې شول نو ډاکټر خان د لاس په اشاره پر ځمکه د هغوی او خپل منځ کې يو خط و يو ... او وې ويل :

« هرڅوک چه تردې خط را تېرشي ديوس به وي ـ وواتې هرڅه اعتراض چه لرئ زه جواب ته حاضر يم !»

ځکه چه ټول خلق پښتانه وو، چه د ديوس کلمه ئې واوريده ځای په ځای ودرېدل او ډېرو قومي جرګې په خبرو اترو سره شروع کړه.

پدې ډول نو موږ ډاکټر خانصاحب د حقيقي عدالت غوښتونکو او ډېرو کړاوو طلبانو څخه بللی شو او د ده د عدالت د ثبوت د پاره همدا يو دليل کافي دی چه د ده د صدارت په وخت کې ده ځوی عبدالله خان له قانون نه د مخالفت تحريک په نسبت بندي شو، وخلقو هرڅه خواهش وکړ چه هغه آزاد کړي، ډاکټر خانصاحب د هغوی په جواب کې وويل چه : « زما ځوی او نورو پښتانو په منځ کې هيڅ فرق نشته ځکه چه قانون له نورو سره معامله کوي زما ځوي سره به هم هغه معامله وشي !»

د ۱۹۳۰ ع کال د اپريل په ۲۳ نېټه وخت چه د انګريزانو سره د عدم تعاون اعلان وشو او د انګريزانو د امپرياليستي قوت او خدايي خدمتګارانو ترمنځ [illegible] وشو ډاکټر خانصاحب هم د وطنوالو [illegible] ډاکټر [illegible] په [illegible] او په دا سې حال کې چه ده هغه ځای يو ډاکټر هم جرئت نشو کولای ډاکټر خانصاحب [illegible] د خدايي خدمتګارانو د ټپيانو په تداوي شو او ورځ [illegible] .

شو انګريزانو ډېر و باغي په حيث ده او ورور خان عبدالغفار خان سره [illegible] په زندان کې بندي کړ .

په ۱۹۳۰ ع کال د محکوم پښتونستان داسامبلۍ د رئیس په حیث وټاکل شو او تر ۱۹۳۸ ع پورې ئې خپله وظیفه په ډېر جدیت پای ته ورسوله. د ۱۹۴۲ ع کال په انقلابي تحریک کې چه خان عبدالغفار خان گرفتار شو دیوه زړور سپاهي په څېر ئې د انگریزانو مقابله کوله.

د ۱۹۴۵ ع کال په انتخاباتو کې د صدر اعظم په حیث وټاکل شو او په ۱۹۴۶ ع کال د پاکستان د گورنر جنرال د خصوصي اختیاراتو په اثر معزول کړه شو. له هغه وروسته په حزبي تول د قوم په خدمت مشغول وه او د ۱۹۴۶ ع کال داگست په میاشت چه د مسټر قیوم غیر قانوني حکومت منځ ته راغی ډاکټر خانصاحب او د ده ورور خان عبدالغفار خان سره له دوو ولسو زرو خدائي خدمتگارانو د آزادۍ خواهۍ په جرم د پاکستان داستعماري او متجاوز حکومت په تورو جیلونو کې واچول شول چه تر اوسه هم هلته بندیان دي او د پاکستاني حکومت ظلمونه گالي. ډاکټر خانصاحب د آزاد پښتونستان په باب کې داسې نظر په لري «د پښتون د ځامو یې تور مغلاوی نشي. انگریزانو سندي او پنجابي ملاگین سره یو کړي دي غواړي چه پښتانه دعوی مریان کړي مگر پښتون د غلامۍ [illegible] ورځ د [illegible] په ... پښتون تمام آزادي د خپل مټ په زور گټلی ده بر بنده اووزي به ژوندي [illegible] کړي خو د بل چا غلام کیدای نشي د انگریزانو تر تګ وروسته په اقتصادیاتو او انقلاباتو [illegible] کې دي او هغه په حزبي انقلاب وي چه د هغه منځ ته [illegible] په نه د کانگرس له لاسه پوره وي نه د لیګ او نه د نورو پارټیو او احزاب له لاسه.»

خان عبدالصمد خان

خان عبدالصمد خان د جنوبي پښتونستان له مشهورو لیډرانو څخه دی چه د ژوند او په ترڅه ئې د پښتونستان او د پښتنو د آزادۍ په لاره کې د انگریزانو د امپریالیستي [illegible] او [illegible] [illegible] کې [illegible] خدمتگارانو [illegible] د انگریزانو [illegible] خلاف [illegible] [illegible] [illegible].

خان عبدالصمد خان د جنوبي پښتونستان د «ګلستان» په علاقه کې زیږېدلی او په ځوان اچکزی دی. د ده سیاسي ژوند له ۱۳۰۶ هـ کال څخه شروع کېږي او دا هغه وخت و چه په افغانستان کې د داخلي انقلاب اور بل شوی و، ځکه نو خان عبدالصمد خان وغوښته چه له ډېرو رضاکارانو سره د افغانستان په نجات کې عملاً برخه واخلي. خو انګرېزان چه په خبر شول خان ئې سره له ملګرو بندي کړ. بیا انګرېزانو وغوښته چه خان په ضمانت ایله کړي خو ده له ضمانت ورکولو څخه سخت انکار وکړ او (۹) میاشتې ئې په مشقت سره بند تېر کړ هغه وخت چه د افغانستان انقلاب خلاص شو نو خان صاحب هم له بندیخانې راوویستل شو او یو حزب ئې د «انجمن وطن» په نامه جوړ کړ چه په هغه کښې د جنوبي پښتونستان اکثر آزادي خواهان شامل شول او د هغه حزب مهم مرام د وطن استقلال او د پښتانه قوم آزادي وه.

دې انجمن له خدائي خدمتګارانو سره مستقیمه رابطه درلوده. په ۱۳۰۸ هـ کال چه خدائي خدمتګارانو او د هند کانګرس د انګرېزانو سره د عدم تعاون اعلان وکړ، خان عبدالصمد خان هم له خپلو ملګرو سره په هغه کې ګډون وکړ او انګرېزانو لکه څنګه چه د خدائي خدمتګارانو او کانګرس مشران د هغه اعلان په اثر و نیول، خان عبدالصمد خان او د ده ملګري هم بندیان شول او څنګه چه په جېل کې له دوی سره ډېر وحشیانه سلوک کېده نو دوی د عدم تشدد د اصولو سره سم د هغه په اصطلاح «بهوک هړتال» یعنې دوډۍ نه خوړل شروع کړ او دوویشت ورځې ئې پېله اوبو نور هیڅ غذا ونه خوړله او په دې ترتیب ئې انګرېزانو ته دا ثابته کړه چه پښتانه هیڅکله او په هیڅ ترتیب له خپلې آزادۍ څخه تېرېدونکي نشي. دې کاله بامشقته بند ئې تېر کړ خو چه له بنده خلاص شو بیائې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.

په ۱۳۱۵ هـ کال ئې یوه ملي مطبعه تاسیس کړه او په ۱۳۱۷ هـ کال ئې د «استقلال» په نامه یوه ورځپاڼه په نشر کولو پیل وکړ چه اوږدې مودې پورې ئې خپره کړه او اخر دا نشر کړه شوه او د انګرېزي حکومت له خوا بنده کړه شوه.

په ۱۳۱۷ هـ کال ئې د خدائي خدمتګارانو مشر خان عبدالغفار خان جنوبي پښتونستان ته دعوت کړ او د هغه په ملګرتیا ئې د خپل ملي تحریک پراخه ...

بلوچستان کی دوره شروع کړه ، کوم وخت چه ئی په «اوسته محمد» نومی ځای مهمه جرګه جوړه کړې وه مسلم لیګانو د انګریزانو په تحریک پردوی حمله وکړه زده نخورد پیش شو، خود وی له خپله مقصده لاس وانخست

په ۱۳۲۱ هـ کال چه د کانګرس حزب خپله مشهوره مطالبه (کویټ انډیا یعني «هند پریږده») اعلان کړه نو انګریزانو خپل تشدد زیات کړ او هغه د آزادۍ غوښتونکي او خدائي خدمتګار ونیول ، خان عبدالصمدخان او ټول ملګري ئې بیا زندان ته شول (۱) او درې کاله بامشقته حبس وروسته چه خلاص شو بیائي د پښتونستان د لاره کی خپلی مبارزې ته دوام ورکړ .

په ۱۳۲۶ هـ کال چه هند په دوه تقسیمه هندوستان او پاکستان وویشل شو نو عبدالصمدخان او د ده ملګرو د محکوم پښتونستان د غیر قانوني ځای ګړنې پر سخت احتجاج او مقاومت شروع کړ ، نو ځکه چه انګریزانو دا کړې وه ، چه د خپلې امپراطورۍ د دوام په غرض باید د پښتونستان یوه برخه په طور د پاکستان [illegible] او پښتو [illegible] او [illegible] د آزاد پښتونستان غوښتونکي [illegible] .

[illegible]

[illegible] عبدالصمد خان او ده ملګرو هم [illegible] غیر قانوني ځای ګیرنه کی [illegible] .

[illegible] د پښتونستان [illegible] انګریزانو [illegible] د پاکستان په [illegible]

[illegible] خان عبدالصمدخان [illegible] مبارزې [illegible]

[illegible] د پاکستان [illegible] مبارزې ته دوام ورکړ .

[illegible]

[illegible]

[illegible] عبدالصمدخان [illegible] افغانستان له پښتو [illegible]

[illegible] پښتونستان [illegible]

---

(۱) آزاد پښتون ، د پښتونستان [illegible] ۱۳۲۹ هـ کال ۹ ګڼه .

ری؟» خان عبدالصمد خان جواب ورکړ چه: «د پښتونستان تشکیل د پښتونستان د اوسیدونکو وظیفه ده، که افغانستان او یا د دنیا نور انصاف پسند ملکونه زموږ سره اخلاقی کومک وکړی البته موږ به ژر خپل مشروع مقصد ته ورسیږو او د نه مرستی په صورت کی که څه هم زموږ لاره به اوږده شی خو ترڅو چه په پښتونستان کی یو پښتون هم ژوندی وی د آزادی د مقدس مرام څخه به لاس وانخلو او ترڅو چه مو روح په تن کی وی د ګران پښتونستان د آزادی په لاره کی به زیار باسو.»

په یوه کنفرانس کی چه په پېښور کی منعقد شوی و د پښتو د آزادی په باب کی خاص وویل: «دغه پښتانه چه غواړو نه چی د انګریزانو له غلامی څخه وژغورل شوی به هیڅکله د پاکستان غلامی و نه منی!»

داهم د ده عقیده ده چه ویلی دی:

«موږ پښتانه په پاکستان کی پاته کیدای نشو، پاکستان زموږ دپاره خطر دی (۱)»

هغه و چه په ۱۳۲۷ هـ کال د جنوبی پښتونستان د آزادی غوښتونکو مشر د پښتونستان د نورو څو سو مشرانو ترڅنګ د پاکستان د متجاوز او ناروا حکومت له خوا بندی شو او تر اوسه د پاکستان د حکومت په تورو جیل کی د ډیرو تاو تریخو تکلیفونو نه تیروی.

قاضی عطاالله خان

قاضی عطاالله خان د مردان د پښتونستان یو مشهور او عالم لیډر دی.

د پیښور د [illegible] کلی اوسیدونکی او قاضی ئی خاندانی لقب دی.

قاضی صاحب له هغه وخته چه خان عبدالغفار خان د انجمن اصلاح الافاغنه تاسیس کړ او بیا یې د جمعیت خدایی خدمتګاران [illegible] شو د خان عبدالغفار خان تر څنګ او [illegible] ئی

په هغو جیلونو کی چه [illegible] شریک شوی دی.

(۱) د [illegible] پاچا خان د پښتونستان آزادی.

قاضي صاحب ښه عالم او قانون دان سړی دی، د وکالت مختلفې دورې ئې تېرې کړې دي، يو وخت د محکوم پښتونستان د معارف وزير او بيا د ماليې وزير و.

قاضي صاحب په تاريخ کې اوږد لاس لري، په ۱۹۳۱ ع کال چه د بنارس په سنټرل جيل کې او بيا په ۱۹۴۲ ع کال د بنو د په سنټرل جيل کې بندي و، يو کتاب ئې «د پښتو تاريخ» په نامه په پښتو ژبه ليکلی دی چه تر اوسه ئې دوه جلده اومړی جلد په (۳۱۰) مخو کې او دوهم جلد ئې په (۳۱۲) مخو کې په سنګي چاپ په پښور کې چاپ شوی او نشر شوی دی چه د پښتو په باب کې ډېر ښه معلومات لري.

هغه وخت چه د انګريزانو په زور د پاکستان دو ميشو نی حکومت منځ ته راغی قاضي صاحب هم د نورو آزادي غوښتونکو مشرانو په څېر د پښتونستان د آزادۍ ږغ اوچت کړ او وې ويل «ن د انګريزانو جانشينان غواړي چه د انګريز تر غلامۍ وروسته موږ د هغو سندي او پنجابي ملاکيڼو تر نفوذ لاندې کړي چه تر اوله عمره ئې خپل سر ونه د انګريزانو په دروازو کې ايښی دی مګر زه په ښکاره وايم چه پښتانه مرګ مني خو په هيڅ اسم و رسم او په هيڅ قيمت د سندي او پنجابي ملاکيڼو غلامي منلی نشي».

قاضي صاحب هم د محکوم پښتونستان د نورو ويښو پښتنو مشرانو په څېر په دې جرم چه «آزاد پښتونستان» غواړي د پاکستان د حکومت په جيلونو کې شپې ورځې تېروي او څلور کاله کېږي چه بېله کوم جرمه بندي دی.

ايضاح :

له بده مرغه د قاضي صاحب د خصوصي ژوند معلومات لاس ته رانغلل.


محمد ايوب خان

د آزاد پښتونستان له فداکارانو څخه يو هم ښاغلی محمد ايوب خان اڅکزی دی جنوبي پښتونستان د ايالتي شورى غړی په دې توګه کې دی.


محمد ايوب خان د جناب محمد يعقوب خان زوی په ۱۹۰۹ ع کال د جنوبي پښتونستان په د ګلستان د علاقې کې زېږېدلی دی.



جنابی حاجی محمد حسین خان دوم‌خلو
[illegible]



[illegible]



جناب حاجی نوردل خان د تیرا د ایالتی شوری رئیس



جناب محمد شعیب جانصاحب د باجوړ د محلی
شوری خانګی رئیس

لاشل کلن نه و، چه په سیاسي صحنه کې شامل او د« انجمن وطن » غړی شو ، په ۱۹۲۹ ع
کال دانجمن وطن د نورو حساسو غړو سره دانګریزانو دامپریالیستي حکومت
له خوا د آزادي خواهۍ په جرم ګرفتار او تر دوه کاله با مشقته بند او وروسته له وطنه
اخراج شو ، ډیر کلونه په لاهور او ډهلي کې و ، خو هر ځای ئې دخپل قومي مرام دپاره خدمت
کاوه او دوطن له غمه بیغمه نه و ، شو په ۱۹۴۰ ع کال دخان عبدالصمدخان تر مشرۍ
لاندې دهند دکانګرس سره دامپریالیستي او متجاوز قوت پرخلاف دوطن دآزادۍ
په لار کې همنوا شو .

محمد ایوب خان دخان عبدالصمدخان پوفادارو ملګرو کی و او دهغه سره په
اکثرو بندیخانو کې پوځای بندي و .

هغه وخت چه خان عبدالصمد خان دآخر وار دپاره دپاکستان دمتجاوز حکومت
له خوا بندي شو ، ښاغلي محمد ایوب خان دهغه په عوض د« انجمن وطن » د حزب رئیس
وټاکل شو او دپاکستان دحکومت داستعمار په مقابل کې ئې مبارزې ته دوام ورکړ
خو چه دپاکستان حکومت انجمن وطن پوغیر قانوني حزب اعلان اوده ...هغه اخبار
«استقلال» ئې بند کړ او دانجمن وطن دغړو دګرفتارۍ امر وشو ، محمد ایوب خان هلته
دخپل مرام دعملي کولو دپاره نوره زمینه مساعده و نه کتله نو هغه و چه په ۱۳۲۹
هش کال له خپلو پخو ملګرو ښاغلي ارباب عبدالقادرخان ، ښاغلي اخترمحمد خان
ښاغلي حیات الله خان ، ښاغلي محمد افضل خان او ښاغلي عبدالباقي خان سره دخپل
پښتنو دوړ مملکت افغانستان ته راغی او وروسته ئې دهغه کال دمیزان په اوله
نیټه دقندهار او مشهور پښتونستان ددرمند په مخ کې دتوبي په علاقه کې د آزاد
جګو لي پښتونستان مرکز وټاکه او یوه محلي شورا ئې تشکیل او دآزاد پښتونستان
شنکلی بیرغ ئې اوچت کړ او هم ئې یوه جریده د «آزاد پښتون» په نامه تاسیس کړه
چه اوس هم په پښتو اردو نشر یږي .

داقلاجکاکی پښتون اوس هم هلته دپښتونستان په خدمت مشغول او تر ۵۵ کاله
پوخته ور پاندې راغونه دی .

مولانا نوردل خان

مولانا حاجي نوردل خان د آزاد پښتونستان د تيرا د ايالتي شورى اوسنى رئيس
د ايريدي قوم له خورا سابقه دارو مجاهدينو څخه دى. دده ژوند له يوى سلسلى هغو
مجاهداتو څخه عبارت دى چه د امپرياليستي انګريزانو او د پاکستان د متجاوزي حکومت
په مقابل کي ئي کړي دي. دى د مرحوم شيردل خان زوى په قوم قمبر خيل ايريدى او
د تيرا په مرکز (باغ) کي اوسيږي. ده قديمه علوم په پښتونستان او هندوستان کښي اوستلي دي
خصوصاً په پخواني طب کي ښه لاس لري.

تر تحصيل وروسته ئي د قوم بيدارولو ته ملا وتړله او هم ئي د هغو متجاوزينو
سره چه د پښتونستان خاوري ته ئي ستر ګي سرې شوي دي خورا ډير جنګونه کړي دي
خو غلي ئي د پښتونستان د خپلواکي د ساتلو د پاره د انګريزانو د متجاوز قوت سره
غزا ګاني کړي او د هغوى تجاوزونه ئي رد کړي دي.
د افغانستان د استقلال په جنګ کي ئي هم د افغانستان په طرف د ايريدو په برخه
اخيستي ده. او په آزادو قبايلو کي ئي د افغانستان د هغه وخت ډير ملي پروګرامونه و پيلي وه
او په هغي وسيله ئي د آزاد پښتونستان قبايل د انګريزانو د استعماري حکومت
پر خلاف پاڅول چه اوس هم له هغو پروګرامونو څخه ځيني پروګرامونه د مولانا په کور کي شته.
او د همدغي اسلامي او ملي مجاهدو نتيجه ده چه نن ورځ د ايريديو ټول قبايل خوانه
په مولانا باندي پوره اعتماد لري او د مولانا ئي د تيرا د ايالتي شورى د رئيس
تيا کلي دى.

مولانا اوس تقريباً پنځه شپيته کلن دى او د آزاد پښتونستان د جوړولو او
جنګونو په لاره کي په فعاليت بوخت دى.

جان صاحب

دده اصل نوم محمد شعیب خان او دمشهور مجاهد دباړې ملا صاحب زوی دی.
په ۱۳۳۳ ه قمري کال دباجوړ دچهار منګ دګل آباد په کلي کې زیږیدلی او متداول العلوم ئې پخپل کور کې اوستلي دي.

په تیره بیا په یوناني طب کښې ښه معلومات لري.

سر بیره پر پښتو په فارسي، عربي او اردو هم پوهیږي، ده د خپل مرحوم مشر ورور ګل صاحب په ملګرتیا داستعمار یونو دتجاوز په مقابل کې ډیرې غزاګانې کړي او د شبقدر، کړپه، ایسکنډی، ګنداب او په نورو مشهورو جهادونو کې شرکت کړی دی.

هغه وخت چه هندوستان تقسیم شو، ده ورور ګل صاحب د آزاد پښتونستان آواز اوچت کړ او دهغه مرحوم تر مړینې وروسته جان صاحب دخپل ورور په تعقیب دپښتونستان تحریک په همغه شدت پرمخ بوت.

څو چه قوم دپښتونستان دباجوړ دمحلي شورى درئیس په حیث انتخاب کړ او تر اوسه دپښتونستان په خدمت مشغول دی.

حاجي محمد حسن خان

جناب حاجي محمد حسن خان دسردار خان زوی، دا کرم خان نمسی او په قوم مومند دی.
په ۱۲۷۶ هش کال دمومندو په ګرداب کې زیږیدلی دی.

ده دیني کتابونه پخپله کور کې اوستلي دي.

حاجي صاحب دانګریزانو پرخلاف په تیرو غزاګانو کې ګډون کړی په تیره ئې بیا دافغانستان د استقلال په جنګ کې دخپل مرحوم پلار سره د افغاني مجاهدینو په طرفداری ډیر جنګونه او مساعدتونه کړي دي.

په ۱۳۰۵ ه کال چه ئې پلار وفات شو دقبیلې مشري ورته وسپارله شوه.

داعلیحضرت شهید په عصر کی کابل ته راغی او داعلیحضرت شهید له خوا داعیان د مجلس غړی وټاکل شو، او قریبا څوارلس کاله او دوی میاشتی په کابل کی داعیان د مجلس غړی و ۰ څو چه د پښتونستان د آزادی هنګامه توده شوه او حاجی صاحب د قوم په خـواهش آزاد پښتونستان ته ولاړ او د مومندو د محلی شوری رئیس وټاکل شو، او تر اوسه په ډیر جدیت د پښتونستان د خدمت په لاره کی مشغول دی ۰

میراجان خان (سیال)

د آزاد پښتونستان له مخورو مجاهدینو څخه دی چه اوس د داوی پښتون د مشهوری مجلی ایډیټر او اداره د ده په غاړه ده ۰

ښاغلی سیال د جناب حاجی میاجانخان غازی او شهید زوی او په ۱۳۳۰ هـ قمری کال د مومندو په ګنداخیلو کی زیږیدلی دی ۰ تحصیلات ئی په خصوصی ډول پای ته رسولی او د پښتو ښه پیاوړی لیکوونکی او ښه شاعر دی. په اردو او فارسی ښه پوهیږی او د انګریزی او عربی سره لږ آشنا دی ۰


په پښتو کی ښه آثار لری چه ځینی ئی چاپ شوی هم دی ۰

ښاغلی سیال علاوه پر نویسندګی د خپل مرحوم غازی پلار سره ئی د انګریزانو پر خلاف په ډیرو غزاګانو کی ګډون کړی دی او لکه څنګه چه وایی د ښاغلی سیال کورنۍ د غازیانو په کورنۍ مشهوره ده او ددی کورنۍ د شهیدانو څخه قریبا یوه [illegible] شوی ده ۰

ښاغلی سیال د پښتونستان د تشکیل او آزادی سره مخصوص عشق لری او په دی لار کی هر ډول قربانی او فداکاری ته حاضر دی او اوس خوا لری د قلم له لاری د دی مقدس او ملی مقصد د پاره خدمت وکړی ۰

ده په ۱۹۳۵ ع او ۱۹۴۷ ع کال یو اخبار د مومند په نامه چلاوه ۰ کم وخت چه د پښتونستان تحریک شروع شو نو اوس ئی یوه رساله د پښتونستان جوړوو په نامه او بیا ئی یوه رساله د پښتونستان د ګټی په نامه ولیکله او نشر شوه ۰

بیا په ۱۳۲۶ هـ کال ئی د آزاد پښتونستان په ګنداخیلو کی یوه سنګی مطبعه قایمه کړه او د داوی پښتون په نامه ئی د یوی مجلی په نشر لاس پوری کړ که څه هم اوس په حروفی چاپ چاپیږی ۰



ښاغلی میراجان خان سیال دلوی پښتون
دمجلې چلوونکی



ښاغلی ظهیرالدین درمضانی
دآزاد پښتونستان د اخبار
چلوونکی اودمثنی پښتونستان
دحکومت دمطبوعات رئیس



د پښتونستان [illegible] کې [illegible] ملي [illegible] کړي

[illegible] ارباب عبدالقادر خان د جنوبي پښتونستان

په ۱۳۲۹ هـ کال ښاغلی سیال د شمالي پښتونستان په نمایندګۍ د هغه د تولو پښتنو د جرګې په بنه د ملي تحولاتو اوبدې سفرکې ئې اسلامي مملکتونه لکه ایران، عراق سعودي عرب او د هغه اکثر مرکزونه ولیدل او اوس د آزاد پښتونستان د مومند و په ملاقه کې په فعالیت مشغول دی او خپل خط مشی ئې په خپل یوه بیت کې داسې ټاکلی دی .

یا به ګرو جوړه پښتونستان پښتنی ژوند به کوو

یا به له خپله لاسه ځانته ګور ستان جوړوو

ظهیر الدین (رمضاني)

د شمالي پښتونستان د وزیرستان له فداکارو ځلمیانو څخه دی چه اوس د وزیرستان د ایالتي د ملي شورې د رئیس په حیث انتخاب شوی او کار کوي .

ښاغلی رمضاني د وزیرستان د مشهور مجاهد رمضان زوی دی او پنځه دیرش کاله پخوا د مسعود و د میدان د علاقې په سلطانه کلي کې زیږیدلی او خپل تحصیلات ئې د افغانستان په حبیبیه مکتب کې تر رشدیې پورې تکمیل کړي دي، تر تحصیل وروسته آزاد پښتونستان ته تللی او هلته ئې د خپل بزرګوار پلار تر قیادت لاندې د انګریزانو پرخلاف په ډیرو غزاګانو کې ګډون کړی دی .

په تیره بیا د افغانستان د استقلال په جنګ کې ئې ډیرې فداکارۍ کړي دي چه د هغو فداکاریو په پاداش کې د افغانستان دولت د ده پلار ته د فرقه مشرۍ افتخاري رتبه او ښاغلي ده ته د کندک مشرۍ افتخاري رتبه ورکړه او اوس یو کال کیږي چه د قوم له خوا ښاغلی رمضاني د وزیرستان د ملي ایالتي شورې د رئیس په حیث ټاکلی شوی دی او د پښتونستان د خدمت په لاره کې ډیر جدیت او فعالیت کوي .

ښاغلی رمضاني علاوه د ملي شورې په ریاست د (آزاد پښتونستان) په نامه د یوې اخبار مؤسس او چلوونکی هم دی چه اوس دا اخبار د ګستتر ماشین په واسطه طبع او نشرېږي دی په پښتو کې یو لیکوال هم دی او په هغه پښتونستاني هیئت کې چه د هغه د پښتنو د جرګې له خوا د هلي ته بللي شوی و ده هم شامل و .

(باقي)

ددې کتاب مأخذونه

هغه کتابونه او آثار چه ددې کتاب په لیکو کی ورځینې استفاده شوې او ځای په ځای حواله ورکړه شوې ده دادي :

پښتو :

۱ ـ پټه خزانه : د محمد هوتک تألیف او د کابل چاپ .
۲ ـ پښتانه شعراء : لومړی او دوهم ټوک د کابل چاپ .
۳ ـ د خوشحال خان خټک کلیات : د قندهار طبع .
۴ ـ د سلیمان ماکو تذکره : چه څو پاڼې يې په پښتانه شعراء کې ژ نکو ګراف شوې دي .
۵ ـ د احمدشاه بابا دیوان : د کابل چاپ .
۶ ـ د پښتو تاریخ : لومړی ټوک او دوهم ټوک د مرحوم قاضي عطاءالله تألیف د پېښور طبع .
۷ ـ د کاظم خان شیدا دیوان : قلمي نسخه .
۸ ـ د اصپ سفر : د ښاغلي نصرالله ناصر لیکنه او د پېښور د چاپ .
۹ ـ پښتو مشرین اسلام : قلمي نسخه .
۱۰ ـ د پښتو ادب تاریخ : د ښاغلي صدیق الله رښتین تألیف د کابل طبع .
۱۱ ـ [illegible] تړون : د ښاغلي ارسلان سلیمي اثر د کابل چاپ .
۱۲ ـ د اتحاد مشرقي اخبار : د ۱۳۳۰ د کال ۵ ګڼه .
۱۳ ـ د علي خان خوږ دیوان : د پېښور د طبع .
۱۴ ـ د حمید بابا دیوان : د لاهور طبع .
۱۵ ـ د اصلاح ورځپاڼه : د ۱۹۶۹ ع کال د مې د ۷ تاریخ ګڼه .
۱۶ ـ د پښتو فولکور : د ښاغلي صبا او داد الله بن تألیف قلمي نسخه .
۱۷ ـ د کابل مجلې : مختلفې شمارې .

۱۸ ـ د طلوع افغان روزنامه : د پخوانیو کلو شماري .
۱۹ ـ تاریخ مرصع : د هند طبع .

فارسي :

۲۰ ـ تاریخ افغانستان : لمړی او دوهم ټوک د ښاغلی احمد علی کهزاد تالیف او د کابل طبع .
۲۱ـ د چترال تاریخ : د ښاغلی میرزا محمد غفران خان چترالی اثر چه یوه قلمی نسخه ئې د ښاغلو په کتبخانه کې شته .
۲۲ـ فتوحات اسکندر : قلمی رساله د ښاغلی کهزاد لیکنه .
۲۳ ـ تاریخ ریاست سوات : چه قلمی نسخه ئې د ښاغلو په کتبخانه کی شته .
۲۴ـ منادی الجهاد : د مولانا محمد ظاهرشاه د وزیرستان د اوسیدونکی لیکنه چه قلمی نسخه ئې د ښاغلو په کتبخانه کی شته .
۲۵ـ د پښتون ږغ مجله : ۱۱ کال ـ ۱۳۷ ګڼه ۵ مخ .
۲۶ـ خورشید جهان : د هند چاپ د شیر محمد افغان تالیف .
۲۷ـ د کابل سالنامي : د مختلفو کلو نو .
۲۸ ـ سراج التواریخ : د کابل چاپ .
۲۹ـ تاریخ افغانستان : دریم جلد د ښاغلی غبار اثر د کابل طبع .
۳۰ ـ افغانها و چنګیزیان : د ۱۳۳۰ کال د میزان په ۵۰۴ ګڼه انیس کې .
۳۱ ـ دبستان مذاهب : د هند طبع .
۳۲ـ تذکرة الابرار والاشرار : فارسي تذکره د اخوند درویزه تالیف د هند طبع .
۳۳ـ د آریانا مجله : چه په کابل کښي نشریږي .
۳۴ـ منتخب التواریخ : دري جلده چاپ شوي دي .
۳۵ـ تزک جهانګیري : د هند طبع .
۳۶ـ ماثر الامراء .
۳۷ـ منتخب اللباب .

٣٨- افغانستان در قرن ١٩ ، د ښاغلي سید قاسم رشتیا اثر د کابل طبع .

٣٩- مسئلهٔ پښتونستان : د ښاغلي میر محمد صدیق اثر د کابل چاپ .

٤٠- حقایق راجع بقوم پښتون : چه د مستر قیوم د محکوم پښتونستان د غیر قانوني صدر اعظم د هغه کتاب خلاصه او ترجمه ده چه «خلا او توپ د پښتون په سرحد کی» نومېږي او اوس د خپل کتاب نه په مخالفه لار روان دی .

٤١ - تتمة البیان : د سید جمال الدین افغاني تالیف او د ښاغلي محمد امین خان خوګیاني ترجمه د کابل چاپ .

اردو :

٤٢- حیات حافظ رحمت خان : ښاغلي سید الطاف علي تالیف او د هند طبع .

٤٣- جغرافیهٔ صوبهٔ سرحد : په اردو ژبه د پېښور طبع .

٤٤- یاد ګار تاجپوشی قلات : چه په ١٩٣٢ ع کال مولوي دین محمد په اردو ژبه لیکلی او چاپ شوی دی .

٤٥- جغرافیهٔ بلوچستان : چه په ١٩٤٨ ع کال لیکلی شوی او په کوټه کی چاپ شوی دی .

٤٦- حیات افغاني : د محمد حیات خان تالیف چاپ شوی دی .

٤٧- سیرت سید احمد شهید : په هند کی چاپ شوی دی .

٤٨- سرحد برطانیه و افغانستان : د ملک جمال خان [illegible] اثر چاپ شوی دی .

٤٩- پاچا خان و آزاد پښتونستان : یوه رساله ده چه ښاغلي د [illegible] صدیق لیکلې او په پښتو کی چاپ شوې ده .

انګلیسي :

٥٠- [illegible] سرحد [illegible] نژادونه [illegible] په انګریزي ژبه دی چه ښاغلي [illegible] مقالې [illegible] په فارسي ژبه ترجمه کړی دی .

٥١- وزیرستان : د ښاغلي اولاد محمد خان [illegible] په پښتو کړی ده چه د [illegible] په کتابخانه [illegible] دی .

ا د شمال غربی سرحد : دسرویلیم بارټن اثر دښاغلی محمود دی ترجمه .
ر نستان : دسر کرفرایزر تا پتلر اثر .
ل ایست : دهملټن اثر .
را جنګ : دهمچنسن اثر .

ښتونه :-

اغلی محبت ګل‌خان مسود .
اغلی غیرت ګل خان دتیرا دمحلی شوری دعضو یاد داشت .
اغلی محمد ګلاب ننګرهاری یادداشت .
اغلی جهنباز خان اپریدی (وفادار پښتون) یادداشت .
اغلی فاتح‌الملك (ننګ) دسوات داوسیدونکی یادداشت .
اغلی آب‌حیات خان دچترال دشهزاده یادداشت .
اغلی فقیرشاه مومند یادداشت .

ب ۲۳۲ پ

۹۵۸۰۸ پ

[illegible]

Date	No.	Date	No.
	2982		